# اسلام,الحاد او ساینس



لیکوال:

ډاکټر محمد عثمان نظامي

# اسلام، الحاد او ساینس

# ISLAM, ATHEISM AND SCIENCE



ډاکټر محمد عثمان نظامی

DR MOHAMMED USMAN NIZAMI

Volume 1 اول جلد

2022

بسم الله الرحمن الرحيم

سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ
الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ

## بسم الله الرحمن الرحيم

**إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿190﴾ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿191﴾**

الحمدلله دا د الله تعالی ډېر لوي احسان دی چه ما عاجز بنده ته يې د دي کتاب د ليکلو توفيق راکړو.د انسانانو دپاره د دي نه لوي خدمت نشته چه د جهنم د اور نه بچ شي او جنت ته لاړ شي.پوهيږو چه د الحاد،دهريت يا ايتيېزم ريشي په اکثره ملکونو کې خوري شوي دي.چه زمونږ او ستاسو ځيني ورونه او خورګاني هم د دوي په غلطو تبليغاتو کې راځي،او په دي سبب چه دوي فکر کوي چه ګوندي ملحدين هر شی او هره خبره په ساينس ،عقل او منطق مني په پټو سترګو د الحاد يا ايتيېزم خواته ځي او د الله تعالی څخه انکار کوي.مګر حقيقت بالکل برعکس او سرچپه دی.حقيقت خو دا دی چه:ملحدين د خپل فطرت او دنيا په سترګو کې خاورې اچوي او هم خپلو نفسونو او هم دنيا ته د جهنم دعوت ورکوي ،او په حقيقت کې همدوي دي چه نه ساينس مني نه عقل او نه منطق .

په دي کتاب کې په همدي موضوع بحث شوي دی ،او د قرآني،ساينسي،فلسفي او عقلي دلايلو په رڼا

کې دا ثبوت شویده چه الله تعالی حق دی قرآنکریم د الله تعالی کلام دی،اسلام حق دین دی او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی نبي او رسول دی.
په آخر کې د ډاکتر صاحب سید محمد (سعید) څخه د زړه د کومي څخه ډیره مننه کوم چه زه یې د دي کتاب لیکلو ته تشویق کړي یم الله تعالی دي په دنیا او آخرت کې بي حسابه اجرونه ورکړي .
ستاسو د دعاوو محتاج ډاکتر محمد عثمان نظامی .
۱۴۰۰ هجري شمسي کال،د سرطان د میاشتی ۲۲ تاریخ
13 –07--2021

بسم الله الرحمن الرحيم

# تقرظ

## مولوي صاحب حيات محمد شابيوال

الحمد لله بديع السموات والارض وخالق كل شی ابدعهما بالحكمت بلا نصير ووزير وخلق الانسان خليفة لكمال الكائنات وعلمه البيان اما بعد ما چی كله دډيرمحترم ورور ډاكټر صاحب نظامی كتاب اسلام. الحاد اوساينس په نامه كتاب ولوسته الله شاهد دی چی ډير تری متأثر شوم او ددی اصلی اوبنسټيزه وجه داده چی دتعصب په بڼه نه دي ليكل شوی دوهم داچی هره خبره او دعوی په دليل اومنطق بنآ ده ډاكټر صاحب  داسی دعوی نده كړی چی هغه دی هسی يوه معمی او ړوند ګذار وی بلكی دهری دعوی. لپاره يې قانع كننده دلائل راوړی دا ځه نه وايم بلكی هر لوستونكی كولای شي چی داكتاب مطالعه كړی اوبيا دلوستونكي نه هم هيله ده چی انصاف وكړی او حق ته حق ووايی او الله دی وكړی چی دكتاب په مطالعه ستومانه او ستړي نشئ كتاب تر پايه دنقد كولو او دځان پوهولو لپاره ولولی نه

ددښمنۍ اودبل د چپ کولو لپاره اواصلا دمطالعی موخه او هدف هم همدا دی چی سرې.
کتاب دنقد او پوهی لپاره ولولې نو ډیر څه به زده کړی او دمطالعی دمنځ پانګی نه به یې بل ته هم ورکړی خوداهله کیږی. چی هر څه په سړه سینه اوارام معز سره مطالعه کړی او ان شاالله چی دډاکټر صاحب کتاب دهمدی خاندان څخه دی دهرمطالعه کونکی څخه دیو ښه نقد کونکی او دښه زده کونکی په هیله نه دتعصب کونکې او اعتراض کونکی په هیله والسلام .
مولوی حیات محمد شابیوال

بسم الله الرحمن الرحيم

## تقريظ:

## پوهنمل ډاکتر ذبيح الله احمدي

د اسلام، الحاد او ساينس تر عنوان لاندې کتاب چې ښاغلي الحاج ډاکټر محمدعثمان نظامي په ۷۰ فصلونو کې ليکلی ما مطالعه کړ. نوموړی کتاب چې د پردېسی او ناروغۍ په مهال د يوې لوړې او سپېڅلي موخې په نيت ليکل شوی لاندې ځانګړتياوې لري.

په داسې يوه روانه اوساده پښتو ژبه ليکل شوی چې د مختلفو علمي کچو لوستونکي ترې پوره ګټه اخيستلی شي. په ليکنه کې د ليکونکې قلبي عواطف او احساسات داسې نغښتي چې ګواکې لوستونکۍ همدا اوس د ښاغلي نظامي سره مخاطب ده او ليکل شوې علمي صحنې او تحقيقات په سترګو ګوري.

په دې کتاب کی د نړی تر ټولو معتبرو مأخذونو( قرآن کریم او احادیثو) څخه استفاده شوې ده.

لیکوال هڅه کړې چی د ساینس په ژبه د ټولو پیامبرانو مشترکه داعیه چی لا اله الاالله ده تعقیب او ثبوت کړي.

په دې کتاب کی دهغو ساینسی اصطلاحاتو او تعریفونو د اصلاح هڅه شوې کوم چې د محدودو ملحدو ساینس پوهانو له لوري په ساینس کی علاوه او په غیر مرئي توګه یې ټول ساینس پوهان او عام وګړي په خپلو لیکنو،کنفرانسونو او عادی مجالسو کی استعمالوي.

هو! د آدم علیه السلام د خلقت څخه تر اوسه پورې د حق او باطل تر منځ منازعاتو مختلف پړاونه او شکلونه تیر کړي او په هر پړاو کې باطل مغلوب شوی. دا چی اوس ساینس د ودې او پرمختګ په حال کی ده او اسلام چی د ژوندانه په هر اړخ کی ډیر غنی ده نو په ساینې برخه کی یې غنا تر ټولو نوروعقایدو او ادیانو ډیره غښتلې ده. لیکوال هم د دعوت په موخه هڅه کړې چی د ساینس په ژبه د ښوونځیو، پوهنتونو او نورو

علمی مراکزو کی د داروین په خیر نورې باطله نظریې چیلینج اود زده کوونکو د ایمان ژغورنې ترڅنګ هغوی ته کافی دلایل په لاس ورکړي. ښه به دا وي چې نوموړی کتاب په دیني مدارسو، مکاتبو، پوهنتونونو او نورو دینی او علمی مراکزو کی ولوستل شي.

په دی کتاب کی د قرآن عظیم الشان د ساینسي معجزو تر څنګ ځینې آیتونو ته دعصری علومو د مختلفو شعبو له زاویو څخه کتنه شوې او دا یې ثابته کړې چې واقعي ساینس کله هم د اسلام سره په ټکر کی نه وي.

قرآن عظیم الشأن د الله تعالی کلام او کائنات یې فعل دی خو تحریف شوي انجیل د پاپانو او ساینس پوهانو ترمنځ یو جګړه ئیز واټن ایجاد او ساینس د ملحدینو په لاس کی پریوت خدای مه کړه چې زمونږ د ساینس پوهانو د دینی پوهاوی د کچې ټیټوالئ یا ناخبري او د دیني علماو لیری والی له ساینس څخه بالآخره د ساینس او دین تر منځ د واټن په پیدا کیدلو منتج نه شي.

د ښاغلي نظامي صاحب څخه د زړه له کومي مننه کوم چې د ستونځو سربیره یې دا علمي اثر لیکلئ او د الله تعالی له دربار څځه ورته د مزید اجر تر څنګ د لا نورو علمي آثارو د لیکلو توفیق غواړم.

په درنښت

پوهنمل ډاکټر ذبیح الله احمدی د شیخ زاید پوهنتون استاد

د قلبي ناروغیو متخصص او د قلبی بیا رغونې د دوکتورا محصل

بسم الله الرحمن الرحیم

## تقریظ

## عصمت الله هاشمی

زه ځان ډیر خوشبخته ګڼم چی د محترم ډاکتر صاحب محمد عثمان نظامی دا--------------- ملغلری(اسلام،الحاد او ساینس)کتاب مې ولوست.
زه خپل نظر دلته د یو عام وګړي په حیث لیکم ، تر ټولو ړومبي دا کتاب ډیر ښایسته په روانه او سوچه پښتو لیکل شوی ، چې د هر کلاس سړی پرې ښه پوهیدی شي، هره موضوع یې د قران او سیانس له لارې جلا جلا تشریح کړې.
باور وکړئ چې دا کتاب مې ولوست له سترګو مې اوښکې راغلې او له ځان نه مې وپوښتل چې مونږ ولې له خپل دین نه دومره بې خبره یو، حال دا چې رب ج مونږ ته داسې یو کتاب رالیږلې چې د هر سوال جواب لری.
زه یې ټولو خویندو او ورونو ته د لوستلو وړاندیز کوم او باورې یم چې په لوستو به یې ډیر څه زده

کړی او ډیر سوالونه به مو حل شي.
زه د پاک رب نه ډاکتر صیب ته لا اوږد عمر د کامل صحت سره غواړم.
قلم دی تل تاند او رپاند اوسه ، چې داسې ډیر نور اړین کتابونه او علمي نخسې مونږ ته ولیکې.

په ډیر درنښت
عصمت الله هاشمی
ویانا ، اتریش
۲۰۲۲/۰۴/۰۶

# بسم الله الرحمن الرحيم

## تقريظ:

## ډاکټر سيد محمد(سعيد)

زه نيمګړی , عاجز او ناتوانه بنده خو هيڅکله هم ځان پدې قيمتي کتاب (اسلام،الحاد او ساينس) د تبصرې کولو لايق نه بولم خو داچه قدرمن ډاکتر محمد عثمان نظامي دا خاصه لورېنه پر ما کړيده او زما څخه يې غوښتنه کړيده چه خپل نظر په يو څو لنډو کرښو کې ددې مهم او د ارزښت ډک اثر د مخېانګې دپاره وليکم.

لله الحمد ، الله سبحانه و تعالى مونږ اشرف المخلوقات خلق کړي يوو او د تعقل, تفکر , تدبر , ليدلو ,اوريدلو او بوي کولو استعدادونه او ظرفيتونه يې مونږ ته عطا کړيدی. په قرآن عظيم الشان کې څو ځايه مونږه ټولو اشرف المخلوقاتو او د عقل خاوندانو ته حکم شويدئ چه تاسې د خپلو ځانونو ، د خپلو شاوخوا موجوداتو او زما د وجود په پيژندنه کې د هر ډول ژور تعقل او تحقق هڅه او هاند وکړئ.

لکه څنګه چه مونږ ټولو د عقل خاوندانو ته پاک رب امر کړيدئ چې د خپل سپارل شوې رسالت د پوره کولو دپاره په قرآن/دين يعني د وحي علم چې

زمونږ د ژوند لپاره سالمه کړنلاره ټاکئ , ځانونه پوهه کړو او همدارنګه د ساينس علم يعنې د کايناتو د پيژندلو علم زده کړو ځکه خالق ذولجلال کاينات د انسان دپاره خلق کړيدي او ساينس د کايناتو د پيژندلو علم دي.
خالق ذوالجلال په قرآن العظيم الشان کې د دواړه علمونو د وحې د علم(قرآن) او د ساينس د علم په زده کړو , تحقق او تجسس په ګډ اهميت او ارزش يې ټينګار کړيدئ او دا دواړه علمونه يې لازم اوملزوم ګرځولې دئ.
ددې کتاب د دواړو بڼو په لوستلو ,اوريدلو او پوهيدلو به ټول لوستونکي او اوريدونکې ان شاءالله په پوره وضاحت سره خپل ځانونه ,خپل انسانې او ايمانې رسالت ,کاينات او د کايناتو خالق د قرآن او مدرن ساينس په رڼا کې وپيژنئ.
څرنګه چه قرآن عظيم الشان د کايناتو د جوړښت, قاعدې, قانون , نظام , ژوند , د ژوند مقصد , قيامت , حساب, آخرت , جنت , دوزخ او د نظام د چلولو او تشريح د پاره د ډيرو دقيقو او مافوق رياضيکې, بيولوژيکې, کيمياوې, فزيکې او ميتافزيکې تعاملاتو او محاسباتو ډک يو الهې کتاب دي خو دلته پدي کتاب کې مؤلف فقط اويا مهمم موضوعات د بحث او تحليل لاندې نيولې دي. قرآن

العظیم الشان د ژوند او آخرت یوه مکملترینه الهي بسته ده خو په ډیر تاسف سره د کومې ورځې ځنې چه د دین سره ملحدینو دشمنې پیل شویده او دین یې قصداً او ارادتاً د ساینس ځنې جلا کړیدئ , مسلمانان ذلیله او د پرمختګ ځنې وروسته پاتې او په بدبختیو اخته شویدئ.داکتر محمد عثمان نظامې چه د طب ډاکتر دی پخپل دې کتاب کې حتې الوسع انسانې هڅه او هاند کړیدئ چه د قرآن مجید د آیتونو او مډرن ساینس په رڼا کې د خالق ذوالجلال د وحدانیت-------------------------------------
، د کایناتو د خلقت ضرورت ، د روان نظام چلول ، کنترول او زمونږ اصلې رسالت تحلیل او تشریح کړي. دا کتاب د ټولو د عقل د خاوندانو د پاره او بیا په تیره د ټولو هغو مسلمانانو دپاره چې ددې موضوعاتو په هکله د ارزښه ډکې پوښتنې لرئ او یا هغه ټولې خلک چې ددې مهمو قرآنې ایتونو په هکله مذبذب دئ او یا شکونه لرئ خو د مختلفو دلیلونو په اساس ددې پوښتنو کولو جرات نه لرئ او یا د ځینو عقیدوې حساسیتونو له کبله ددې پوښتنو د کولو ډډه کوئ , د وضاحت یوه ښه مرجع او منبع ده.
ډاکتر نظامې هڅه کړیده چه خلک پوښتنو کولو ته تشویق کړئ او هیڅکله هم داسې فکر ونه کړئ چه

د کایناتو د خالق , د کایناتو د جوړښت , شاهکارۍ او کنترولر په باره کې عقلي دلایل وجود نه لری.
پدې کتاب کې مولف زیار ایستلې دي چه د ملحدینو او شکمنو مسلمانانو ډیرې مغلقو پوښتنو ته د قرآن العظیم الشان د آیاتونو ، معتبرو احادیثو او مدرن ساینس په رڼا کې په ډیر وضاحت سره جوابونه برابر کړۍ.لکه څنګه چه عبدالله بن عباس(رض) څلوارلس سوه کاله مخکې فرمایلي دي چه د قرآن العظیم الشان ډیرې آیاتونه چه د ننې وخت عقل ورته عاجز دۍ , راتلونکې وخت به یې پخپله واضح او بیان کړۍ.,
اوس الحمد لله هره ورځ همداسې کېدونکې دۍ او په تیرو سلو کلونو کې د قرآن مجید ډیرې مغلق آیاتونه د مډرن ساینس په رڼا کې واضح شویدۍ حتې د یو لړ ملحدو ساینسدانانو په ذریعه په غیر ارادې ډول تحقیق او حقانیت یې ثابت شویدۍ , چه په اړوند موضوعاتو کې ترې ځای ځای په کتاب او تقریرونو کې یادونه شویده . دا قیمتې اثر د ډاکتر نظامی د کلونو کلونو نه ستړیکېدونکې زیار او هلو ځلو , د عربې ژبې , دیني , ساینسي زده کړو او په دې اړوند د ساینسي معتبرو څېړنو د راټولولو وروسته په ډیره ساده او روانه پښتو ژبه لیکل او بیان شویدۍ . زه خو دا کتاب زما په شمول

د ټولو لاره ورکو او د عقل خاوندانو دپاره یوه ښه تحفه بولم. زه مطمئن یم , چه د لوستلو , اوریدلو او پوهیدلو وروسته به مونږ هر یو بیل بیل په کې خپله ورکه مرغلره پیدا کړو. (ان شاءالله وتعالی) پاک رب دې قدرمن نظامي صاحب ته ددې دیني او علمي اثر په بدله کې عظیم دنیاوې او اُخروې اجر او د داسې نورو کتابونو د لیکلو توان او توفیق ور په برخه کړي. امین یا رب العالمین

په ډیره مینه او درنښت
ډاکتر سید محمد (سعید)
03-07-2021
۱۴۰۰ هجرې شمسې کال , د سرطان دولسمه
لندن

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| اسلام او ساینس | ۲۱ |
| کائنات څنګه جوړشوي دي | ۲۵ |
| کائنات څومره غټ دي | ۳۸ |
| الله تعالی څوک دی | ۴۰ |
| الله تعالی د کائناتو خالق دی | ۴۶ |
| الله تعالی چا پیدا کړیدی | ۴۸ |
| د کائناتو موجودیت د الله تعالی د وجود ثبوت دی | ۵۰ |
| د الله تعالی په وجود دلایل او د کارل مارکس د فلسفی رد | ۵۴ |
| د الله تعالی د وجود لوي ثبوت د الله تعالی کتاب قرآنکریم دی | ۶۵ |
| په کائناتو کی د الله تعالی په آیاتونو باندي غور کول | ۷۲ |
| طبیعی قوانین یا نیچرل لاز | ۸۳ |
| په کائناتو کې غور او فکر کول | ۸۴ |
| د الله تعالی په وجود دلایل او د رسل څخه پوښتنه | ۸۸ |
| د الله تعالی د وجود ثبوت په ساینسي حقایقو سره | ۱۰۲ |
| انسان او سلیم عقل | ۱۱۱ |
| اسلام،ساینس،ایګناستیک او ملحد | ۱۱۵ |
| دانسان د پیداکیدلو او ژوند مقصد | ۱۳۳ |
| د عاد د قوم ذکر او د قرآنکریم معجزه | ۱۴۲ |
| د جګو او لوړو آوازونو حد د خر آواز دی(د قرآنکریم معلومات) | ۱۴۷ |
| په خارجي فضاء کي تیاره ده(د قرآنکریم معلومات)۰ | ۱۵۳ |
| د ځمکي اتموسفیر(د قرآنکریم معلومات) | ۱۵۶ |
| د قرآنکریم ساینسي معجزي،لمر حرکت لری،کائنات لوئیږی | ۱۶۰ |
| توپ وهونکي اوبه د ملا او سینی د منځ څخه راوځي(د قرآنکریم معلومات) | ۱۶۶ |

| | |
|---|---|
| آيا ځمکه ګرده ده(د قرآنکريم معلومات) | ۱۶۹ |
| د ځمکي نوم يا ناف زمين | ۱۷۳ |
| د مصر د اهرامونو د جوړيدلو تخنيک(د قرآنکريم معلومات) | ۱۷۹ |
| تياره اوبه يا ډارک واټر(د قرآنکريم معلومات) | ۱۸۴ |
| سترګه د الله تعالی آيت او نشانه ده | ۱۸۹ |
| زړه هم دماغ لري | ۱۹۱ |
| د قرآنکريم ساينسي معجزه د شاتو په مچۍ کې | ۲۰۲ |
| د دوه بحرونو په منځ کې پرده(د قرآنکريم معلومات) | ۲۱۰ |
| د مور په رحم کي د ماشوم جوړيدل(د قرآنکريم معلومات) | ۲۱۳ |
| د قرآنکريم ساينسي معجزه په وسپنه کې | ۲۲۴ |
| د قرآنکريم معجزه په فينګر پرينت يا د ګوتي په نښه کې | ۲۳۰ |
| د ماشوم د جنس د تعينولو دپاره پلار مسئول دی او که مور(قرآنکريم او ساينس) | ۲۳۳ |
| په پوستکي کي د درد اخِذي يا ريسيپټور(د قرآنکريم معلومات) | ۲۳۸ |
| په قرآنکريم کی په اوله او وروستنۍ وحي کې رياضي معجزي-نمبر۱۹ | ۲۴۱ |
| رياضي معجزي په بسم الله کې ــــد ۱۹ نمبر رول | ۲۴۷ |
| رياضي معجزي د مقطعاتو په حروفو کې-د ۱۹ نمبر رول | ۲۵۶ |
| رياضي معجزي د لمونځ په رکعتونو کي د نمبر ۱۹ رول | ۲۶۲ |
| په کائناتو کي د الله تعالی آياتونه او د ملحدينو معبود | ۲۷۱ |
| د کائناتي آياتونو تفسير،اسلام د عقل او ساينس خلاف نه دی. | ۲۷۹ |
| په دنيا کې د وچي او بحرونو اندازه | ۲۸۴ |
| د کائناتي آياتونو تفسير د بيګ بينګ سينګولاريتي | ۲۸۷ |
| د کائناتي آياتونو تفسير( بيګ بينګ چاودنه) | ۲۹۱ |
| د کائناتي آياتونو تفسير(د کائناتو لويدل) | ۲۹۴ |
| د کائناتي آياتونو تفسير (د شپي او ورځي بدليدل) | ۲۹۷ |

| | |
|---|---|
| د کائناتي آیاتونو تفسیر(فینګرپرینټ) | ۳۰۳ |
| کائناتي آیاتونه د آسمان په اوچتوالي کې | ۳۱۱ |
| ملحد چاته وایې؟ | ۳۱۹ |
| ملحدین د الله تعالی د وجود ثبوت غواړي | ۳۲۳ |
| د بیګ بینګ څخه مخکې څه شی ول | ۳۳۰ |
| د یو ملحد ډاکتر سوال او جواب یې | ۳۴۰ |
| ملحدین ښکاره د ساینس دعوی کوي،مګر ساینس نه مني | ۳۴۳ |
| د داروین د تیوري رد اوله برخه | ۳۵۰ |
| د داروین د تیوري رد دوهمه برخه | ۳۵۶ |
| تقدیر،اختیار او آزادي | ۳۶۶ |
| چه هر شی په تقدیر کې لیکلی نو زمونږ څخه پوښتنه ولې کیږي | ۳۸۴ |
| ساینس او تقدیر(تقیر په ډي این ای کې) | ۳۸۹ |
| د ځنکدن په وخت کې د ځینو ملحدینو آخرنی خبري | ۴۰۶ |
| زمونږ لمونځونه ولې مونږ ته ګټه نه رسوي | ۴۱۱ |
| د جهنم پیژندل | ۴۲۴ |
| د مسلمانانو د ذلت اسباب او علاج | ۴۴۱ |
| ښه او خوشاله ژوند چیرته دی؟ | ۴۶۳ |
| د حضرت عایشي( رض)عمر مبارک د نکاح په وخت کې | ۴۶۹ |
| دنیا کې ولې ظلم او بې انصافي ده،خالق یې ولې مخه نه نیسي | ۴۷۴ |
| آیا لمر د تورو اوبو په چینه کې ډوبیږي | ۴۸۱ |
| ژوند سفر دی منزل نه دی | ۴۹۲ |
| د ښځو حقوق په اسلام کې | ۴۹۳ |
| د قیامت ورځ او د حشر میدان | ۵۱۱ |

## الدّرس (١)

# اسلام او ساینس

قرآن صرف دوه علوم مني د ساینس علم او دوحي علم.الله تعالی آدم علیه السلام ته دا دواړه علوم ورکړي ؤو.قرآن فرمایي.

(وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا) او الله تعالی آدم علیه السلام ته د ټولو شیانو نومونه ور وښودل.پوهیږو چه :د شیانو علم په حافظه کې د نومونو په شکل ذخیره کیږي.ځکه تر څو پورې چه د یو شي په باره کې علم نه وي نوم یې هیڅ معنی نلري.مثلاً که یو سړی د فیل(هاتهي) په باره کې علم نلري یعني نه یې لیدلی وي او نه یې د فیل په باره کې دچا نه اوریدلي وي.نو دي سړي ته د فیل نوم بې معني دی.که هرخومره ورته د فیل نوم واخستل شي خو په ذهن کې یې د هیڅ شي نقشه هم نه راځي. خو که چیرته یې فیل لیدلای وي یا یې د چانه اوریدلي وي نو د فیل د نوم په اوریدلو سره یې سمدستي په ذهن کې دفیل پوره نقشه راځي.نو په حقیقت کې آدم علیه السلام ته د ټولو شیانو علم

ورکول شو.چه د اوسني علم په کمک سره ويلی شو چه:زمونږ کروموزوم او زمونږ جينز ته د هر شي د کولو اود هر شي د زده کولو استعداد،صلاحيت اوظرفيت ورکول شو.همدارنګه الله تعالی انسان ته عقل،د اوريدلو،ليدلو او غور او فکر کولو صلاحيت او استعداد هم ورکړو. نو د آدم عليه السلام نه وروسته څومره چه وخت تريدلو انسان د دې صلاحيتونو په استعمالولو سره په قراره قراره ترقي کوله. آسونه او اوښان په هوايې او بحري جهازونو بدل شو،تيلفون، موبايل، راډيو، تيلويژن، جينيټيک کوډ، ډي اين ای او د کائناتو ډير رازونه کشف شو.د سپوږمۍ او مريخ يا مارس پورې انسان ورسيدو.مګر د دې ټولو سره سره بيا هم د ساينس علم مکمل او پوره نه دی.او د هرې پوښتنې حل او جواب پکې نشته .او نور وخت او تحقيقاتو ته ضرورت لري.همدارنګه دوحې علم چه د پيغمبرانو پواسطه الله تعالی انسانانو ته راليږلی هم هر څومره چه انسان ترقي کوله نو الله تعالی هم د انسان د استعداد مطابق نوي نوي احکام ځمکې ته راليږل.چه بالآخره د وحې د علم وروستنی کتاب قرآن کريم دی.خو د ساينس د علم برعکس د قرآن علم مکمل او پوره دی.او د قيامت پورې د هرې پوښتنې جواب او د هر مشکل او

هرې مسئلې حل پکې شته دی.پوه شو چه د وحې علم يعني قرآن او د ساينس علم دواړه د الله تعالی د طرفه دي.نو دا دواړه علوم قطعاً يو د بل خلاف او ضد نه دي بلکه يو بل سپورټ او تائيد وي.ځکه چه قرآن د الله تعالی قول دی او کائنات د الله تعالی فِعل دی. اود الله په قول او فِعل کې فرق نه وي.او د کائناتو مطالعه کول او پيژندل ساينس دی .نو حقيقي ساينس چه په مشاهده او تجربه ولاړ وي يعني تيوري او فرضيه نه وي هيڅکله د قرآن مخالِفت نه کوي. ساينسدان غلطي کولای شي خو حقيقي او واقِعی ساينس هيڅکله غلطيدلای نشي مثلاً ۱۴۰۰کلونه مخکې د وحې علم يا قرآن فرمايې چه کائنات لويږې.مګر ساينسدانانو د شلمي پيړۍ پورې ويل چه کائنات نه لويږې.چه دا د ساينسدانانو غلطي وه نه د ساينس ځکه چه حقيقي ساينس په شلمه پيړۍ کې ثابته کړه چه کائنات لويږې. او د وحې د علم يا قرآن تائيد يې وکړ.

په آخر کې بايد ووايو چه:د وحې د علم يعني قرآن د قانون مطابق په کائناتو کې اوسيدل او د کائناتو نه استفاده کول دين دی.او د کائناتو مطالعه او پيژندل ساينس دی.فلهذا ساينس د دين څخه بيل نه دی.خو متاسفانه اکثره لوي لوي ساينسدانان په دين

او قرآن نه پوهيږي.او اکثره ديني عُلما په ساينس نه پوهيږي.او ځني خو لا دا فيصله هم نشي کولای چه د ساينسي علومو د زده کولو اجازه ورکړي او که نه؟

و ما عليناالاالبلغ المبين

ډاکتر محمد عثمان نظامي

## الدّرس (٢)

# کائنات څنګه پیدا شوي دي،قرآنکریم او بیګ بینګ، د ملحدینو او منکرینو د سوالونو جوابونه او د دوي د عقایدو رد په ساینسي او عقلي دلایلو سره.

د یونیورس یا کایناتو په باره کې الله تعالی د سورة الانعام د ۱۰۱ نمبر آیت په اوله برخه کې فرمایي [ بَدِيعُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ترجمه. الله د آسمانونو او ځمکې پیداکونکی [خالق؛کریټر؛اوریجنیټر]دی.یعني ------------- کائنات ازلې او ایټرنل نه دي او په دي موجوده شکل د اول څخه موجود نه ؤ. په خپل سر-------

[او بآیچانس] نه دي پیداشوي . بلکې الله تعالی پیداکړیدي . چه د کائناتو حقیقي خالق [کریټر او اوریجنیټر] دی. همدارنګه د سورة الانبیا په ۳۰ نمبر آیات کې فرمایي: (أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقًا فَفَتَقۡنَـٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ) .

ترجمه:آیا کافران په دي نه پوهيږي. چه بيشكه آسمانونه او ځمکه سره يوځای نښتي ؤو بيا مونږ بيل[جُدا]کړل دوي. او پيدا کړيدی موږ د اوبو څخه هر ژوندی شی. همدارنګه د الذاريات د سورت په ۴۷ نمبر آيات کې الله فرمايي (وَٱلسَّمَآءَ بَنَيْنَـٰهَا بِأَيْيدٍۢ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾) ترجمه: او يونيورس يا کائنات مونږ په خپل قدرت سره جوړ کړې دي او بيشکه مونږ خامخا د کائناتو پراخونکې [لويونکې] يو. د قرآن کريم ددي مبارکو آياتونو نه په ښکاره ډول دا معلوميږي چه: کائنات يا يونيورس خالق يا کريټر لري چه الله تعالی دی .او ازلې [ابدي او ايټرنل] نه دي . يعني د اول نه په همدي شکل موجود نه ؤو.بلکه پيدا او جوړشوي دي.او په خپل سر [بايچانس] نه دي پيداشوي .بلکې الله پيدا او جوړکړي دي. ابتداء او شروع [بيګينينګ] لري . په اول کې ستوري، لمر، سپوږمی، ځمکه او آسمانونه يعني ټول کائنات سره يوځای نښتي ؤو.بيا الله سره بيل او جدا کړل . همدارنګه کائنات هميشه په حرکت کې دي. تغير کوي.لويږي .[پراخيږي] .او حجم [يا سايز] يې زياتيږي .دوهم-- د کائناتو په باره کې ساينسي حقايق او دځېنو ساينس پوهانو

يا ساينسدانانو شخصي يا پرسونل تيوريز او نظريات!

د ۲۰ پيړۍ[ سينچري] نه مخکې ساينس د کائناتو د پيداکېدلو او جوړيدلو په باره کې هيڅ معلومات نه درلود. البته کوم معلومات چه موجود ؤو هغه هم د ځېنو ساينسدانانو شخصي نظريات او عقايد ؤو. چه هم د ساينسي علومو او هم د قرآني معلوماتو خلاف او متضاد ؤو. مثلاً د دوي دا نظر او عقيده وه چه: يونيورس يا کائنات ازلي، ابدي او ايټرنل دي . په همدي موجوده شکل د اول يا ابتداء څخه موجود دي.پيدا شوي نه دي . ابتداء او شروع [بيګينينګ] نه لري . تغير[چينج] او حرکت په کې نشته .نه لويږي او نه وړيږي. خالق او کريټر نلري.مګر ساينس د ۲۰ پيړۍ څخه د مخه په دي باره کې بالکل خاموش او چپ ؤو. او په علمي توګه يې دا نشوه ثابتولای چه صحيح ته صحيح او غلط ته غلط ووايې.نو کله چه په ۲۰ پيړۍ کې د ماډرن تيليسکوپ په واسطه يونيورس يا کائنات مشاهده او مطالعه شو.وليدل شو چه ستوري[سټار] او ګلکسيز(کهکشان) يو د بل څخه لري کيږي .يعني په کائناتو کې هر شی يو د بل څخه لري کيږي .کائنات په حرکت کې دي . لويږي او حجم

يې زياتيږي . نو ددې ثبوت په اساس ساينس د اول وار لپاره وکولای شو چه صحيح ته صحيح او غلط ته غلط ووايې . او د فيلسوفانو او ساينسدانانو ددې نظريې چه کائنات نه لويږي ، ساکن او غيري متحرک دي رد او ترديد يې وکړ . او د قرآن ددې مبارک آيات [ وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ (ترجمه:او يونيورس يا کائنات مونږ په خپل قدرت سره جوړ کړې دي او بيشکه مونږ خامخا د کائناتو پراخونکې [لويونکې] يو .) ] تصديق او تائيد يې وکړ . يعني يونيورس يا کائنات ستاتيک او ساکن نه دي ، لويږي ، حرکت او تغير کوي . که تاسو په يوه پوکڼۍ يا بالون باندې د قلم په څوکه داسې نقطې کېږدئ چه ډيرې سره نژدې وي او بالون يا پوکڼۍ وپړسوئ نو وبه ګورئ چه نقطې يوه د بلې څخه لرې کيږي هرڅومره چه هوا زياته ورکوئ په هماغه اندازه به د بالون يا پوکڼۍ حجم زياتيږي او نقطې به يو د بل څخه لرې کيږي . بر عکس که چيرته بيرته د بالون يا پوکڼۍ څخه هوا خارج کړئ نو وبه ګورئ چه نوموړې نقطې بيرته يوه د بلې سره نژدې کيږي او بالآخره خپل اولني حالت اختياره وي . په همدې ډول ساينسدانان وايې چه: دا اوسني يونيورس يو لوي شوی يونيورس

دی چه د یو وړوکې یونیورس یا کائنا تو د دوامداره لویدو څخه منځ ته راغلی دی . او یو وخت دومره وړوکی ؤو چه ستوري ، لمر ، سپوږمۍ، ځمکه او آسمانونه ټول سره یو ځای نښتي ؤو . یا په بل عبارت یو کال مخکښی یونیورس د اوسنۍ یونیورس څخه وړوکی ؤو او دوه کاله مخکینی یونیورس د یو کال مخکښي یونیورس څخه وړوکی ؤو که په همدي ډول مخ په شا لاړ شو نو یو وخت به یونیورس یا کائنات دومره واړه شي چه ځمکه او آسمانونه به سره یو خای ونښلی . چه په همدي بنیاد او اساس ساینسدانان وایې چه کائنات یو وخت دومره واړه ؤو چه یو خای سره نښتي ؤو او سایز یا حجم یې د یوي نقطي په اندازه او یا د نقطي څخه هم کم ؤو. همدي نقطي یا سینګل پاینت ته د کائناتو د آغاز یا شروع نقطه وایې . همدارنګه نور زیاتوي چه : ټول کائنات د وخت [ ټایم ]، انرژې ، فضاء[ سپیس] او مادي[ مَیټر] په شمول ددي نقطي یا سینګل پاینټ د انفجار [ایکسپلوژن ، ، دهماکې او یا چاودنې] په واسطه منځ ته راغلي . یعني دا انفجار په داسي حالت کې وشو چه هیڅ شی هم موجود نه ؤو . یعني د عدم یا هیڅ په حالت کې وشو . او همدي ته بیګ بینګ یا لوي انفجار یا

چاودنه وايې .او ددي انفجار څخه وروسته کائنات په دوامدار ډول لويږي . دلته په واضح ډول ثبوت شوه چه کائنات ابدي او ايټرنل نه دي بلکه پيدا شويدي شروع او ابتداء لري.او ساينس د قرآن ددي آيات چه کائينات په اول کې سره نښتي ؤو او بيا الله تعالی سره بيل کړل تائيد او تصديق وکړ [أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ] . او د فيلسوفانو او ساينسدانانو دا تيوري او نظر چه کائنات ابدي او ايټرنل دي ابتداء او شروع نلري د ساينس له خوا رد شو . که په غور سره فکر وکړو اسلام د ساينس او بيګ بينګ سره مشکل نلري . ځکه چه ساينس هم وايې چه ځمکه اوآسمانونه يعني ټول کائنات سره يو ځای نښتي ؤو بيا سره بيل او جدا شو . او لويږي يعني پراخيږي . همدارنګه قرآنکريم هم فرمايي چه ځمکه او آسمانونه سره يو ځای نښتي ؤو او بيا سره بيل او جدا شو . لويږي او پراخيږي . پو هيږو چه د قرآن او ساينس خبره يوه ده يعني ساينس د قرآن هغه خبره چه ۱۴۰۰ کاله مخکې يې کړيده په ۲۰ پيړی کې تصديق او تائيدَوي . فرق او مشکل په څه کې دی ؟ فرق او مشکل د بيګ بينګ په تشريح [

ایکسپلَنیشن ]کې دی چه د ملحدینو ساینسدانانو دخوا نه کیږي . ښه متوجه شئ . قرآنکریم فرمایې چه دا هر څه الله کړي دي . چه حقیقي خالق [ کریټر، پیدکوونکی او جوړونکی] دی . یعني دا سینګل پاینټ یا اولني کتله یا مَیْس په کوم کې چه ځمکه او آسمانونه سره یو ځای بند ؤو الله چه حقیقي خالق [ کریټر] دی پیدا کړه او بیا یې ځمکه او آسمانونه سره بیل او جدا کړه او لویوي یې [پراخَوي یې ، وسعت ورکوي ].

خوپخپله ساینسي علوم ددي سوال دپاره چه آیا د کائناتو د پیداکېدو د آغاز دا ابتدائي نقطه یا سینګولاریټي څنګه پیدا او منځ ته راغلي هیڅ جواب نلري چپ او خاموش دی . نو په دي باره کې چه هر څومره خبري موجود دي دا د فزیک خبري ندي بلکه دا د ساینسدانانو خپلي شخصي خبري او نظریات دي . او پوهیږو چه تیوري او نظریات حقیقت نه وي بلکه کېدای شي چه په آینده یا راتلونکې زمانه کې د ساینس په واسطه رد او غلط ثابت شي . لکه څنګه چه دا تیوري چه کائنات ساکن او غیري متحریک دي ابدي او ایټرنل دي

کومي چه د ارسطو ، سقرات او افلاطون د زماني څخه د انشټين د زماني پورې د فیلسوفانو او ساینسدانانو په دنیا کې ډیر شهرت لرلو د ۲۰ پیړۍ ساینس رد او غلطه ثابته کړه . همدارنګه کېدای شي چه د ۲۰ او ۲۱ پیړیو ځني غلطي تیوریز او نظریات په راتلونکې یا آینده زمانه کې دساینسي علومو د پرمختګ په نتیجه کې د ساینس په واسطه رد او غلط ثابت شي . څرنګه چه مخکې ذکر شو چه پخپله ساینسي علوم د دي سوال دپاره چه دا سینګل پاینټ څرنګه پیدا او منځ ته راغلي ؤو؟ جواب نلري . خو ځني ساینسدانان د دي سوال د جواب په باره کې خپل نظر داسي بیان او اظهاروي چه: دا چه د بیګ بینګ څخ مخکې ماده [مَیټر] ،وخت [ټایم]،فیضاء[سپیس] او انرژې موجود نه ؤو یعني هیڅ شی نه ؤو نو په دي سبب د کائناتو د آغاز نقطه د هیڅ [نَتَیْنګ] څخه منځ ته راغلي ده . یعني کائنات د هیڅ [نَتَینګ] څخه منځ ته راغلي دي . مګر ساینس د ترموډَینامیک ددي قانون په اساس چه: هیڅ شي [ نَتَینګ] نشي کولای چه یو شي [ سَمْتَیْنګ] پیدا او منځ ته راوړي . د ساینسدانانو دا نظر یا تیوري رده وي او غلطه ورته وایې . یعني فزیک په ډیر واضح ډول

ساینسدانانو ته وایې چه د کائناتو دآغاز نقطه [سینګولاریټي،سینګل پاینټ ] د هیڅ شي [ نَتَینګ] څخه منځ ته نه ده راغلي .چه دلته په ښکاره ډول اشاره دي خبري ته ده چه چا پیدا کړې ده خالق [ کریټر] لري . فزیک خو انسان د خالق او کریټر د دروازې پورې وررورساوه او د دروازې په درشل یې ودراوه . نو چه انسان پخپله نه ورننوځي نو ګناه او غلطي د فزیک ده او که د انسان ؟ غواړم چه د یو څو مثالونو په واسطه دا خبره یو څه روښانه کړم . مثلاً که یو سړی داسي ووایې چه اوبه ګرمی نه دي . تاسو څه فکر کوئ چه د سړي مطلب به څه وي . معلومه خبره ده چه د سړي مطلب دا دي چه اوبه یخي دي . فکر وکړه چه ستا سره دوه منې دي چه یوه غټه او یوه وړه ده او یو سړی درته ووایې چه یوه منه راکړه او ته ورته ووایې چه غټه غواړې او که وړه ؟ سړی درته ووایې چه وړه نه غواړم نو اوس ته څه فکر کوي چه د غوښتونکي سړي مطلب څه دي او ته باید کومه منه ورکړې .معلومه خبره ده چه د غوښتونکي سړي مطلب او اشاره د غټې منې خواته ده یعني غټه منه غواړې او ته باید غټه منه ورکړې.

همدارنګه د کائناتو په باره کې فزیک انسان ته وایې

چه د کائناتو د آغاز یا شروع نقطه پخپل سر د هیڅ څخه نه ده پیدا شوي .معلومه خبره ده چه اشاره دي ته کوي چه چا پیدا کړیده ،خالق او کریټر لري. نو ددي سره سره بیاهم که څوک وایې چه پخپل سر د هیڅ څخه پیدا شوي ده . نو دا هم د ساینس د قانون څخه سرکشي او انحراف دی او هم دقرآن څخه..

اوس راځو د بیګ بینګ دوهمي برخي ته که مو په یاد وي اوله برخه دا وه چه د بیګ بینګ سنګُلاریټي یا سینګل پاینټ څنګه پیدا او منځ ته راغلی ؤو . پوه شو چه سینګل پاینټ الله [ کریټر] پیدا کړي دی . اوس دوهمه موضوع دا ده چه ددي سینګل پاینټ څخه په کوم کې چه آسمانونه او ځمکه یوځای نښتي ؤو کائنات څنګه منځ ته راغله ؟ په دي هکله قرآن کریم فرمایې چه ځمکه او آسمانونه الله [کریټر] سره بیل او جدا کړل او دا هر څه الله کړي دي یعني دځمکې او آسمانونو بیلوالی او جداکېدل او د کائناتو جوړیدل د خالق یا کریټر د کنټرول لاندي شویدي . راځئ چه وګورو چه په دي ځای

کې د ساینسدانانو تیوري او نظر څه دي او صحیح دي او که غلط ؟ملحد ساینسدانان وایې چه : د بیګ بینګ ایکسپلوژن یا انفجار یا چاودنه پخپل سر او بای چانس شوي ده یعني ځمکه او آسمانونه پخپل سر بیل او کائنات هم پخپل سر او بای چانس منځ ته راغلي دي . لیکن ساینس د ساینسدانانودا تیوري رده وي غلطه ورته وایې. ځکه چه د ترموډینامیک دوهم قانون وایې چه : هره حادثه ،کار او یا هر شی که کنټرول نشي او په خپل سر پریښودل شي اینټراپی یا ګډوډي ، بي نظمي او خرابي منځ ته راځي او د وخت په تیریدو سره اینټراپی یا ګډوډي او بي نظمي نه کمیږي بلکه زیاتیږي . مثلاً د بم دانفجار یا ایکسپلوژن څخه وروسته هیڅکله نظم او آبادي منځ ته نه ده راغلي . بلکه ګډودي ، خرابي او بي نظمي منځ ته راغلي ده .حال دا چه بیګ بینګ په کائناتو کې د ټولو څخه لوي او غټ ایکسپلوژن او انفجار ؤو . د ساینسدانانو د تیوري او د ترمو ډینامیک د قانون مطابق باید د بیګ بینګ څخه وروسته غیري منظم او ګډوډ کائنات منځ ته راغلي ؤو . خو نتیجه ۱۰۰ فیصد د ساینسدانانو د تیوري او ترموډینامیک د قانون برعکس او سرچپه ده .ځکه ددي څخه خو هیڅوک انکار نشي

کولای چه زمونږ کائنات یا یونیورس ډیر ښکلي ، منظم ، او ډیزاین شوي دي . همدارنګه منظم قوانین پکې موجود دي او دا هر څه تیوري نه بلکه حقیقت دي . همدارنګه دترموډینامیک دوهم قانون هم تیوري نه بلکه حقیقت دی . نو بي د شکه دا ثبوت شوه چه د ساینسدانانو دا تیوري او نظر چه وایې بیګ بینګ پخپله او بای چانس شوي دی غلط او د ساینس دخوا څخه رد کیږي ځکه که بیګ بینګ پخپل سر په غیر د خالق نه شوي ؤ نو بیا خو به د ترموډینامیک د قانون په اساس یو منظم یونیورس نه ؤو منځ ته راغلي بلکه یو غیري منظم او ګډوډ یونیورس یا کائنات به منځ ته راغلي ؤو .نو فزیک په غیري مستقیم یا اینډایرکټ ډول اشاره او سیګنل دي خبري ته ورکوي چه: بیګ بینګ د خالق یا کریټر د کنټرول لاندي شوی دی چه الله تعالی دی. ځکه د منظم او ډیزاین شوي یونیورس یا کائناتو موجودیت ددي ثبوت دي چه د بیګ بینګ انفجار پخپل سر نه دی شوی بلکه د خالق [کریټر] دکنټرول لاندي شوی دی . په آخر کې ډیر یو مهم سوال چه د فلسفي او د ساینس عالمانو ته راجع کیږي دا دی چه: ولي د ۱۵ پیړۍ بي سی یعني دارسطو ، سقراط او افلاطون دزماني څخه د

انشتټین د زماني پورې یا په بل عبارت د حضرت محمد [صلی الله علیه وسلم] د زماني څخه څوزره کلونه د مخه او ۱۳۰۰ کلونه وروسته پورې هیڅوک په دي نه پوهیدو او نه یې دا خبره کولای شوه چه کائنات یا یونیورس لویږي ؟ جواب دا دي . ځکه چه په دي خبره پوهیدل او یا ددي خبري کول د ماډرن ټیلیسکوپ او د ۲۰ پیړۍ د ټیکنالوژي د کمک څخه په غیر ناممکن ؤو . نو بیا محمد [ صلی الله علیه و سلم ] ته دا معلومات او اینفارمیشن چا ورکړو چه کائنات یا یونیورس لویږي . ځکه چه محمد [صلی الله علیه و سلم ] لیکل او لوستل هم نه ؤو کړي او نه ساینسدان او فیلسوف ؤو او نه د ۲۰ پیړۍ ټیکنالوژي او ټیلیسکوپ موجود ؤو . جواب دا دي چه محمد [صلی الله علیه وسلم ] ته دا معلومات الله تعالی د وحې پواسطه ورکړي ؤو .نو ثابته شوه چه قرآنکریم د الله تعالی سوچه او پاکې خبري دي.و ما علیناالاالبلغ المبین

ډاکتر محمد عثمان نظامي

## الدّرس(۳)

# کائنات څومره غټ دي؟

زمونږ شمسي نظام یا سولر سیستم د ملکیوی په ګلکسي یا کهکشان کې واقع دی . لمر د ځمکې نه دیارلس لکه کرته لوي دی.او داسي ۴۰۰ بیلیونه لمرونه یا ستوري نور هم د ملکیوی په ګلکسي کې شته دي یو بیلیون زر میلیونه کیږي.په دي کې داسي ستوري یا ستار هم شته دي چه په لکونو او بیلیونو کرته د لمر نه لوي دي.همدارنګه ساینسدانان وایې چه:د ملکېوی پشان تقریباً ۲۵۰ بیلیونه ګلکسي یا کهکشانونه نور هم په کائناتو کې موجود دي. چه:پدي کې داسي ګلکسي هم شته چه د ملکیوی د ګلکسي نه په لکاوو او میلیونونو واري لویې دي. او په هره ګلکسي کې تقریباً ۴۰۰ بیلیونه ستوري موجود دي.ساینسدانان وایې چه په ځمکه کې چه څومره د شګو داني دي.ددي نه په آسمان کې ستورې یا ستارز ډیر دي.حیران به شئ چه دا اندازه خو دهغو کائناتو ده کوم چه مُشاهده او لیدل شویدي.

کوم چه دټولو کائناتو پينځه فيصده دي.حديث شريف دي چه:ددي ټولو کائناتو يعني د پينځه فيصدو معلومو کائناتو جمع پينځه نوي(95) فيصدو نا معلومو کائناتو حيثيت د الله د کُرسۍ په مقابيل کې داسي دی لکه يوه ګوته يا رينګ چه په دشته کې پروت وي .اود کُرسۍ حيثيت د الله دعرش په مقابل کې داسي دی لکه يوه ګوته چه په دشته کې پرته وي.اوس فکر وکړئ چه: د کائناتو او د عرش مالک او خالق به څومره لوي وي؟الله اکبر الله اکبر الله اکبر.

## الدرس(۴)

# د حقيقت په لټه کی (الله تعالی څوک دي)

که څوک فکر وکړي چه زه څوک یم، ولي پیدا شوی یم،او دنیا ته د څه مقصد دپاره راغلی یم؟ آیا دنیا ته زما د راتلو مقصد صرف دا دی چه ،وڅکم، وخورم ، -------------------------------------

پیسې وګټم، واده وکړم،بچي راوړم،کور جوړ کړم،زوړ شم اوبالآخره مړ شم.او یا که د ژوند بل کوم مقصد هم شته؟همدارنګه ،مختلف شیان نباتات،حیوانات،انسانان،غرونه،دریابونه-------- ،آسمان،ستوري،لمر ،سپوږمی او نور ټول په ډیر منظم ډول د مکمل کنټرول لاندي چلیږي.نو نن مونږ په همدي بحث کوو چه آیا دا دومره لوي نظام پخپله جوړ شوی دی آیا د خالق نه پرته پخپله چلیږي او پخپله کنټرولیږي، او که خالق ،چلوونکی او کنټرولر لري؟

فکر وکړئ که زه ووایم!چه په دشته کې می په خاوره کې د خاورو نه جوړ شوي ګیلاس پیدا کړو چه د وخت په تیریدو سره پخپله جوړ شوی ؤو،

نو تاسو زما خبره نه منئ ځکه چه تاسو پوهیږی چه پخپله یو شي نه جوړیږي،او که زه پخپله خبره کلک شم تاسو شاید په ما د لیوني ګمان وکړئ.نو که څوک دا نه قبلوي چه یو د خاورې ګیلاس دي پخپله جوړ شوی وي نو بیا دا څرنګه مني چه دا لوي کائنات دي پخپله جوړ شوي وي،او پخپله دي کنټرولیږي.

لمر د ځمکې نه 1.3میلیون کرته لوي دی،او لمر د ملکېوی په ګلکسي کې وړوکی ستوری دی،دلمر پشان 400 بیلیون نور ستوري هم د ملکېوی په ګلکسي کې شته دی.یو بیلیون 1000 میلیون کیږي .په پیژندل شوو کائناتو کې 250 بیلیون ګلکسیز دي. او په هره ګلکسي کې 400 بیلیونه ستوري دي.او ټول ستوري په حرکت کې دي،کله کله یوه ګلکسي په بله ګلکسي ورشي مګر پرته د ټکر او کومي حادثې نه یوه د بلې نه تیریږي.

آیا دا منظم نظام پخپله جوړ شویدی او پخپله کنټرولیږي؟

په لمر کې په یوه ثانیه کې د 500 میلیون اټوم بمونو په اندازه انرژي تولیدیږي.

ځمکه په یو وخت کې د محور په خوا او شاه د1000 مایلز په یو ساعت کې سرعت سره ګرځي،او شپه او ورځ جوړیږي او د 67000 مایلز په یو ساعت کې سرعت سره د لمر په شا او خوا ګرځي،په 365 ورځو کې یو کال پوره کیږي او څلور فصلونه جوړیږي.

او همدارنګه ځمکه د سولر سیستم سره یو ځای د 720000 کیلومتر په یو ساعت کې سرعت سره د سټار ویګاه خواته روانه ده،

فکر وکړئ همدا اوس تاسو په داسي جهاز کې ناست یاستی چه د خپل محور په ګردچاپیر هم حرکت کې دی ،د لمر نه ګردچاپیرهم ګرځي او دشمسي نظام سره یو ځای د سټار ویګاه خواته هم روان دی.

مګر ډیره حیرانوونکې ده چه تاسو د خوځیدو احساس هم نه کوی.

آیا دا دقیق سیستم پخپله جوړشویدی او پخپله کنټرولیږي؟

که په کائناتو کې فاصلې وګورو، په کائناتو کې فاصلې په متر او کېلو متر باندي نه اندازه کیږي،مګر په نوري کال یا لایټ ییر اندازه کیږي

مثلاً زمونږ د لمر سره د ټولو نه نژدې ستورې 4.3 لایټ کلونه لري دی،

زمونږ د ملکېوې ګلکسي سره د ټولو نه نژدي ګلکسي انډرومیډا زمونږ نه 2000000 لایټ کلونه لري ده.

د لایټ سپیډ 300000 کېلومیتره په یو ساعت کې دی،لایټ چه په یو کال کې څومره فاصله طې کوي ورته یو نورې کال وایې.چه 9.5 ټریلین کېلومتره کیږي.

په ځمکه کې د 2000000 دوه میلیونه څخه زیاتې نوعې د ژوندیو موجوداتو موجود دي،چه یواځې د انساني نوعې تعداد 7.5 بیلیونو ته رسیږي،حشرات الارض خو دومره زیات دي چه د یو انسان دپاره د 200 میلیونو نه زیات رسیږي.

په ټوله ځمکه کې یو اینچ مربع ځای داسي نشته چه هلته ژوندی موجود نه وي.

د دي دومره ژونديو شيانو د رزق په باره کې فکر وکړئ،

او څومره حيرانونکې ده چه د هر شي غذا موافق ده،

مثلاً شنه ګياه او ترکاري د غوا دپاره موافق غذا ده خو دزمري دپاره موافق نه ده،غوښه د زمري دپاره موافق غذا ده خو د غوا دپاره نه ده، مګر د انسان دپاره غوښه او شنه ترکاري دواړه موافق دي.

آيا دا دومره دقيق نظام پخپله چليږي او پخپله کنټروليږي؟

د کائناتو په عمومي ساختمان نظر واچوئ،دومره زيات مشابهتونه دي چه په ښکاره ډول معلوميږي چه دا کائنات د يو قدرت او يو ذهن پواسطه جوړ شوي دي،مثلاً اتوم ګرد دی ،په مرکز کې يې هسته ده او ګرد چاپيره په مدارونو کې ايليکترونونه حرکت کوي،همدارنګه د سولر سيستم په مرکز کې لمر دی او ګرد چاپير تري سياري تاويږي ،د دواړو عکسونه سره شباهت لري، ځمکه ګرد شکل لري او سپوږمۍ تري ګردچاپير تاويږي،

ميلکېوي ګلکسي ګرده ده او زمونږ سولر سيستم يې د مرکز نه ګرځي ،ټول ستوري ګرد دي او سياري تري ګردچاپيرتاويږي،

ټول ژوندي موجودات نباتات او حيوانات د حجرو نه جوړ شوي دي،هر ژوندی شي نباتات او حيوانات د ډي این ای د پروګرام مطابق جوړيږي يعني په هر ژوندي شي کې ډي این ای موجود دی

نو که غور وکړو په کائناتو کې هر شي د حال په ژبه وايې او چغي وهي چه زه خالق او رب لرم چه الله تعالی دی.

نو دا لوي کائنات نه پخپله پيداشويدي او نه پخپله کنټرول او چليږي. خالق چلونکی او کنټرولونکی لري چه الله تعالی دي.

و ما علينا الاالبلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۵)

# الله تعالی د کائناتو خالق دی

دهریان یا ملحد یا ایتیېس وایې چه هر څه د خالق یا کریټر نه په غیر پخپله پیدا شویدي،که  د انسان یوي مجسمي یا بُت ته  متوجه شو او غور وکړو ،پوهیږو چه ،ساینس او عقل دا نه مني چه دا مجسمه دي پخپله جوړه شوي وي،نو بیا ساینس او عقل دا څنګه منلای شي چه د مجسمي جوړونکی انسان دي پخپله جوړ شوی وي.که عقل او ساینس دا نه مني چه یو موټر دي پخپله په غیر د انجینر نه جوړ شوی وي نو بیا دا څنګه مني چه د موټر جوړونکی انجینر دي پخپله په غیر د خالق او کریټر نه جوړ شوی وي.که عقل او ساینس دا نه مني چه یو رباط دي پخپله جوړ شوی وي نو دا څنګه منلای شي چه د رباط جوړونکی انجینر چه جوړول یې بې حسابه واري د رباط د جوړولو څخه مغلق دي هغه دي پخپله په غیر د کریټر او جوړونکی نه جوړ شوی وي،که عقل او ساینس دا نه مني چه په موبایل کې دي شل میګا فیکسل کېمره پخپله جوړه شوي وي ، نو دا څنګه منلای شي چه

په سترګه کې دي ۵۸۵ میګافیکسل کمره پخپله جوړه شوي وي په ځای د دي چه په غیر د فکر او غور نه د نورو پیروي او تقلید وکړئ ښه به دا وي چه پخپله غور او فکر وکړئ یو ځل خو قرآن ښه په غور سره مطالعه کړئ ان شأالله چه ستاسو ټول سوالونه به حل شي.او پوه به شی چه کائنات خالق او کریټر لري چه الله تعالی دی.و ما علینا الا بلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

# الدرس(۶)

# الله چا پیدا کړی دی؟

د ډېري پخوا زماني څخه ایتیس یا ملحدین اکثره د مسلمانانو نه داسي پوښتني کوي چه دا ځمکه ،آسمانونه،انسانان،حیوانات،نباتات او دا ټول کائنات چا پیدا کړیدي نو کله چه جواب ورکول شي چه دا هر څه الله پیدا کړیدي نو سمدستي به خپل شیطاني سوال رامخکي کړي چه الله چا پیدا کړیدی، ددي پوښتني په جواب کي باید ووایو چه:
اول دا سوال غلط دی ځکه دا سوال فقط هغه شي ته راجع کیږي چه پیدا شوی وي او هر شی چه پیدا شوی وي هغه مخلوق یا کریشن وي مګر الله خو خالق دی کریټر دی نو که خالق یا کریټر بل چا پیدا کړو نو بیا خو هغه خالق نه بلکه مخلوق کي راځي ځکه چه هر پیدا شوي شی مخلوق دی فلهذا دا سوال بالکل الله ته نه راجع کیږي ځکه چه الله چا نه دی پیدا کړي خالق او کریټر نلري.دوهم --فرضاً که خالق یا کریټر بل خالق ولري سوال خو بیا هم نه حلیږي ځکه چه د هغه په باره کي بیا هم همدا سوال کیږي چه هغه چا پیدا کړیدی او که

هغه هم بل چا پيدا کړی وي يعني بل خالق ولري نو بيا هغه خو به هم چا پيدا کړی وي دا خو يو لايتناهی او انفينيټ سوال او جواب شو چه هيڅ آخر او اينډ نلري.

حال دا چه بل خوا ته حقيقت او رياليټی موجود ده زه يم ته يې کائنات شته او دا هرڅه تيوري نه بلکه حقيقت دی نو د مخلوق وجود ددي ثبوت دی چه خالق يا کريټر شته.ځکه چه د مخلوق وجود په غير د خالق يا کريټر څخه ناممکن دی نو د سوال او جواب دا سلسله به د هغي پورې مکمل نشي د څو پورې چه داسي يو خالق ته ونه رسيږو او داسي يو خالق يا کريټر ونه منل شي چه هغه هيڅ چا نه دی پيداکړي او هغه بل خالق يا کريټر نلري.نو همدا دی لَمْ يلدْ وَ لَمْ يُولَدْ. اوهمدا دی الله. وما علينا الاالبلغ المبين.ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(٧)

# د کائناتو موجودیت د الله د وجود لوی ثبوت دی.

په ۵۲ سورت او ۳۵ او ۳۶ آیتونو کې الله تعالی فرمایي ! أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿35﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَلْ لَا يُوقِنُونَ ﴿36﴾ آیا دوي د خالق نه پرته پخپله د هیڅ شي نه پیدا شویدي؟،یا پخپله د خپل ځان پیدا کوونکې دي؟آیا دوي آسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟بلکه دوي باور نلري.

په دي مبارکو آیتونو کې الله تعالی انسانان دي حقیقت ته متوجه کوي چه د کائناتو په باره کې فکر وکړئ چه انسان او دا دومره لوي کائنات څنګه پیدا شویدي؟نو علماء د دي تشریح داسي کوي (اول)آیا کائنات په غیر د کوم خالق یا کریټر څخه د عدم یا هیڅ شي نه پخپله پیدا شوي دي؟،مګر دا احتمال د حقیقت نه ډیر لري دی ،ځکه چه دا د ساینس--------------------------------------

عقل او کامن سینس خلاف خبره ده ځکه چه تر،
اوسه پورې نه مشاهده شوي او نه په لابراتوار کې
تجربه شوي او نه کوم عقلي دلیل موجود دی چه د
نشت یا نتینګ نه یو شی یا سمتینګ جوړ شوی وي
او دا د ترموډینامیک قانون هم دی چه نشت یا هیڅ
شی نشي کولای چه یو شی منځ ته راوړي، نو دا
خبره چه کائنات د هیڅ شي او نشت نه پخپله په
غیر د خالق نه منځ ته راغلي دي محال او نا ممکنه
ده.(دوهم) آیا کائناتو خپل ځان پخپله پیدا کړی
دی؟،خو دا خبره هم د عقل او ساینس خلاف ده
چه یو شی دي خپل ځان پخپله جوړ کړي ځکه چه
په یو وخت کې دا کېدلای نشي چه یو شی دي هم
موجود وي او هم دي موجود نه وي دا داسي ده
لکه څوک چه ووایې چه پلانکی ښځې خپل ځان
پخپله ځیږولی دی نو دا خبره چه کائناتو خپل ځان
پخپله جوړ کړی دی هم ناممکنه او محال ده (دریم)
آیا دا موجود کائنات د نورو کائناتو پواسطه جوړ
شوي دي؟ مثلاً که دي کائناتو ته اول نمبر او ددي
نه مخکې کائناتو ته دویم نمبر ووایو نو که اول
نمبر کائنات د دویم نمبر کائناتو پواسطه جوړ شوي
وي نو دوهم نمبر کائنات هم باید د دریم نمبر
کائناتو پواسطه جوړ شوي وي او دریم نمبر کائنات

هم باید د څلورم نمبر کائناتو پواسطه جوړ شوي وي او څلورم نمبر کائنات هم باید د پینځم نمبر کائناتو پواسطه جوړ شوي وي یعني د هر نمبر کائناتو د جوړولو دپاره باید د هغی نه مخکې بل نمبر یا نور کائنات موجود وي نو په دي صورت کې خو د اول نمبر کائناتو جوړیدل او موجودیت ناممکن دی ځکه چه دا خو یو لایتناهی سلسله ده چه آخر او اینډ نلري.

(څلورم) آخرنۍ لار دا ده چه کائنات د داسي یو خالق یا کریټر پواسطه پیدا شوي دي چه هغه بل خالق یا کریټر نلري یا اَنکریېټیډ کریټر دی، چه همدا د کائناتو د موجودیت او پیداکېدو عقلي او منطقي لار ده ،ځکه تر څو چه انکریېټیډ کریټر یا داسي خالق نه وي چه هغه بل چا نه وي پیدا کړی نو د کائناتو موجودیت ناممکن دی،او د کائناتو د وجود نه پغیر زمونږ موجودیت ناممکن دی،نو زمونږ او د کائناتو موجودیت د دي ثبوت دی چه خالق یا کریټر شته دی او نعوذبالله که خالق نه ؤو نو نه به مونږ ؤو او نه به کائنات ؤو،نو د خالق نه انکار د خپل ځان او کائناتو د وجود نه انکار دی ،فلهذا زمونږ شتون او وجود د خالق د وجود ثبوت دی ،همدارنګه خالق باید ډیر طاقت او قدرت

ولري ځکه چه ټول کائنات يې پيدا کړي دي،او بايد
چه ډير زيات عاقل،هوښيار او عالم وي ځکه چه د
ټولو کائناتو ډيزاين او قوانين يې جوړ کړيدي،او
بايد د کائناتو څخه مختلف وي ځکه چه هغه کائنات
جوړکړيدي مثلاً که نجار ميز جوړ کړي نو نجار
خو بايد د ميز په شان نه وي بلکه مختلف
وي.همدارنګه بايد هميشه او ابدي يا ايټرنل وي
ځکه چه پيدا شوی نه دی نو بايد چه د اذل او ابد نه
موجود وي.او بايد چه يو وي ځکه که د يو نه زيات
وي بيا خو اختلافات او په کائناتو کې ګډوډي او
ورانيدل منځ ته راځي.

قرآنکريم د کائناتو د خالق تعريف داسي فرمايې:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿1﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿2﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿3﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿4﴾

وايه!الله يواځي يو دی،الله هيچاته احتياج نه دی
اوټول الله ته احتياج دي نه هغه څوک ځيږولی دی
او نه هغه ځيږول شوی دی،او هيڅوک د هغه سيال
او برابر نشته.و ما علينا الا البلغ المبين.ډاکټر محمد عثمان نظامی

## الدرس(٨)

# اسلام او ساينس.
# د الله تعالی د وجود ثبوت په ساينسي او عقلي دلايلو سره.
# او د کائناتو په باره کې د کال مارکس د فلسفي رد.

اول خو ستاسو ټولو نه هيله کوم چه دا مضمون په غور سره واورئ، که تاسو فکر کوئ چه زمونږ ضرورت نشته خو ستاسو بچي ورته ضرورت لري ،ځکه ستاسو بچي دساينس شاګردان دي،په مکتبونو کاليجونو او فاکولتو کې ورته ډول ډول سوالونه پيداکيږي ،نو که جواب ورنه کول شي نو خدای دي نکړي د الحاد خواته به لاړ شي،نو هيله ده چه د خپلواولادونو دپاره خپل ځانونه پوه کړئ او د ضرورت په وخت کې مرسته ورسره وکړئ.
راځو موضوع ته:

د فزيک د ترموډيناميک اول قانون وايي چه ماده يا مټر او انرجي نه پيدا کيږي او نه د منځه ځي،يا ماده او انرجي په دي نيچرل يونيورس يا طبعي کائناتو کې د کوم مادي سبب يا کاز پواسطه نه

جوړیږي او نه تخریبیږي،یا په بل عبارت په کائناتو کې چه څومره انرجي او ماده موجود ده، ددي د پیداکېدولو اویا د منځه وړلو اصلی سبب یا پرایم کاز د کائناتو په داخل کې نه دی، یعني فزیک اشاره کوي چه اول سبب یا پرایم کاز د نیچرل یا طبعي کائناتو نه دباندي دی،نو ځکه ورته مافوق طبیعت سبب یا سوپر نیچرل کاز وایې،نو د دي اصلی سبب یا پرایم کاز په باره کې اول د ملحدینو یا ایتیېسو خبري او نظریات اورو او بیا ان شأالله د هغوي جوابونه وایو.کله چه ملحدین دي ځای ته یعني اصلی سبب یا پرایم کاز ته راورسیږي نو نور مخکې تلای نشي،ځکه چه په سمه لاره دوي نه ځې او غلطه لار بنده ده.نو په دي ځای کې دوي منزل ته د رسیدلو کوشش نکوي بلکه د ځان د وښکلو او خلاصولو کوشش کوي.دوي وایې چه که د فزیک دا خبره ومنل شي چه د مادي او انرجې د پیداکېدلو او د منځه وړلو اصلی سبب یا پرایم کاز د کائناتو نه دباندي یعني مافوق طبیعت طاقت یا سوپر نیچرل پاور دی،نو د ضد نه کار اخلي او وایې چه ضرور نه ده چه دا سبب یا کاز دي شعور او عقل ولري، او الله تعالی دي وي،نور وایې.

چه کېدلای شي چه انرجي او ماده یعني کائنات د کومي طبعي حادثې یا نیچرل پراسیس پواسطه پیدا شوي وي،چه مونږ یې تر اوسه نه پیژنو.

یعني دوي وایې چه د کائناتو د پیداکېدلو سبب یا کاز صرف هغه شی کېدلای شي چه عقل او شعور ونلري.او دا د داسي کوم نامعلوم سړی خبري نه دي بلکه د ارمی ایوبي چه یو ایرانی ملحد دی فعلاً په کاناډا کې اوسیږي ماته چه څومره معلومه ده دوه کاله مخکې یې یو میلیون ملګري درلودل، هغه د خپل کتاب په ۱۴ چیپټر کې دا جملی لیکلی دي،کومي چه ما اوس ذکر کړي ،همدارنګه ریچرډ ډکوین او نور ملحدین هم همداسي وایې. اوس ان شأالله د دوي ددي خبرو جوابونه وایو.ددي ځای پورې خوملحدین یا ایتهیس مني چه کائنات سبب یا کاز لري،یعني د کائناتو د پیداکېدلو اول سبب یا پرایم کاز مني خو دا نه مني چه دا اول سبب دي عقل او شعور ولري.یعني اختلاف په دي کې دی چه آیا اول سبب یا پرایم کاز عقل او شعور لري او که نه؟چه ددي جواب ان شأالله وایو.کله چه ملحد دا ومنله چه پرایم کاز کائنات پیداکړیدي ،نو دا معلومه او ثابته شوه چه په پرایم کاز کې قدرت یا پاور ؤو.

،ځکه که قدرت یا پاور پکې نه وه نو بیا خو به یې کائنات نه ؤو جوړ کړي ،نو ټوله دنیا او حتی ایتیېس هم دا مني چه په اول سبب یا پرایم کاز کې د کائناتو د جوړولو قدرت او پاور موجود ؤو. اودا چه په اول سبب کې د جوړولو قدرت موجود ؤو معلومه خبره ده چه د نه جوړولو قدرت هم پکې موجود ؤو،مثلاً که زه دا قدرت لرم چه لیپټاپ بند کړم معلومه خبره ده چه دا قدرت هم لرم چه بند یې نکړم ،یعني د کائناتو د جوړولو او نه جوړولو یا د بیګ بینګ د کولو او نه کولو دواړه قدرتونه یا پاور په اول سبب کې موجود ؤو، یا په بل عبارت اول سبب یا پرایم کاز کې دوه اختیاره یا ابشنز موجود ؤو د کائناتو د جوړولو اختیار او د کائناتو د نه جوړولو اختیار ،دا چه اول سبب یا پرایم کاز باید کوم اختیار استعمال کړی ؤو ،نو ددي دپاره د ارادي ضرورت ؤو ،یعني په پرایم کاز یا اولني سبب کې د ارادي قدرت هم ؤو ،چه د کائناتو د جوړلو اختیار ته یې د کائناتو د نه جوړولو په اختیار ترجیح ورکړه او د اول سبب یا پرایم کاز د ارادي نه کائنات جوړ شول.نو ثابته شوه چه په اولني سبب یا پرایم کاز کې د ارادي قدرت او پاور موجود ؤو.زه خپلي خبري یو ځل بیا په لنډ ډول

تکراروم!ددي ځای پورې ټول خلک یعني ملحدین او مسلمانان دا مني چه :کائنات د اول سبب یا پرایم کاز یا علت اولی پواسطه منځ ته راغلي دي ،او دا هم ټول مني چه په اول سبب کې د کائناتو د پیداکېدلو قدرت او پاور موجود ؤو،هیڅوک ددي نه انکار نشي کولای، ځکه که قدرت او پاور پکې نه ؤو نو بیا به یې کائنات څنګه منځ ته راوړي ؤو،مګر ملحدین یا ایتېیېس دا نه مني  چه په اولني سبب کې عقل او شعور موجود ؤو،

جواب! اول سبب یا پرایم کاز او دا چه په اول سبب کې د کائناتو د منځ ته راوړلو  قدرت او پاور ؤو ددي ځای پورې خو ملحد مني ،نو که په اولني سبب کې د کائناتو د پیداکېدلو قدرت ؤو ،نو معلومه خبره ده چه د کائناتو د نه پیدا کېدلو قدرت هم پکې ؤو،یعني د اولني سبب سره دوه اختیاره یا دوه ابشنز موجود ؤو،د کائناتو د پیدا کولو اختیار او د کائناتو د نه پیداکولو اختیار،نو ددي دپاره چه اولنی سبب د دي دواړو اختیارونو نه یو انتخاب او استعمال کړي نو ددي دپاره اراده ضرور وه،یا په بل عبارت په اول سبب کې دا دوه اختیاره موجود ؤوچه کائنات جوړ کړي او که جوړ یې نکړي،نو ددي دپاره چه اول سبب ددي دوه اختیارونو نه کوم

اختیار انتیخاب کړي چه آیا کائنات جوړکړي او که نه،بیګ بینګ وکړي او که نه نو ددي کار دپاره اراده ضرور وه ،نو ارادي په اول سبب کې ددي دوه اختیارونو نه د کائناتو د جوړولو اختیار انتخاب او استعمال کړو،او په دي ډول د اول سبب د ارادي نه کائنات منځ ته راغلل ، ثابته شوه چه په اول سبب کې د ارادي قدرت ؤو ،اوس راځو دي ته چه د ارادي دپاره شعور ضرور ؤو .اول یو مثال ته غوږ ونیسئ!ما لیپټاپ خلاص کړیدی او مطالعه کوم،ما سره دواړه قدرتونه او اختیارونه شته دي چه: لیپتاپ بند کړم او که بند یې نه کړم ،دا چه کوم یو اختیاراستعمال کړم،نو دا خبره ځما عقل او شعور تجزیه او انَلایز کوي او ځما ارادي ته وایې چه د نه بندیدلو اختیار انتخاب کړه ځکه که لپټاپ بند شي نو د سړي مطالعه به خرابه شي،یعني پرته د عقل او شعور نه اراده هیڅ ده،یا په بل عبارت د کائناتو د پیداکولو دپاره په اول سبب کې د کائناتو د پیداکېدلو د اختیار د انتخاب او استعمال دپاره اراده ضرور وه او د ارادي دپاره شعور اوعقل ضرور ؤو،او که چیرته اول سبب یا پرایم کاز داسي نه ؤو یعني اراده او عقل پکې نه ؤو، نو بیا خو د کائناتو منځ ته راتلل ناممکن ؤو،ځکه چه د

ارادي نه پرته د کائناتو د جوړولو د اختیار انتخابول ناممکن ؤو، او د عقل او شعور نه پرته اراده ناممکنه وه یعني

په اول سبب یا پرایم کاز کې د کائناتو د جوړولو د اختیار د انتخاب د پاره اراده موجود وه او د ارادي دپاره عقل او شعور موجود ؤو .نو ثابته شوه چه د ملحدینو خبري چه وایې چه په اول سبب کې شعور نه ؤو غلطي دي،بلکه په اولني سبب یا پرایم کاز کې عقل او شعور موجود ؤو،او موجود دي او موجود به وي

دوهم-د اول سبب یا پرایم کاز پواسطه د مادي او انرجې یعني د کائناتو د پیداکېدلو مطلب دا دي چه د بیګ بینګ انفجار یا ایکسپلوژن د اول سبب یا پرایم کاز پواسطه شویدی،او-------------------

بیګ بینګ په دومره دقیق او حساس حساب او کنټرول سره شویدی چه که چیرته په دي حساب او کنټرول کې د یو سیکېنډ یا ثانیې څخه هم په ډیره کمه اندازه تغیر راغلی ؤو نو کائنات به جوړ شوي نه ؤو،او یا که یو پنسل په تیره شوي څوکه ودرول شي او د میلیون کلونو په تیریدو سره په غیر دسپورټ نه ونه ولیږي وایې چه ددي څخه هم ډیر

دقيق او حساس شوی دی .او دا ځما خبره نه بلکه دا د ملحدينو ساينسدانانو خبره ده دا د سټيفن هاکېنګ خبره ده .نو زه د ملحدينو نه پوښتنه کوم چه که چيرته په اول سبب يا پرايم کاز کې عقل او شعور نه ؤو ،نو بيا د بيګ بينګ دا دومره د قيقه چاودنه د عقل او شعور نه پرته څنګه کنټرول شوه؟ثابته شوه چه په اول سبب يا پرايم کاز کې عقل او شعور ؤو.

دريم—— پوهيږو چه کله چه يوه چاودنه وشي ، نو چاوديدونکې مواد هري خواته بي کنټروله په غيري منظم ډول ځې او د چاودنې يا ايکسپلوژن نه وروسته ګډوډي او بي نظمي راځي.ليکن د بيګ بينګ چاودنه يا انفجار چه د ټولو نه لويه چاودنه وه،داولي لحظې يا فرسټ مومينټ نه د مکمل کنټرول لاندي وه،او مخکې د دي نه چه چاوديدونکې مواد مخ په وړاندي لاړ شي نو مخکې د مخکې نه منظم قوانين او ډيزاين يعني مکمله نقشه موجود وه،نو چاوديدونکې مواد د همدي قوانينو او ډيزاين يا نقشي مطابق په منظم ډول مخ په وړاندي تلل او د همدي قوانينو او نقشي په اساس ستوري ،آسمانونه،ځمکه،انسانان،حيوانات،نباتات و غيره ډيزاين کېدل او جوړيدل.آيا که چيرته په

اول سبب يا پرايم کاز کې عقل او شعور نه ؤو نو د بيګ بينګ د چاودنې د کنټرول او د چاوديدونکو موادو د وړاندې تلو دپاره مخکې د مخکې نه دا قوانين او نقشه څنګه جوړه شوي وه؟نو ثابته شوه چه په اول سبب يا پرايم کاز کې عقل او شعور موجود ؤو.او اوس هم پکې شته او هميشه به پکې وي او همدي اولني سبب يا پرايم کاز ته مونږ الله تعالی وايو، زمونږ خالق او رب العلمين دي،لم يلد و لم يولد دي.

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿1﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿2﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿3﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿4﴾

و وايه:الله تعالی يواځې يو دی،الله تعالی بې پروا دی هيچاته محتاج نه دی او هر شی الله تعالی ته محتاج دی،نه الله تعالی څوک ځيږولي او نه الله تعالی ځيږول شوي دی،او هيڅوک د الله تعالی سيال او برابر نشته.سورت الاخلاص د الله تعالی تعريف دی،نو که خپل اولادونه يا بل څوک درڅخه د الله تعالی په باره کې پوښتنه وکړي نو غصه او وهل مه کوه،او مه داسې وايه چه د الله تعالی په باره کې پوښتنې مه کوه چه کافر کيږې او د اسلام نه يې

زړه مه توروه ،بلکه د الله تعالی حکم ومنه او سورت الاخلاص ورته د ترجمي سره تلاوت کړه، دا سورت د الله تعالی تعریف دی .الله تعالی تنها یو دی،ټول مخلوق ملائیکې،پیریان او انسانان الله تعالی ته محتاج دي مګر الله تعالی د هیڅ چا محتاج نه دی،ښځه،ځوي او لور نلري،او نه مور او پلار لري،د همیشه څخه موجود دی خالق نلري یعني چا پیدا کړی نه دی،خو افسوز زمونږ په حال:که یو څوک د دولسم صنف ،او فاکولتي پورې سبق ویلای شي ،که یو څوک دوکانداري کولای شي او د میلونونو میلونونو حسابونه کولای شي ،او نور مختلف کارونه کولای شي یعني د هر کار د زده کولو استعداد لري او که په مکتب یا هر کار کې د ناپوهۍ او یا د لټۍ په وجه ناکام شي ،نو بیا به د ډیري بي غیرتۍ او شرم احساس کوي .خو افسوز د ۵۰ کلنو مسلمان د دولسم یا فاکولتی فارغ التحصیل په ټول قرآن کې به د یو سورت په معني او مطلب نه پوهیږي او په روزمره ژوند کې به هره ورځ په ډیرو ځایونو کې د ناکامۍ سره مخ کیږي مثلاً د جنازې د لمانځه چل به نه ورځې ،که د امامت ضرورت شي د جَمعی لمونځ به نشي ورکولای خو نه به د شرم او نه د بي غیرتی

احساس کوي او نه د ناکامی،که څوي تري د الله تعالی په باره کې پوښتنه وکړي نو ۴۰ کلونه به یې سورت الاخلاص یعني قل هوالله په هر لمانځه کې تلاوت کړي وي ،خو دا به ورته معلومه نه وي چه مطلب یې څه دی ،نو په عوض ددي چه څوي ته سورت الاخلاص تلاوت کړي او د الله تعالی تعریف ورته وکړي ورته به په غصه شي چه داسي پوښتني مکوه کافر کیږي فکر وکړئ د الله تعالی حکم دی چه څما تعریف ورته وکړه او مونږ خلکو ته وایو چه داسي پوښتني مه کوئ نو که پلار د اولاد داسي پوښتنو ته جواب ونه وایې نو د هغوي په زړه کې دا سوال بي جوابه پاتي کیږي نو د لیسي یافاکولتې په وخت کې یې د نورو سره شریکوي،نو که د کوم ملحد د خوانه ورته غلط جواب ورکول شي او الله دي نه کړي که عقیده یې خرابه شوه نو ګناه به د پلار په غاړه هم وي . وماعلینا الاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(٩)

بسم الله الرحمن الرحيم

# د الله تعالى د وجود لوي ثبوت د الله تعالى كتاب قرآنكريم دى.

د الله تعالى د وجود لوى ثبوت د الله تعالى كلام قرآنكريم دى،خو مونږ ځنګه پوهيږو او ځنګه دا ثبوتوو چه قرآنكريم د الله تعالى كلام دى؟

كه بنه متوجه شئ او خوا او شاه ته وګورئ،په دنيا كې دوه قسمه شيان موجود دي،يو هغه شيان دي چه:د هغوي پشان نور شيان انسان جوړولاى شي،او يو هغه شيان دي چه:د هغوي پشان شيان انسان نشي جوړولاى، مثلاً زما په لاس ساعت دى ، انسان هم كولاى شي چه د دي پشان بل ساعت جوړ كړي،مګر انسان نشي كولاى چه زما لاس جوړ كړي، يا انسان كولاى شي چه زما د سر د خولۍ پشان بله خولۍ جوړه كړي،مګر انسان نشي كولاى چه زما د سر غوندي بل سر

جوړ کړي، یا انسان کولای شي چه زما د پښو د بوټونو پشان نور بوټونه جوړ کړي،مګر انسان نشي کولای چه:زما د پښو پشان نورې پښې جوړې کړې.یعنی!

دنیا کې دوه قسمه شیان دي،چه:د بعضي شیانو پشان نور شیان انسانان جوړولای شي او د بعضي شیانو پشان نور شیان انسانان نشي جوړولای.

اوس په دوي کې د کومو شیانو په باره کې ویل کیږي چه:دا شی الله تعالی جوړ کړی دی،او د کومو شیانو په باره کې ویل کیږي چه دا انسان جوړکړی دی؟فرق څه دی؟فرق دا دی چه د کوم شي پشان شی چه بل انسان جوړولای شي، د دي مطلب دا دی چه: دا شی هم انسان جوړکړی دی،او د کوم شي پشان شی چه بل انسان نشي جوړولای،د دي مطلب دا دی چه: دا شی هم انسان نه دی جوړ کړی.لکه چه: ذکر شو،چه د لاس پشان بل لاس د ټولې دنیا انسانان هم نشي جوړولای،د دي مطلب دا دی چه دا لاس هم انسان نه دی جوړ کړی،مګر د ساعت غوندې

نور ساعتونه نور انسانان جوړولای شي.د دي مطلب دا دی چه:دا ساعت هم انسان جوړ کړی دی.که ټول انسانان کوشش وکړي مګر د سر پشان بل سر به جوړ نکړي،چه:د دي مطلب دا دی چه:دا سر هم انسان نه دی جوړکړی،خو د سر د خولی پشان خولی انسانان جوړولای شي چه: د دي مطلب دا دی چه دا خولۍ هم انسان جوړه کړې ده.یعنی کوم شیان چه انسان جوړولای شی هغه شیان مخکې هم انسان جوړکړي دي،او کوم شیان چه انسان نشي جوړولای ، هغه مخکې هم انسان نه دي جوړ کړي. که په دي مثالونو پوه شوي یاستی نو اوس راځو مطلب ته.کله چه قرآنکریم نازل شو،او نبی ع اعلان وکړو چه زه د الله تعالی پیغمبر یم او قرآنکریم د الله تعالی د طرف څخه په ما نازل شوي دی،او دا د الله تعالی کلام دی.کافرانو انکار وکړو او ویي ویلي چه دا د الله کلام نه دی،دا خو هسي پخوانی قصې دي داسي کلام خو مونږ هم جوړولای شو_وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا قَالُوا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَا ۙ إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ_ ﴿31﴾الانفال---که مونږ وغواړو نو دغه راز

خبري مونږ هم جوړولای شو.دا خو هماغه زړې افسانې دي چه د پخوانیو خلکو څخه راپاتې دي.د کافرانو د دې خبرو په جواب کې قرآنکریم چلینج ورکوي فرمایې! قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقرآن لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿88﴾الاسراء

ورته ووایه:که انسانان او پیریان ټول لاسونه یو کړي چې د دغه قرآن غوندي د کوم شي د راوړلو هڅه وکړي،نو رابه یې نه شي وړلای،که ټول یو د بل سره مرسته او کمک هم وکړي.د قرآنکریم دا چلینج د قیامت پورې ټولو کافرانو ته دی،منکرانو ډېر کوششونه وکړل چه د قرآنکریم دا چلینج مات کړي مګر زور یې ونه رسیدو،نو د قرآنکریم په چلینج کې الله تعالی آسانتیا راوستله فرمایې:هود:۱۳-- أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿13﴾آیا دوی وایي چې پیغمبر ع دا کتاب د ځانه په درواغو جوړ کړی دی؟ورته ووایه:بنه که داسې ده،نو د ده په څېر لس سورتونه راوړئ.یعنې که قرآنکریم نبی ع

جوړکړی وي نو نبي ع خو انسان دی او کوم شي چي انسان جوړ کړی وي هغه نور انسانان هم جوړولای شي.کافرانو ډېر کوششونه وکړل خو لس سورتونه يي هم جوړ نه کړل،الله تعالی ورته د قرآنکريم چلينج نور هم آسانه کړو.

د سورت يونس په ٣٨ آيت کې فرمايي: أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿38﴾

او البقره په ٢٣ آيت کې فرمايي: وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿23﴾يعنی که په قرآنکريم کې شکمن ياستی چي قرآنکريم د انسان کلام دی او محمد (ص) د ځانه ليکلی دی،نو بيا په ټول قرآنکريم کې د يو----- وړوکي سورت غوندي مثلاً سورت-----------الکوثر،سورت الاخلاص--------------------

،سورت العصر.........يعنی چي هر سورت تاسو ته آسانه وي د هغه په مثل يو سورت-----------جوړکړئ،يو خو مونږ او تاسو يو چي خبر نه---- يو،د کوم وخت څخه چي قرآنکريم دا چلينج

ورکړی دی،د هماغه وخت څخه تر اوسه پورې کافرانو او د قرآنکریم دښمنانو دا کوششونه شروع کړي دي،په میلیونونو،میلیونونو ډالر مصرفوي چه د قرآنکریم دا چلینج مات کړي،او نعوذبالله ثابته کړي چي قرآنکریم د الله تعالی کلام نه دی،او انسان لیکلی دی،مګر الحمدلله نه یې تراوسه دا چلینج مات کړی او نه به یې مات کړي،ځکه لکه چي په اول کې ذکر شو چه انسانان هغه شیان جوړولای شي چه بل انسان جوړ کړی وي ،نو په دي سبب چي کافرانو د ۱۴۰۰ کلونو کوششونو او بي حسابه مصرفونو سره سره ونه کړای شو چه د قرآنکریم د یو وړوکې سورت پشان سورت جوړکړي او د قرآن چلینج مات کړي، نو دا د دي ثبوت دی چي قرآنکریم دالله تعالی کلام او کتاب دی.ځکه که چیرته د انسان کلام ؤو نو حتماً به کافرانو دا چلینج مات کړی ؤو.او که اوس هم څوک په قرآنکریم کې شکمن وي او وایې چه قرآنکریم د بنده کلام دی نو دا ګز او دا میدان د قرآن چلینج پخوا هم ؤو،اوس هم دی او دقیامت پورې----- هم،میدان ته دي شي او د قرآنکریم د یو سورت

په مثل دی یو سورت جوړکړئ-- فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿24﴾ خو که تاسو دا کار ونه کړ او له سره به يې ونه کړی شئ،نو د هغه اور نه وویریږئ چه د هغه خس او خشاک بنیآدمان او تیږې دي.یعنی--------------------

نه ستاسو نیکونو دا کار کړی دی،نه ستاسو---- پلرونو کړی دی،او نه به يې تاسو وکړئ نو که د دي سره بیا هم څوک په خپل کفر ولاړ وي نو دا خو پخپله دوزخ ته ځان غورځول دي.و ما علیناالاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(١٠)

# په کائناتو کی د الله تعالی په آیاتونو غور کول

بسم الله الرحمن الرحيم

په سورت يونس کې الله تعالی فرمايي!

أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوحيِنَا إِلَىٰ رَجُلٍ مِنْهُمْ أَنْ أَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۗ قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ مُبِينٌ ﴿2﴾

إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا وَرَضُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوا بِهَا وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ ﴿7﴾سورت يونس

خلک په دي باندي تعجب کوي چه مونږ په يو انسان باندي وحې وکړه او هغه خلکو ته خوشخبري ورکوي چه څوک ايمان راوړي د هغه دپاره جنت او چه څوک کفر وکړي د هغه دپاره د دوزخ اور دي،خلک وايې چه دا څنګه کېداى شي. د الله د بيان انداز ته وګورئ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا

ای خلکو تاسو په دي کې تعجب ولي کوئ چه مونږ تاسو ته پیغمبر درلیږلی چه درته وایي چه که نیک عمل وکړئ جنت ته به ځئ او که بد عمل وکړئ دوزخ ته به ځئ  په دي کې د تعجب څه خبره ده؟خلک وایي چه نه داسي نه کیږي.بیا...............

الله تعالی د خپل قدرت ډیر زیات آیاتونه او دلایل بیانوي،خو دوي ورته نه توجه کوي او نه پري غور کوي. وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ ﴿7﴾دوي زمونږ د آیاتونو نه غافل دي.آیا پوهیږئ چه د الله تعالی د آیاتونو نه غفلت څه ته وایي؟ د الله د آیاتونو او نښو نه  غفلت دا دی چه دوي د الله د آیاتونو نه دنیاوي فایدي اخلي خو عبرت تري نه اخلي.ځکه چه غور پري نکوي.ګني د الله آیاتونه او نښاني دومره ډیري دي چه هري خواته ګورو د الله بي حسابه نښاني ګورو. إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَّقُونَ ﴿6﴾

چه څومره شیان الله تعالی په کائناتو کې پیدا کړي دي

په دي ټولو کې د الله تعالی د قدرت آیاتونه  او نښاني موجود دي.مثلاً ستوري لمر سپوږمی

حیوانات نباتات غرونه بحرونه ځنګلونه هوا او نور ټول د الله تعالی د وجود اوقدرت آیاتونه او نښاني دي. او هر آیت بنده نیغ په نیغه خالق ته رسوي خو شرط دا دی چه غور او فکر پري وشي.خو د بده مرغه د ملحدینو او دهریانو نه څه ګیله هغوي چه د خالق د دوستئ دعوی کوي د دوي د اکثریت دا حال دی چه که په یو مجلس کې څو کسان ناست وي،که د بیزنیس فلمونو سپورت صحت موبایلونو او داسي نورو دنیاوي شیانو په باره کې خبري کیږي ټول به ډیر د زړه په مینه ورته غوږ نیسي او که کوم یو معمولي وخوځیږي بل به ورته وایې چه مه خوځیږه چه خبره رانه خطاه نشي .او که د دولت او سیاست په باره کې بحث وي یو به بل ته وار نه ورکوي او هر یو به کوشش کوي چه خبري وکړي.مګر متاسفانه که په همدي مجلس کې څوک د الله تعالی خبره شروع کړي د ټولو دپاره به مجلس بي خونده او بورینګ شي ،هر یو به کوشش کوي او دا به یې زړه وي چه دا بحث دي ختم شي. او ځني خو به په ډیره سپین سترګئ خبري کوونکې ته ووایې چه دا خبري په مسجد کې کوه ،خو که بیا هم هغه د الله خبرو ته دوام ورکړي او بس یې نکړي نو بیا به

دوه په دوه خلک يو د بل سره پټي پټي خبري شروع کړي تر دي چه کوم کس چه د الله تعالی خبري کوي هغه ته دا احساس وشي چه ماته خو هيڅ چا غوږ نه دی نيولی او په ډيره خواشينۍ به خپلي خبري بس کړي.فکر وکړئ چه د اکثرو دو ستانو دا حال وي نو د دشمنانو به څه حال وي.په۲۴ ساعتو کې ۵ دقيقي د الله تعالی په آياتونو باندي غور او فکر کولو ته وخت نه ورکوي او بيا وايې چه مونږ سره دالله تعالی د منلو ثبوت نشته.د الله تعالی آياتونه خورې او څکې دنياوي فايدي تري اخلي خو عبرت تري نه اخلي او دا فکر نه کوي چه دا هرڅه څنګه او ولي کيږي.مثلاً شيده،منه،کېله،انار ،غوښه،اوبه او نور دا ټول د الله د قدرت نښاني دي ،خلک يې خوري ،فايدي تري اخلي مګر عبرت تري نه اخلي ځکه چه غور پري نه کوي، اوتاسو باور وکړئ چه په هر يو آيت فکر وکړي ان شأالله چه دغه هره نښانه بنده خالق ته رسوي.مثلاً که د انار د هري داني جوړښت ته وګورئ هره دانه د يو سور ښايسته غمی نه ډيره ښايسته ده او د هري داني په ترتيب ايښودل او د دانو په منځ کې نرۍ نرۍ پردي ايښودل او بيا ډير ښايسته او مناسب پوخ ورکول که د ټولي دنيا

ساینسدانان راټول شي يو انار به جوړ نکړي نو يو شی چه د ټولي دنيا ساینسدانان نشي جوړولای او سره د ډيرو کوششونو نه جوړيږي نو هغه پخپله ځنګه جوړيږي ددي مطلب دا نه دی چه که د ۲۱ پیړۍ ټیکنالوژي او ساینسدانان انار نشي جوړولای نو پخپله جوړيږي .بلکه حقیقت دا دی چه د انار په جوړولو کې چه کومه ټیکنالوجی استعمال شوي ده،هغه د ۲۱ پیړۍ د ټیکنالوژي نه ډيره زياته اوچته ده نوخلک په عوض د دي چه ووايې چه انار پخپله جوړيږي، بايد چه د هغه ساینسدان په لټه کې شي چا چه انار جوړ کړی او جوړوي يې.فکر وکړئ کله چه تاسو يو-----------------------

تخم په خاوره کې خخ کړئ راشین شي نیالګی شي او څو کاله وروسته تري غټه په ټنونو ټنونو ونه جوړه شي، خو نه يو سانتي ځمکه ژوره شوي وي او نه يو خورد خاوره کمه شوي وي، مګر مونږ د ونې میوه خورو،دسوري او لرګيو نه يې استفاده کوو خو عبرت تري نه اخلو، ځکه چه غور نه کوو .وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ.

په کال کې دوه او دري فصلونه په پټي کې کرو، او په خرورونو خرورونو حاصلات تري اخلو،

خو په پټي کې يو ملي ميتر کموالی هم نه راځي، د پټي حاصلات خورو مګر عبرت نه اخلو وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ ځکه چه غور او فکر نه کوو،ښه چه خاوره نه کميږي نو دا دومره حاصلات او غټه ونه د کوم ځای نه خپل غذايي مواد پوره کوي آيا په دي مو کله غور کړی دی؟جواب: دا ځکه چه خالق په هره شنه پاڼه کې داسي کارخاني يا فکټريز جوړې کړي دي چه د هوا او اوبو نه د لمر د رڼا پواسطه بهترينه غذا جوړوي.او که ملحد ساينسدانان وايې چه دا کارخاني پخپله جوړيږي نو دوي دي مهرباني وکړي د ۲۱ پيړۍ تيکنالوجی دي هم استعمال کړي او ډيري نه صرف داسي يوه کارخانه دي جوړه کړي.نو هغه کار چه په کولو نه کيږي هغه پخپله څنګه کيږي.ځومره د افسوس خبره ده په کوم ځای کې چه ساينس خپله عاجزي ومني او څه نشي ويلای ،مګر هلته به ملحد ساينسدان نه خپله عاجزی مني او نه به چپ پاتي کيږي او داسي خبره به پرته د کوم علمي تحقيق او عقلي دلېل نه کوي چه عذر د ګناه نه بدتر، دا صرف ددي دپاره چه خبره د الله تعالی نه چپه کړي.يعني په هر ځای کې چه د خالق د نوم د ليکلو ضرورت وي ملحدين به

هلته یا نیچر یا چانس یا پخپله او یا میوټیشن لیکي.یعني په عوض ددي چه د خالق نوم ولیکي چه دا کار خالق یا کریټر کوي دوي به د خالق د نوم په ځای کي یا نیچر او یا چانس او یا پخپله لیکي په دي مطلب چه دا کار نیچر کوي یا یې چانس کوي.او بیا څومره د حیرانتیا او شرم خبره ده چه هغه ساینسدانان چه موحدین دي او خالق مني دوي به هم په پټو سترګو د ملحدو ساینسدانانو تقلید کوي او په هر ځای کي چه ملحدینو د خالق په ځای نیچر ،پخپله یا چانس لیکلی وي دوي به یې هم په ړندو سترګو تائیدوي ،ډیره عجیبه ده چه ملحد ساینسدانان د خالق په ځای کي د خالق د نوم په ځای د نیچر او چانس د لیکلو جرأت کولای شي ،سره د دي چه هیڅ عقلي،علمي او منطقي ثبوت او دلیل هم نلري.مګر موحدین یا هغه ساینسدانان چه په خالق یا کریټر باندي عقیده لري،دوي د خالق یا کریټر په ځای کي د خالق د نوم لیکلو جرأت نه کوي ، یا خو پري شرمیږي، او یا خو ورته غلط ښکاري، سره ددي چه زیات عقلي،علمي او منطقي ثبوتونه او دلایل هم شته. دوي به د حشر په میدان کي د دي جرم الله تعالی ته څه جواب ورکوي؟

۹۹ فیصده خلک په دي عقیده دي  چه کائنات خالق یا کریټر لري او تقریباً یو فیصد خلک وایي چه خالق نلري ډیر زیات ساینسدانان په دي عقیده دي چه کائنات خالق لري او ډیر کم ساینسدانان وایي چه خالق نلري هغه هم په شک کي دي،یعني زیات خلک او ساینسدانان په دي عقیده لري  چه کائنات خالق جوړکړي دي،او د دي د چلولو او کنټرولولو دپاره یې ډیر قوي او محکم قوانین جوړکړي دي.او په دي قوانینو د پوهیدلو او پیژندلو دپاره خالق انسان ته د ساینس علم ورکړیٔ وَعَلَّمَ آدم الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿31﴾ تر څو چه ددي علم پواسطه نوموړی قوانین وپیژني او د ژوند په مختلفو ساحو کي تري ګټه واخلي .مګر د ساینس د علم هغه ساینسدانان چه ملحد دي کله چه داسي موضوع راشي چه د ساینس علم یې تشریح او ایکسپلین کولای نشي یعني د هغی د تشریح دپاره ساینس نورو تحقیقاتو ته ضرورت لري.نو ملحد ساینسدانان به د ساینسي تحقیقاتو او  حقیقت ته د رسیدلو نه مخکي هر هغه کار چه ساینس یې د تشریح یا ایکسپلین کولو څخه عاجز وي ، نو دوي به یې په نیچر او چانس سپاري یعني ------------

په عوض ددي چه ووايې چه دا کار د کائناتو خالق کوي ځکه چه په دي خبره ډیر عقلي،علمي او منطقي دلايل او ثبوتونه هم موجود دي مګر دوي په دي ځای کې هم خپل الحادي نظر ته ځای ورکوي او پرته د کوم علمي ،عقلي او منطقي دلېل او ثبوت نه وايې چه:دا کار یا پخپله کیږي یا یې چانس کوي یا میوټیشن او یا یې نیچر کوي ،یعني کوم ځای کې چه باید د خالق نوم استعمال شي ،ملحدین به هلته پخپله،چانس،میوټیشن یا نیچر استعمالوي.خوحقیقت دا دی چه د خالق ځای چه الله تعالی دی بل هیڅ شي نه نیولی شي او نه یې ډکولی شي یعني د نوم په بدلولو د خالق ځای بل شی نشي نیولای،نو که ملحدین د خالق په ځای کې د نیچر یا پخپله یا چانس نوم استعالوي نو آیا تاسو پوهیږئ چه د دي نومونو د استعمالولو نه د دوي مطلب څه دی او د دوي په زړونو کې د نیچر،پخپله او چانس حیثیت او مقام څه دی ؟حقیقت دا دی چه د دي نومونو لکه نیچر پخپله او چانس څخه د دوي مطلب داسي یو طاقت دی چه لایتناهی یا اینفینیټ قدرت او پاور ولري،لایتناهی عقل ذهانت او علم ولري، هر څه چه وغواړي کولای یې شي،کائنات کنټرولوي، او هغه ټول کارونه کولای شي کوم چه

د ټیکنالوژي او انساني عقل دپاره ناممکن وي .تاسو به اوریدلې وي چه کله چه کائنات پیداکېدل د بیګ بینګ په وخت کې یې دي طاقت ته د پخپله او چانس نوم ورکړی، او اوس دي طاقت ته نیچر او قوانینو ته یې طبیعي قوانین یا نیچرل لاز نوم ورکړئ دی یعني ملحدین وایې چه: په کائناتو کې چه هرڅه کېږي نیچر یې کوي ،څوک چه د نیچر خلاف اعمال کوي نیچر جزا او سزا یا مکافات او مجازات ورکوي ،غم او خوشالی ورکوي،او د کائناتو د چلولو او کنټرولو دپاره یې نیچرل لاز جوړ کړي دي چه کائنات کنټرول او چلوي.دلته ښه غور او فکر وکړئ .کوم ذات او قدرت ته چه مونږ الله تعالی وایو دوي ورته نیچر وایې، نو حقیقت دا دی چه دوي د الله تعالی د ذات څخه نه انکار کړی دی او نه یې کولای شي ځکه چه د الله تعالی د ذات نه انکار ناممکن دی ځکه چه د الله تعالی ځای پرته د الله تعالی نه بل هیڅ شی نه نیولی شي او نه یې ډکولی شي او د الله تعالی کارونه صرف الله تعالی کولای شي او د بل هیڅ چا په وسه کې نه دي پوره، نو دوي صرف د الله تعالی د نوم نه انکار کوي یعني د الله تعالی نوم بدلوي او د الله تعالی ذات که د چا خوښه وي او که نه په یو نوم نه په یو نوم یې

مني مثلاً هندوان ورته بګوان وايي ملحدين ورته نيچر او مونږ مسلمانان ورته الله وايو .و ما علينا الاالبلغ المبين.

داکتر محمد عثمان نظامی

# الدرس(۱۱)

# طبعی قوانین یا نیچرل لاز

بعضی خلک فکر کوي او وايې چه کائنات یا یونیورس په کائناتو کې د موجوده طبعي قوانینو یا نیچرل لاز پواسطه کنټرول او چلیږي،او الله ج ته ضرورت نشته ،په دي ځای کې که فکر او غور وشي پوه به شو چه قانون یا لا په غیر د قانوندان او لایر څخه نه جوړیږي،یعني نیچرل لاز یا طبعي قوانین د قانوندان یا لایر پواسطه د جوړولو څخه په غیر منځ ته نه راغلي او نه راتلای شي، همدارنګه قانون خو پخپله نه تطبیقیږي د قانون محافظینو او تطبیقونکو ته ضرورت لري،مثلاً که په یو ملک کې قانون موجود وي خو تر څو چه د ملک پاچا ،وزیران،والیان،ولسوالان او پولیس نوموړی قانون په ملک کې تطبیق نه کړي پخپله خو نه تطبیقیږي.فلهذا په کائناتو کې د نیچرل یا طبعي قوانینو جوړونکی او تطبیقونکی الله تعالی دي.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(١٢)

# په کائناتو کې غَور او فکر کول

الله تعالی په قرآنکریم کې فرمايي سُوۡرَةُ آل عِمرَان

[إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ (١٩٠) ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ (١٩١)]بیشکه د آسمانونو او ځمکې په پیدا کولو کې او په اختلاف د شپې او ورځ کې خامخا د الله د قدرت نښې دي د سلیم عقل د خاوندانو دپاره.دغه د سلیم عقل خاوندان هغه کسان دي چه یادوي الله په ولاړي او په ناستې او په اړخونو خپلو او فکر کوي دوي په پیدایښت د آسمانونو اوځمکې کې(نو وايې)ای ربه زمونږ ! تا دا مخلوقات عبث نه دي پیدا کړي نسبت د پاکۍ دی تا ته(د ټولو عیبونو څخه ) نو وساته مونږ د عذابه د اور.

په کائنا تو کې غور او فکر کول ان شاألله انسان د کائنااتو خالق او کريټر ته رسوي .ځکه کله چه

انسان وګوري چه کائنات ځومره مغلق او کمپلیکس دي .ځومره دقیق قوانین،ډیزان او هماهنګي پکې ده نو عقل،کامن سینس او ساینس هیڅکله دا نشي منلای چه دا هر څه د خالق یا کریټر نه په غیر پخپله پیدا او جوړشویدي.راځئ چه نن د سولر سیستم په باره کې خبري وکړو.زمونږ سولر سیستم د لمر او د ځمکې په شمول د اتو سیارو یا پلانټس نه جوړشویدی.په ځمکه کې دانسان دژوند د بقا دپاره د شپې اوورځې ضرورت دی نو ځکه د ځمکې ډیزاین او جوړښت داسي شوی دی چه په ۲۴ ساعتو کې باید یو کرت پخپل محور یا اکسیس ګرد چاپیره وګرځې.او سرعت یا سپیډ یې باید دزر مایلزنه په ساعت کې زیات او کم نشي.اوکه ددي نه زیات او کم شي نو ژوند به د منځه لاړ شي.په ځمکه کې د انسان د اوسیدلو دپاره انسان ته په حساب ،شمار، میاشتو او کلونو باندي پو هیدل ضرورت ؤو او دی.نو ځکه د سپوږمۍ ډیزاین او جوړښت داسي وشو چه په میاشت کې یو وار او په کال کې دولس واري د ځمکې نه تاو شي.د لمر او ځمکې ترمنځ فاصله دري نوي میلیون مایلز ده که ددي نه لږه کمه او زیاته شي په دواړو صورتونو کې یا د یخنۍ او یا

د ګرمۍ نه به ژوند د ځمکې په مخ د منځه لاړ شي. همدارنګه د ژوند د بقا لپاره څلور فصلونه ضرور دي نو ددي دپاره ځمکه په یو کال کې دلمر نه ګردچاپیره ګرځي خو سرعت یا سپیډ یې باید د۶۷ زره مایلز نه په یو ساعت کې زیات یا کم نه وي.لمر په یو سیکېنډ کې د ۵۰۰ میلیونو اتوم بمونو په اندازه انرژۍ جوړوي چه دا اندازه په ځمکه کې د ژوند کولو لپاره مناسبه ده.خو که دا اندازه د دي نه زیاته یا کمه شي نو ژوند به په ځمکه کې ختم شي.یعني د لمر ځمکې او سپوږمۍ لپاره قانون داسي جوړ شویدی چه د لمر او ځمکي تر منځ فاصله به ثابته ساتل کیږي،ځمکه به په ۲۴ ساعتو کې یو ځل د خپل محور په خوا او شاه او په یو کال کې د لمر په خوا او شاه او سپوږمۍ به په یوه میاشت کې د ځمکې نه ګردچاپیره تاویږي.دا قانون دومره محکم او قوي دی چه ټول سیستم د همدي قانون مطابق چلیږي او هیڅ مخالفت او سرغړونه نشي کولای اوس که څوک وایې چه: دا دومره غټ او دقیق سیستم پخپله جوړ شویدی نو دا خو عقل او کامن سینس نه مني .ځکه چه په سولر سیستم کې عقلي ډیزاین موجود دی.څنګه چه ډیزاین بي د ډیزاینر څخه نه کیږي فلهذا ډیزاینر یې شته.د قانون

موجود یت ، تطبیقول، او د سیستم په منظم ډول چلیدل ددي ثبوت دی چه د قانون جوړونکی ،تطبیقونکی او کنټرولر موجود دی.اوپه سیستم کې د ډیزاین او قانون موجودیت ددي ثبوت دی چه دا یو جوړ شوي سیستم دی لهذا خالق او جوړونکی یې شته چه الله تعالی دي.و ما علینا الا البلغ المبین

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(١٣)

# د الله په وجود دلايل.
# او د ملحدينو يا ايتيېيسو او منکرينو د دي سوال جواب چه :دوي وايي چه
# د الله د وجود ثبوت نشته.

د درنو لوستونکو څخه هيله کوم چه دا مضمون په غور سره تر آخره پورې ولولي.

د رسل نه چه د ملحدينو مرشد اعظم دی ، چا پوښتنه وکړه چه: که مړ شي او الله دي راژوندی کړي او پوښتنه درنه وکړي چه په دنيا کې دي ولې زه نه منلم ،نو ته به الله ته څه جواب ورکوي؟رسل جواب ورکړو چه زه به ورته وايم چه يا الله ماته په دنيا کې ستا د وجود صحيح ثبوت نه ؤو پيدا شوي، ځکه درنه منکر وم.خو د بنده دا قسم عذرونه د الله په نزد قابل د قبول نه دي ځکه چه دنيا د الله د وجود د ثبوتونو او دلايلو نه ډکه ده او هري خواته د ثبوتونو او دلايلو انبارونه دي.د فصلت د سورت په ٥٣ نمبر آيات کې فرمايي

سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ

ډیر زر به مونږ خیلي نښي او دلایل دوي ته په کائناتوکي هم وښیو او ددوي په خپلو نفسونو کي هم ، تر دي پوري چه دوي ته دا خبره ښکاره او معلومه شي چه دغه قرآن حق دی.آیا دا خبره کافی نه ده چه ستا رب پر هر څه شاهد دی. نوای انسانه آیا په الله باندي د ایمان راوړلو دپاره دا کافي نه ده چه دا لوي کائنات چلیږي او کنټرول دي.آیا غیر د الله نه بل څوک شته چه د کائناتو نظام دي کنترول او وچلوي ؟نه هیڅکله نه.یواځي الله تعالی کائنات چلوي او کنترولوي..

په کائناتو کې او د انسان پخپل وجود کې د الله د قدرت بي حسابه آیاتونه ،نښي او دلایل موجود دي.که هر څوک په دي آیا تونو او نښو غور او فکر وکړي ان شأالله چه الله به یې د زړه نه شکونه وباسي او د سکون او خوشالۍ ژوند به یې په دنیا او آخرت کې نصیب شي.
اول د الله د قدرت آیاتونه او نښي پخپل وجود کي ګورو.که شیشي ته ودریږو او ځانته وګورو.وبه ګورو چه زمونږ د وجود هره پرزه او پخپله ټول وجود کې یو باعقله یا اینټیلیجینټ ډیزاین موجود دی، یعني زمونږ وجود ډیزاین شویدی.او داسي مکمل ډیزاین دی.چه هیڅوک به ددي نه ښه شکل

او صورت زمونږ دپاره ډیزاین نکړي. نو د ډیزاین موجودیت د ډیزاینر په وجود دلالت کوي.انسان بې غمه اوده وي پښتورګي کار کوي.ادرار د ویني نه بیلوي.په ۲۴ ساعتو کې ۲۵ واري ډیالیسیز پرته زمونږ د پوښتني ځخه کوي،نو که د انسان عقل دا نه مني چه  په هسپتال کې دي د ډیالَیسیز ما شین پخپله جوړ شوي وي، نو بیا دا ځنګه مني چه د انسان په وجود کې د ډیا لیسیز ماشین یعني پښتورګی چه د هسپتال د ماشین نه په سوونو ځله بهتر او ښه کار کوي آیا دا دي پخپله جوړ شوی وي؟انسان اوده وي خو زړه کار کوي .

په شپه او ورځ کې یو لاک(۱۰۰۰۰۰) واري درځیږي .او ۱۰۰۰۰ لیتره وینه پمپ کوي.که د ویني رګونه یو د بل پورې وتړل شي اوږدوالی یې یو لاک(۱۰۰۰۰۰) کېلو متره کیږي.چه د ځمکې نه دوه نیم واري تاویږي.تقریباً ۱۰۰ ټریلین حجرو یا سیلز ته وینه او اکسیجن رسوي.یو ټریلین زر بیلین(میلیارد) او یو بیلین زر میلین او یو میلین لس لکه کیږي.

شاید په ډیر نوي ماډل موبایلو کې هم د شل میګافیکسل نه زیاتي کمري نه وي .او تیکنالوژي

لا په دنیا کې تر اوسه پورې د ۱۲۰ میګافیکسل نه زیاته کمره نه ده جوړه کړې.خو د انسان په یوه سترګه کې هم ۵۸۵ میګافیکسل کمره او په بله سترګه کې یې هم ۵۸۵ میګافیکسل کمره لګېدلې ده ،فکر نه کوم چه: تیکنالوژي به په آینده کې هم وکولای شي چه ۵۸۵ میګافیکسل کمره جوړه کړي ،نو که انسان دا نه مني چه لس یا شل میګافیکسل کمره پخپله جوړیدلای شي ،نو بیا دا څنګه مني چه ۵۸۵ میګافیکسل کمره پخپله جوړیږي .د ویښتوب په حالت کې زمونږ د خوښې نه په غیر په شپه او ورځ کې تقرباً ۱۲۰۰۰ واري سترګې پټیږي او خلاصیږي.چه پاکې وساتل شي.او که ګرد پکې توي شي نو بیا د اوښکو پواسطه چه انتیبیوتیک تاثیر لري وینځل کیږي .عینکې یا ګلاس د الله د قدرت آیات او نښه ده.ځکه که د انسان خپل لینز یا عدسه خرابه یا کمزورې شي نو ډاکټر د نمبر مطابق بله عدسه یا لینز ورته جوړوي.اوس که څوک ووایې چه دا لینز یا عدسه پخپله جوړه شوې ده اوجوړیږي هیڅوک به هم دا خبره ونه مني ، نو بیا د دې څخه مخکینی لینز یا عدسیه چه په سترګه کې وُو او ددې نه ډیر بهتر هم وُو نوهغه دې څنګه پخپله جوړ شوي

وي.صرف په دي چه د نوي لينز جوړونکی يا ډاکټر ليدل کيږي او په سترګه کې د مخکېني لينز جوړونکی نه ليدل کيږي.نو په دي دليل انسان اوس د هغه د وجود نه انکار کوي.دا خو بيا د خپل عقل نه هم انکار کوي.ځکه عقل هم نه ليدل کيږي.سړي ۲۳۰۰۰ واري په ۲۴ ساعتو کې زمونږ د خوښی نه په غير هوا داخلوي او خارجوي او سل ټريلين حجرو ته اکسيجن رسوي .غوږونه داسي ډيزاين شويدي چه صرف هغه فريکوينسي آوازونه اوري د کومو اوريدل چه زمونږ دپاره ضروري وي که چيرته د هري فريکوينسي آوازونه يې اوريدل نو په وجود کې په ميليونو ميليونو کارخاني کار کوي نو ددي کارخانو د شور او آوازونو نه به هم زمونږ ژوند ډير مشکل ؤو.که په خپل ډي اين ای کې فکر وکړو،تقريباً دوه ميتره اوږدوالی لري او د ويښته نه ۳۰۰۰۰ ديرش زره کرته نری دی، شايد چه تيکنالوژي د قيامت پورې هم دومره نری تار جوړ نکړي، او د دري بيليون(ميليارد) پرزو (نوکليوټَيډ) نه جوړ شوی دی،او داسي تاو شوی دی چه په هسته (نوکليوس) کې په لس مايکرون ځای کې ايښودل شوی دی او د پيدا کېدو نه د مرګ د وخت پورې او که مخ په

شاه لاړ شو د آدم او هوا عليهم سلام پورې ټول معلومات او اينفارميشن پکې ليکلی دی.مثلاً قد،رنګ،دويښتانو رنګ،عادتونه، مرضونه ،عمر،سترګو رنګ،غوږونه ،پزه او نور.....خط پکې په څلور حروفو يا ليټرز ليکل شوی دی يعني کومه ژبه چه پکې استعمال شويده څلور حروف يا ليټرز لري.ځما مطلب صرف معلومات ورکول نه دي.بلکه هيله لرم هغه څوک چه د خالق په وجود کې شک لري بايد فکر وکړي چه دا دومره کارونه په غير د خالق نه څنګه ممکن کېدای شي،هغه شی چه ماډرن تيکنالوژي يې نشي جوړولای هغه پخپله څنګه جوړيدلای شي؟که يو شي دومره آسانه وي چه پخپله جوړيږي نو تيکنالوژي خو يې بايد چه جوړ کړي،ځکه چه که مواد پخپله کولای شي چه يو د بل سره يوځای شي او يو شی جوړ کړي،نو ټيکنالوژي خو بايد ډير په آسانه هغه مواد سره يو ځای کړي او هغه شی جوړ کړي.خو ګورو چه تيکنالوژي دا کار نشي کولای حتیَ د انسان يوه ګوته او ويښته هم نشي جوړولای ،دا ولي؟ دا ځکه چه:انسان او د انسان ګوته پخپله نه دي جوړ شوي بلکه د داسي انجينر پواسطه جوړ شوي چه د دنيا د انجينرانو سويه او علم د هغه(الله) د علم په مقابل

کې صفر دی،او کومه تیکنالوژي چه پکې استعمال شوي ،د دنیا ټیکنالوژي هم د هغی په مقابل کې صفر ده.

هغه څوک چه ماده مني او وایې چه ماده هر شی دی.باید فکر او غور وکړي چه ماده خو عقل نلري نو یو بې عقله شي څنګه دومره د عقل کارونه وکړل او کوي یې.یو شی چه عقل نلري هغه د انسان غوندي عاقل مخلوق څنګه جوړ کړو؟په ډي این ای کې یې د انسان تقدیر څنګه ولیکه او دومره بې حسابه معلومات او ډاټا یې پکې څنګه واچوله.آیا سړو پخپله ځان داسي عیار او جوړ کړی که د انسان فکر وي او که نه مونږ به خپل کار کوو.آیا زړه پخپله ځان کنټرولوي.که د ځمکې او آسمانونو ټول مخلوق راجمع شي د یو انسان دماغ به نه جوړ کړي او نه به یې کنټرول کړي.نو یو شي چه په کولو نه جوړیږي . نو پخپله څنګه جوړیږي.

د مرغاوي یا بتکې د هګی نه بچې راوځي سمدستي په ډنډ یا تالاب کې ځان اچوي د لمبا چل هم ورځي او د خپل خوراک شیان هم پیژني. په هګی کې د لمبا چل او د خوراک د شیانو پیژندل چا وربښودلې

ؤو .دا ټول د الله د قدرت نښي دي خو غور او فکر شرط دی.د چرګې د هګۍ نه چه ځنګه بچۍ راوځي سمدستي په دانه خوړولو شروع کوي .دانه هم پيژني او د خوراک چل هم ورځې.دي چرګوړي ته په هګۍ کې ټرينينګ چا ورکړی ؤو.دغوا بچۍ د ځيږ.ېدلو سره سم د غوا په تيونو ورمنډه کړي او د تيونو د پيژندلواو شيدو د رودلو چل ورځي.د غوا په خيټه کې د غوا بچي ته دا ټرينينګ او پو هه څوک ورکوي چه خپله مور او د هغی تيونه وپيژني او د شيدو د خوړلو چل دي يې زده وي .په کائناتو کې چه هري خوا مخ اړوو. د الله بي شميره آياتونه او نښي ګورو خو مونږ غور او فکر نه کوو.

آيا تاسو داسي کارخانه يا فکټري ليدلې او يا مو يقين راځي چه د قيامته پورې به يې ټيکنالوجي جوړه کړي چه د يو قسم موادو نه دي سل قسمه شيان جوړوي .که باغ ته ننوزئ وبه ګورئ چه يوقسم هوا يوقسم اوبه او يو قسم خاوره ده خو مختلف ګلان سره، شنه، زيړ او د مختلفو ميوو وني اوپه سلهاو قسمه مختلف نباتات پکې شته دی.د يو وړوکې تخم يا سيډ نه په بيليونو واري د تخم نه لويه ونه جوړيږي چه ټنونه ټنونه وزن لري خو ځمکه هم نه کميږي ځکه چه ونه خپله غذا پخپله

جوړوي.په هره پاڼه کې داسي کارخاني دي چه د لمر یا سولر انرجي استعمالوي او د کاربنډای اوکسایډ او اوبو نه ګلوکوز یا غذا جوړوي که د ځمکې او آسمانونو ټول مخلوق راجمع شي یوه پاڼه به جوړه نکړي نو کوم شي چه په کولو نه جوړیږي پخپله څنګه جوړیدلای شي؟.همدارنګه په یوتخم یا سیډ کې دومره ډاټا او معلومات شته دی چه د دنیا په کتابونو کې هم نه ځایږي .مثلاً د دي تخم نه چه کومه ونه جوړیږي د هغی تنه یا ډډ به څومره وي،جګوالی، د پاڼو تعداد،څومره میوي به نیسي او د هري میوي خوند او رنګ به څنګه وي څومره تخمونه به نیسي او نور....که د ټولي دنیا ساینسدانان سره یو ځای شي تخم خو پریده چه د تخم ماډل به هم جوړ نکړي.نو هغه شي چه د ټولي دنیا ساینسدانان یې نشي جوړولای پخپله څنګه جوړیدلای شي.

په کائناتو کې تقریباً ۲۵۰ بیلیون ګلکسیز یا کهکشانونه دي .او په هره ګلکسي کې دري څخه څلور سوه بیلیونه لمرونه یا سټارز موجود دي.د مثال په ډول زمونږ دملکېوی په ګلکسي کې زمونږ لمر چه د ځمکې نه دیارلس لکه واري لوي دی.ددي غوندي دري سوه بیلیونه نور ستوري یا

لمرونه د ملکبوی په ګلکسي کې موجود دي.دایو کهکشان یا ګلکسي شوه او داسي ۲۵۰ نوري ګلکسي هم په کائناتو کې موجود دي.دا ټولي ګلکسیز او ستوري د څوارلس بیلیونو کلونو نه را پدي خوا په ډیر زیات سپیډ او سرعت سره په حرکت کې دي برسیره په دي چه په خپلو محورونو ګرځي د لایټ په سپیډ یعني دري لکه کیلومتره په یو سیکنډ کې یو د بل نه لري کیږي هم .کله خو داسي هم کیږي چه یوه ګلکسي په بله ورشي.خو په غیر ددي نه چه یوه د بلي سره ټکرشي په خیر او خیریت یوه د بلي نه تیریږي.آیا دا دومره لوي کار پخپله کیږي؟ساینسدانان وایي چه د بحرونو په غاړو د شګو د دانو نه په آسمان کې ستوري ډیر دي آیا دا دومره بي حسابه ستوري او ګلکسیز پخپله کنټرولیږي؟

په کائناتو کې فاصلي دومره زیاتي دي چه په متر او کیلو متر یې اندازه کول ناممکن دي. ددي د اندازه کولو دپاره نوري کال یا لایټ ییر استعمالیږي.د لایټ سپیډ په یو سیکنډ کې دري لکه کیلو متره دي.نو لایټ چه په یو کال کې هر څومره فاصله طَی کړي دي ته یو لایټ ییر وایي.چه نهه نیم ټریلین کیلو متره کیږي.زمونږ سره د ټولو نه

نیزدي ګلکسي(کهکشان) چه ساینسدانانو پیداکړیده
انډرومیډا ده چه د ځمکې نه ۲۲ لکه نوري کلونه(
لایټ ییرز) لري ده یعني که داسي جهاز وي چه
سپیډ یې دري لکه کبلومتره په سیکنډ کې وي نو د
ځمکي څخه به په ۲۲ لکه کلونو کې زمونږ نیزدي
ګلکسي ته ورسیږي او په دي قسم ۲۵۰ بیلیونه
نوري ګلکسي هم په کائناتو کې موجود دي فکر
وکړئ دا دومره لوي سیستم پخپله چلیږي؟زمونږ د
لمر سره د ټولو نه نیزدي ستوري یا سټار څلور
عشاریه دري لایټ ییر لري دی. په لمر کې په یو
سیکېنډ کې د ۵۰۰ میلونواتوم بمونوپه اندازه
انرجي آزادیږي.لمر سپوږمۍ او د ځمکې په شمول
ټولي سیاري یا پلانټ زمونږ سولر سیستم یا شمسي
نظام دي .لمر دمیلونونو میلونونو کلونو نه را
پدیخوا د ځمکې په شمول د خپلو ټولو سیارو سره
د ۷۲۰۰۰۰ کبلومتره په یو ساعت کې سپیډ سره د
سټار ویګاه خواته روان دي.زمونږ ځمکه چه مونږ
پري او سیږو په یو ساعت کې د زر میلز په سپیډ
سره د خپل اکسیز یا محور نه په ۲۴ ساعتو کې
تاویږي.چه شپه او ورځ تري پیداکیږي.اود
۶۷۰۰۰ میلز په یو ساعت کې سپیډ سره د لمر نه
په ۳۶۵ ورځو کې تاویږي .چه څلور فصله

جوړوي.فکر وکړئ مونږ په داسي جهاز کې ناست یا سواره یو چه په ساعت کې د زر میلز په سپیډ سره د خپل محور په خوا او شاه تاویږي.او د ۶۷۰۰۰ میلز په ساعت کې سپیډ سره د لمر نه تاویږي.او د ۷۲۰۰۰۰ اوه لکه او شل زره کېلومتره په ساعت کې سپیډ سره د سټار ویګاه خواته روانه ده.مګر ددي دومره حرکتونو سره بیا هم مونږ نه د خوځیدو او نه د جټکې احساس کوو.او که معمولي جټکه پکې راغله نو د ځمکې په مخ به بیخي آبادي پاتي نشي.د غِور خبره ده آیا دا دومره دقیق سیستم او نظام او دومره دقیقي اندازي پخپله جوړي شویدي.آیا دا څنګه ممکنه ده چه د ځمکې دومره لویه سیاره یا پلانټ دي په غیر د انجن نه،په غیر د فیولو نه او په غیر د ډرایور نه په دومره های سپیډونو یا زیاتو سرعتونو سره دومره دقیق حرکتونه کوي.او نه دي لار غلطوي ،نه دي د مدار نه وځي.نه دي سپیډ کموي اونه دي یې زیاتوي او نه دي ټکر یا اکسیډینټ کوي؟آیا عقل او کامن سینس دا مني چه بې عقله ماده یا مټر دا هرڅه کوي؟آیا عقل او کامن سینس دا مني چه دا هر څه پخپله جوړیږي او پخپله کنټرولیږي.

دهوا په ترکیب کې ۷۸ فیصد نایتروجن ۲۱ فیصده اکسیجن او صفر عشاریه صفردري فیصده کاربن ډای اوکساید دی.فرضاً که نایتروجن یو یا دوه فیصده زیات شي یعني ۷۹ یا۸۰ فیصده شي نو د ځمکې په مخ به ټول شیان یخ یا فریز شي .که کاربن ډای اوکساید د صفر عشاریه صفر دري فیصد نه صفر عشاریه صفر پینځه فیصد ه شي نو د ځمکې په مخ به هر شي مایع او اوبه شي.که اکسیجن یو فیصد زیات شي یعني ۲۲ فیصدو ته ورسیږي نو د ځمکې په مخ به ۷۰فیصده شیان وسوځي او که څلور فیصده زیات شي یعني ۲۵ فیصده شي نو د ځمکې په مخ به ټول شیان وسوځي.باید فکر وکړو چه آیا دا دومره دقیقي او باریکې اندازي پخپله کنټرولیږي.نه هیڅکله نه بلکه کائنات الله جوړ کړیدي او الله یې کنټرولوي.الله تعالی دي وکړي چه ما پخپل ناقص علم سره دا موضوع داسي تشریح کړي وي چه لوستونکو تري ګټه اخستي وي او د زړونو نه یې شکونه وتلی وي بیا هم که هر ورور سوال لري خصوصاً ملحدین او منکرین ان شأالله زه هر وخت حاضر یم چه د خپلي وسې او استعداد مطابق جواب ورکړم .و ما علینا الا البلغ المبین

الدرس(۱۴)

# د الله د وجود ثبوت په ساینسی حقایقو سره

# Proof GOD exists with scientific evidence

د الله د وجود لوي ثبوت د الله کتاب دی.ځکه چه څوارلس سوه کاله مخکې په قرآن کې د کائناتو په باره کې د داسي معلوماتو ذکر کول کوم چه د شلمي پیړی نه مخکې په ټوله دنیا کې د ساینس په شمول هیڅ چاته هم معلوم نه ؤو.نو دا د دي ثبوت دی چه دا معلومات په قرآن کې د کائناتو د خالق او کریټر د خوا نه دی.په قرآن کې د زرو نه زیات آیاتونه د ساینسي حقایقو په باره کې دي.چه یو څو یې د مثال په توګه دلته ذکر کو.

اول---ساینس په شلمي پیړی کې ډیسکور یا کشف کړه چه یونیورس یا کائنات په داسي یو حالت کې چه هیڅ شی هم موجود نه ؤو د یو سینګل پاینټ دانفجار یا ایکسپلوژن نه منځ ته راغلي چه بیګبینګ

يا لوي انفجار ورته وايي.او زمان او مکان ماده او انرژي يا ټايم سپيس مټر او انرژي د بيګبينګ نه وروسته منځ ته راغلي دي.يعني ځمکه او آسمانونه په دي سينګل پاينټ کي يوځاى نښتي ؤو او د بيګبينګ يا لوي انفجار پواسطه بيل شو او کائنات منځ ته راغله.

نو راځو اوس په دي باره کي ۱۴۰۰ کاله مخکي د قرآنکريم معلومات ګورو.قرآنکريم د سورت الانبيا په ۳۰ نمبر آيات کي فرمايي! أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ (۳۰)آيا کافران نه پوهيږي چه آسمانونه او ځمکه سره يو ځاى نښتي ؤو بيا مونږ سره بيل کړل . د بيګ بينګ د انفجار يا چاودني دپاره د اولنۍ کتلى يا سينګل پاينټ د منځ ته راتلو او پيداکيدلو په باره کي ساينسدانان او ساينس تر اوسه پوري معلومات نلري.خو ددي سوال جواب او معلومات په قرآن کي شته دى.قرآنکريم د سورت الانعام په ۱۰۱ نمبر آيات کي فرمايي! بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ- الله تعالى دځمکي او آسمانونو خالق او کريټر دي.يعني دا اولنى سينګل پاينټ يا اولنۍ کتله يا اولنى شى چه ځمکه او آسمانونه پکي يو ځاى نښتي ؤو دا الله تعالى پيداکړي وه ،نو ۱۴۰۰ کلونه پخوا

په قرآن کې د داسي معلومات ذکر کول د دي ثبوت دی چه قرآن د الله کلام دی، ځکه چه دا معلومات په ټوله دنيا کې نه يو ساينسدان او نه يو فيلسوف ته ؤو.

دويم---ساينس اوس دا ثابته کړه چه هر ژوندی شی د اوبو نه پيدا شويدی کوم چه د بيالوژي قانون هم دی.خو قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې د سورت الانبيا په ۳۰ نمبر آيات کې فرمايې وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۖ او مونږ هر ژوندی شی د اوبو څخه پيدا کړی دی.

دريم-------ساينس په ۱۹۲۹ کال کې ډيسکور يا کشف کړه چه کائنات يا يونيورس لويږي.خو قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله مخکې د الذاريات د سورت په ۴۷ نمبر آيات کې فرمايې! وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَـٰهَا بِأَيۡيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ.

او يونيورس يا کائنات مونږ په خپل قدرت سره جوړ کړيدي.او مونږ خامخا د کائناتو پراخوونکي او لويونکي يو.يعني کائنات په دوامدار ډول لويږي.

څلورم----------

ساينس په دې وروستيو وختو کې ډيسکور يا کشف کړه چه اټموسفير د ځمکې نه ګردچاپيره لکه د يو پوښ يا چت غوندې تاو شويدی او ځمکه د آسماني آفتونونه ساتي مثلاً د سپيس نه ډيرې زياتې تيزې او خطرناکې شعاګانې يا راډيشن چه د ځمکې خوا ته راځي.اټموسفير يې ځمکې ته نه راپريږدي.مخکې د دې نه چه تيزې ځمکې ته راورسيږي سوځوي يې ،او خطرناکې شعاګانې بيرته سپيس ته شړی خو ضرورې شعاګانې اول فلترکوي او بيا يې ځمکې ته رالیږي.خو قرآن ۱۴۰۰ کاله پخوا د سورت الانبيا په ۳۲ نمبر آيات کې فرمايي! وَجَعَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ سَقۡفٗا مَّحۡفُوظٗاۖ او آسمان مونږ محفوظ چت ګرزولی دی.

همدارنګه د اټموسفير يو بل صفت چه ساينس اوس کشف کړيدی هغه دا دی چه بيرته ګرځول يا ليږل او يا ريټرن کول کوي.کله چه اوبه د بخار په شکل د آسمان خواته پورته کيږي نو اټموسفير يې سپيس ته نه پريږدي او د باران په شکل يې بيرته ځمکې ته رالیږي.کله چه راډيوي امواج د ځمکې نه براډکاسټ کيږي اټموسفير يې بيرته راګرځوي او د ځمکې مختلفو برخو ته يې ليږي.همدارنګه هغه راډيو اکټيو زرات او خطرناکې شعاګانې چه د

سپیس نه ځمکې خوا ته راځي اتموسفیر یې بیرته ګرځوي او سپیس ته یې واپس لیږي.د آسمان د دي صفت په باره کې قرآن د سورت الطارق په ۱۱ نمبر آیات کې فرمایې!

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ قسم دي په بیرته ګرزونکې آسمان.

پینځم----------

ساینس په دي وروستیو وختو کې ثابته کړي چه اوسپنه د ځمکې پیداوار نه ده او د سپیس نه ځمکې ته راغلي ده.ځکه چه د اوسپني د جوړولو دپاره څوسوه میلونه درجی حرارت یا ټیمپریچر پکار دی کوم چه یواځي په ډیرو غټو ستورو کې شته دی.نو اوسپنه په غټو ستورو کې جوړه شویده او بیا د غټو ستورو نه سپیس ته او د سپیس نه ځمکې ته راغلي ده.قرآن د سورت الحدید په ۲۵ نمبر آیات کې فرمااییې! وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ

او اوسپنه مونږ راالیږلي ده.چه په دي کې ډیر قوت او طاقت دی او فایدي او ګټی دي د خلکو دپاره.

شپږم------

ساینس په ۱۹ پیړۍ کې ثابته کړه چه فینګرپرینټ
د انسان د ټولو نه قوي ای ډي ده.خو قرآنکریم
۱۴۰۰ کاله مخکې د القیامه د سورت په دریم او
څلورم نمبر آیاتونو کې فرمایې. بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ
ٱلرَّحِيمِ.

لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَـٰمَةِ (١) وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ (٢)
أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَـٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُ ۥ (٣) بَلَىٰ قَـٰدِرِينَ
عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّىَ بَنَانَهُ ۥ (٤) بَلۡ يُرِيدُ ٱلۡإِنسَـٰنُ لِيَفۡجُرَ
أَمَامَهُ ۥ (٥) آیا انسان ګمان کوي چه مونږ به د هغه
هډوکي راجمع نکړۍ شو.ولې نه ضرور به یې
راجمع کړو.مونږ خو یه دې هم قادر یو چه د ګوتو
سرونه یې هم بیرته برابر کړو.یعني کوم خطونه
چه د ګوتو په سرونو کې د فینګرپرینټ دپاره په
دنیا کې دي.نو کله چه انسان د قبر نه راجګیږي په
همدي قسم خطونه به الله تعالی د انسان د ګوتو په
سرونو کې بیرته جوړ او برابر کړي او د همدي
ای ډي سره به د حشر میدان ته ځې.

اوم--

پخوا ساینسدانانو فکر کولو چه لمر بې حرکته او
ساکن دی. او ځمکه ګرځي.خو د شلمي پیړۍ په

آخر کې ساینس ثابته کړه چه لمر هم ګرځي او حرکت لري .یو حرکت يې د خپل محور يا اکسيز په خوا او شاه دی چه په ۲۷ ورځو کې يو دوران پوره کوي ددي حرکت په باره کې قرآنکريم ۱۴۰۰ کاله مخکې د سورت الانبيا په ۳۳ نمبر آيات کې فرمايي. وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ (۳۳) او الله هغه دی چه شپه او ورځ او لمر او سپوږمی يې پيدا کړيدي.ټول پخپل خپل مدار کې ګرځي.يعني لمر او نور ستوري او سياري ټول پخپل خپل اوربيټ يا مدار کې ګرځي.

همدارنګه د لمر ديو بل حرکت په باره کې ساينس وايې چه: لمر سره د خپلو ټولو سيارو يا پلانيټ د ستار ويګاه خواته د ۷۲۰۰۰۰ کېلو متره په يو ساعت کې سرعت يا سپيډ سره روان دی.چه د دي حرکت په باره کې هم قرآن کريم د سورت ياسين په ۳۸ نمبر آيات کې فرمايي! وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِى لِمُسۡتَقَرٍّ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ (۳۸)

او لمر د خپل ټاکلی ځای خواته ځي.دغه اندازه ده د ډېر غالب،قوي،ډېر دانا.

اتم----

ساینس اوس دا معلومه کړي چه دوه مختلف بحرونه چه د یو اوبه خوږي او د بل تروي وي کله چه یوځای کیږي نو د دي دواړو په منځ کي داسي پرده موجود ده چه په سترګو نه ښکاري او دا دواړه بحرونه میکس یا ګډیدلو ته نه پریدي.قرآن ۱۴۰۰ کاله پخوا په دي باره کي د سورت الرحمن په ۱۹ او ۲۰ نمبر آیاتونو کي فرمایي! مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ (۱۹) بَيۡنَہُمَا بَرۡزَخٌ۬ لَّا يَبۡغِيَانِ هغه دوه بحرونه خوشي کړل چه یو ځای شي. د هغوي تر منځ یوه پرده(د قدرت) حائله ده چه هغوي تري نه تیرئ نه کوي.یعني یو د بل سره نه ګډیږي.همدارنګه قرآن د ماډرن ایمبریولوژي په باره کي د غرونو په باره کي چه د ځمکي میخونه دي او ځمکه دخوځیدو نه ساتي همدارنګه د سپیس یا فضأ او د ژورو بحرونو د تیارو په باره کي او همدارنګه د کائناتو په باره کي د نورو ډیرو زیاتو ساینسي حقایقو په باره کي ۱۴۰۰ کاله مخکي داسي معلومات ورکوي کوم چه د شلمي پیړئ نه مخکي ساینس کشف یا ډیسکور کړي نه ؤو.نو که اوس هم څوک د الله تعالی او د الله تعالی د کتاب قرآنکریم په باره کي شک لري .نو بي نتیجی او بي فایدي بحثونو ته ضرورت نشته .دغه تقریر دي

ځو ځله واورې ځان دي پري ښه پوه کړې او بیا دي د خپل عقل او وجدان نه پوښتنه وکړې چه آیا ددي ساینسي حقایقو بیانول ۱۴۰۰ کاله مخکې د انسان دپاره ممکن ؤو؟معلومه خبره ده چه: عقل او کامن سینس یې نه مني او نه یې قبلوې.او عقل صرف همدا یو جواب مني چه ۱۴۰۰ کاله مخکې دا معلومات صرف د کائناتو د خالق او کریټر دی.چه د وحې په زریعه یې په حضرت محمد صل الله علیه وسلم نازل کړی دی.و ما علینا الا البلغ المبین.

محمد عثمان نظامی

## الدرس(۱۵)

# انسان او سلیم عقل

که دشپي په دولس بجو يو سړی د کور دروازه وټکوي او غږ کړي چه دروازه خلاصه کړه د برق ميټر ګورم آيا دروازه به ورته خلاصه کړې ؟هيڅکله نه . ځکه چه دا کار د سليم عقل او کامن سينس خلاف دی.مطلب دادی چه مونږ د ژوند ټولي فيصلی د عقل او کامن سينس په بنياد کوو.او د دي دپاره خامخا د قسم قسم فلسفو او ثبوتونو ضرورت نه شته .

زمونږ په موبايلونو کې چه د اوس وخت پورې کومي کمري دي اکثره لس،پينځلس او شل ميګافيکسل دي او د اوسه پورې په دنيا کې د ۱۲۰ ميګافيکسل نه زياته کمره نه ده جوړه شوي.يعني د ټولو نه زياته ايډوانس کمره چه د نوي ټيکنالوژي پواسطه جوړه شويده ۱۲۰ ميګافيکسل ده.حال دا چه زمونږ په هره سترګه که ۵۸۵ ميګافيکسل کمره لږيدلې ده.اوس راځو دي ته فرضاً که د چا

سره یوه کمره وي او هغه د سلو خلکو مخکې دا ووایې چه دا کمره پخپله جوړه شویده.څه فکر کوئ چه څوفیصده خلک به دا خبره ومني؟معلومه ده چه یو به یې هم و نه مني.خو که دا سړی پخپله خبره ډیر کلک شي او ووایې چه تاسو نه پوهیږئ د دي جوړونکې ته هیڅ ضرورت نه ؤو ځکه چه ټول مواد لکه اوسپنه ،شیشه،پلاستیک وغیره موجود ؤو.د ټولو نه پخپله پُرزی جوړي شوي او بیا پخپله نټ او بوټ شوي او کمره جوړه شوه.

څه فکر کوئ چه اوس به یې خلک ومني ؟نه هیڅکله نه.بلکه ټول خلک به په دي سړی د لیوني حکم وکړې.دا ولي؟ دا ځکه چه د دي سړي خبري د عقل او کامن سینس خلاف دي.نو که یو سړی چه د یوي ساده شل میګافیکسل کمري په باره کې وایې چه پخپله جوړه شویده. نو عقل او کامن سینس یې نه مني او داسي سړی ته لیونی وایې.نو بیا دا خبره عقل او کامن سینس څنګه منلای شي چه څوک وایې چه په سترګو کې ۵۸۵ میګافیکسل کېمره پخپله جوړه شویده ؟حال دا چه په سترګو کې ۵۸۵ میګافیکسل کمره د شل میګافیکسل کمري نه ډیره مغلقه او کمپلیکس ده.نو یو سلیم عقل او کامن

سینس دا هیڅکله نه مني چه په سترګو کې دي ۵۸۵ م ف کېمره  په خپله جوړه شوي وې .

دویم

که عقل او کامن سینس د داسي یو ساده چراغ یا بلب چه صرف یوه وړه کوټه رڼا کوي جوړیدل پخپله پغیر د انجینر څخه نه مني.نو بیا دا څنګه منلای شي چه داسي چراغ یا بلب چه ټوله دنیا رڼا کوي هغه دي پخپله جوړ شوی وي.

دریم

که عقل او کامن سینس د داسي یو ساده بس جوړیدل پخپله پغیر د انجینر څخه نه مني  په کوم کې چه صرف۵۰ کسان ځایږي او سپیډ یا سرعت یې ۶۰ مایلز په یو ساعت کې وي.نو بیا د داسي یو جهاز پخپله جوړیدل څنګه منلای شي په کوم کې چه ۷ بیلیونه انسانان او په ټریلیونو ټریلیونو حیوانات او نباتات  سواره وي.او په یو ساعت کې د ۶۷۰۰۰ مایلز په سپیډ سره  د لمر نه ګرد چاپیره ګرځي؟معلومه خبره ده چه یو سلیم عقل او کامن سینس د داسي چراغ یا لمر او د داسي جهاز یا ځمکي جوړیدل پخپله پغیر د خالق یا کریټر څخه نه مني.یعني سلیم عقل او کامن سینس دا مني چه

کائنات خالق او کریټر لري چه الله تعالی دی .نو
ځوک چه د خالق او کریټر نه انکار کوي په حقیقت
کې د سلیم عقل اوکامن سینس نه انکار کوي .او
دا انکار صرف هغه ځوک کوي چه یا خو د عقل
او کامن سینس نه بالکل خالي وي او یا یې د عقلونو
او کامن سینس نه د فلسفو پردي تاو شوي وي.و ما
علینا الا البلغ المبین .

•ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۱۶)

# اسلام،ساینس،مسلمان، ملحد(ایتېیس)او شکمن(ایګناستیک)

# Islam, Science, Muslim & Atheist

ستیپن هاکېنګ د نوي عصر یو مشهور ساینسدان( ساینټیسټ) ؤو .د مرګ نه لس ورځې مخکې چا تري پوښتنه وکړه چه د بیګ بینګ نه مخکې څه شی ؤو ؟هاکېنګ جواب ورکړو چه هیڅ شی نه ؤو.بیګبینګ دي ته وایې چه د کائناتو یا یونیورس شروع د بیګبینګ نه شویده. په اول کې یو شی موجود ؤو چه ساینسدانان ورته سینګولاریټي وایې چه د همدي یو شي یا سینګولاریټي د انفجار یا ایکسپلوژن نه ټول کائنات منځ ته راغلي.خو دا معلومه نه ده چه دا یو شی یا سینګولاریټي څنګه پیدا شوي وه. او بیا په دي شي کې انفجار یا دهماکه څنګه وشوه؟په هرحال هاکېنګ جواب ورکړو چه د بیګبینګ نه مخکې هیڅ شی نه ؤو. او زه ایتېیس

يا ملحد يم .باید پوه شو چه ایتیېس یا ملحد هغه خلک دي چه الله نه مني او وایي چه نعوذبالله الله نشته .او ایګناستیک هغه خلک دي چه په شک کې دي.دوي وایې چه نه مونږ سره ثبوت شته چه الله شته او نه مونږ سره ثبوت شته چه الله نشته.

په هر ترتیب دوي وایې چه کائنات د یوي سینګولاریټي یا یو شي د انفجار نه منځته راغلي دي.یعني پغیر د کوم اعتراضه ددي ځای پورې مني چه دا هر څه د یو شي یا سینګولاریټي پواسطه منځ ته راغلي دي . او نه بحث او نه سوال کوي چه آیا دا یو شی څنګه پیدا شوی ؤو؟ او څنګه پکې انفجار او دهماکه شوي وه؟یعني د یو بي قدرته او بي عقله شي پواسطه د کائناتو جوړیدل او منځ ته راتلل بي ثبوته او بي دلیله مني.خو که د الله تعالی نوم څوک واخلي چه کائنات الله تعالی پیدا او جوړ کړي دي نو دوي به سمدستي بحثونه دلیلونه او سوالونه شروع کړي چه د الله څخه نو مخکې څه ؤو الله چا پیدا کړی او داسي نور...

خبره داده چه دا سوالونه داسي نه دي چه جوابونه یې نشته الحمدلله د هر سوال جواب شته چه وروسته به ان شأالله ذکر شي.خو د دوي نه سوال

دادی چه دوي ولي دا سول نکوي چه د سینګولاریټي یا یو شي نه مخکې څه شي ؤو او څنګه پیدا شوي وه ؟ دا خو جواب نه دی چه د نشت یا نتینګ نه په چانس سره پیدا شوي وه. تعجب دی چه دا دومره غټه خبره دوي څنګه پغیر د کوم دلېل او ثبوت نه مني.ځکه چه په دي خبره چه دا سینګولاریټي د نشت څخه بای چانس پیدا شویده .دوي نه یو ساینسي ثبوت لري او نه یو عقلي دلېل لري.دا باید واضح شي چه دا د دوي خپل شخصي نظر او تیوري ده او کوم ساینسي حقیقت یا ساینټیفیک فکټ نه دی او څوک چه دا وایې چه دا ساینس دی دوي په ساینس دروغ او تهمت وایې .ساینس که دا نشي ثابتولای چه د دي سینګولاریټي خالق او کریټر څوک دی .خو دا هم نشي ثابتولای چه د هیڅ او نشت نه پخپل سر او بایچانس پیدا شویده.یا په بل عبارت که ساینس دا نشي ثابتولای چه الله تعالی شته خو دا هم نشي ثابتولای چه نعوذ باالله الله تعالی نشته .یعني پخپله ساینس په دي باره کې بالکل چپ او خاموش دی ځکه چه ساینس لا دومره نه دی رسیدلای چه د الله په باره کې څه ووایې.او څومره خبري چه په دي با ره کې دي د ساینسدانانو خپل شخصي نظریات او تیوریز

دي.باید ووایو چه د یو ساینسدان د الله تعالی نه انکار کول ددي معني نلري چه ساینس الله نه مني. که سټیپن هاکېنګ الله تعالی نه منلو خو انیشټین الله منلو نیوټن چه د ماډرن ساینس پلار ورته وایې الله یې منلو ګلیلو،کېپلر او ډیرو زیاتو لویو لویو ساینسدانانو الله تعالی منلوو.او اوس هم ډیر زیات او لوي لوي ساینسدانان الله تعالی مني او ډیر کم انکار کوي.نو دا بالکل غلطه ده چه ساینس الله تعالی نه مني.

بله مهمه خبره داده چه د کوم وخت نه چه انسان دنیا ته راغلي دی تاریخ شاهد دی چه په هره زمانه کې د دنیا په مختلفو ځایونو کې په هواره ،غرونو او حتی په ځنګلونو کې ټول خلک په یو قسم نه په یو قسم الله مني یعني هر څوک په دي عقیده لري چه چا پیدا کړی یم ،خالق یا کریټر لرم او د هغه په وړاندي ځان مسؤل ګڼي.همدارنګه د ۱۲۴۰۰۰ زیات او کم پیغمبرانو انسانانو ته صرف یو قسم مسیج ورکول چه په یو الله ایمان راوړئ اود یو الله عبادت او بنده ګې وکړئ نو دا دومره لوي اتفاق څنګه کېدای شي چه ټول دي یوه خبره کوي.او هیڅ اختلاف او تضاد دي په کې نه وي.تاریخ وګورئ چه په هره زمانه کې د ټولو خلکو په مقابل کې ډیر

زيات كم خلک داسي دي چه د الله تعالی نه انکار کوي.خو ډیره د تعجب خبره ده کله چه د دي دواړو ډلو په منځ کې بحث شروع شي په عوض د دي چه موحدين د منکرينو نه پوښتنه وکړي چه تاسو ولي الله نه منی ؟بلکه برعکس دوي به د موحدينو نه پوښتني شروع کړي چه تاسو ولي الله منی؟ مونږ ته ثبوت کړئ چه الله شته.عجيبه ده ۹۹ فيصده خلک الله تعالی مني او يو فيصد يې نه مني په عوض د دي چه ۹۹ کسان د يو نه پوښتنه وکړي چه ته څه دليل لري چه الله تعالی نه مني؟برعکس دا يو نفر به ۹۹ نفرو ته وايې چه تاسو ولي الله منی او ماته ثبوت کړئ چه الله تعالی شته .او دوي به هم ورته شروع شي .خبره دا نه ده چه د دوي د سوال جواب نشته او يا يې څوک جواب نشي ورکولای .خبره دا ده چه دا د دوي حق نه جوړيږي چه دوي د ټولو خلکو نه پوښتنه وکړي چه مونږ ته ثبوت کړئ چه الله تعالی شته.بايد دوي ټولو خلکو ته ووايې چه دوي ولي او په څه دليل د الله نه انکار کوي.دوي بايد خلکو ته ثبوت کړي چه ولي ۹۹ فيصده خلک غلط او دوي يو فيصد خلک صحيح دي.يعني دوي بايد دنيا ته ثبوت کړي چه نعوذبالله الله تعالی نشته.او په دي دي دليل مونږ د

الله نه انکار کوو.مګر تر اوسه پورې نه دا چا ثبوت کړي چه نعوذبالله الله تعالی نشته او نه به يې څوک ثبوت کړي.ليکن الحمدلله د الله تعالی په وجود باندي په خرورونو خرورونو ثبوتونه موجود دي چه ان شأالله وروسته به ذکر شي.

سوال دي چه ايتيېس او ايګناستيک څنګه پيدا شو؟

په لنډ ډول بايد ووايم کله چه ساينس د مسلمانانو سره وو دا خبري نه وي خو کله چه د سپَين د لاري اروپا خواته لاړو هر څومره چه ساينس ترقي کوله هغومره د چرچ او ساينسدانانو په منځ کې اختلاف او ټکر زياتيدو.ځکه چه د ساينسسدانانو اکثره پوښتنو ته چرچ جواب نه لرلو.بالآخره اختلاف دومره زيات شو چه ډير ساينسدانان د چرچ د خوانه ووژل شول او بعضی خو ژوندي وسوځول شول مثلاً اوکسيجن چه چا کشف کړی ؤو ژوندي يې وسوځاوو.ګليلو چه کله ډيسکور يا کشف کړه چه ځمکه په خپل محور ګرځي د چرچ د خوانه دومره مجبور شو چه په لارو،کوڅو او بازارونو کې يې اعلانونه وکړل او چغی يې ووهلی چه ای خلکو ما دروغ ويلی وو ځمکه نه ګرځي.او داسي نور زيات مثالونه چه ذکرکول يې دلته ناممکن

دي.خو سره ددي ټولو مشکلاتو ساینسدانانو په پټه او ښکاره کار کولو تر څو چه ډیر طرفداران یې پیدا کړل او بالآخره چړچ مجبور شو او د دوي سره یې معاهده او اګریمینټ وکړ چه تاسو خپل کار کوئ او مونږ به خپل.تاسو په مونږ کار مه لرئ او مونږ به یې په تاسو نه لرو.

نو دغه ساینسدانان هم مذهبي او د ټولني ذهین خلک ؤو.خوکله چه د دوي د کشفیاتو او چړچ په منځ کې اختلاف او ټکر راغی یعني چړچ او مذهب ددوي سوالونو ته جواب نشو ویلای نو په دي وجه بعضی ساینسدانانو د مذهب او الله نه انکار شروع کړ.ایتیېس یا ملحدین شول.ډیره مهمه ده چه هر څوک باید په دي پوه شي چه نوموړو ساینسدانانو صرف دهغه ګاډ(خدای) نه انکار وکړ او کوي یې د کوم تصور چه بایبل ور کړئ دی او په قرآن کې د ذکر شوي الله نه یې انکار نه وو کړي ځکه چه د وړوکوالی نه دوي صرف بایبل د آسماني او دیني کتاب په حیث پیژندو او پیژني یې . او ددوي په ذهن کې د الله تعالی فقط هغه تصور ؤو او دی کوم چه په بایبل کې دی .او لکه څنګه چه مونږ او تاسو د بایبل په باره کې نه معلومات لرو او نه تري خبر یو همدارنګه دوي هم نه د قرآن په باره کې

معلومات لرلو او نه يې لري نه تري خبر ؤو او نه تري خبر دي.

يعني ددوي په نزد ګاډ صرف هغه دي کوم چه په بايبل کې ذکر شويدي.خو دا هم يو حقيقت دي کله چه يو ساينسدان د ساينس په هره برخه کې ژور يا ډيپ لاړ شي يعني تل ته يې ورسيږي حتماً يې خالق او کريټر ته رسوي.نو کله به چه نوموړو ساينسدانانو ته دا حالت پيداشو او يا اوس ورته پيدا کيږي نو دوي بيرته بايبل ته رجوع کوي.خو کله چه بيا داسي شيان وګوري چه د دوي عقلونه يې نه مني او سوالونه يې په زړه کې بي جوابه پاتي شي.نور نو حيران،کانفيوز او په شک کې شي چه آيا دا به رښتيا وي او که دروغ او په دي ترتيب د ايتيېس نه ايګناستيک (شکمن) جوړ شي.

اوس راځو دي ته چه د مسلمانانو بچي ولي ايتيېس او ايګناستيک (ملحد او شکمن)کيږي؟.

اول بايد ووايو چه قرآنکريم د ځمکې په مخ اولنی کتاب دی چه د ساينس،ايګناستيک او ايتيېس يا ملحدينو د ټولو سوالونو جوابونه پکې شته .په قرآن کې د زرو نه زيات آياتونه صرف د ساينس په باره کې دي.چه الحمدلله ددي جملی نه ۸۰

فیصده اوس ساینس ثبوت کړي چه ۱۰۰ فیصده صحیح دي.او د پاتي شل فیصدو لکه ملایکې،پیریان،جنت،دوزخ او برزخ په باره کې نه ساینس ویلای شي چه صحیح دي او نه ویلای شي چه غلط دي. ځکه چه ساینس لا تر اوسه دي مرحلی یا سټیج ته نه دی رسیدلای چه د دي شل فیصدو په باره کې څه ووایې.خو ان شأالله چه یوه ورځ به دا شل فیصده هم داسي صحیح ثابت شي لکه څنګه چه دا ۸۰ فیصده صحیح ثابت شو.

په ټوله دنیا کې نه چا ثابته کړیده او نه به یې ثابته کړي چه د قرآن یو آیات حتی یو حرف هم غلط دی.یو خو مونږ یو چه د هیڅ نه خبر نه یو .په دنیا کې په میلونو میلونو ډالر هره ورځ صرف ددي دپاره مصرفیږي چه نعوذبالله د قرآن یو آیات غلط ثابت کړي یا په قرآن کې غلطي راوباسی.لیکن نه تر اوسه پورې څوک په دي کار کامیاب شویدی او ان شأالله نه به کامیاب شي.لبید بن ربیعه د عربي ژبي ادیب او لوي شاعر وو.خپل شعر یې د بیت الله په دیوال ځوړند کړو چا مسلمان د قرآن یو سورت هم د هغی په څنګ کې ځوړند کړ کله چه لبید د قرآن سورت ولوستلو نو تري لاندي یې ولیکل چه ما هذا کلام البشر(دا د انسان خبري نه

دي) او ایمان يې راوړو او ددي نه وروسته يې شعر ويل پريښودل.يوه ورځ عمر رض ترې د اشعارو ويلو غوښتنه وکړه نو جواب يې ورکړو چه:د کوم وخت نه چه ماته الله د سورت البقره او ال عمران پشان کلام راکړيدي نور نو ما ته شعر ويل زيبا او مناسب نه دي.مشرکېن د ډير ذهين ايراني عالم ابن المقفع نه وغوښتل چه د قرآن په شان يو کتاب وليکې بالآخره په يو کال کې د کتاب په ليکلو موافيقه وشوه ايرانی عالم په يو ځانته ځای کې کېناستلو او د قرآن پشان د يو کتاب په ليکلو يې شروع وکړه شپږ مياشتی وروسته څوک ورغی چه وګوري چه څه يې کړيدي ويې ليدل چه عالم قلم په لاس کې نيولی دی او يو کاغذ يې مخيته ايښی دی او نور پاره پاره شکېدلي کاغذونه يې په مخکې پراته دي بالآخره معلومه شوه چه شپږ مياشتی يې صرف د يوي فقري په ليکلو تيري کړي وي او هغه يې هم ليکلی نه وه..

همدارنګه په دنيا کې واحد کتاب دي چه د سل ځايونو نه پکې زيات ذکر شويدي چه د عقل نه کار واخلي ،په هره خبره غور او فکر کوئ او عقل استعمالوی.د سورت الفرقان په ۷۳ نمبر آيات کې الله تعالی د خپلو ښو بنده ګانو يو صفت بيانوي.

وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا وَعُمۡيَانٗا (۷۳)او هغوي ته که د الله د آياتونو په اوريدلو نصيحت کيږي نو هغوي پري ځان ړوند او کوڼ نه وراچوي.

يعني غور او فکر کوي

او د سورت الاسراء په ۳۶ نمبر آيات کې فرمايي! وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا (۳٦)
هغه څه مه تعقيبوه يا دهغه شي پيروي مه کوه چه تاته د هغه علم نه وي بيشکه غوږونه ،سترګی او زړه هر يو د دوي نه پوښتل کېدونکی دی.

راځو خپلي موضوع ته چه د مسلمانانو بچي ولي ايتيپس کيږي په داسي حال کې چه په قرآن کې د هري خبري حل او جواب شته دی.

پوهيږو چه اوسني بچي د ساينس شاګردان دي .هره خبره په دلېل او منطق مني ځکه چه اوس تعليمی سيستم داسي دی.چه شاګرد ته ورښي چه يو شی هم په غير د ثبوت اودلېل نه ونه مني.اکثره ذهين شاګردان فکر وهي او پوښتني کوي.کله چه پوښتنه ورته پيدا شي مثلاً که د مور او پلار نه پوښتنه وکړي چه بابا: الله تعالی چا پيدا کړيدی؟نو

مور او پلار په عوض ددي چه د قرآن نه جواب ورکړي.ورته به وايې چپ شه داسي پوښتني مه کوه کافر ګيږي او که کوم شاګرد زړه وکړي چه د مسجد مولوي صاحب ته ورشي او پوښتنه تري وکړي چه مولوي صاحبه الله تعالی چا پيدا کړيدی؟ نو مولوي صاحب به يې سمدستي پلار راوغواړي او ورته به وايې چه ځوي دي کافر شويدی نو په شاګرد به د داسي پوښتنو د کولو نه توبه وباسي بعضي خو به وهل او څپيړی هم وخوري او جواب به هم ورنکول شي .نو په آينده کې چه هرڅومره سوالونه ورته پيدا کيږي نو د ويري نه به نه د مور او پلار نه پوښتنه کوي او نه به يې د مسجد د ملاصاحب څخه کوي.او څومره چه يې تعليم زياتيږي هغومره يې سوالونه او شکونه هم زياتيږي او ټول سوالونه يې په زړه کې بي جوابه پاتي کيږي او بالآخره يوه ورځ همدا پوښتني په سکول ،کالج يا فاکولته کې د نورو ملګرو سره شريکوي او په دي ترتيب زمونږ اکثره ذهين شاګردان او بچي ايتيېس يا ملحد او يا ايګناستيک(شکمن) جوړ شي. .افسوس په داسي پلار او په داسي ملا صاحب !الله خو فرمايې چه : ځما مکمل تعريف ورته وکړه .قل هوالله احد .ورته

وو ایه الله یو دي .الله الصمد.   الله هیڅ چا ته احتیاج نه دی او ټول کائنات الله ته محتاج دي.لم یلد ، نه یې څوي شته او نه یې لور.  و لم یولد، او مور او پلار یې نشته خالق او کریټر نه لري.و لم یکن له کفوا احد.او یو شي هم دالله په شان نشته .ته چه هر خومره شیان پیژني یا دي په تصور کې وي یو هم د الله پشان نه دي.

مګر پلار او ملا صاحب په عوض ددي چه شاګرد او بچي ته دالله د حکم مطابق د قرآن نه جواب ورکړي او د الله ج تعریف ورته وکړي، بلکې برعکس ورته به وایې چه چپ شه توبه اوباسه او په دین کې به هر قسم پوښتني نکوي ګني کافر کیږي.او بعض خلک خو دا هم وایې چه په دین کې به عقل نه استعمالوي،حال دا چه قرآنکریم .

په دنیا کې واحد کتاب دي چه د سل ځایونو نه پکې زیات ذکر شویدي چه د عقل نه کار واخلي ،په هره خبره غور او فکر کوئ او عقل استعمالوئ.د سورت الفرقان په ۷۳ نمبر آیات کې الله تعالی د خپلو ښو بنده ګانو یو صفت بیانوي. وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا وَعُمۡيَانٗا (۷۳)او هغوي ته که د الله د آیاتونو په اوریدلو

نصيحت کېږي نو هغوي پرې ځان ږوند او کوڼ نه وراچوي.

يعني غور او فکر کوي

او د سورت الاسراء په ۳۶ نمبر آيات کې فرمايي!
وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَـٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولاً (۳۶)

هغه څه مه تعقيبوه يا دهغه شي پيروي مه کوه چه تاته د هغه علم نه وي بيشکه غوږونه ،سترګى او زړه هر يو د دوي نه پوښتل کېدونکى دى.

معافى غواړم زه تقريباً د ټولني د ۹۵ فيصدو خلکو خبره کوم او د ۵ فيصده علماء حق او بااحساسه مور او پلار او په مجموع کې د ټولو خلکو نه معافى غواړم چه ځما په خبرو خفه نشي ځما يقين دى چه تاسو ټول په دي پوهيږئ خو زه يې صرف تاسو ته درياددول غواړم او نور مونږ او تاسو ټول په يوه کشتۍ کې نا ست يو.راځو خپلي موضوع

ته:تاسو ټول په دي پوهيږئ چه پوښتني صرف ذهين شاګردان کوي تنبل شاګرد کله هم پوښتنه او سوال نه کوي.آيا څه فکر کوئ چه يو پلار يا

ملاصاحب یو ذهین شاګرد ته ووایې چه هر قسم پوښتني به نه کوي او ډیر عقلي دلېلونه به نه وایې ګني کافر کیږي.ربنتیا ووایئ ستاسو د بچي یا شاګرد په زړه کې به څه تیریږي او څه احساس به کوي.ضرور به یې په زړه کې راځي چه دا څنګه دین دی چه په عقل او پوښتنو پکې پابندي لږیدلې ده.او زړه کې به یې بد ګماني او شکونه پیدا شي.او که د همدې وخت نه یې د دیني علماوو پواسطه مخنیوی ونشي او سوالونو ته یې جوابونه ورنکول شي بالآخره د یو ذهین مسلمان نه به ایګناستیک یا ایتیېس جوړشي.د افسوس مقام دی چه د یو سړی ۴۰ یا۵۰ کاله عمر وي او په ورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي او په هر لمانځه کې قل هوالله وایې او بیا کله چه ځوي تري نه د الله په باره کې پوښتنه وکړي او دا ورته وایې چه داسي پوښتني مه کوه کافر کیږي او توبه وباسه.

بله خبره دا ده چه ولي ځني مسلمانان او په خاص ډول ځني علمأ خلک خصوصاً د ساینس شاګردان د دي نه منع کوي چه د دین په باره کې به هر قسم سوالونه نه کوي او عقلي دلېلونه به نه وایي.دا خبره خو د قرآن خلاف ده.آیا د پیغمبر علیه سلام په وخت کې کفارو هر قسم سوالونه نه کول آیا عقلي دلائل یې نه استعمالول.

په قرآن کې د سلو نه زیات واري ذکر شوي دي چه عقل استعمالوئ ،غور او فکر کوئ او قرآن خو د عقلي دلایلو د استعمالولو نه منع نه ده کړي فرمایي! أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ (٣٥)آیا دوي د کوم خالق څخه پرته پخپله پیداشویدي یا که دوي پخپله د خپلو ځانونو پیدا کوونکې دي خو متاسفانه د قرآن ځني پیروان خلک د عقل او عقلي دلایلو د استعمال نه منع کوي .خفه کیږئ مه د دي وجه صرف ناپوهي او د قرآنکریم او دیني علم نه بي خبري ده.عجیبه ده ، اکثره خلک مثلاً ډاکتر انجینر وغیره ۴۰،۵۰ یا ۶۰ کاله به یې عمر وي.لیسانس،دیپلوم ، ماسټري یا پی ایچ ډي به لري.په ډیره ښه مسلمانه کورنی کې به پیدا شوی وي وخت به یې هم اکثره په اسلامی ټولنه کې تیر کړی وي.خو متاسفانه کله چه د د ین ځای راشي د دومره استعداد باوجود ډیر زیات داسي دي چه د لمانځه او کلیمی معني نه ورځي د قرآن ترجمه نه ورځي که په کوم ځای کي که د امامت ضرورت شي د جَمعی لمونځ به نشي ورکولای.همدارنګه اکثره مسلمانان بیزنیسمینان وګورئ دومره به هوښیار وي چه د میلونوو میلونوو بیزنیس به یې جوړکړي وي او چلوي به یې په حساب کې خو به کلکولیټر ته هم تن نه ږدي.خو که د دین ځای راشي نو قرآن به یې زده نه

وي.د دنیا په هره معامله کې به بینا چرګ وي خو که د دین ځای راشي نو بیا به ړوند چرګ شي.همدارنګه ددي غټو او وړو ډیګریو والا او دا لوي او واړه بیزنیسمینان که په دنیاوي معاملاتو او کارونو کې یوه وړه غلطي هم وکړي نو د خلکو نه شرمیږي او د شرم او غلطی احساس کوي خو که په ټول قرآن کې د یو آیت ترجمه هم نه ورځي نه د غلطۍ احساس کوي او نه د چا نه شرمیږي. یعني د هر شي زده کول ورته یو څه ارزش او اهمیت لري خو یواځېنی شی چه زده کول یې دوي ته ارزش او اهمیت نلري هغه قرآن دی.دا خو قرآن ته شاه وراړول دي ،د قرآن پریښودل دي. نو داسي خلک دي بیا دا هم نه هیروي چه

وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوۡمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ مَهۡجُورٗا (۳۰) او پیغمبر به ووایي ای زما ربه ! زما قوم دغه قرآن پریښنی ؤو.

زه دا نه وایم چه هر سړی دي د ځان نه لوي مولوي جوړ کړي بلکه هر سړي باید دومره قرآن او احادیث زده کړي چه خپل او د اولاد مشکلات خو حلولای شي او بله دا چه ځني دیني علمأ د ساینس نه دومره زیات نفرت ولي کوي حقیقت خو دا دی چه ساینس د دین یوه حصه او یوه برخه ده ځکه چه د قرآني قوانینو مطابیق په کائناتو یا یونیورس

کې اوسيدل او د کائناتو نه استفاده کول دين دی او د کائناتو پيژندل او د کائناتو په قوانينو پوهيدل ساينس دی نوکه مسلمانان د قرآن زده کولو ته توجه ورکړي او علماء کرام د ساينس د شاګردانو سوألونو ته د نفرت په ځای په مينه او محبت جوابونه ورکړي نو ان شأالله چه الله به زمونږ بچي د الحاد د سيلاب نه بچ کړي.و ما علينا الا البلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

بسم الله الرحمن الرحيم

الدرس(۱۷)

# دنیا کې د انسان د پیداکېدلو او ژوند مقصد

که ښه په غور سره خوا او شاه ته متوجه شو .وبه ګورو چه هر شي د یو مقصد او کار دپاره پیدا او جوړ شویدی.چه په مجموع کې هر شي یعني ټول شیان د انسان د ژوند او بقا دپاره کار کوي.لمر د انسان دژوند د بقا دپاره انرژۍ او رڼا جوړوي او ځمکې ته یې رالیږي.سپوږمۍ د بحرونو د پاکوالي،د ورځو،میاشتو او کلونو د حسابولو دپاره کار کوي.کوم چه د انسان د ژوند پاره ډیر زیات ضرور دي.اټموسفیر انسان د سپیس د بې حسابه تیږو او خطرناکو شعاګانو نه ساتي او د بحرونو نه آسمان ته جګې شوي اوبه ځمکې ته د باران په شکل د انسان دپاره رالیږي.ددي دپاره چه انسان شپې او ورځې او په کال کې څلور فصلونو ته

ضرورت لري . نو ددي مقصد لپاره ځمکه په ۲۴ ساعتو کې یو وار د خپل محور په خوا او شاه ګرځي او په یو کال کې د لمر په خوا او شاه ګرځي.انسان غوښو او شیدو ته ضرورت لري نو ځني حیوانات غوښي او ځني شیده جوړوي .انسان غذایې موادو ،غلو ،دانو،میوو،او لرګیو ته ضرورت لري.نو ددي مقصد دپاره ځمکه مختلف سبزیجات ،ځنګلونه،او میوي تهیه او برابروي.ځمکې پخپله خیټه کې وسپنه سره اوسپین زر اونور ددي مقصد دپاره ذخیره کړیدي تر څو چه انسان یې د ضرورت په وخت کې راوباسی او د کورونو ،موټرو بحري او هوایې جهازونو او د تیکنالوژي په مختلفو برخو کې تري کار واخلي.که د انسان خپل وجود ته په غور سره متوجه شو وبه ګورو چه:د انسان د وجود هره حصه یا پارټ د یو خاص مقصد او کار دپاره پیدا او جوړ شویدی.چه په مجموع کې بیا د ټولو حصو یا پارټونو د کار مقصد د انسان د ژوند او بقأ دپاره دی.مثلاً د غوږ د پیداکېدو مقصد اوریدل،د سترګو دپیداکېدو مقصد لیدل،د پوزي بویول ،د ژبي خوند یا ټیسټ معلومول ،د لاسونو د پیدا کېدلو مقصد د مختلفو کارونو کول،د خپو مقصد ګرځیدل او همدارنګه

زړه ،مغزه.خوله،سږي ،پښتورګي او داسي نور هر یو د یو مقصد او کار دپاره پیدا شویدي.چه مجموعي مقصد دټولو د انسان د ژوند او بقأ دپاره کار کول دي.یا که په لنډ ووایو چه: په کائناتو یا یونیورس کي د هر شي د پیداکېدلو او کار مقصد د انسان د ژوند او بقأ دپاره دی.او دانسان په خدمت کې لګیا دي.سوال دا دی چه:د دي دومره بامقصده شیانو د مقصد یعني د انسان د پیداکېدلو مقصد څه دی؟آیا انسان هم د کوم مقصد دپاره پیدا شوی دی؟او که هسي بي مقصده پیداشوی دی؟ عقل او کامن سینس دا نه مني چه: په کائناتوکې د هر شي د پیدا کېدلو مقصد دي د انسان خدمت وي.او پخپله د انسان پیداکېدل دي بي مقصده وي.بلکه عقل او کامن سینس دا وایې چه: د انسان د پیداکېدلو مقصد د ټولو مخلوقاتو یا کریشن نه ډیر زیات دی.کوم چه صرف هغه چا ته معلوم دی چا چه انسان جوړ او پیدا کړیدی.یا په بل عبارت د انسان د پیداکېدلو مقصد صرف د انسان خالق ته معلوم دی چه: الله تعالی دی.الله تعالی د سورت المؤمنین په ۱۱۵ نمبر آیات کې فرمایې! أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ نو آیا تاسو ګمان کوئ چه مونږ تاسو بیکاره او بي مقصده پیداکړي یاستئ او ګمان

کوی چه مونږ ته به نه راوستل کیږئ؟ الله تعالی انسان ته فرمايي چه: ای  انسانه ته بي مقصده او بيکاره نه يې پيداشوي بلکه د ډير لوي مقصد دپاره پيدا شوي يې.اوحتماً به مونږ ته د حساب او کتاب دپاره راځي.الله تعالی د سورت الملک په دوهم نمبر آيات کې ددي مقصد په باره کې فرمايي!
ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلاً‌ۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ هغه الله چه پيداکړی ئی دی مرګ او ژوند دپاره د دي چه امتحان کړي تاسو چه کوم يو د ستاسو ډير ښه دی د عمل د مخی. همدارنګه د الذاريات د سورت په ۵۶ نمبر آيات کې د انسان د پيدا کيدلو د مقصد په باره کې فرمايي وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ (٥٦)او ما پيريان او انسانان نه دي پيداکړي مګر ددي دپاره چه دوي ځما بندګی وکړي.يعني  پيريان او انسانان الله تعالی پرته د دي نه چه د الله بندګی وکړي د بل کار دپاره نه دي پيدا کړي.د بندګی او عبادت مطلب دا دی چه انسان د الله حکمونه ومني او د قرآن او صحيح احاديثو مطابق په دنيا کې ژوند وکړې.يعني هر کار او ټول معاملات بايد د شريعت مطابق وکړي.

متاسفانه چه اکثره خلک دا مبارک آیات اوري خو یقین یې نه کیږي چه رښتیا ځما د پیداکېدلو مقصد صرف د الله عبادت او بندګي ده؟علت او وجه دا ده چه په کومه ټولنه کې چه مونږ پیدا شوي یوو هر خوا چه ګورو په نظر نه راځي چه خلکو د الله بنده ګي او عبادت د ژوند مقصد ګرځولی وي مګرد دي برعکس خلکو د خواهشاتو پوره کول د ژوند اصلی مقصد ګرځولی دی.نو الله دي زمونږ او ستاسو ایمان او عقیدي صحیح او ښی کړي.راځئ د نورو خلکو سره سیالۍ مه کوئ.هر څوک دنیا ته یوازي راځي او یوازي تري ځی .دا مه هیروئ چه حتماً به یوه ورځ د عزرائل علیه السلام سره ملاقات کیږي،د لمبا په تخته به ان شأالله اچول کیږو،بل به راڅخه جامي اوباسي اوبل به مو لمبوي، اولادونه ،دوستان او د کلي یا محلي خلک که نصیب کې مو وي د جنازي لمونځ به راباندي وکړي او بیا به مو هدیري یا قبرستان ته وړي،خو ته داسي تصور مه کوه چه ته د بل چا قیصه اوري.بلکه ته خپله راتلونکې قیصه اوري او زه خپله. په هر ترتیب هدیري ته د رسیدو نه وروسته خپل دایمي کوریعني قبر ته ښکته کیږو یعنی داخلیږو او د ټولو نه ډیري خاورې به خپل نیزدي

دوستان راباندي را اچوي .د ښخولو نه وروسته ټول خلک او خپلوان به خپلو کورونو ته لاړ شي او پخپلو خپلو کارونو کې به مصروف شي،زمونږ مالونه،جايدادونه او بيزنيسونه به د نورو شي،د يو وخت پورې به د دوستانو په منځ کې يادېږو خو د يو يا دوه نسلونو نه وروسته به زمونږ نوم هم د دنيا نه ورک شي.بيرته راځو خپل نوي او دايمی کور ته کله چه دوستان په خوړرو خوړرو خاورې راباندي واچوي نو خپلو کورو ته به روان شي مونږ به يې د قدمونو آوازونه هم اورو.خو ددي نه وروسته به نه مونږ دوي ګورو او نه به دوي مونږ ګوري.نوي ژوند به مو شروع شي چه د برزخ ژوند ورته وايې.اوله شپه ډيره حيرانوونکې او ناآشنا شپه ده ،د فاميل نه د اول ځل او هميشه دپاره جدا ،د خوړرونو خاورو لاندي تپه تياره بالکل يوازي.يو ډير هيبتناکه ناآشنا مخلوق به راشي .د اول وار دپاره به يې ګورو.دا دوه ملائکې دي نکېر او مُنکر دوي به زمونږ نه دري پوښتني کوي.که د دي پوښتنو جوابونه چا صحيح ورکړل نو آينده ټول عمر به يې خوشاله وي او کامياب شو او که د دي پوښتنو جوابونه چا ورنکړل نو نور به په ټول عمر کې خوشالي ونه ګوري او ناکام شو.پوښتني داسي

دي.من ربک- رب دي څوک دی؟ من نبیک- پیغمبر دي څوک دی؟ و ما دینک او دین دي څه دی؟مؤمن به صحي جوابونه ورکړي .قبر به ورته لوي او پراخه شي د جنت کړکۍ به ورته خلاصه شي. د جنت هوا به پري لګیږي او قبر به ورته د جنت یوه باغچه شي.او مجرم او ګنهګار به وایې چه لا ادري، نه پوهیږم.نو په ګورزونو باندي د وهلو او ټکولو نه علاوه قبر به پري دومره راتنګ شي چه د یوي خوا پښتې به یې د بلي خوا پُښتیو نه وځي. د دوزخ کړکۍ به ورته خلاصه شي د دوزخ هوا به پري لګیږي. او قبر به ورته د دوزخ یوه کنده شي .الله عالم دی چه څومره عمر به په برزخ کې تیروو.خو کله چه قیامت شي د قبرو نه به لوڅ لغړ راپورته کیږو او د حشر میدان ته به د حساب او کتاب دپاره ځوو.د حشر په میدان کې به وارخطا او خواره واره ګرځو.دا یوه ورځ ۵۰۰۰۰ کاله ده.لمر زمونږ نه اوس ۹۳ میلون میلز لري دی.خو بیا هم مونږ ورته نشو ټینګیدلای .خو د حشر په میدان کې به دومره را ښکته شوي وي چه تقریباً د یو میل په فاصله کې به زمونږ د سرو دپاسه ولاړ وي.فکر وکړئ چه ګرمی به څومره وي او څنګه به ورته ټینګیږو؟ هر سړی به د خپل

عمل مطابق په خپلو خولو کې ډوب وي جنت او دوزخ به حاضر شي .الله تعالی به دحساب او کتاب دپاره تشریف راوړي څنګه چه د هغه د شان سره ښائی د میزان تله به ولګیږي حساب به شروع شي یو آواز کوونکی به آواز کوي چه فلانکی د فلانکې ځویه راوځه الله دي غواړی بنده به راوځي د الله تعالی حُضور ته به ورځي او په غیر د ترجمان نه به رب العالمین د بنده نه سوالونه کوي او بنده به جوابونه ورکوي.ای د الله بنده آیا د الله تعالی سره د مخکېدو او د جوابونو دپاره دي تیاری نیولی دی او که نه؟که ستا جواب منفی یعني نه وي نو اوس خو در په یاد شو سر د همدا اوس څخه د زړه نه توبه اوباسه او د رب العالمین سره د مخ کېدو دپاره تیاری ونیسه د دنیا ډیر لږ ژوند دي څنګه چه دا ۳۰،۴۰ یا ۵۰ کلونه تیر شو او پري پوه نشو همداسي به دا پاتي عمر هم تیر او پري به پوه نشو.نو ددي کم عمر دپاره هغه دایمي عمر مه خرابوئ.مخکې د دي چه په قبر او د حشر په میدان کې مو سترګی وغړیږي الله دي توفیق راکړي چه په دنیا کې یې وغړو.د سورت المؤمنین په ۱۱۲ او ۱۱۳ نمبر آیاتونو کې الله فرمایې! قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ (۱۱۲) قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ

يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ (١١٣)الله تعالی به پوښتنه وكړي چه:تاسو په ځمكه كي څومره كلونه و اوسيدلاى-هغوي به ووايي:مونږ يوه ورځ يا د يوي ورځي يوڅه برخه هلته اوسيدلي يوو.د شمار كوونكو څخه پوښتنه وكړه.الله دي توفيق راكړي چه د الله بنده ګي او عبادت په ښه توګه وكړو او د دنيا او آخرت كاميابي مو په نصيب شي.و ما علينا الا البلغ المبين.

ډاكتر محمد عثمان نظامى

بسم الله الرحمن الرحيم

الدرس(١٨)

# د قرآنکریم معجزې

## د عاد د قوم ذکر په قرآنکريم کې

پخوا په دنیا کې ډیر قومونه داسي تیر شویدي چه د الله تعالی عذابونه لکه باد ،طوفان او زلزلي پري راغلي دي،او تباه او هلاک شویدي.خو د هر قوم په باره کې یو څه نا څه معلومات د دنیا په یو ځای نه یو ځای کې موجود دی،او د ډیرو ذکر په قرآن کریم کې هم شته،او په بایبل کې هم شته دی.خو په دي قومونو کې یو قوم یعني د عاد قوم داسي دی چه:صرف په قرآن کې یې ذکر شته او په بایبل کې نشته.نو د بایبل پیروانو په دنیا کې آوازه ګډه کړه او اعتراضونه یې شروع کړل چه حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د پخوانیو قومونو واقعات د بایبل نه نقل کړیدي او په قرآن کې یې لیکلي دي.مګر د عاد د قوم په باره کې یې نعوذبالله د خپل ځان څخه لیکلي دي،ځکه چه:هغه قومونه چه

په بايبل کې يې ذکر شته دی د هغوي ټولو يو څه آثار او ثبوتونه په دنيا کې شته دی،او يوازي د عاد قوم چه:په بايبل کې نشته او په قرآن کې ذکر شويدی ، په دنيا کې يې هم هيڅ آثر او ثبوت نشته. حال دا چه قرآنکريم د دي قوم ذکر ۱۸ کرته په مختلفو سورتونو کې په ډير تفصيل او پوره يقين اوکانفيډينس سره کړيدی.

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ (٦) إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ (٧) ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ (٨

آيا ته نه يې خبر (ای محمد ص ) چه ستا رب د عاديانو سره څه وکړل . چه د ارم د نسل نه ؤو د لوړو ستنو خاوندان ؤو. کوم چه نه ؤو پيدا شوی مثل د هغوي په ټولو ښارونو کې.

عاديان ډير زيات مالدار او طاقتور خلک ؤو،ډير جګ قدونه يې لرل کورونه او لوړ لوړ عمارتونه به يې په ستنو جوړول يعني ستني به يې پکې استعمالولي.په قرآن کې د دوي د ښار نوم الاحقاف ذکر شويدی،چه په اوسني وخت کې د بحيره احمر او بحيره عرب په منځ کې صحرا يا دشته ده چه: د صحرا الاحقاف په نوم ياديږي.او صحرا اعظم الادنيا يا د دنيا لويه دشته ورته وايي.په دي دشته

کې سفرکول خو څه چه دننه پکې څوک قدم هم نشي ایښودلای.ځکه چه په دي دشته کې ننوتل خپل مرګ ته دعوت ورکول دي.دا دشته یا صحرا د الله د نښانو نه یوه نښانه ده او د انسانانو دپاره د عبرت ځای دی.ځکه کله چه دلته عادیان آباد ؤو د دنیا د ټولو نه شنه او آباده علاقه وه.هر قسم میوي او داني پکې وي،او د یخو اوبو چیني پکې بهیدلې،او د دنیا ډیر طاقتور،مالدار او د اوږدو قدونو خاوندان عادیان پکې اوسیدل،دوي د بتانو عبادت کولو او د الله سره یې شرک کولو،کله چه پخپل شرک او کفر کې د حد نه واوختل،الله د دوي د هدایت دپاره هود علیه سلام ورولیږه.هود ع دوي ته ډیره موده وعظ او نصیحت وکړ د بتانو د عبادت نه د منع کېدلو او د یو الله عبادت ته یې دعوت ورکړ او ورته یې وفرمایل چه دا تاسو څه فضول حرکتونه کوئ په هر ځای کې جګ جګ یادګارونه جوړوی او په مهارت سره داسي عمارتونه جوړوی لکه چه تاسو همیشه دلته اوسیږی مګر عادیانو د هود ع نصیحت ونه منلو او دروغجن یې ورته وویلو ظلمونه به یې کول،او په ډیر تکبر سره به یې ویل چه زمونږ د ټکر هیڅوک نشته، تر دي پورې چه هود ع ته یې وویل چه:که ته په رښتیا پیغمبر یې نو راوله هغه

عذاب چه مونږ ترې ویروي.نو هودع دعا وکړه چه یا الله څما قوم ماته دروغجن وویلې.څما مدد وکړي.نو د الله عذاب پرې راغی،په اول کې پرې قحط سالي راغله،بارانونه بند شول،د اوبو چینې وچې شوې،شنه فصلونه وچ شول،مالونه یا څاروي یې مړه شول،درې کلونه دې دوام وکړو،هودع به ورته ویل چه توبه وباسئ چه الله درنه عذاب لرې کړي.خو عادیانو د هود ع نه اوریدله او نه یې منله،بیا د هوا طوفان راغی او عادیان یې هلاک کړل،او نوم او نشان یې د دوي ورک کړو.او داسې یې نوم او نشان ورک شو چه په غیر د قرآنکریم نه یې نور هیڅ چیرته هم ذکر او معلومات نه ؤو.نو ځکه اهل بایبل ویلې چه نور قومونه چه په بایبل کې ذکر دي په دنیا کې یې اثار او ثبوتونه هم شته او عادیان چه صرف په قرآن کې ذکر شویدي او په بایبل کې نه دي ذکر شوي نو په دنیا کې یې اثر او ثبوت هم نشته.تقریباً ۲۷ کاله مخکې په ۱۹۹۲ کې یوه ښځه او خاوند چه د کلیفورنیا اوسیدونکې ؤو،د طیارې یا پلین نه یې د داسې کېمرو پواسطه لاندې دشتې ته کتل کومو چه خو متره دننه په شګو کې عکسونه اخیستلای شو،ویې لیدل چه یو ځای کې د شګو لاندې د یو ښار پشان نقشه په نظر

راغله،چه دکبندلو نه وروسته معلومه شوه چه دا د عادیانو ښار ؤو کوم چه په قرآنکریم کې ذکر شوی ؤو،ټول کورونه او عمارتونه په ستنو جوړ شوي ؤو هډوکي يې ډير اوږده او د سر کوپړۍ يې ډيري غټې وي،او داسي معلوميږي چه پخپل وخت کې ډير قوي او طاقتور خلک ؤو.کله چه دا ډیسکوري یا کشف وشو،په ټوله دنیا کې یوه لویه هنګامه او آوازه خوره شوه چه: هغه قوم او ښار پیدا شو د کوم ذکر چه په قرآنکریم کې شویدی، اوپه ټوله دنیا کې په ټی وي چینلونو او اخبارونو کې دا خبر د قرآن په حواله خور شو،یعني د دي قوم او ښار معلومات او ذکر صرف په قرآن کې ؤو او شته،خو اکثره مسلمانان تر اوسه پورې تري خبر نه دي.نو د داسي يو قوم او د هغوي د اوسیدلو د ځای په باره کې دومره په تفصيل خبري کول په داسي حال کې چه په ټوله دنیا کې بل چاته د هغی په باره کې هیڅ معلومات نه وي،دا د دي ثبوت دي چه قرآنکریم د الله تعالی کلام دي.و ماعلیناالاالبلغ المبین

محمد عثمان نظامی

الدرس(۱۹)

# د جګو آوازونو آخرنی حد د خر آواز دی

# Braying of a Donkey is the Limit

اوس ساینس معلومه کړي چه کوم آوازونه چه مونږ او تاسو يې اورو او يا يې د خولي نه وباسو يو حد او اندازه لري ،زمونږ غوږونو ته د يوي خاصى اندازي آوازونو د اوريدلو اجازه شته،او که د اندازي نه زيات جګ آوازونه د زيات وخت دپاره واوريدل شي ډير قسم قسم مرضونه انسان ته پيداکيږي.لکه څنګه چه په وخت په دقيقه او ساعت،فاصلي په متر او کېلوميتر او وزن په ګرام او کېلو ګرام اندازه کيږي،همدارنګه آوازونه په ډيسيبل اندازه او پيمانه کيږي.د ډيسيبل د پيژندلو دپاره يو مثال ته توجه وکړئ.خو اول بايد ووايو چه ساينس کومو آوازونو ته د څومره وخت دپاره د اوريدلو اجازه ورکړيده،د ۸۵ ډيسيبل آوازونو د اوريدلو دپاره ۸ ساعته اجازه شته خو که د آوازونو

شدت یا جګوالی د دي نه زیات شي فرضاً ۸۷ ډیسیبل شي نو وخت یې نیمایي کیږي یعني د څلور ساعتونو څخه د زیاتو اوریدلو اجازه نشته .یعني څومره چه د آوازونو شدت او جګوالی زیاتیږي نو د اوریدلو وخت کمیږي.فرضاً که د آوازونو شدت او جګوالی ۱۳۰ ډیسَیبل شي نو صرف د یو سیکېنډ دپاره د اوریدلو اجازه شته،او د ۱۴۰ ډیسَیبل نه د زیاتو جګو او شدیدو آوازونو د اوریدلو بالکل اجازه نشته.اوکه څوک یې واوري نو د ډیرو سختو مرضونو او مشکلاتو سره به مخ شي چه لږ وروسته به ذکر شي.اوس راځو دي ته چه دا څنګه معلوموو چه د ډیسیبل اندازه څومره ده.معمولاً په ګڼ بازار کې چه کوم شور وي مثلاً د دوکاندارانو آوازونه،د خریدارانو آوازونه او داسي نور نو دا شور ۷۰ ډیسیبل دی.د ۵ میترو په فاصله کې د یو وړوکې موټر یا کار د هارن آواز اوریدل ۹۰ ډیسیبل دي. او په لس میتره کې د پټاکۍ آواز اوریدل ۱۲۰ ډیسیبل دي.د لوډ سپیکر آواز کله چه د چا خواته یې مخه وي او نزدي ورته ولاړ وي ۲۰۰ ډیسیبل دي .لږ مخکې مونږ وویلی چه د ۱۴۰ ډیسیبل نه د زیاتو آوازونو د اوریدلو اجازه نشته،خو که څوک یې په دوامدار ډول اوري نو

قسم قسم مرضونه لکه:انکزایټی،ډیپریشن چه همدا دواړه د کورني او اجتماعي ژوند د بربادیدلو او تباه کېدلو قهر او غُصو،جنګونو ،خود کُشۍ او د نورو د وژلو لوي اسباب دي،د زړه مرضونه لکه انجینا اود زړه حمله یا هارټ اټک او که څوک د زړه مریضي نلري په دوي کې د زړه په مریضۍ د اخته کېدلو چانس زیاتیږي او که څوک د زړه مریضی لري په دوي کې د زړه د حملی یا هارټ اټک چانس زیاتیږي ،د کولمو امراض،سردرد چه اکثره زر زر سر خوګیږي همیشه به پراستامول ځان سره ساتي،د ماشومانو په پیداکېدو او نشونما یا ګروت او ډیویلوپمینټ کې تأخیر یا ډیلَی،ایمون سیستم یا د وجود د دفاعی سیستم کمزوری کېدل چه د دفاعی سیستم دکمزورۍ په وجه نور ډیر امراض هم پیداکیږي لکه قسم قسم ویروسي او بکټیریایې امراض او همدارنګه زر زړیدل یعني د نورمل وخت نه مخکې د سړی پوستکی غونج شي او زوړ شي .نو که د محفوظ حد نه زیات شدید او جګ آوازونه په دوامدار ډول څوک اوري نو دا ذکر شوي مرضونه ورته پیدا کیږي.د غور او فکر خبره ده چه په اوس وخت کې هم زیات خلک ډیسیبل یا د آواز د اندازه کولو پیمانه نه پیژني .نو

پخوا چه ډیسیبل او د آواز د اندازه کولو بله پیمانه هم نه وه چه خلک پوه شوي ؤو چه کوم لیول او اندازه آوازونه واوري او کوم وانوري،خو قرآنکریم په هغی وخت کې د آوازونو د اندازه کولو دپاره داسي پیمانه خودلې ده چه پخوا پري هم خلک پوهیدل او اوس پري هم خلک پوهیږي او ان شاالله چه د قیامته پورې به پري خلک پوهیږي یعني قرآن چه د آوازونو د اندازه کولو دپاره کومه پیمانه ښودلې ده په هره زمانه کې کار کوي ځکه چه قرآن د الله کلام دی .په سورت القمان کې فرمایې! وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ او خپل غږ لږ ټیټ کړه .د دي دپاره قرآن یو معیار او سټنډرډ ایښی دی. إِنَّ أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ ٱلۡحَمِيرِ (١٩)،دلته دوه قسمه تعلیم انسانانو ته ورکول کیږي اخلاقي تعلیم او ساینسي تعلیم.اول-- بیشکه د ټولو آوازونو نه ډیر بد آواز د خرو دی دلته انسانانو ته د اخلاقو تعلیم ورکول کیږي ،دوهم-- څومره آوازونه چه ستاسو په خوا او شاه ماحول کې دي او تاسو یې اورئ د دي آوازونو آخرنی حد چه د هغی نه نور د جګو آوازونو د اوریدلو اجازه درته نشته دا حد او معیار د خرو آواز دی،یعني ستاسو د آوازونو لیول او اندازه باید

څومره وي که د هغی نه یې شدت او جګوالی زیات شي نو تاسو ته نقصان او تکلیف رسوي او اوریدل یې ستاسو دپاره منع دي  دا لیول او اندازه د خرو آواز دی کوم چه ۸۰ ډیسیبل دی،د دي لیول او اندازي نه زیات آوازونه د انساني ټولني دپاره په انفرادي او اجتماعي ډول مضر او نقصان ورکوونکې دي او په داسي ټولنو کې هغه مرضونه ډیر زیات وي کوم چه لږ مخکې ذکر شو نو دا ؤو د یوي صحتمندي ټولني دپاره د آوازونو لیول او اندازه ،خو خبره صرف دخرو د آوازونو نه ده خبره دا ده چه انسانانو ته یو معیار او سټنډرډ ورکول شویدی چه خپل ژوند او د ژوند پورې مربوط ټول شیان لکه کارخاني،بازارونه ،موټر و غیره داسي منظم او ترتیب کړي چه آوازونه پکې باید د ۸۰ ډیسیبل یا د خرو د آواز نه زیات نه وي او که په دوامدار ډول زیات وي نو ټوله ټولنه به د مختلفو مرضونو او تکلیفونو سره مخ وي د دي ځای پورې چه کومه تشریح وشوه ،په دي کې انسانانو ته ساینټیفیک تعلیم ورکول کیږي .یعني دا مبارک ایت په اول صورت کې چه د ټولو آوازونو نه بد آواز د خرو دي،دلته انسانانو ته اخلاقي تعلیم

ورکوي.او په دوهم صورت کې ساینسي تعلیم ور کوي.وما علینا الاالبلغ المبین

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(٢٠)

# د قرآنکریم ساینسی معجزي( په خارجی فضا یا سپیس کی توره تیاره ده)

که د سورت الحجر په څوارلسم او پنځلسم نمبر آیاتونو کې غوراو فکر وکړو.و به ګورو چه دا آیاتونه د قرآن معجزي دي ځکه چه دا آیاتونه څوارلس سوه کاله مخکې د داسي یو غټ حقیقت په باره کې انسانانوته خبر ورکوي کوم چه ساینس په کال۱۹۵۰ کې ډیسکور یا کشف کړ.یا په بل عبارت دشلمي پیړۍ نه مخکې یو انسان ته هم ددي حقیقت په باره کې معلومات نه ؤو.د ۱۹۵۰ کال نه مخکې ساینسدانانو فکر کاوه چه خارجي فضأ یا سپیس به ډیر روښانه او رڼا وي او عقل هم دا قبلوله چه شاید دځمکې د نیزدي آسمان یعني اتموسفیر څخه به پاس آسمان یا سپیس یا خارجي فضأ ډیره رڼا او روښانه وي.ځکه چه څومره لمر ته نیزدي کیږي هغومره باید رڼا زیاته شي.مګر کله چه په ۱۹۵۰ کې د ساینسدانو یو ګروپ د ماډرن تیکنالوژي پواسطه د خارجی فضأ یا اوتر سپیس

خواته سفر شروع کړ.نو کله چه سپیس کرفټ یا خلایي جهاز د ځمکي څخه د ۲۰۰ کېلو میترو نه پورته سپیس ته دا خل شو.نو د ساینسدانانو د توقع یا ایکسپیکټېشن سرچپه او برخلاف یو ناڅاپه توره تیاره شوه او په سپیسکرفټ کي موجودو ساینسدانانو داسي احساس وکړ لکه چا چه ورته په سترګو پټۍ کېښودي او سترګی یې پري پټې کړې.او دا احساس یې هم وکړ لکه میجک یا جادو چه پري شوي وي.ځکه دوي فکر کولو چه سپیس کې خو به سپینه رڼا وي مګر د دوي د فکر برعکس تپه تیاره وه.نو راځو د نومړو آیاتونو تلاوت او ترجمه کوو.

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّواْ فِيهِ يَعْرُجُونَ (١٤) لَقَالُوٓاْ إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَٰرُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ (١٥)او که مونږ په دوي باندي د آسمان یوه دروازه خلاصه کړو بیا دوي په رڼا ورځ په دي کې پاس (آسمان ته) وخیژي .بیشکه دوي به وایې چه زمونږ په سترګو پټۍ و تړل شوي بلکې په مونږ خو جادو وشو(مجیک)

یعني کله چه په رڼا ورځ څوک د ځمکي د حدودو څخه خارجي فضأ یا سپیس ته داخلیږي نو هلته

ورته هیڅ شی نه ښکاري.یعني خارجی فضأ یا سپیس بالکل توره شپه ده او رڼا پکې نشته نو کله چه څوک یو نا څاپه د رڼا نه د سپیس تیارو ته داخل شي انسان داسي احساس کوي لکه چه څوک يې په سترګو پټۍ کیږدي.او میجک او جادو پري شوي وي.فلهذا قرآن ۱۴۰۰ کاله پخوا فرمايې چه آسمان یا سپیس یا خارجی فضأ توره تیاره ده.حال دا چه ساینس په ۱۹۵۰ کې دا حقیقت ډیسکور یا کشف کړ.فکر وکړئ چه د نوي تیکنالوجی د کمک څخه په غیر څنګه ممکنه وه چه ۱۴۰۰ کاله مخکې دي څوک د سپیس په باره کې داسي معلومات ورکړي . نو معلومه او ثبوت شوه چه قرآنکریم د انسان خبري نه دي بلکې د الله تعالی کلام دی.و ما علینا الا البلغ المبین. ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدّرس(٢١)

# د قرآنکریم ساینسی معجزي
# د ځمکی اتموسفیر

د قرآن د ساینسي معجزو په سلسله کې نن د اتموسفیر په باره کې خبري کوو.قرآنکریم د سورت الانبیاء په ٣٢ نمبر آیات کې! فرمایي وَجَعَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ سَقۡفٗا مَّحۡفُوظٗاۖ وَهُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهَا مُعۡرِضُونَ .او ګرځولی دی مونږ آسمان محفوظ چت او دوي د علامو او نښو ددي نه مخ ګرځونکي دي.یعني الله تعالی د دنیا آسمان د ځمکې د حفاظت دپاره یو محفوظ او قوي چت جوړ کړیدي.د دي مبارک آیات تفسیر چه پخوا هم هرخومره عُلُماءو کړیدی هغه هم صحیح دی. خو لکه څنګه چه عبدالله ابن عباس (رض)فرمایي چه په قرآن کې ځني داسي آیاتونه شته دی چه د هغی تفسیر به زمانه کوي.نو د ساینس د علم څخه په استفادي کولو سره د دي مبارک آیات تفسیر کوو.د ځمکې د سطحی او اوتر سپَیس یا خارجی فضاء په منځ

کې آسمان ته اتموسفير وايې.چه د اوسنيو معلوماتو مطابق لس زره کېلو متره ارتفاع او جګوالی لري.اتموسفير د ځمکې نه ګردچاپيره داسي يو قوي محافظوي چت دی چه په غير د دي چت نه دځمکې په مخ ژوند ناممکن دی.ځکه چه اتموسفير هغه غټې او وړې آسماني تيږي چه د فضأ يا سپيس نه ځمکې ته راځي مخکې ددي نه چه په ځمکه راوغورځيږي تخريب او سوَزوي.او يوازي ګټورو او بي خطره شُعاګانو ته ځمکې ته د تلو اجازه ورکوي اوهغه شعاګاني چه د ژوند دپاره خطرناکې او مضره دي هغه بيرته سپيس ته شړي. خو ځني شعاګاني چه د ژوند دپاره خطرناکې هم وي او په ځمکه کې يې ضرورت هم وي نو اتموسفير د ځمکې د ضرورت په اندازه فلترکوي او ځمکې ته يې ليږي او غيري فلتر شوي بيرته سپيس ته ليږي.همدارنګه د سپيس د ډيري يخنی نه چه تقريباً منفی ۲۷۰ درجې ده ځمکه او ژوندي موجودات ساتي.

همدا رنګه قرآن د سورة الطارق په يولسم نمبر آيات کې فرمايې.( وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ) قسم دي په آسمان چه خاوند د بيرته ليږلو دی. رَجَعَ بيرته ليږلو،بيرته ګرځيدلو يا ريټرن کولو ته وايې.يعني

په اتموسفير کې يو صفت داسې دی چه بيرته ليږل يا ګرزول کوي.مثلاً لکه مخکې چه مونږ وويل چه د لمر او غټو ستورو نه ډير خطرناک راډيشن او راډيو اکتيف شعاګاني سپيس ته داخليږي .خو کله چه د سپيس نه ځمکې خواته راځي نو اتموسفير يې بيرته ګرځوي او بيرته يې سپيس يا فضأ ته ليږي ځکه که چيرته د اتموسفير پواسطه بيرته سپيس ته ونه ليږل شي او ځمکې ته راشي نو په ډير کم وخت کې به ژوند د منځه ويسی.همدارنګه کله چه د بحرونو اوبه د بخار پشکل د سپيس خواته ځې نو د اتوموسپير د لاندي طبقي پواسطه راګرځول کيږي .وريځې تري جوړوي او د باران،ګلۍ او واوري په شکل يې بيرته ځمکې ته راليږي.هغه راډيوي امواج چه د ځمکې نه براډکاسټ کيږي د اتموسفير د مسؤلي طبقي پواسطه راګرځول کيږي او د دنيا مختلفو برخو ته ليږل کيږي.چه په دي ډول وايرليس کمونيکېشن او د راډيو او تلويزون خپروني په دنيا کې د ډيرو ليري ليري فاصلو پورې اوريدل او ليدل کيږي.فکر کوم چه په مطلب د پوهيدلو دپاره به همدومره بس وي.او نور قضاوت او انصاف تا سو پخپله وکړئ چه:ځوارلس سوه کاله پخوا څنګه ممکنه وه چه

حضرت محمد صلی الله علیه و سلم دي داسي معلومات ورکړي د کوم ورکول چه د شلمي پيړۍ د تیکنالوژي د کمک څخه په غیر نا ممکن ؤو.په داسي حال کې چه د هغی وخت د عامو خلکو علم د کائناتو په باره کې په دي اندازه ؤو چه عقیده يې لرله چه آسمان په ستنو ولاړ دی او دا جګ جګ غرونه د آسمان ستني دي.نو ثابته شوه چه قرآن دالله تعالی پاک کلام دی. او په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل شویدی.و ما علینا الا البلغ المبین

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدّرس(۲۲)

# د قرآن ساینسی معجزي

# Scientific Miracles of the Quran

## لمر ساکن نه دی،کائنات په حرکت کي دي او لویږي

اول باید ووایو چه قرآنکریم د ساینس کتاب نه دی بلکه د آیاتونو او نښو کتاب دی.

په قرآن کې د زرو نه زیات آیاتونه د ساینس په باره کې دي.چه ددي جملی نه ۸۰فیصده ساینس ثبوت کړي چه ۱۰۰ فیصده صحیح دي. او د پاتي ۲۰ فیصدو په باره کې لکه جنت دوزخ او برزخ ساینس هیڅ نشي ویلای .ځکه چه ساینس لادومره نه دی رسیدلای چه ددي ۲۰ فیصدو په باره کې څه ووایې بلکه نورو تحقیقاتو ته ضرورت لري.

مونږ ته په مکتب کې د ساینس معلمانو ویلي ؤو چه:ځمکه ګرځي او لمر نه ګرځي ساکن او بي

حرکته دی.حال دا چه قرآن د سورت الانبیاء په ۳۳ آیات کې فرمایې چه:لمر پخپل مدار یا اوربیټ کې د خپل محور یا اکسیز په شاه او خوا ګرځي.... وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ (۳۳).او دغه الله هغه دی چه شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ یې پیدا کړي دي.ټول په خپل خپل مدار کې ګرځي.

په دي آیات مبارک کې یواځي لمر نه بلکه ټولو ستورو یا سټارز ،ټولو سیارو یا پلانټ او ټولو سپوږمیو ته اشاره ده .یعني ځمکه،سپوږمې،لمر او ټول ستوري او د هغوي مربوطه سیاري او سپوږمې ګانې هر یو پخپل خپل مدار کې ګرځي او په حرکت کې دي.

الحمدلله د شلمي پیړۍ په آخر کې ساینس هم ثبوت کړه چه لمر بي حرکته او ساکن نه دی بلکه د خپل محور یا اکسیز په خوا او شاه په ۲۷ ورځو کې یو وارځي.او د قرآن تصدیق یې وکړ.سوره یاسین په اته دیرشم آیات کې د لمر د یو بل حرکت په باره کې فرمایې .

وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ (۳۸)او لمر د خپل ټاکلي ځای خوا ته ځي.دغه

اندازه ده د ښه غالب قوي ښه دانا. الحمدلله

چه ساینس د لمر دا حرکت هم کشف کړو وایې چه لمر په ډیر زیات سرعت او سپیډ سره یعني اوه لکه او شلزره کېلومتره سرعت سره په یوه ساعت کې د ستار ویګاه خوا ته روان دی.اوالحمدلله ساینس بیا هم د قرآن د حقانِیَت تصدیق وکړ.همدارنګه قرآن د الذاریات د سورت په اوم آیات کې بل یو لوي حقیقت ته اشاره کوي فرمایې. وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡحُبُكِ .قسم دي په آسمان چه دلارو نه ډک دی.الحمدلله د ساینس علم هم اوس ثابته کړي چه څومره چه په ځمکه کې د شګو داني دي د دي نه په آسمان کې ستوري ډیر دي.او د هر ستوري،هري سیاري او هري سپوږمی دپاره خپل خپل مدارونه او لاري جوړی شوي دي.چه یو هم د خپل مدار او لاري څخه نه وتلای شي او نه بي لاري کېدلای شي.چه دا حقیقت قرآن د سورت یاسین په څلویښتم آیات کې داسي بیانوي .

لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ (٤٠).نه د لمر په وس کې دا شته چه سپوږمی ونیسي.او نه شپه په ورځې مخکې کېدلای شي.او دغه ټول په آسمان کې په خپلو خپلو مدارونو کې ګرځي.یعني نه یو ستوری

او نه یوه سیاره او نه یوه سپوږمۍ کولای شي چه د خپل اوربیټ یا مدار نه وځي او د بل ستوري یا سیارې یا سپوږمۍ مدار ته ورشي.همدارنګه قرآنکریم دالذاریات د سورت په ۴۷ آیات کې د یو بل لوي حقیقت په باره کې فرمايي .

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيْنَـٰهَا بِأَيْيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ .او آسمان (کائنات) مونږ پخپل قدرت سره جوړ کړي دي او یقیناً مونږ (د کائناتو )پراخونکي یو.یعني کائنات په دوامدار ډول لویږي.الحمدلله چه دا حقیقت هم په ۱۹۲۹ کې د یو امریکايي ساینسدان هبل پواسطه کشف شو.او د ماډرن ټیلیسکوپ په واسطه په سترګو ولیدل شو چه کائنات په ډیر زیات سرعت سره لویږي.ګلکسي او ستوري یو د بل نه لري کیږي.ددي لویدو سرعت یا سپیډ دومره زیات دی چه که چیرته ساینس دا خبره نه کوله شاید هیڅوک یې منلو ته تیار نه ؤو.ځکه چه کائنات د لایټ په سپیډ یعني دري لکه کیلو میټره په یو سیکنډ کې لویږي.فکر وکړئ سره د دي چه ستوري په خپلو مدارونو کې ګرزځي .د ګلکسي یا کهکشان د مرکز په خوا او شاه هم ګرځي.علاوه د دي نه د نور په سرعت یا د لایټ به سپیډ ټول ستوري او ګلکسي یو د بل نه لري کیږي .کله داسي هم کیږي

چه په همدي زيات سرعت سره يوه ګلکسي په بله ګلکسي ورشي خو دومره دقيق حساب او دقيقي لاري ورته جوړي شويدي چه پغير د ټکر او اکسيډنټ څخه يو د بل نه په خير او خيريت تيريږي.د ثواب دپاره غور او فكر وکړئ .دا څومره معلومات چه تاسو واوريدو دا قرآني معلومات ؤو.چه د شلمي پيړۍ پورې پخپله د ساينس علم په دي باره کې نه معلومات درلود او نه يې څه ويل يعني ساينس په دي باره کې بالکل چپ او خاموش ؤو.او د وخت ساينسدانانو او فيلسوفانو د انيشټين د زماني پورې چه څه ويل هغه ټول دقرآن ددي معلومات برعکس،سرچپه او خلاف ؤو.ځکه چه د شلمي پيړۍ نه مخکې او د شلمي پيړې د شروع پورې دوي ويل چه لمر او کائنات ساکن او بي حرکته دي.دلته لږ ښه متوجه شئ !ځما اعتراض په ساينسدانانو او فيلسوفانو دا نه دی چه د شلمي پيړۍ پورې ولي د دوي نظريات يا تيوري دحقيقت خلاف ؤو. بلکه ځما سوال دا دی چه د وسايلو او تيکنالوژي سره سره د ټولي دنيا ساينسدانان د شلمي پيړۍ پورې په دي نه پوهيدل چه لمرحرکت لري او کائنات لويږي. نو بيا ۱۴۰۰ کاله مخکې د ټيکنالوژي او وسايلو نه پغير

حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د کوم ځای نه دا معلومات په قرآنکریم کې ولیکه په داسي حال کې چه لیک او لوست یې هم نه ؤو کړې او نه په ټوله دنیا کې یو نفر موجود ؤو چه دا معلومات ورته ؤو.جواب دلمر پشان معلوم دی چه قرآنکریم د الله تعالی کلام او کتاب دی .چه د الله د وجود د ټولو نه لوي او غټ ثبوت همدا د الله کتاب دی.ځکه چه ۱۴۰۰ کاله مخکې د کائناتو په باره کې داسي معلومات ورکول په غیر د خالق او کریټر څخه د بل چا دپاره ناممکن او محال ؤو.خو که د دي سره بیا هم څوک انکار کوي نو دا خو بیا د عقل او کامن سینس څخه انکار دی ځکه د هیڅ یو سالم انسان عقل هم دا نه مني چه ۱۴۰۰ کاله پخوا دي د خالق نه په غیر بل څوک د کائناتو په باره کې داسي معلومات ورکړي.و ما علینا الا البلغ المبین

محمد عثمان نظامی

الدّرس(۲۳)

## آیا تېوپ وهونکي اوبه د ملا او د سینی د هډوکو د منځ نه راوزي؟

## Drop Emitted from between the Backbone and Rib

.

فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَـٰنُ مِمَّ خُلِقَ (٥) خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ (٦) يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ (٧) نو انسان دي دي ته ځير (وګوري) شي چه د څه شي نه پیدا شوی دی.د تېوپ وهونکو اوبو نه پیداشوي دی.چه د شاه او سیني د هډوکو د منځ نه راوځي.اکثره خلک خصوصاً منکرین په دي مبارکو آیاتونو اعتراض کوي او فکر کوي چه نعوذُباالله قرآن غلط دی.ځکه چه د نرانو او ښځو تناسلي سیستمونه خو د سیني او ملا په منځ کې نه دي.بلکه د ښځې تناسلي سیستم یعني تخمدان یا اوریز د رحم په بنې او چپه خوا کې موقیعت لري او د نارینه تناسلي سیستم یا ټیستېیس د خیټي نه دباندي د ورنونو په منځ کې موقیعت لري.نو بیا قرآن څنګه وايي چه تېوپ

وهونکې اوبه د سيني او ملا د منځ نه راوزي؟
الحمدلله قرآن ۱۰۰ فيصده رښتيا وايې حقيقت بالکل داسي نه دی کوم چه خلک فکر کوي.جواب دا دی چه: په ايمبريونيک سټيج کې يعني کله چه ماشوم د مور په رحم کې وي.د هلک او جلۍ د تناسلې اعضأوو يعني تخمدانونو او ټيسټيس جوړيدل، نمو او تکامل د پښتورګو سره نيزدي د ملا د تير يا سپينل کالم او د لسمي، يولسمي او دولسمي پښتۍ په منځ ايريا کې يا ځای کې شروع کيږي.او د ماشوم د زيږيدلو د وخت نه لږ مخکې لاندي خوا ته راښکته کيږي .د جلۍ تخمدانونه د رحم ښي او چپي خواته راښکته کيږي او همدلته ځای نيسي ،او د هلک تناسلي سيسټم يا ټيسټيس هم لاندي راښکته کيږي د ګيډي نه دباندي وځي او د دواړو ورنونو په منځ کې ځای نيسي.مګر د راښکته کيدو وروسته هم د تناسلي اعضاوو يعني د تخمدانونو او ټيسټيس د اعصابو او ويني سپلايې يا رسيده ګي د هماغي ځای نه کيږي د کوم ځای نه چه راښکته شوي دي .يعني د پښتيو يا د سيني د هډوکو او د ملا په منځ کې چه کوم ځای دی د همدي ځای نه د ژوند د آخره پورې اعصاب او وينه د تناسلی سيسټم اعضاوو يا تخمدانونو او ټيسټيس ته راځي

او ليمفاتيک ډريناژ او ناپاکه وريدي وينه بيرته همدي ځای ته ورځې.دا معلومات چه تناسلې سيستمونه د ملا او سيني د هډوکو تر منځ ناحې څخه منشأ نيسي(شروع کيږي،اوريجينيټيډ)د شلمې پيړۍ څخه مخکې هيڅ چا ته هم نه ؤو.کوم ته چه قرآنکريم ۱۴۰۰ کاله مخکې اشاره کړي ده،چه دا د دي ثبوت دي چه قرآنکريم د الله تعالی کلام دی.وما علينا الا البلغ المبين .ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۲۴)

## آيا په قرآنکريم کې ذکر دي چه ځمکه ګرده ده؟

### آيا انسان د ځمکي د اتموسفير څخه وتلای شي او فضأ يا سپيس ته داخليدلای شي؟

قرآنکريم په سورت الرحمن کي فرمايي!

يَـٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَـٰنٍ (۳۳)

ای د پيريانو او انسانانو ډلی که چيرته تاسو قدرت لری چه د آسمانونو او ځمکي د سرحدونو نه بهر وځئ،نو ووځئ،و به نه وځئ تاسو ،مګر په قوت او زور سره .په دي مبارک آيت کي ډيرو مهمو ساينسي حقيقتونو ته اشاره شويده په کومو چه ۱۴۰۰ کاله مخکي د انسان د پاره پوهيدل نا ممکن

ؤو،په آیت کې د ځمکې او آسمانونو دپاره د اقطار لفظ استعمال شویدی،اقطار د قطر جمع ده ،ستاسو به د مکتب د وخت نه په یاد وي چه په ریاضی کې قطر یا ډیامیټر د دایروي یا ګرد شي دپاره استعمالیږي،مثلاً د بال قطر هغه مستقیم خط دی چه د بال د یوې سطحی نه د بلې سطحی پورې دوام لري او د بال د مرکز نه تیریږي او نیمایې ته یې شعاع یا راډیشن وایې . نو په دې آیت کې د ځمکې او ټولو کائناتو دپاره قطر استعمال شوي دی یعني ځمکه ګرده ده او ټول کائنات هم ګرد دي او ځوک چه دا وایې چه په قرآن کې نشته چه ځمکه ګرده ده نو دا هغه آیت دی چه د ریاضی په ژبه پکې ذکر شوي چه ځمکه ګرده ده. البته د آسمانونو په باره کې باید ووایو چه ساینس لا تر اوسه پورې د اول آسمان په باره کې مکمل معلومات نلري نو د باقي آسمانونو په باره کې به څه ووایې ،خو د ځمکې شکل ساینس معلوم کړي چه ګرد دی ،دویم دا چه انسان د قوي تیکنالوژي د کمک نه په غیر نشي کولای چه د ځمکې د سرحدونو یعني د ځمکې د ګرایویټی او اټموسفیر نه دباندي سپیس یا فضأ ته لاړ شي،ځکه چه د ځمکې د اټموسفیر نه وتل او سفیس یا فضأ ته دا خیلیدل دومره آسانه او ساده

خبره نه ده ،او انسان په عادي وسايلو سره نشي کولای چه د اتموسفير څخه ووځي.بلکه ډيرو قوي راکټونو او سپيس کرپټز ته ضرورت لري چه د ځمکې د حدودو،ګرايويټي او اتموسفير نه انسان وځي او سپيس ته داخل شي،او بيا هلته په سپيس يا فضأ کې انسان خاص او سپيشل لباسونو ته ضرورت لري چه شايد ميلونونه ميلونونه ډالر قيمت ولري ،ځکه چه د ځمکې د اتموسفير نه دباندي سپيس کې ډير خطرناک سولر بادونه ،راډيو اکټيو، شعاګاني،اونور خطرناک سوځونکې او وژونکې آسماني افتونه او شعاګاني موجود دي،چه په سيکنډونو کې ژوند د منځه وړي،او که څوک په غير د قوت يا سپيشل سپيس کرفټ او سپيشل لباس د اغوستلونه په غير سپيس يا فضأ ته داخل شي قرآن فرمايې ! يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ (٣٥)

نو په تاسو به د اور شغلي او لوګي خوشي کړای شي،چه د هغو مقابله به ونه کړای شئ.يعني د قوي تيکنالوژي د استعمال او کمک نه په غير انسان د سپيس او آسماني آفتونو مقابله نشي کولای،يو خو د ساينسدانانو خبري دي چه:د سپوږمۍ او مريخ نه يې د ځمکې يو بل براعظم جوړ کړئ دی مګر

حقيقت بل شی دی ،حقيقت دا دی چه د ځمکې نه پرته بله يوه سياره يا پلانټ هم اټموسفير نلري ،چه د اټموسفير څخه پرته ژوند ناممکن دی ځکه چه د سپيس وژونکې يخني ،ګرمي او خطرناکې وژونکې شعاګاني يا راډيشن مستقيماً د نورو سيارو يا پلانيټز په سطحو لږيږي او د سپيشل يا مخصوص لباس د استعمالولو نه پرته ژوند ختموي.نو ۱۴۰۰ کاله مخکې د داسي معلومات ورکول په کوم چه ساينس اوس پوه شو د انسان د وسی کار نه ؤو نو ثابته شوه چه قرآنکريم د الله تعالی کلام دی.و ما علينا الاالبلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

ا الدرس(۲۵)

# د ځمکی نوم یا ناف زمین

# Navel of the Earth

آیا پوهیږئ چه د ځمکې نوم یا ناف زمین څه شی دی؟ کعبه یا بیت الله یا د الله کور ناف زمین دی.دا خبره د اول ځل دپاره په وید کې داسي راغلي ده چه :د ځمکې نوم یا ناف زمین د الله تعالی کور یا بیت الله دی.دا تصور په مونږ مسلمانانو کې هم شته چه کعبه د ځمکې نوم یا ناف زمین دی ،نو که چا ته په دي باره کې کوم حدیث شریف معلوم وي د ثواب دپاره یې راته په کمینټ کې ولیکئ الله دي اجر درکړي.

اوس د دي خبري چه کعبه ناف زمین دی ساینټیفیک یا ساینسي تحقیق یې وګورئ،په طبیعت یا نیچر کې یو تناسب موجود دی چه ګولډن ریشو یا طلایې نسبت ورته وایي دا نسبت ۱،۶۱۸دی.په مثالونو کې به ان شأالله ډیر آسانه پوه شئ مثلاً که تاسو خپل جګوالی یا قد یا هایټ یعني د سر نه د پښو پورې فاصله ښه په دقت اندازه کړئ او ورته

الف ووایی،او د نوم نه د ښنو پورې فاصله هم ښه په دقت اندازه کړئ او ورته -ب-ووایی اوس که د سر نه د ښنو پورې فاصله یا الف د نووم نه دپښنو پورې فاصلی یا ب باندي تقسیم شي نو جواب یې ۱،۶۱۸ یا طلایې نسبت یا ګولډن ریشو راځي .

او همدارنګه که د نوم نه تر ښنو پورې فاصله یا ب د سر نه د نوم پورې فاصلی یا ج باندي تقسیم شي بیا یې هم جواب ۱،۶۱۸ یا طلایې نسبت راځي.دا طلایې نسبت یا ګولډن ریشو په طبیعت یا نیچر کې په ډیرو شیانو کې شته دی .

ولي په مصر کې په پَیرامیدز اف جیزا یا اهرام مصر کې د زرونو کلونو د تیریدلو سره سره بیا هم مَمی محفوظ دي او خراب شوي نه دي د تعجب خبره ده ،دا ځکه چه دا پیرامیډ په ګولډن ریشو یا طلایې نسبت سره جوړ شوی دی ، د دي جوړښت په وجه په کې عجیب او غریب تاثیرات پیدا کیږي. د دي پیرامیډ ارتفاع یا جګوالی یې ۴۶۷ فټه او د یو سایډ اوږدوالی یې ۷۵۶ فټه دي .اوس که اوږدوالی په جګوالي تقسیم کړئ جواب یې ګولډن ریشو یا طلایې نسبت راځي —

۱،۶۱۸=۷۵۶٪۴۶۷

جواب =۱،۶۱۸ ګولډن ریشو یا طلایې نسبت،اوحېرانونکې صفتونه پکې پیدا کیږي.اوس په دنیا کې ډیر خلک دا تجربې کوي او په همدي تناسب سره يې ځایونه جوړ کړي دي.تجربو ښودلې ده چه:

په داسي ځای کې که دوا کېښودل شي تاثیر يې زیاتیږي،اکثره مریضان په کې ښه شویدي،حتی د کوما مریض پکې ښه شویدی ،که د ګرمۍ په موسم کې پکې غذایې مواد کېښودل شي نه خرابیږي،د حجراتو د تخریبیدو عمل پکې د ډیره حده پورې کمیږي یعني که په همدي تناسب سره ښه په دقت سره ځای جوړ شوي وي،انرجې د اټموسفیر نه په یوه حیرانوونکې او خاصه طریقه ورداخلیږي او دا انرجې عجیب او غریب کار کوي خو شرط دا دی چه ګولډن ریشو یا د طلایې نسبت په تناسب جوړ وي. اوس راځو کعبي شریفی ته.

دځمکې د کُري د شمالی قطب یا نارت پول نه د جنوبي قطب یا سوت پول پورې فاصله ۲۰۰۲۰ کېلو متره ده چه د انسان د سر نه د پښو پورې فاصلی سره شباهت لري،-الف- ورته وایو،او د

کعبي نه د جنوبي قطب یا سوت پول پورې فاصله ۱۲۳۷۵ کېلو متره ده چه په انسان کې د نوم یا ناف نه د پښوو پورې فاصلي سره مشابه ده-ب- ورته وایو،او د شمالی قطب یا نارت پول نه د کعبي پورې فاصله۷۶۴۵ کېلومتره چه په انسان کې د سر نه د نووم یا ناف پورې فاصلی سره مشابه ده -ج-ورته وایو،اوس که د شمالی قطب نه د جنوبي قطب پورې فاصله یا -الف- د نوم یا کعبي نه د جنوبي قطب پورې فاصلی یا -ب-باندي تقسیم کړو نوجواب یې ګولډن ریشو یا طلایې نسبت راځي.

۱۲۳۷۵٪۲۰۰۲۰=۱،۶۱۸-ګولډن ریشو

همدارنګه که د کعبي شریفی نه د جنوبي قطب پورې فاصله یا -ب- د شمالی قطب نه د کعبي شریفی پورې فاصلی یا -ج- باندي تقسیم کړو نو جواب یې طلایې نسبت یا ګولډن ریشو پاینټ راځي.

ج٪ب=۱۲۳۷۵٪۷۶۴۵=۱،۶۱۸ طلایې نسبت یا ګولډن ریشو پاینټ

۷۶۴۵٪۱۲۳۷۵=۱،۶۱۸-ګولډن یا طلایې نسبت

یعني کعبه شریفه د ځمکې په طلایې نسبت یا ګولډن ریشو پاینټ باندي واقع ده لکه څنګه چه د انسان نوم دی ،د بخاري شریف حدیث دی کله چه په حجر اسود جګړه وه او خلکو کعبه شریفه جوړوله ځکه چه د سیلابونو پواسطه یو څه خرابه شوي وه ،خو خلک ډیر ویریدل ځکه چه د دي نه مخکې د ابرهه لښکر او فیلان چه د کعبي د ورانولو دپاره راغلي ؤو الله تعالی ټول هلاک کړل نو دوي هم ډیر ویریدل او د بنیادونو د کېندلو په وخت کې به یې هره تیږه په ډیره ویره او احتیاط سره لري کوله خو یوه تیږه ډیره کلکه شوه د هیڅچا زور پري نه رسیدو چه راویې باسی آخر یو پهلوان راغی او نور کسان یې هم ځان سره کړل ،او د اوسپني جبل یې د تیږي لاندي کړو او ټولو زور وکړو،کله چه ټولو زور وکړو تیږه وخوځېده خو سم د تیږي خوځېدل ؤو او د زلزلی شروع کېدل ؤو او داسي زلزله شوه چه خلک دومره وویریدل چه تیږه یې نوره پریښوده او بنیاد یا تهداب یې نور ژور نکړو او د همدي ځای نه پاس یې کار شروع کړو چون پخوا د زلزلی د مرکز د معلومولو تیکنالوجی نه وه نو کېدای شي چه دا زلزله په ټوله دنیا کې شوي وي ځکه چه د ځمکې نووم یا ناف زمین خوځېدلی

ؤو خو په نورو ملکو لکه افغانستان،چین،جاپان،اینډیا او نورو کې شاید چا دا احساس نه وي کړئ چه د دي زلزلی سبب د ناف زمین یا د کعبي د بنیاد د تیرې خوځېدل دي والله اعلم نو د ځمکې نووم یا ناف زمین صرف کعبه یا بیت الله شریف دی.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدّرس( ۲۶)

## قرآنکریم او ساینس

## د اهرام مصر یا پیرامیډ د جوړیدلو تخنیک

## Pharaoh’s Architectural Technique

د مصر اهرامونه د دنیا د ۷ عجایباتو ( میسټریز) د جملي څخه دي ټوله دنیا حیرانه وه چه دا دومره غټي غټي تیږي دومره جګي او لوړي څنګه وړل شویدي ځکه چه هره تیږه ټنونه ټنونه وزن لري او بیا دومره زیاتي تیږي چه یواځي په پیرامید اف ګیزا یا د ګیزا په اهرام کې ۲۳ لکه تیږي استعمال شویدي او ارتفاع یا جګوالی یې ۴۶۷ فوټه او د یو سایډ اوږدوالی یې ۷۵۶ فوټه دی او په هغی زمانه کې یا ۵۰۰۰ کلونه مخکې خو دا اوسنۍ ټیکنالجی هم نه وه نو بیا دا په سلګونو ټنونه تیږي څنګه دومره جګي وړل شویدي په دي باره کې ډیر نظریات او تیوریز موجود دي مثلاً ځني وایې

چه دا اهرامونه د ایلین یا آسماني مخلوق او یا د پیریانو پواسطه جوړ شویدي او ځني وایې چه یو لک کسانو او څوک وایې چه دیرش زره کسانو پري ۲۰ یا ۳۰ کلونه کار کړې دی چه دا ټول هسی غیري علمي افسانې او قصی دي چه کوم ساینټیفیک بنیاد او سپورټ نلري.خو بالآخره په دي وروستیو وختونو کې ساینسي تحقیقاتو او ریسرچ معلومه او ثبوت کړه چه دا تیږي نیچرل یا طبعي تیږي نه دي بلکه په سانچو او قالبو کې جوړي شویدي(قالبونه د لرګیو نه جوړ شویدي ،خټه پکې اچول کیږي او بلاکونه یا خښتې جوړوي ،مَوډ یا ګسټ ورته هم وایې ) ،یعني دا تیږي هلته وړل شوي نه دي بلکه په قالبونو او سانچو کې چیرته چه دي هغلته جوړی شوي دي ،ساینسي تحقیقاتو او تجربو معلومه کړه چه د مصر د فرعونیانو په وخت کې (فرعون پادشاه ته وایې) دا تخنیک موجود ؤو چه :د چوني یا لایم اوبو او خټی ته به یې په یو خاص تخنیک سره په قالبونو او سانچو کې حرارت ورکولو یعني اور به یې وربانديي بلولو او د نوموړو خټو نه به تیږي جوړیدلې او څومره به چه وخت تیردلو د تیږو مقاومت به زیاتیدو. ساینسدانانو چیرته چه

اهرامونه دي ،د هغی ځای ختېه او چونه یا لایم یې سره یو ځای کړل او تجربي یې پري وکړي او ثبوت یې کړه چه دا تیږي په قالبونو کې چیرته چه دي هلته جوړی شویدي،نو ځکه خو ټولي تیږي یو سایز دي او داسي جوختی یوه د بلي په ځنګ کې لږیدلي دي چه یو ویښته یې هم په منځ کې نه ځایږي او نه یې د منځ نه تیریدلای شي او په داسي مستقیم خط لږیدلي دي چه ډیر معمولي کوږوالی هم په کې نشته، نو د دي نه په واضح ډول معلومه شوه چه د فرعونیانو په زمانه کې دا تخنیک موجود ؤو چه کله به یې دنګی او جګی ودانۍ یا عمارتونه جوړول په یو خاص تخنیک سره به یې د چوني اوبه او ختېی سره یو ځای کولي او په قالبونو یا سانچو کې به یې په دي لمدو ختېو اور بلولو او په دي ترتیب به یې جګ جګ عمارتونه او بیلډینګونه جوړول .دغه ریسرچ او تحقیقات مسلمانانو نه دي کړي بلکه کفارو کړی دی یعني دا ریسرچ او تحقیق چه چا کړیدی هغوي نه د قرآن نه خبر ؤو اونه ورته دا معلومه وه چه قرآنکریم په دي باره کې څه معلومات ورکړی دی تاسو کولای شئ چه په ګوګل کې یې پخپله وګورئ ،اوس په دي باره کې د قرآنکریم معلومات ته ښه په غور سره متوجه

شئ د القصص د سورت په ۳۸ آیت کې فرمايي!
وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَلْ لِي صَرْحًا لَعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَى إِلَهِ مُوسَى وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ (۳۸)

او فرعون وويلي ,اي د دربار خلکو!زه خو د خپل ځان څخه پرته ستاسي کوم بل خدای نه پيژنم.نو اور بل کړه ځما دپاره ای هامانه ! په خټو باندي او ځما دپاره يوه دنګه ودانۍ جوړه کړه ،ښايي په هغې باندي په ختلو سره زه د موسی خدای وليدلای شم.

د دي آيت شريف نه په واضح ډول معلوميږي چه فرعونيانو به د لوړو ودانيو او عمارتونو د جوړولو دپاره په خټه اور بلولو او په دي ډول باندي به يې لوړ او جګ عمارتونه جوړول ، دا چه دا خټه ښنګه او دڅه شي نه جوړيدله ،او ښنګه پکې دومره زيات مقاومت پيداکېدلو چه ۱۴۷ متره جګ او لوړ عمارتونه او بيلډينګونه به تري جوړيدل ، دا راز ساينس اوس کشف يا ډيسکور کړو،په دي تيرو باندي د تجربو او تحقيقاتو نه معلومه شوه چه دکومو خټو نه چه دا تيري جوړي شويدي په هغي

کې د چوني يا لايم اوبه ګډې يا ميکس شويدي او په قالبونو يا سانچو کې پرې اور بل شويدی.

فکر وکړئ هغه خبره چه ساينس يې اوس کوي قرآنکريم ۱۴۰۰ کلونه مخکې کړيده دا د دې ثبوت دې چه قرآنکريم د الله تعالی کتاب دی او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم بيشکه د الله تعالی رسول دی.

د ورونو نه هيله کوم چه دا ويډيو د ثواب په نيت نورو ته هم وليږې ،ځکه چه د دې حقيقت نه چه د مصر د اهرامونو يا پيراميدز د جوړيدلو تخنيک په قرآنکريم کې شته دی ډير کم خلک ترې نه خبردي.

و ما علينا الاالبلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۲۷)

# د قرآنکریم معجزه

## تیاره اوبه

## Dark Water

رڼا یا لایټ د ۷ رنګونو نه جوړ شوی دی کله چه د ژورو بحرونو په مخ رڼا ///////////////////////

ولږیږي اوبو ته ننوځي او اوبه رڼا کوي خو هر څومره چه ښکته ځې یو یو رنګ یې جذبیږي او یو څه تیاره کیږي مثلاً د ۱۵-۱۰ مترو کې سور رنګ جذبیږي نو که ۲۵ متره ښکته په اوبو کې څوک زخمی شي نو د وینې سور رنګ نشي لیدلای ځکه چه سور رنګ هلته نشته په همدې ترتیب هر څومره چه رڼا ښکته ځې یو یو رنګ یې یو د بل پسی جذبیږي او بالآخره ټوله رڼا جذبیږي او په همدي ترتیب تیاره هم وارپه وار زیاتیږي چه د ۱۰۰۰ مترو نه ښکته مکمله یا کمپلیټ تیاره کیږي دومره تیاره چه سترګه په سترګه نه ښکاري که څوک خپل لاس مخی ته ونیسي لیدلای یې نشي همدارنګه د ژورو بحرونو په دي طبقه کې یعني د

تيارو اوبو غلظت يا ډينسيټي د دي دپاسه د رڼا اوبو په نسبت ډيره زياته ده يعني ژور بحرونه دوه برخي لري سطحی يا رڼا برخه او ژوره يا تياره برخه چه دا دواړه برخي د داخلي يا اينټرنل ويوز يا څپو پواسطه بيلی شوي دي يا په بل عبارت د ژورو بحرونو د تيارو برخو يا تيارو اوبو دپاسه داخلي څپی دي چه تياره نوره هم زياتوي او دا تياره دومره زياته ده چه حتّٰى ماهيان هم پکښ څه شي نشي ليدلای او همهغه مخلوق يا کريچر هلته ليدل کولای شي چه خپله رڼا ولري.

اوس د ژورو بحرو په باره کښ د قرآن معلومات ګورو د سورت النور ۴۰ آياة وګورئ فرمايي أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ سَحَابٌ ۚ ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا ۗ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِن نُّورٍ – ترجمه:يا(د کافرانو اعمال)په يو ژور بحر کښ د تيارو په شان دي چه د پاسه يې څپی يا ويوز خوري شوي وي، دهغی دپاسه نوري څپی وي، دهغی دپاسه وريځ وي،تياري يو د بل دپاسه مسلط وي، کله چه (په دغو تيارو کښ پريوتی)انسان خپل لاس راوباسي ،نو هغه به هم ونه شي ليدلای.او چاته چه الله رڼا ونه بښی،نو د هغه دپاره هيڅ رڼا

نشته.ساینس د قرآن دا معلومات چه په ژورو بحرونو کې تیاره وي تصدیق او تائیدوي ،او وایې چه :کله چه رڼا په بحر کې ښکته ځې طبقه په طبقه یې یو یو رنګ جذبیږي بالآخره ټول جذبیږي او د ۱۰۰۰ مترو نه ښکته مکمله تیاره کیږي او د بحر دي برخي ته تیاره اوبه یا ډارک واټر وایې،قرآن فرمایې چه ددي تیارو یعني تیارو اوبو دپاسه څپې یا ویوز موجود دي،ساینس هم ددي تصدیق کوي او وایې چه د تیارو اوبو دپاسه داخلي څپې یا اینټرنل ویوز موجود دي چه تیاره او رڼا اوبه سره بیلوي ، قرآن فرمایې چه ددي څپو دپاسه نوري څپې دي،ساینس هم ددي تصدیق کوي اووایې چه : دتیارو اوبو دپاسه دا خلی څپي دي او د رڼا اوبو دپاسه خارجی څپې دي کومي چه مونږ په سترګو وینو ،قرآن فرمایې تیاري یو د بل دپاسه مسلط وې،ساینس وایې چه :کله چه: وریځ د بحر دپاسه موجود وي نو د لمر ټوله رڼا د بحر په سطحه نه لږیږي بلکه یو څه رڼا د وریځ پواسطه جذبیږي او د وریځې لاندي دتیاري اوله طبقه جوړیږي،او کله چه پاتي رڼا د بحر په سطحه ولږیږي نو د سطحي یا خارجي څپو پواسطه انعکاس یا ریفلیکشن کوي او یو څه اندازه رڼا نوره هم کمیږي

او د څپو لاندي د تياري يوه بله طبقه جوړيږي په همدي ترتيب څومره چه رڼا ښکته ځي د رڼا يو يو رنګ جذبيږي او د تيارو طبقات جوړيږي بالآخره د داخلي څپو لاندي چه د تياري کومه طبقه ده دهغي تياره دومره زياته ده چه حتی د رڼا اوبو ماهيان هم يکي څه نه ګوري او سترګه په سترګه نه ښکاري او يوائځي هماغه مخلوق په دي تياره اوبو کې ليدل کولای شي کوم چه خپله رڼا ولري.قرآنکريم ددي تياري د شدت په باره کې فرمايي چه په دي تيارو کې پريوتی انسان که خپل لاس راوباسي نو هغه به هم و نشي ليدلای ،او چاته چه الله رڼا ونه ښښی ، نو د هغه دپاره رڼا نشته . رښتيا ووايئ تعصب اويو طرفه قضاوت به نه کوئ چه د يويشتمی او شلمي پيړی نه مخکې يو انسان ته هم د ژورو بحرونو په باره کې دا معلومات ؤو او که نه ؤو ولي نه ؤو؟جواب دادي چه انسان ته دا معلومات نه ؤو ځکه چه انسان نشي کولای چه د شلمي پيړی د ټيکنالوژي د کمک نه په غير د ۳۰ ميترو نه ښکته په اوبو کې لاړ شي او د ۲۰۰ ميترو نه ښکته انسان ژوندی نشي پاتي کېدلی نو بيا انسان څنګه کولای شو چه د شلمي پيړی د تيکنالوژي د کمک نه په غير دي ۱۰۰۰ ميتره ښکته په اوبو کې لاړ شي او

هلته دي وګوري چه تپه تياره ده يواځي هغه مخلوق هلته اوسيږي کوم چه د خپل ځانه رڼا کوي يعني وجود يې خپله رڼا لري او بيا دي دا معلومه کړي چه ددي تيارو اوبو دپاسه داخلي امواج يا څپي موجود دي لکه څنګه چه د رڼا اوبو د پاسه د بحر په سطحه خارجی امواج يا څپي موجود دي .نو که د يو انسان دپاره صرف څو سوه کلونه مخکې ددي قسم معلومات ورکول ناممکن ؤو نو بيا يو ډير لوي سوال دا پيدا کيږي چه ۱۴۰۰ کلونه مخکې حضرت محمَّد صلی ا لله عليه وسلم همدا معلومات په پوره تفصيل او ډيټايل سره د کوم ځای او کومي منبع نه په قرآنکريم کې ليکلی دی ؟جواب دا دی چه قرآنکريم دالله پاک کلام او خبري دي،او دا معلومات الله تعالی د وحې پواسطه پيغمبر ع ته ورکړې ؤو. و ما علينا الا البلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

ا الدرس(٢٨)

# د حقيقت په لټه کې.(د انسان سترګه دالله تعالی آیت او نشاني ده)

زما په لاس کې یوه 15 میګاه فیکسل کمره ده،که چیرته تاسو زماڅخه پوښتنه وکړئ چه دا کمره چا جوړه کړي ده؟او زه جواب درکړم چه هیچا نه ده جوړه کړي،بلکه پخپله پرته د کوم انجینر څخه جوړه شوي ده.

مګر تاسو زما خبره نه منئ،ځکه چه تاسو پوهیږئ چه یوه کمره پخپله نشي جوړیدلای..

او که زه په خپله خبره ډیر ټینګ شم نو تاسو شاید چه په ما د لیوني ګمان وکړئ ..

او په دنیا کې تر اوسه پورې د 120 میګاه فیکسل څخه زیاته کمره نه ده جوړه شوي.ستاسو په موبایلونو کې 10یا 15 میګاه فیکسل کمري دي.

مګر تاسو پوهیږئ چه زمونږ په هره یوه سترګه کې 585 میګاه فیکسل کمره لږیدلې ده..

اوس سوال دا دی چه: که ملحدین د 15 میګاه فیکسل کمري جوړیدل نه مني چه پخپله دي پرته د انجینر نه جوړه شوي وي.

نو بیا هغوي دا ولي مني چه په سترګو کې 585 میګاه فیکسل کمري پخپله جوړیږي؟نو ثابته خبره ده چه سترګه پخپله نه ده جوړه شوي او خالق جوړه کړیده چه الله تعالی دي.او د ټولو کائناتو پیداکونکی او رب العلمین دی.

و ما علینا الا البلغ المبین.ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(٢٩)

# زړه هم دماغ یا برین لرې

# The little brain of the heart

په قرآنکریم کې د عقل او فکر دپاره صرف د زړه ذکر شوي دی او د دماغ یا برین ذکر په قرآن کې نشته.خو ساینسدانان وایې چه عقل په دماغ یا برین کې دی ،او زړه یو پمپ دی چه ټول وجود ته وینه رسوي.نو په دي موضوع اول د قرآن په رڼا کې او وروسته د انسان د فطرت او ساینس په رڼا کې خبري کوو.که غواړې چه په موضوع ښه پوه شئ نو دا تقریر باید د آخره پورې واورئ.

سورت الحج ۴۶ نمبر آیت أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ (٤٦)

آیا دوي په ځمکه کې ګرځیدلي راګرځیدلي نه دي چه زړونه یې پوهیدونکې او غوږونه یې اوریدونکې شوي وای؟حقیقت دا دي چه سترګې نه

ړنديږي،خو هغه زړونه ړنديږي چه په سينو کې دي.يعني زړه چه ړوند شي که انسان په سترګو واضح دلايل ګوري بيا يې هم نه قبلوي د بني اسرائيل سورت آيت٣٦. وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَـٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا (٣٦) او هغه څه مه تعقيبوه چه تاته د هغه علم نه وي بيشکه غوږونه،سترګې او زړه هر يو د دوي نه پوښتل کېدونکې دي.سورت الاعراف ايت ١٧٩ ! وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ لَهُمۡ قُلُوبٞ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ أُوْلَـٰٓئِكَ كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ (١٧٩)او بيشکه چه زياتره پيريان او انسانان مو د دوزخ دپاره پيداکړيدي د هغوي زړونه شته،خو فکر ورباندي نه کوي.دهغوي سترګې شته ،خو څه پري نه ويني د هغوي غوږونه شته خو څه پري نه اوري.هغوي د خارويو پشان دي،بلکه د هغو نه لا پسې زيات،دا هغه خلک دي چه په غفلت کې لويدلې دي.يعني نه د حق په باره کې فکر کوي، نه حق ويني ،او نه حق اوري.ظاهره ده چه اکثره خلک خصوصاً ساينسدانان دا اعتراض کوي چه ميډيکل ساينس وايې چه عقل په دماغ کې دي او

دماغ سوچ او فکر کوي نو قرآن ځنګه د دماغ یا برین په ځای د زړه ذکر کوي یا زړه یاده وي. دا حقیقت دی چه په قرآن کې د دماغ یا برین ذکر نشته . او د عقل او فکر دپاره همدا زړه ذکر شویدی کوم چه زمونږ په سینو کې دی وَلَـٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ (٤٦) خو هغه زړونه ړندیږي چه په سینو کې دي.

علماوو دوي ته جوابونه ورکړي او ورکوي یې.چه فعلاً یې د ذکرکولو نه تیریږو.او ان شاألله کوشش کوو چه د ساینس د علم په کمک سره دوي ته جواب ووایو.ځکه چه قرآن د الله کلام دي او کائنات د الله فعل دي او د کائناتو مطالعه او پیژندل ساینس دي.او د الله په کلام او فعل کې فرق او اختلاف نشته .

اول!

هر انسان په فطري ډول پو هیږي چه د ډیرو شیانو نسبت زړه ته کوي هغه که په ښار کې اوسیږي او که په ځنګل کې ،که بي سواده وي او که ډیر لوي ساینسدان.مثلاً هرخوک وایې چه نن می زړه وریجو ته کیږي،هیڅوک نه وایې چه نن می دماغ یا برین وریجو ته کیږي یا وریجی غواړي.هر

ځوک وایې چه زړه مې خوشاله دی او د خوشالی احساس او عکس العمل هم په زړه کې کیږي،مثلاً د زړه درځیدل یا ضربان زیاتیږي.مګر هیځوک نه وایې چه دماغ یا سر مې خوشاله دي او نه په دماغ کې کوم اضافی ضربان او درځیدل پیداکیږي.هر ځوک وایې چه زړه مي خفه دی ،زړه مې غمجن دی، زړه مې ویریږي او دا حقیقت دی چه ددي احساس او عکس العمل هم په زړه کې کیږي.مثلاً د ویري یا خوشالی په وخت کې د زړه ضربان زیاتیږي او که خوشالی یا ویره ډیره زیاته شي زړه سکته کوي.مګر هیځوک نه وایې چه دماغ مي خفه دی،دماغ مي غمجن دی،دماغ مې ویریږي.هر ځوک وایې چه زړه مي تنګ دی ،هیځوک نه وایې چه دماغ مې تنګ دی. کله چه ځوک خپل شخصیت او ځان ته اشاره کوي په سر لاس نه ږدي او نه یې په خیټه ږدي بلکه د زړه د پاسه په سینه لاس ږدي او داسي نور..........دقرآن او احادیثو نه په ډیر واضح او ښکاره ډول معلومیږي چه په زړه کې خامخا کوم شی شته دی،چه په زړه کې د هغې شي د موجودیت په اساس د ذکر شوو شیانو نسبت زړه ته کیږي.خو متاسفانه چه د میډیکل ساینس په فیلډ کې مونږ مسلمانان ریسرچرز یا محقیقین نلرو ،چه

د دي شي په باره کې ریسرچ وکړي ،ځکه چه اکثره مسمانان صرف ددي دپاره میډیکل ته ځې چه ډیر ښه ډاکټر تري جوړ شي اعلی ډیګري ،ښه کلینیک،او ډیر مریضان ولري او ډیري پیسی وګټی دا د اکثرو مسلمانانو ډاکټرانو آخرنی هدف او ټارګیټ دی.نو په دي وجه د میډیکل ساینس په فیلډ کې چه څومره ریسرچرز دي ټول کفار دي.نو د میډیکل ساینس په فیلډ کې چه څومره ډیسکوریز او کشفیات کیږي کفار یې کوي.سره ددي چه قرآن ښکاره او په واضح ډول د عقل او فکر دپاره صرف د زړه ذکر کوي.خو د میډیکل ساینس په فیلډ کې چه کوم ساینسدانان کار کوي د قرآن نه د ناخبریدو په وجه دي ته توجه نه کوي چه په دي باره کې صحیح ریسرچ وکړي .

دویم!کله چه هارټ ټرانسپلنټیشن یا د زړونو پیوندول شروع شو.نو هغه خلک چه د بل چا زړونه ورته پیوند شوي ؤو،او جوړ شوي ؤو ،هر یو دا فکر او احساس کولو چه شخصیت یې تغیر کړیدی،او مخکښني خویونه او عادتونه یې بدل شوي دي.په اولو وختو کې خو ډاکټرانو ورسره نه منله خو کله چه ددوي شکایتونه ډیر زیات شو،نو

د ډاکټرانو توجه یې هم جلب کړه بالآخره هغه خلک چه زړونه یې بدل شوي ؤو،

یو ځای ته یې راټول کړل ،کله چه خلکو په خپلو منځونو کې خبري وکړي ،ټولو ته یو قسم تکلیف پیداشوي ؤو،د ټولو شخصیتونه بدل شوي ؤو،د ټولو عادتونه او خویونه بدل شوي ؤو،فرضاً که څوک د اپریشن نه مخکې ډیر آرام او احتیاط کار ؤو خو د اپریشن نه وروسته بې احتیاطه شوي ؤو،که څوک مخکې ډیر غصه ناک ،بدخلقه او جګړه مار ؤو،خو داپریشن نه وروسته ډیر ښه او نیک انسانان تري جوړ شوي ؤو.

دریم-ځما خپله شخصي تجربه ده چه د یو دوست کور ته ورغلی وم،د دوست سره می مسجد ته لاړم هلته د یو سپین ږیري سړی سره مخ شوم چه زما د دوست نیزدي ملګری ؤو ،عمر یې د ۶۰ یا ۶۵ څخه زیات معلومیدو،خو کله چه سپین ږیري زمونږ سره خبري کولي سره د دي چه د ږیري او سر ویښتان یې سپین او د بدن اندامونه یې زاړه معلومیدل، مګر د سړی خبري ،خوي او عادتونه بالکل د یو ځوان هلک غوندي ؤو،چه زما دپاره ډیره حیرانونکې وه،کله می چه د دوست نه پوښتنه

وکړه چه دا سپین ږیری ولې د ځوانانو پشان خبري او عادتونه کوي؟دوست راته وویل چه دا خو ډیر آرام ،قرار او چپ انسان ؤو ،خو د زړه تکلیف ورته ؤو او په هسپتال کې یې ورته د یو ځوان هلک زړه پیوند کړي دی ،او د کوم وخت څخه یې چه زړه بدل شوي دی، د ده ټول خویونه او عادتونه هم ټول د ځوانانو پشان شوي دي او داسي نور........یعني مطلب دا چه د هر چا په شخصیت ،خویونو او عادتونو کې فرق راغلی ؤو.ددي تجربي نه سایسدانانو دا تیوري یا نظریه ورکړه چه:د انسان په زړه کې میموري سیلز موجود دي .کله چه بل چاته پیوند شي نو ددي میموري سیلز د اینفارمیشن یا معلومات ورکولو پواسطه نوي وجود ته د هغه شخصیت او عادتونه بدلیږي .

څلورم! نوي ډیسکوري یا کشف وایې چه زړه خپل دماغ لري.ډاکټر جَې اورمر ایم ډي پي ایچ ډي نیورو کارډیولوجیسټ سینټر اف ریسرچ یونیورسیټي اف مَونټریل کاناډا دوي وایې چه زمونږ ریسرچ او تحقیقاتو ثابته کړي چه زړه خپل دماغ یا برین لري،یعني په زړه کې هم د دماغ پشان نیورون سیلز موجود دي چه په غیر د دماغ یا برین

د کمک نه هم کار کولای شي ، زړه خپل ایلیکترو میګناتیک فیلډ پیدا کوي چه طاقت یې د دماغ د ایلیکترومیګناتیک فیلډ نه ۵۰۰ واري زیات دی. د زړه دماغ یا برین د وجود د اعضاوو نه معلومات اخلي او د فیصلي نه وروسته د وجود اعضاوو حتی برین یا دماغ ته هم جوابي هدآیات ورکوي،د زړه او دماغ تر منځ کمونیکېشن دوه طرفه دي،د دماغ نه سیګنل زړه ته ځي او د زړه نه دماغ ته ځي،د دماغ نه یو څه آرډرونه او احکام زړه ته ځي او د زړه نه یو څه آرډرونه او احکام دماغ ته ځي،داسي نه ده چه د دماغ څخه یو آرډر یا حکم زړه ته راشي او زړه پري سمدستي په پټو سترګو عمل وکړي.همدارنګه ډاکټر پول وروسته د ډیرو تحقیقاتو نه وایي چه ساینسي ترقي د دماغ یا برین پواسطه کیږي او اخلاقي ترقي د زړه پواسطه کیږي.

په آخر کې باید ووایم چه تر اوسه پورې ساینس د قرآن یوه خبره هم غلطه نه ده ثابته کړي او نه به یې ثابته کړي ان شاألله.البته د ساینسي ډیسکورئ یا کشف نه مخکې ساینسدانانو اعتراضونه کړي دي خو کله چه ساینسي ډیسکوري شویده خبره همهغه صحیح شویده کومه چه قرآن کړي ده.مثلاً

قرآن فرمائی چه کائنات لویږي ،خو د وخت ساینسدانانو ویل چه نه لویږي او د قرآن مخالفت او اعتراضونه یې کول تر څو چه ۱۴۰۰ کاله وروسته ساینس ډیسکور او ثبوت کړه چه کائنات لویږي او د قرآن خبره یې تصدیق کړه. قرآن فرمایې چه کائنات د اول نه په همدي شکل موجود نه ؤو او پیداشویدي،خو ساینسدانانو ویل چه په ابدي ډول د اول نه په همدي شکل موجود ؤو،او د قرآن مخالفت او اعتراضونه یې وکړل مګر ۱۴۰۰ کاله وروسته ساینس ډیسکور او ثبوت کړه چه کائنات ابدي نه دي بلکه پیدا شویدي ، او د قرآن خبره یې تائید او تصدیق کړه .قرآن فرمایې چه لمر ساکن نه دي او په حرکت کې دي،مګر ساینسدانانو ویل چه ساکن دي ،او د قرآن مخالفت او اعتراض یې کولو مګر تقریباً ۴۰ کاله مخکې ساینس ډیسکور او ثبوت کړه چه لمر ساکن نه دي بلکه متحریک دي،او د قرآن د خبري تائید او تصدیق یې وکړ.او داسي نور ....که په تفصیل سره ځان پوهول غواړۍ نو شپږم نمبر تقریر چه کائنات څنګه پیداشویدي ولولئ.ځما مطلب دا دی چه په قرآن کې چه څومره خبري د ساینس په باره کې دي پخپله ساینس هیڅکله د هغی مخالفت نه دی

کړی،ځکه چه د ساینسي ریسرچ او تحقیق نه مخکې ساینس نه یو شي ته غلط ویلای شي او نه صحیح،او الحمدلله د ریسرچ او ډیسکوري نه وروسته ساینس د قرآن د هري خبري تائید او تصدیق کړیدی.خو صرف بعضی ساینسدانانو هغوي هم د ریسرچ او ډیسکوري نه مخکې یو څه مخالفت کړیدی خو کله چه د ډیسکوري یا کشف نه وروسته ساینس د قرآن د خبري تصدیق کړي.نو ظاهره ده چه ساینسدانان هم هغه خبره مني کومه چه ساینس ثبوت کړي وي.او لکه مخکې چه وویل شو :ساینس زمونږ د دین برخه ده ځکه چه قرآن د الله تعالی قول دي او کائنات د الله تعالی فعل دي او د کائناتو مطالعه ساینس دی،نو دا خو معلومه خبره ده او هیڅ شک په کې نشته چه د الله تعالی په قول او فعل کې هیڅ اختلاف او تضاد نشته دی.فلهذا حقیقي ساینس او ساینسي کشفیات ټول د قرآنکریم مطابق دي او د قرآنکریم د آیاتونو تائید او تصدیق کوي .او هره ساینسي خبره یا کشف چه د قرآنکریم د آیاتونو خلاف وي ،هغه په حقیقت کې نه ساینسي خبره ده او نه ساینسي کشف دی،بلکه د ملحدینو ساینسدانانو خپلي شخصي غیري ساینسي نظریې او خبري دي چه سل فیصده غلطي دي او حتماً به

يوه ورځ ان شاألله د دوي غلطي د حقيقي ساينس پواسطه ثابته شي. و ما علیناالاالبلغ المبين

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۳۰)

# د قرآن معجزي
# د شاتو مچۍ
# Honeybee

قرآنکریم د سورت النحل په ۶۸ او ۶۹ نمبر آیاتونو کې فرمايي! وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ(او ستا رب د شاتو مچيوو ته په زړه کې واچوله) أَنِ ٱتَّخِذِى مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا(چه په غرونو کې کورونه جوړوی) وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ(او په ونو کې او په هغو کې چه خلک يې جوړوي) (٦٨).یعني دا خبره د شاتو د مچيو په فطرت کې موجود ده چه غرونو،ونو او د خلکو په جوړو شوو چتو او بکسو کې کورونه جوړوي. ثُمَّ كُلِى مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ[بیا د هر قسم میوو نه خوراک کوئ ]. خود ګلانو او میوو دپاره باید مچی لري لري باغو ته لاړی شي نو کله چه لري ځایونو او باغونو ته ځي الله تعالی د تلو او راتلو طریقه ورته ښايي فرمايي فَٱسْلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًاۚ(نو د خپل رب په تجویز شوو هوارو او آسانه لارو ځئ) کله چه

د میوو او ګلانو نه خوراک وکړي یعني شیره یې وڅکي نو په خیټه کې یې ذخیره کوي او خپلي جالی، یا بکسی ته یې راوړي کله چه جالی ته ننوځي نو د ګیډي نه یې د خولي د لاري څخه راوباسی او نورو کاریګرو یا ورکرو ته یې ورکوي قرآن فرمایي يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ د دوي د ګیډو نه یو مشروب شات راوځي چه مختلف رنګونه لري فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (٦٩)

دي شاتو کې شفا ده د خلکو دپاره په یقیني ډول په دي کې د الله تعالی د قدرت یو دلیل او نښانه ده د هغو خلکو دپاره چه غور او فکر کوي.

په دي مبارک آیات کې څو داسي حقایق شته چه واقعاً دا ثابتوي چه قرآنکریم د الله پاک کلام دی.

اول دا چه په دي مبارک آیات کې صرف د شاتو د مچیو مؤنث یا د ښځې جنس ذکر شویدی.یعني مطلب دا چه کاریګري مچی یا کومي مچی چه شات جوړوي ټولي ښځې یا مؤنث جنس دي .او نران یا مذکر جنس د شاتو په جوړیدو کې برخه نه اخلي.شکسپیراو د هغی وخت د خلکو دا خیال ؤو چه نران یا مذکر جنس کار کوي او کله چه جالي

يا بکسی ته راځي نو باچا يا کېنګ ته رپورټ او جواب ورکوي خو ساينسي تحقيقاتو ثابته کړه چه دا خبره غلطه ده او د قرآن د خبري تايئد کوي وايې چه :په جاله يا بکسه کې هم مؤنث يا ښځې مچۍ د شاتو د جوړولو کار کوي او د  دباندي يا بهر نه د ګلانو شيره هم ښځې مچی جالي يا بکسی ته راوړي او په جاله يا بکسه کې کېنګ نه بلکه کوين يا ملکه وي.

دوهم الله په دي مبارک آيات کې فرمايې! فَٱسۡلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلاًۚ نو د خپل رب په تجويز شوو آسانو لارو باندي ځئ.دشاتو مچۍ په مايلو مايلو د ګلانو پسی ځې خو هري خواته چه ځې نامعلومه نه ځې بلکه د رب په جوړو شوو آسانه لارو ځې.الله دوي ته دا استعداد او مهارت ورکړئ دی چه کله د خپلو جالو يا بکسو نه وځې يوه لار نيسي په مايلو مايلو لري هر چيرته چه باغ او ګلان پيدا کړي د ګلانو نه شيره راټولوي او بيرته جالی يا بکسی ته په همهغه لاره ځې په کومه چه راغلي وه او  ځان خپل کور ته رسوي.

وان فريش چه په ۱۹۷۳ کال کې يې د شاتو په مچيو د ريسرچ په وجه د نوبل پرايز يا جايزه

اخستي وه هغه وايې کله چه د شاتو مچۍ د ګلانو يو نوی باغ پيدا کړي نو بيا دا مچۍ خپلي بکسی، کور يا جالی ته ځي او خپلو ټولو ملګرو او کاريګرو ته د ګلانو د نوي باغ په باره کې معلومات او باغ ته دتلو او رسيدو مکمله نقشه ،هدايت او ډايريکشن ورکوي يو قسم حرکتونه کوي چه بالکل هغه باغ ته د تلو د لارو مکمله نقشه جوړوي يعني په ډيرو عجيبو حرکتو او اشارو ملګري او نور کار کوونکې پوهوي چه کومي کومي لاري باغ ته د رسيدو دپاره استعمال کړئ.کولای شي چه په خپله يې په يوټوب کې هم وګورئ .

دريم په دي مبارک آيات کې الله فرمايې! يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ ددي مچيو د ګيډو نه يو مشروب يعني شات راوځي زيات خلک فکر کوي چه دا به د مچيوو فضله مواد يا ميتيارزی وي خو په آيات مبارک کې نه فضله مواد ذکر شوي او نه ورته اشاره شويده . اوس ساينسي تحقيقاتو معلومه کړي چه د شاتو مچۍ///////////////////////////////////

دوه معدي يا سټامک لري.يوه معده يې د هغی خوراکې موادو دپاره ده چه پخپله يې خوري او بله

معده يې د ګلانو دشيري د ذخيره کولو دپاره ده يعني کله چه د مختلفو ګلانو شيره څکې په دي معده کې يې ذخيره کوي.کله چه ډکه شي نو کور ،جالی يا بکسی ته يې راوړي که تاسو ليدلې وي په کوم سوري چه بکسی ته مچی ننوځي ددي سوري نه ګردچاپيره ډيري مچۍ ناستي وي دا محافظی مچۍ يا سکوريټي دي .نو هره مچۍ چه د بهر نه راځي او بکسي ته ننوزي نو اول ددي سکوريټی يا محافظوي مچيوو پواسطه چک کيږي که چيرته په خراب ګل يا مرداری باندي ناسته وي نو وزرونه يې غوڅوي او لاندي يې خطأ کوي او بکسی ته يې نه پريږدي.او که صحيح او پاکه وي نو د ننوتلو اجازه ورکوي .کله چه دننه ننوځي نو بيا راوړل شوي شيره د خپلي خولي دلاري د ګيډي نه راوباسی او د هغی مچی په خوله کې يې وراچوي کومه چه په بکسه يا جاله کې کار کوي او هغه يې بيا په هغو سوريو کې وراچوي کوم چه د کارکوونکو مچيوو پواسطه د شاتو دپاره جوړ شويدي .شات دومره پاک دي چه په جوړيدو کې يې د دومره احتياط نه کار اخستل کيږي.که فرضاً د شاتو مچی څوک و چيچی نو نيش يې په سړی کې پاتي کيږي او که مچی د نيش د راوښکلو

کوشش وکړي نو کولمي يې هم پسی وروځي او مړه کېږي. شايد دا د دي دپاره وي چه ددي مچی او نيش پواسطه د انسان نه کوم ميکروب و غيره شاتو ته لاړ نشي والله اعلم.ددي پسی فرمايې ! ۠ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ چه مختلف رنګونه لري.پوهيږو چه د غواګانواو ميښو شوده صرف يو سپين رنګ لري مګر شات څو رنګونه لري لکه سره زيړ سپين او تور.بله خبره دا ده چه فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِۗ په شاتو کې د انسانانو دپاره شفأ ده دا لوي بحث دي فعلاً تري تيريږو.آخرنی خبره داده چه: إِنَّ فِى ذَٲلِكَ لَأَيَةً لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ (٦٩)چه بيشکه د شاتو په مچيوو او شاتو کې د الله د قدرت يو دليل او نشانه ده د هغو خلکو دپاره چه غور او فکر کوي.

د آيت يوه معني وډريدل يا ستړپ ده نو کله چه آيت خلاص شي بايد سړی لږ ودريږي فکر او غور وکړي او په مطلب يې ځان پوه کړي او بيا بل آيت شروع کړي.

که دلته هم فکر او غور وکړو ګورو چه ډير يو منظم نظام موجود دي ټولي مچی د ملکې فرمان مني ټولو ته کارونه ويشل شويدي بعضی د ګبين سوري جوړوي،بعضی د نوو بچيوو خدمت او

لوک افتړ کوي ځني د کور نه دباندي ځې او د ګلانو شیره راوړي بعضی د دښمن د حملی د دفاع لپاره آماده دي.ځني د هغو مچیوو چه جالي یا بکسي ته د ګلانو شیره راوړي چکبنګ او تالاشي کوي اوبعضی د هغو مچیوو نه چه بکسی ته د ګلانو شیره راننباسی د هغوي نه شیره اخلي اود شاتو په خانو یا سوریو کې یې وراچوي او بعضی بیا دي شیري ته د وزرونو پواسطه پکی وهي چه کلکه او یخه شي.او دا ټولي مچی په غیر د جنګ او جګړی نه په خپلو کې په ډیر محبت او اخلاص سره په منظم ډول کار کوي که غور وکړو دي مچیوو د ګبین د جوړولو انجینري او د نوو مچیو د روزلو دپاره نرسنګ او د نظم جوړولو دپاره قانون د دښمن نه د دفاع او جنګ دپاره عسکري ټرینینګ او د ګلانو د شیري نه د شاتو د جوړولو تخنیک څنګه او د چانه زده کړي دی؟

جواب صرف یو دي چه دا هر څه الله تعالی د دوي په فطرت کې اچولي دي.او ۱۴۰۰ کاله مخکې په قرآنکریم د شاتو د مچیوو په باره کې ددي قسم معلومات ذکر کول ددي ثبوت دی چه قرآنکریم د الله تعالی کتاب او کلام دی.و ما علینا الاالبلغ المبین

الدرس(۳۱)

# د قرآنکريم ساينسي معجزي
# د دوه بحرونو تر منځ پرده

دخوږو او مالګينو بحرونو په منځ کې پرده يا خنډ.که په ګوګل يا يوټيوب کې يې وګورئ په دنيا کې داسي ځايونه شته دي کله چه هلته دوه دريابونه سره يوځای کيږي نو يو د بل سره نه ګډيږي.مثلاً ميډيټرانين او اټلانټيک اوشن په ګيبرلټر کې يا جبل طارق چه ورته وايې نو دواړه دلته يوځای کيږي مګر يو د بل سره نه ګډيږي ،يا په مصر کې چيرته چه د نيل سيند د ميديتراني د درياب سره يوځای کيږي خو يو د بل سره نه ګډيږي..همدارنګه په ډنمارک کې هم شته چه تاسو کولای شئ پخپله يې په ګوګل کې سرچ کړئ.راځئ چه اوګورو چه ساينس په دي باره کې څه وايې.په دي وروستيو وختو کې ساينسي تحقيقاتو معلومه کړيده چه:په کوم ځای کې چه دوه مختلف درياونه سره يو ځای کيږي .هلته د دواړو په منځ کې يوه پرده وي.دا پرده چه په سترګو نه ښکاري دا دواړه درياونه

سره بیلوي.چه هر دریاب یا سیند ځانته خپل حرارت ،مالګه، غلظت او رنګ لري.

الحمدلله قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې د سورت الرحمن په ۱۹ او شلم نمبر آیاتونو کې فرمایې !

مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ (١٩) بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٌ لَّا يَبۡغِيَانِ (٢٠) هغه(الله) دوه بحرونه خوشې کړل چه سره یو ځای شي بیا هم د هغوي تر منځ یوه پرده حائله ده چه هغوي تري نه تیری نه کوي یعنې یو د بل سره نه ګډیږي.

همدارنګه د سورت النمل په ۶۱ نمبر آیات کې فرمایې وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًا ط اوګرځولي یې ده په منځ د دوه بحرونو کې پرده . یعنې د خواږه او تروه بحرونو په منځ کې پرده ده چه سره ګډ نشي.

همدارنګه د الفرقان په ۵۳ نمبر آیات کې فرمایې
۞ وَهُوَ ٱلَّذِي مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٗا وَحِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا (٥٣) او همدغه الله هغه ذات دي چه :دوه بحرونه یې خوشې کړي دي.یو خوږ او خوندور،او بل تریخ او تریو او ګرځولي ده الله ددي دواړو په منځ

کې یوه پرده او خنډ چه هغوي یې د ګډېدلو څخه منع کړیدي.

که غور او فکر وکړو نو بیشکه دا ثابیتیږي چه قرآنکریم د الله تعالی کتاب او کلام دی ځکه چه ۱۴۰۰ کاله مخکې د انسان دپاره دداسي معلومات ورکول ناممکن او محال ؤو کوم چه په اوسني وخت کې د ساینسي تحقیقاتو په واسطه منځ ته راغلي دي.ښه به دا وي چه انسان د شک او انکار په ځای د قرآن په آیاتونو باندي غوراو فکر وکړي ان شأالله چه الله به ورته هدایت وکړي.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

ا لدّرس(۳۲)

# قرآنکریم او ساینس

## د مور په رحم کې د ماشوم جوړیدل

## Human Embryology and The Holy Quran

په دي باره کې چه ماشوم د مور په رحم کې څنګه جوړیږي اول د پخوا نیو زمانو نه د شلمي پیړۍ پورې د مخکښنیو ساینسدانانو نظریات یا تیوریز ګورو او بیا د قرآن او ماډرن ساینس معلومات ګورو.ارسطول ویلي چه په رحم کې ماشوم د ښځو د میاشتنۍ مریضۍ پواسطه د جوړشوي تخم یا سیډ او د ټینګۍ ویني نه جوړیږي.یونانیانو او اروپایانو ویلی چه په رحم کې ماشوم د میاشتینۍ مریضۍ د ویني څخه جوړیږي.په ۱۷ پیړۍ کې چه مایکرسکوپ کشف یا ډیسکور شو.نطفی یا سپرم او اوم وپیژندل شو،نو د ساینسدانانو نظر یا تیوري

هم د سپرم او اوم یا د پلار او د مور د نطفو په پیژنلو سره بدله شوه نوي تیوري دا وه چه :یو وړوکی مکمل جوړ شوي انسان د پلار په نطفه یا سپرم کې موجود وي خو څه وخت وروسته چه

معلومه شوه چه اوم یا د مور هګۍ د سپرم نه غټه ده نو دا تیوري هم بدله شوه بیا یې ویلی چه نه یو وړوکی مکمل جوړشوي انسان د مور په هګۍ یا اوم کې موجود وي چه همدا وړوکی انسان غټیږي او په یو مکمل انسان بدلیږي.په ۱۸ پیړۍ کې خبره دي ته ورسیده چه د ماشوم په جوړیدو کې سپرم او اوم یا د پلار او مور نطفی دواړه برخه اخلي. بالآخره په ۱۹۴۰یعني ۲۰ پیړۍ کې د ماډرن ایمبریالوژي یا د مور په رحم کې د ماشوم د جوړیدو علم منځ ته راغی.چه ساینسي تحقیق ثابته کړه چه :د ماشوم د جوړیدو دپاره د پلار نطفه یا سپرم د مور رحم ته څخول کیږي او په رحم کې د مور د نطفی یعني اوم یا هګۍ سره یو ځای کیږي دننه ورننوځي اود هګۍ په مرکز یعني هسته یا نیکلیوس کې د مور او پلار ارثی خاصیتونه یعني کروموزمونه سره یوځای کیږي.او القاح شوي هګې یا زایګوټ جوړیږي.بیا زایګوټ د رحم په دیوال کې لکه د یو تخم یا سیډ ننوځي او وروسته د څو مرحلو یا سټیجز د تیریدو څخه د مکمل ماشوم په شکل دنیا ته راځي.راځو اوس ۱۴۰۰ کاله پخوا په دي باره کې دقرآنکریم معلومات ګورو.هیله کوم چه ښه په غور او توجه سره یې واورئ.

قرآنکریم د انسان په باره کې د سورت الا نسان په اول نمبر آیات کې فرمایې :

هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا (١)

په انسان د زماني داسې وخت هم تیر شویدي چه هغه کوم د یادولو ور شي نه ؤویعني هیڅ نوم او نشان یې نه ؤو.نو کله چه یو نوی انسان دنیا ته راځي نو اول هغه مواد یعني عناصر یا ایلیمینټ چه د انسان یعني نوي ماشوم د جوړیدلو دپاره ضرور او پکار دي د هغه د مور او پلار وجود ته داخلیږي.باید ووایو چه نوموړی مواد په ختبه یعني خاوره او اوبو کې موجود دي. چه د خاورې نه سبزیجاتو ،وښو او میوو ته ځي .اود وښو نه حیواناتو او د حیواناتو ،سبزیجاتو او میوو نه انسان ته ځې. سورت المؤمینین په ١٢ نمبر آیات کې فرمایې وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ (١٢) او بیشکه مونږ انسان د ختې د جوهر نه جوړ کړ.یعني الله تعالی د انسان د تخلیق او پیداکېدو ابتدأ د ختې د جوهر یا کېمیاوي اجزاوو نه وفرمابله .لکه مخکې چه مونږ وویلې چه د ختې کېمیاوي اجزا لکه مینرالونه،اوسپنه، مالګه،او کېمیاوي عناصریا

ایلیمینټ لکه کلسیم
،سودیم،فاسفورس،سلیکان،پوتاشیم،ایوډین،مګنیش
یم،ځینک او داسي نور وښو ، میوو او سبزیجاتو
ته ځي او د وښو نه حیواناتو ته ځي او د
حیواناتو،سبزیجاتو او میوو نه انسانانو ته ځي او
په انسانانو یا مور او پلار کې د ډیرو محفوظو
کارخانو پواسطه تري نه د انسان نطفه یعني سپرم
او اوم یا د پلار او مور نطفي جوړیږي.چه دا د
نطفی د جوړولو کارخاني په مورګانو کې د رحم
ښی او چپ خواته-----------------------------

موقیعت لري تخمدان یا اووري نومیږي.او په
پلرونو کې د نطفی د جوړولو کارخاني یا تناسلی
سیستم د خیټی نه دباندي موقیعت لري.قرآنکریم په
سورت المؤمنین کې فرمایي:
ثُمَّ جَعَلْنَـٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ اوبیا مونږ هغه په
یو محفوظ ځای کې په نطفه تبدیل کړل.اوس د
نطفی نه علقه څنګه جوړیږي؟بخنه غواړم د نزاکت
اوآدب د مراعاتولو په وجه نشم کولای چه بعضی
نومونه مستقیماً واخلم.په هر ترتیب------------

کله چه پلار وغواړی چه مور ته نطفه یا سپرم
ورکړي نو کارخانه یعني ټیسټیس جوړوشونطفو ته

د خارجیدو اجازه ورکوي(من نطفت اذا تمني) او په رحم کې د څڅیدو نه وروسته دمور د نطفی یعني اوم یا هګی سره یوځای او بالآخره دننه ورننوځي نو کله چه د پلار نطفه یا سپرم د مور نطفی یا هګۍ ته ورننوځي نو د پلار او مور میراثی خاصیتونه یعني کروموزمونه سره شریکوي یا په بل عبارت یو سنګل ډي این ای دپلار دخوا نه او یو سینګل ډي این ای د مور د خوا نه سره یو ځای کیږي او یو ډبل ډي این ای جوړوي.چه د هر څه نه اول په نوموړی ډي این ای کې د مرګ د وخته پورې دنیا ته د راتلونکي انسان د جوړیدو مکمله نقشه جوړیږي یعني په نوي ډي این ای کې یو مکمل انسان ډیزاین او پروګرام کیږي.چه د همدي پروګرام مطابق لحظه په لحظه انسان جوړیږي او بدلونونه پري راځي مثلاً قد به یې څنګه وي،د سترګو رنګ،ویښتان ،لاسونه ،پوزه، خوله،کوم مرضونه به په کوم وخت کې پري راځي.عادتونه به یې څنګه وي استعداد او ذهني حالت به یې څنګه وي او داسي نور ډیر زیات چه ذکر کول یې دلته نا ممکن دي.دغه د نوي ډي این ای جوړیدل او په کې د مرګ د وخت پورې دنیا ته د راتلونکې انسان پروګرامول او دهمدي پروګرام مطابق د انسان

چليدل قرآنکريم دي ته تقدير وايي د عبث د سورت په ۱۹ نمبر آيات کې فرمايي مِن نُّطۡفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ (۱۹)د نطفی نه الله انسان پيداکړو بيا يې د هغه تقدير وټاکه.او ماډرن ساينس ورته جينيتيک پروګرامينګ وايي.او د دي دواړو نطفو يا ګاميټو يا سپرم او اوم د يوځای کېدو نه چه کومه مخلوط يا ګډه نطفه جوړيږي قرآنکريم دي ته نطفت امشاج وايي.او ماډرن ساينس ورته زايګوټ وايي. سورت الانسان په دوهم نمبر آيات کې فرمايي إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٍ بيشکه مونږ انسان د مخلوطی يا ګډي شوي نطفی نه پيدا کړو. سورت الزمر په شپږم نمبر آيات کې فرمايي!

يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖ -- الله تاسو ستاسو د مورګانو په خيټو کې په يوه د بلي پسی مرحلو يا ستيجز کې په دري تيارو پردو کې جوړوي.اوس ساينس وايي چه اوله تياره د ګيډي د ديوال تياره ده دويمه تياره د رحم د ديوال تياره ده او دريمه تياره د هغی خلتې د د يوال تياره ده په کومه کې چه ماشوم د رحم په داخل کې پروت دي. او د مرحلو يا ستيجز په باره کې به لږ وروسته ان شاألله په تفصيل سره خبري وکړو .

که دا مخکیني معلومات په لنډ ډول تکرار کړو داسي به وي چه:د مور او پلار نطفی یا سپرم او اوم سره یوځای کیږي او نطفت امشاج یا زایګوټ جوړوي.او په نطفت امشاج یا زایګوټ کې د ټولو نه اول تقدیر یا جینیټیک پروګرامینګ جوړیږي .او بیا د همدي تقدیر او پروګرام مطابق ددي نطفت امشاج یا ځیګوټ څخه د مور په رحم کې په څو مرحلو یا سټیجز کې انسان جوړیږي.

سورت المؤمنین په ۱۴ نمبر آیات کې ددي مرحلو په باره کې فرمایي! ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴿14﴾، بیامونږ د نطفی نه علقه جوړه کړه بیا مونږ د علقي نه د غوښو یوه بوټې جوړه کړه بیا مونږ د غوښو د بوټې نه هډوکې جوړکړل بیا مونږ هډوکو ته غوښه وروااغوستله ،بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړ.نو الله ډیر زیات برکتناک او تر ټولو پیدا کوونکو ښه پیداکوونکی دی.

لکه چه لږ مخکې مو وویل نطفت امشاج یا زایګوټ چه په حقیقت کې د انسان تخم یا سیډ دی د جوړ شوي تقدیر یا جینیټیک پروګرام مطابق نمو

کوي بالآخره د رحم دیوال ته ځان رسوي او په دیوال کې داسي ځان خخوي لکه تخم یا سیډ چه په خاوره کې خخیږي.او د رحم په دیوال کې داسي راشین کیږي لکه نبات چه په خاوره کې راشین کیږي نو د رحم خواته نمو کوي او غټیږي په ابتدایي مرحله کې چه کوم شکل جوړیږي قرآنکریم ورته علقه وایې یعني که دا خبره لږ واضحه کړو د نطفی نه علقه داسي جوړیږي چه د پلار نطفه یا سپرم دمور رحم ته ښخول کیږي وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ (٤٥) مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ (٤٦) او رحم ته د ښخولو نه وروسته نوموړی نطفه د مور هګۍ یا اوم ته ځان رسوي او نطفت امشاج یا زایګوټ جوړوي او د نطفت امشاج یا زایګوټ نه علقه جوړیږي.د علقه یوه معني داده لکه یو شي چه د بل شي پورې نښتی او ځوړند وي.اوس ساینسي تحقیقاتو هم معلومه کړي چه علقه د رحم د دیوال پورې نښتي او راځوړنده وي.بله معني ئی لیچ یا ژوره ده دا داسي وړوکی چینجی غوندي یو شي دی په پوستکې خوله لږوي او وینه ښکي.پروفیسر کېتمور د لیچ او علقه عکسونه سره مقایسه کړل بالکل سره یو قسم ؤو ډیره دلچسپه او جالبه دا ده چه پروفیسر مور د

اناتومی په کتاب کې دا خبره د قرآنکریم په حواله ليکلي ده چه ايمبريبو يا جنين په يوه مرحله يا سټيج کې د ليچ پشان شکل لري.د علقه دريمه معني ټينګه غوندي وينه يا د ويني برغنډ ده.څرنګه چه د علقه به مرحله کې د ويني د دوراني سيستم کار مکمل نه دي يعني د رحم د ديوال نه وينه څکې خو په مکمل ډول يې بيرته نه وباسی نو د ويني د جم کېدو په وجه داسي ښکاري لکه د ټينګی ويني ټوټه يا د ويني برغنډ نو الحمد لله دري واړه معنی ګاني صحيح دي. فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً بيا مو د علقي نه مضغه يا د غوښی يوه ټوټه جوړه کړه. مضغه داسي شي ته وايې لکه جاولو باندي چه غاښونه زور شي او د غاښو نښي په کې معلوميږي.ساينسي تحقيق هم تائيد کړي چه په دي مرحله يا سټيج کې جنين بالکل داسي ښکاري لکه په جاوله چه دغاښونو چاپونه يا نښي وي که د مضغه په مرحله کې په جنين يا ايمبريبو باندي شق وشي يعني غوڅه شي و به ګورو چه بعضی داخلي اعضأ يې پوره جوړشويدي او بعضی پوره نه دي جوړ شوي پروفيسر جانسن وايې چه د دي مرحلی يا سټيج کومه تشريح چه قرآن کړيده ددي نه نوره بهتره او ښه تشريح ددي دپاره نشته . يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ

فِى رَيۡبٍ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٍ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ بیا د غوښی د ټوټی نه چه یو څه مکمله جوړه شوي ده او یو څه مکمله جوړه نه ده.یعني بعضی اعضأ یې مکمل جوړشویدي او بعضی اعضأ یې مکمل نه دي جوړ شوي.

یوه بله مهمه خبره دا ده چه دمضغه په مرحله کې جنین یا ایمبریپو یا د ماشوم ډیر وړوکی شکل د شپږ هفتو پورې دوام کوي چه ۴۲ ورځې کیږي.چه په دي موده کې یعني دحمل د اولي ورځې نه د ۴۲ ورځې پورې جنین یا ایمبریپو نه معلومیږي چه د انسان ده او که د بل کوم حیوان ده.خود ۴۲ شپو او ورځو نه وروسته د اومي هفتي په شروع کې د عظام مرحله یا سټیج او د هډوکو جوړیدل شروع کیږي.او جنین یا ایمبریپو د انسان شکل اختیاروي او د نورو حیواناتو نه یې فرق کیږي په صحیح مسلم کتاب القدر کې د حذیفه رضی الله عنه نه حدیث شریف روایت دی.کله چه د حمل د اولي ورځې نه ۴۲ شپې تیري شي الله یوه فرشته لیږي چه د مور په رحم کې جنین یا ایمبریپو ته د انسان شکل او صورت جوړ کړي.

غور وکړئ چه دا دومره ساینټیفیک او مایکرسکوپیک معلومات ۱۴۰۰ کاله مخکې د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم دپاره څنګه ممکن ؤو چه په قرآنکریم کې یې د خپل ځانه ولیکې په داسي حال کې چه لیک او لوست یې هم نه ؤو کړي او نه په هغی وخت کې یو عادي میکرسکوپ هم ؤو نه هیڅ کله هم د یو انسان دپاره دا ممکنه نه وه چه په هغی وخت کې دي داسي معلومات ورکړي .نو بیشکه چه قرآن د الله تعالی کتاب او حضرت محمد صلی الله علیه و سلم د الله ربښتینی نبي او رسول دي.و ما علینا الاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۳۳)

# د قرآنکریم ساینسی معجزي

# (وسپنه)

# (IRON)

د قرآن د ساینسي معجزو په سلسله کې نن د اوسپني په باره کې خبري کوو.اول خو د اوسپني نوم یوه معجزه ده.دوه قسمه نومونه دي معلوم او مجهول .فرضاً که زه ووایم چه یو کتاب راکړه نو ته نه پوهیږي چه د څه شي کتاب نو دا د کتاب دپاره نامعلوم یا مجهول نوم دی او که ووایم چه د تاریخ کتاب راکړه نو ته پوهیږي چه زه کوم کتاب غواړم نو دا د کتاب دپاره معلوم نوم دی نو د اوسپني معلوم نوم الحدید دی چه د ابجد په حساب ۵۷ کیږي.چه دا عدد په قرآن کې د الحدید یا د اوسپني د سورت نمبر ښیي .همدارنګه د اوسپني مجهول یا نامعلوم نوم حدیدٌ دي.چه د ابجد په حساب ۲۶ کیږي .چه دا عدد د اوسپني اتومی نمبر دي.ساینسدانان وایې چه: په ځمکه کې چه څومره اوسپنه ده .دا د سپیس

نه ځمکې ته راغلي ده .ځکه چه زمونږ په شمسي نظام يا سولر سيستم کې دومره حرارت يا ټيمپريچر نشته چه اوسپنه پکې جوړه شي.ځکه چه د لمر داخلي ټيمپريچر يا حرارت د ۲۰ ميلون ډيګري نه زيات نه دي.حال داچه د اوسپني د جوړيدو دپاره څو سوه ميلونه ډيګري ټيمپريچر پکار دی .کوم چه په ډيرو لري غټو ستورو کې پيداکيږي.کله چه د غټو ستورو عمر پوره شي او د مرګ وخت يې را نزدي شي نو اول ډير لوي شي او بيا انفجار يا ايکسپلوژن وکړي.او يوه اندازه اوسپنه سپيس ته خارجوي چه د سپيس نه بيا مختلفو ځايونو او سيارو ته ځي .نو په دي اساس ساينسدانان وايې چه اوسپنه په ځمکه کې نه ده جوړه شوي بلکه د سپيس نه ځمکې ته راغلي ده.چه د ماډرن ساينس دا خبره قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې د سورت الحديد په ۲۵ نمبر آيات کې کړي ده. فرمايې .

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ (۲۵)او اوسپنه مونږ رااليږلی ده.چه پکې ډير شديد طاقت دی.او انسانانو

ته پکې فایدي دي.په دي خو خبري وشوي چه ساینسدانان وایې چه اوسپنه د غټوستورو د ایکسپلوژن یا انفجار پواسطه سپیس ته او د سپیس نه ځمکې ته رالیږل شویده.اوس د اوسپني د طاقت اوفایدي په باره کې خبري کوو. د اوسپني طاقت او فایدي خو هر چا ته معلومی دي نو زه به د اوسپني صرف هغه طاقت او فایدي بیان کړم کومي چه ستاسو دپاره دلچسپه او معلوماتی وي. دغه ځمکه چه مونږ.او تا سو پري اوسیږو دا هسی څه د خاورو او تیږو ډیری نه ده چه پخپل سر دي جوړه شوي وي.بلکه خالق په یو خاص نقشه او ډیزاین سره جوړه کړیده.نو مونږ د ځمکې د ساختمان او جوړخت په هغو برخو بحث کوو.په کومو کې چه اوسپنه استعمال شویده.دځمکې مرکز یا سینټر د جامدي او سپني د بال نه جوړ شویدی.ددي بال شعاع ۱۲۲۰ کیلو میتره ده .او ټیمپریچر یا حرارت پکې ۵۵۰۰ ډیګري سانتیګیریډ دي د بال د سطحی او مرکز په منځ کې فاصلي ته شعاع وایې.دا وه د داخل د خوانه د ځمکې اوله طبقه یا اینټر کور.ددي پسی د داخل د خوانه د ځمکې دوهمه طبقه ده چه اوټر کور ورته وایې.د ځمکې دا طبقه د مایع اوسپني نه جوړه شویده ټیمپریچر پکې ۵۰۰۰

ډيګري س س.دي.او ضخامت يا پنډوالی يې ۲۳۰۰ کېلو متره دي. دا مايع يا اوبه اوسپنه دوران او ګردش کوي مقناطيسی ساحه يا ميګناتيک فيلډ جوړوي.او مقناطيسی ساحه د ځمکې د سطحی خواته ځي يا انتشار کوي.او بالآخره څو زره کېلو متره د ځمکې د سطحی نه پورته ځي.او ټوله ځمکه او اټموسفير ګرد چاپيره د يو کمربند او پوښ پشان احاطه کوي.او د هغو راډيو اکتيف زراتو او تشعشعاتو او بي انتها خطرناکو شعاګانو مخنيوي کوي او بيرته يې فضأ يا سپيس ته ليږي کومي که چيرته ځمکې ته راورسيږي نو ځمکه به مړه شي او نه به د ځمکې دا شکل پاتي شي او نه به يو ژوندي موجود او حتی اټموسفير به هم پاتي نه شي.يعني د اوسپني پواسطه دا جوړ شوی کمربند نه يواځي د ځمکې او ژوندي موجوداتو بلکه د ځمکې د اټموسفير حفاظت هم کوي. بله خبره دا ده چه دا دومره لويه کوره څنګه ګرځي؟البته په دي باره کې ډير نظريات يا تيوريز دي خو زه د هغی تيوري په باره کې خبري کوم .کومه چه زمونږ د موضوع پورې مربوط وي.بايد ووايم چه دا صرف تيوري يا نظر دی کېداي شي چه صحيح وي ياغلط .بعضی ساينسدانان وايې چه:کله چه د اوسپني مايع

برخه د ۲۳۰۰ کېلو مترو په پيړوالي دوران او ګردش کوي نو ځمکه هم د ځان سره د خپل اکسيز او محور په خوا او شاه ګرځوي.

همدارنګه د ژوند په هره برخه کې د اوسپني ضرورت او فايدي بې حسابه دي.که انسان غور او فکر وکړي چه د شلمي پيړی دساينسي تحقيقاتو نه مخکې خو هيڅ چا ته هم معلومه نه وه چه اوسپنه د سپيس نه ځمکې ته راغلي ده نو په قرآن کې دا د کومي منبع نه ليکل شوي چه اوسپنه د سپيس نه ځمکې ته راليږل شويده.حيرانيدل او تعجب دی چه عقل او کامن سينس دا څنګه مني چه هر شي ته چانس او حادثه وايې؟د سپيس نه ځمکې ته د اوسپني راتلل يوه حادثه وه،د ځمکې په مرکز کې د ۱۲۲۰ کېلومترو په شعاع د اوسپني د بال جوړيدل حادثه وه،او دي بال ته ۵۵۰۰ درجی حرارت ورکول او دوامدار ساتل حادثه ده،او ددي بال دپاسه د ۲۳۰۰ کېلومترو په پيړوالی د مايع اوسپني جوړيدل ،۵۰۰۰ درجی حرارت ورکول او دوامدار ساتل حادثه ده،اودي مايع اوسپني ته په يو خاص سپيډ حرکت او دوران ورکول او ددي دوران او سپيډ په يو حال دوامدار ساتل دا يوه حادثه وه،د مايع اوسپني پواسطه د ميګناتيک فيلډ يا

مقناطيسی ساحی جوړيدل او بيا د هغی پواسطه د
واين الين بيلټ يا د ځمکې اواتموسفير محافظوي
کمربند جوړيدل يوه حادثه ده .دا څومره حادثې
شوي؟په انسان خو که دري حادثې راشي نو مشکله
ده چه تري بچ شي.نو بيا هغه څوک چه هرشي ته
حادثه وايې. فکر او غور دي وکړې چه دا څنګه
امکان لري چه په کائناتو کې بي حسابه حادثې په
عوض ددي چه په کائناتو کې خرابي او ګډوډي
راولي.برعکس آبادي او نظم راولې؟و ما علينا الا
البلغ المبين.ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۳۴)

# د قرآنکریم ساینسی معجزې

# د ګوتی نښه یافینګرپرینټ

دا ځومره انسانان چه اوس په دنیا کې موجود دي یا په قبرو کې دي .او یا وروسته ددي نه دنیا ته راځي.هر یو انسان ته الله پاک جدا او مختلفه ای ډي،یا هویت او یا پیژندنه ورکړي ده.یعني د یو انسان ای ډي یا هویت د بل انسان په شان نه وي.دي ای ډي ته دګوتی نښه یا فینګرپرینټ وایې.دا د انسان دومره قوي ای ډي یا پیژندنه ده .چه حتیَ په هغو غبرګونکو یا ټواین ماشومانو کې چه ډي اين ای یې یو قسم وي.خو فینګرپرینټ یې مختلف او فرق لري.او هر انسان به د همدي ای ډي او هویت سره د قبر نه راپورته کیږي.او د همدي ای ډي سره به د حشر میدان ته ځي.الله پاک د سورت القیمَه په دریم او څلورم نمبر آیاتونو کې فرمایې أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ (٣) بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ (٤) آیا انسان داسي خیال او

ګمان کوي چه مونږ به د هغه هډوکې راجمع نکړې شو؟ولي نه ضرور به يې راجمع کړو.مونږ خو په دي قادر يو چه برابر به کړو د ګوتو سرونه دده.يعني د ګوتو په سرونو کې چه کوم خطونه د فينګرپرينټ دپاره په دنيا کې دي.همدا قسم خطونه به الله تعالی کله چه انسان بيا راژوندی کوي دګوتو په سرونو کې ورته برابر او جوړ کړي.يعني کوم فينګرپرينټ يا ای ډي چه انسان يې په دنيا کې لري.همدا فينګرپرينټ يا ای ډي به يې د بيا راژوندي کېدو په وخت کې هم وي.دلته د غور او فکر خبره داده چه :ساينس خو د اول ځل دپاره د نولسمی پيړۍ په آخر کې د فينګرپرينټ اهميت او حقيقت کشف کړ او د انسان د ټولو نه د قوي ای ډي او هويت په حيث وپيژندل شو.او ددي نه مخکې هيڅ چا ته په دي باره کې معلومات نه ؤو.نو ۱۴۰۰ کاله پخوا په قرآن کې د داسي حقيقت ذکر کول ددي دليل دي چه قرآنکريم د الله تعالی کلام او کتاب دی.

سوال د هغه چا نه چه د داروين په ايولوشن او نيچرل سيليکشن عقيده لري.سوال دادی چه ولي د ټولو انسانانو فينګرپرينت يو د بل نه مختلف او يونيک دی ؟.آيا ستاسو عقل او کامن سينس دا

قبلوي چه ایولوشن او نیچرل سیلیکشن دي د هر انسان دپاره بیل بیل او یونیک فینګرپرینټ پروګرام او اینتخاب کړی وي؟او د هغی مطابق دي هر انسان د خپل ځانګړی او یونیک فینګرپرینټ سره دنیا ته راځي.معلومه خبره ده چه یو سالم عقل نه دا مني او نه یې قبلوې.دوهم دا چه: فرضاً که چیرته انسانان د داروین د ایولوشن په نتیجه کې منځ ته راغلي وي.نو ددي نه خو چه انسانان مختلفی ای ډي او فینګرپرینټ ولري.ددي امکان ډیر زیات دی چه ټول انسانان یو قسم ای ډي او فینګرپرینټ ولرې.حال دا چه په ژوندیو او مړو کې د هیڅ چا فینګرپرینټ او ای ډي یو قسم نه ده فلهذا دي دومره انسانانو ته هر یو ته بیله بیله ای ډي جوړول دا فقط د الله تعالی کار دی او دا هرڅه الله جوړ کړي دي .اُمید دی که په دي موضوع ځوک غور او فکر وکړي ان شأالله چه الله به ورته هدایت وکړي.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## ا الدرس(۳۵)

# قرآنکریم او ساینس

## په رحم کی د هلک او جلۍ د جوړیدو دپاره مسؤل پلار دی او که مور؟

د مور په رحم کې د هلک او جلۍ د جوړېدو دپاره پلار مسؤل دي او که مور؟په دي باره کې د قرآن خبره بالکل ښکاره او واضح ده . خو د آيات په ترجمه د پوهیدو دپاره د لږ غوندي معلومات ضرورت دی.هغه دا چه:دوه قسمه نطفی دي . د پلار نطفه او د مور نطفه.دمور نطفه-د حمل د نیولو لپاره د وجود څخه دباندي نه ځي او په رحم کې وي. .او د پلار نطفه د وجود نه خارجیږي او په رحم کې څخول کیږي.او ماشوم ددي دواړو نطفو د یوځای کېدو نه جوړیږي..ان شأالله چه اوس به د آیاتونو په ترجمه او مطلب آسانه پوه شئ.

قرآن د سورت النجم په ۴۵ او ۴۶ نمبر آیاتونو کې فرمايې !

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ (٤٥) مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ (٤٦)او دا چه الله دواړه قسمونه یعني نر

او ښځه د نطفی نه جوړوي.کله چه هغه په رحم کې ځځول کیږي.ګورو چه: دا مبارک آیاتونه په ډیر واضح ډول وایې چه :د نر او ښځې جوړیدل یا د جنس تعینیدل دهغی نطفی پواسطه کیږي کومه چه په رحم کې ځځول کیږي.لږ مخکې پوه شو چه په رحم کې صرف د پلار نطفه ځځول کیږي.نو وایو چه د قرآن دمعلومات مطابق د مور په رحم کې د جلۍ او هلک د جوړیدلو دپاره یواځې پلار مسؤل دی او د مور پکې هیڅ رول نشته.اوس ګورو چه دماډرن ساینس معلومات په دي باره کې څه دی آیا د قرآن د معلومات مطابیق دی او که نه؟خو د ساینسي تشریح نه مخکې باید پوه شو چه:سپرم د پلار نطفی ته او اوم د مور نطفی ته وایې او کروموزومونه د مور او پلار ارثی خاصیتونه اولادونو ته انتقالوي. باید ووایو چه د کروموزوم په اساس مور یواځې یو قسم نطفی یا اومز جوړي چه صرف ایکس کروموزوم لري.او پلار دوه قسمه نطفی یا سپرمز جوړوي یعني یو قسم نطفی یا سپرم داسي دي چه یواځې ایکس کروموزم لري .او بل قسم نطفی یا سپرم داسي دي چه صرف وای کروموزوم لري.یعني مور صرف ایکس ایکس کروموزومونه لري .او د ماشوم د

جوړولو په وخت کې يواځې ايکس کروموزوم ورکولای شي.او پلار ايکس او وای دواړه کروموزومونه لري.نو د ماشوم د جوړولو په وخت کې کولای شي چه يا ايکس کروموزوم ورکړي او يا وای کروموزوم ورکړي.بايد ووايو که ايکس کروموزوم د ايکس سره جوړه او يو ځای شي نو نوي ماشوم به جلۍ وي.او که وای کروموزوم د ايکس سره جوړه او يو ځای شي نو نوي ماشوم به هلک وي.اوس که د پلار هغه نطفه يا سپرم چه وای کروموزوم لري د مور رحم ته داخل شي او د مور د نطفی يا اوم سره يوځای شي نو وای به د ايکس سره جوړه شي ځکه چه د مور نطفه يواځې ايکس کروموزوم لري.نو کوم ماشوم چه منځ ته راځي هلک به وي.او که د پلار هغه نطفه يا سپرم چه ايکس کروموزوم لري دمور رحم ته داخل شي او د مور د نطفی يا اوم سره يوځای شي.نو ايکس به د ايکس سره يوځای شي ځکه چه د مور نطفه خو صرف ايکس کرومزوم لري.نو کوم ماشوم چه منځ ته راځي جلۍ به وي.يعني که د پلار د خوانه ايکس ورکول شي جلۍ او که وای ورکول شي هلک منځ ته راځي.په لنډ دول بايد ووايو چه د ماشوم د جنس تعينيدل د پلار پورې اړه لري او

مور پکې هیڅ رول نلري.ګورو چه د شلمې پیړۍ ساینسي تحقیقات د قرآن دآیاتونو تصدیق کوي.فکر وکړئ چه یونانیانو او اروپآیانو د ولسمی پیړۍ پورې عقیده لرله چه د مور په رحم کې ماشوم د مور د میاشتیني عادت د وینې نه جوړیږي.مایکروسکوپ په ۱۷ پیړۍ کې جوړ شو.سپرم او اوم په ۱۸ پیړې کې وپیژندل شو مګر بیا هم د ساینسدانانو عقیده دا وه چه د یو مکمل انسان وړوکی شکل په سپرم کې موجود وي.وروسته یې دا خبره بدله کړه داسې چه یو وړوکی مکمل انسان په اوم کې وي او همدا وړوکی انسان غټیږي.په هر ترتیب ماډرن ایمبریالوژي په ۲۰ پیړۍ کې منځ ته راغله.فکر وکړئ چه ۱۴۰۰ کاله مخکې د نطفو یعنې سپرم،اوم او کروموزوم د کار په باره کې معلومات ورکول په کوم چه د شلمې پیړۍ نه مخکې هیڅوک نه پوهیدلو آیا په غیر د خالق او کریټر څخه د بل چا دپاره ممکن ؤو.نو 1400 کلونه مخکې د داسې معلومات ورکول د دې ثبوت دی چه قرآنکریم د الله کلام دي .بله ډیره مهمه خبره داده چه قرآن او ساینس دواړه وایې چه د هلک او جلۍ د جنس د تعینیدلو دپاره یواځې پلار مسؤل دی.خو بیا هم

زمونږ په جامعه کې اکثره خلک چه نارینه اولاد یې نه کیږي تور او تهمت په ښځو لګوي او دوهم واده کوي.و ما علینا الاالبلغ المبین.ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۳۶)

# د قرآنکریم ساینسي معجزې په پوستکی کې د درد اخذی یا پَین ریسیپټر

پخوا انسانانو فکر کولو چه د درد احساسول د دماغ یا برَین پورې اړه لري.لیکن تازه ساینسي تحقیقاتو معلومه کړه چه د انسان په پوستکې کې تقریباً د دري میلونو څخه زیاتي د درد اخذی یا پَین ریسیپټرز موجود دي.چه ددي نه په غیر یو سړی د درد احساس نشي کولای.نو په دي اساس کله چه ډاکتر داسي مریض ګوري چه سوځیدلای وي.نو د یو سینجاق څوکه په سوځیدلې ځای یا پوستکې باندي کیږدي.که مریض د درد احساس وکړي نو ډاکټر خوشالیږي ځکه چه پین ریسیپټرز نه دي سوي یعني جوړ دي او سوختګی سطحی ده.خو که مریض د درد احساس ونه کړي نو ډاکتر وایې چه سوختګی ژوره یا ډیپ ده یعني پین ریسیپټرز سوي او د منځ نه تللي دي.

قرآنکریم د سورت النسا په ۵۶ نمبر آیات کې په ډیر وا ضح ډول په پوستکې کې د پین ریسیپټر د موجودیت په باره کې فرمایې!اِ نَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ

بِـَٔايَـٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَـٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا (٥٦)

بیشکه هغو خلکو چه زمونږ د آیاتونو نه یې انکار کړیدی.ډیر زر به یې په اور کې واچوو.کله چه د هغوي د بدن پوستکې وسوځول شي.نو د هغوي(یعني سوځول شوو پوستکو) په ځای به نور پوستکې ورکړو.چه د عذاب خوند ښه وڅکي.بیشکه الله ډیر زورور دی.او د خپلو فیصلو د عملی کولو په حکمت ډیر ښه پوهیږي.

پروفیسر تَګِتَت تی اِیسن چه په تایلینډ کې د چَینګ مَی په یونیورسیټی کې د اناتومی د ډیپارمینټ چیرمین ؤو.نوموړی د ژوند ډیره برخه د پین ریسیپټرز په ریسرچ او تحقیق کې تیره کړي وه.په اول کې هغه بالکل په دي یقین ونه کړو چه ۱۴۰۰ کاله پخوا دي قرآن دا ساینسي حقیقت ذکر کړې وي.خو وروسته یې بیا ددي مبارک آیات په باره کې ډیر تحقیق او ریسرج وکړ او بالآخره ورته معلومه شوه او ویې منله چه واقعاً دا ساینټیفیک فَکټ ۱۴۰۰ کاله مخکې په قرآن کې ذکر شوی دی او په ریاض کې په یو طبي کانفرینس کې یې د

سلهاو خلکو په مخکې اقرار وکړ چه: لااله الاالله محمدرسوالله. و ماعلینا الاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

•

## الدرس(۳۷)

# په قرآنکریم کی ریاضیاتی معجزې

# په اولنۍ او وروستنی وحي کی د ۱۹ نمبر محافظوي رول(اوله برخه)

# Mathematical Miracles of Quran Part 1

په قرآنکریم کې د ریاضی یا حساب داسي یو محافظوي او سیکېوریټي سیستم موجود دی چه دانسان د عقل او استعداد نه ډیر زیات اوچت دی او دا دومره قوي سیستم دی چه: که چیرته په قرآنکریم کې یو حرف،لفظ یا لغات او یا یو آیات د خپل ځای نه بیځایه شي او یا د قرآنکریم نه وویستل شي او یا په قرآنکریم کې اضافه شي،نو ددي سیستم پواسطه غلطي سمدستي نیول کیږي.یا په بل عبارت قرآنکریم کوډیډ یا کوډ شوي کلام دی.چه کونجیګاني او کوډز یې دوه حسابي نمبرونه دي چه یو ۷ او بل ۱۹ دی .اګر چه د شروع او مثالونو د ورکولو نه مخکې شاید تاسو څما په خبرو پوه نشئ خو لږ وروسته به ان شأالله په مثالونو کې پوه شئ .اصلاً ددي سیستم د کار طریقه داسي ده چه په قرآنکریم کې څني شیان داسي تکراریږي

يا داسي حساب راځي چه په ۱۹ او يا ۷ باندي پوره پوره تقسيميږي يعني هيڅ شي باقي نه پاتي کيږي.اوس

د ۱۹ نولسم نمبر محافظوي رول په قرآنکريم کي ګورو:

دا نمبر د سورت المدثر په ۳۰ نمبر آيات کي ذکر شويدی( عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ )لفظی ترجمه يې دا ده چه: په هغی باندي نولس.---علمأ کرام ددي تشريح داسي کوي چه په دوزخ 19 محا فيظی او پيره داري فريشتی مقرري شويدي.

اول- په اولنی او آخرنی وحې.کې د 19 نولسم نمبر محافظوي رول مطالعه کوو.

..اولنی وحي چه نازل شويده هغه د سورت العلق اولني ۵ ايتونه دي چه په غارحرا کي په پيغمبر ع نازل شوي دي ! ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ (١) خَلَقَ ٱلْإِنسَـٰنَ مِنْ عَلَقٍ (٢) ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ (٣) ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ ٱلْإِنسَـٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥)

دا سورت د آخر د خوانه د ۱۹ نولسم نمبر سورت دی يعني که دسورت الناس نه مخ په

شاه راشو مثلاً سورت الناس اول، سورت الفلق دوهم نو سورت العلق 19 نمبر راځي چه دا نمبر په 19 پوره پوره تقسیمیږي 1=19/19

2—

په قرآن کې ټول ۱۱۴ سورتونه دي نو که د سورت العلق د آخر د خواڅخه نمبر(د سورت الناس د خوانه) یعني ۱۹ د ۱۱۴ نه منفی یا کم شي ۹۵ پاتي کیږي کوم چه په ۱۹ باندي پوره پوره تقسیمیږ ی.۱۱۴-۱۹=۹۵ ۹۵/۱۹=۵

3—په دي 5 ایتونو یا اولنۍ وحې کې ۱۹ الفاظ یا لغاتونه یا وړه دي.

کوم چه په 19 باندي پوره پوره تقسیمیږي.

19/19=1

لاندي یې وګورئ

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اقْرَأْ -1 | بِاسْمِ –2 | رَبِّكَ –3 | الَّذِي -4 | خَلَقَ –5 | خَلَقَ –6 | الْإِنسَانَ -7 |
| مِنْ –8 | عَلَقٍ -9 | اقْرَأْ -10 | وَرَبُّكَ -11 | الْأَكْرَمُ - 12 | الَّذِي -13 | عَلَّمَ -14 |
| بِالْقَلَمِ -15 | عَلَّمَ -16 | الْإِنسَانَ -17 | مَا لَمْ -18 | يَعْلَمْ -19 | ټول 19 الفاظ یا لغتونه دی مثلاً اقرأ یولفظ باسم بل لفظ او په پینځه وارو ایاتونو کی ټول 19 الفاظ یا لغاتونه جوړېږی | تاسو کولای شی چه پخپله هم یې وشماری |

**4**—او همدارنګه په اولنۍ وحې کې یا د سورت العلق په اولنیو پینځه آیاتونو کې ټول ۷۶ حروف یا لیټرز دي مثلاً اقرأ 4 حروف،باسم 4 حروف ربِّک 3 حروف او په همدي ترتیب د ټولو پینځه آیاتونو حروف 76 کیږي کوم چه په ۱۹ باندي پوره پوره تقسیمیږي 4=76/19

5--کله چه قرآنکریم تکمیل شو ، د سورت العلق ۱۴ نور ایتونه هم نازل شو نو د ټول سورت د ایتونو تعداد پینځه جمع څوارلس یعني ۱۹ شو کوم چه په 19 باندي پوره پوره تقسیمیږي 1=19/19
6-- او د ټولو نولس ایتونو د حروفو تعداد ۲۸۵ دي کوم چه په ۱۹ باندي پوره تقسیمیږي ۱۵=۲۸۵/۱۹

اوس د وروستنې وحې په باره کې چه د النصر سورت دي خبري کوو. إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (1) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (2) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| إِذَا حروف -3 | جَاءَ حروف -3 | نَصْرُ حروف -3 | اللَّهِ حروف -4 | وَالْفَتْحُ حروف -6 |
| وَرَأَيْتَ | النَّاسَ | يَدْخُلُونَ | فِي | دِينِ |
| اللَّهِ | أَفْوَاجًا | فَسَبِّحْ | بِحَمْدِ | رَبِّكَ |
| وَاسْتَغْفِرْهُ | إِنَّهُ | كَانَ | تَوَّابًا | په ټولو ایاتونو کی د الفاظو تعداد 19دي او په اول ایات کی د حروفو تعداد 19 دي |

په آخرنۍ وحې کې هم کتل کیږي ( پاس جدول کې یې وګورئ) چه: 1-- د الفاظو یا لغاتو تعداد یې ۱۹ دي کوم چه په 19

باندي پوره پوره تقسیمیږي 19/19= 1،
2 ----او په اول ایت. إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ کې د حروفو تعداد ۱۹ دي.کوم چه په 19 باندي پوره تقسیمیږي. 1=19/19.

3---سورت النصر یا وروستنۍ وحې د سر د خوانه (د سورت الفاتحه د خوا نه) 110 یو سل او لسم سورت دي ،او 3 ایتونه دي که بسم الله ورسره حساب شي نو 4 ایتونه کیږي،نو که چیرته د سورت نمبر او د سورت ایتونه سره جمع شي نو د قرآنکریم د ټولو سورتونو تعداد پلاس راځي چه 114 دي کوم چه په 19 پوره پوره

تقسیمیږي ۱۱۴=۴+۱۱۰.

۶=۱۱۴/۱۹

ډیره حیرانونکې ده چه اولنۍ وحې چه د سورت العلق اولني 5 ایتونه دي هم 19 لغاتونه یا وړېز دي او په 19 باندي پوره تقسیمیږي ،او آخرنۍ وحې چه د سورت النصر دري ایتونه دي او 23 کلونه د اولنۍ وحې نه وروسته نازل شوي دي هم 19 لغاتونه یا وړېز لري او په 19 باندي پوره تقسیمیږي.

الدرس(۳۸)

# په قرآن کریم کی د ریاضیاتی معجزو دوهمه برخه

# په بسم الله کې د ۱۹ نمبر محافظوي رول

د بنه پوهیدو دپاره باید په قرآنکریم کې د ریاضیاتی معجزو اوله برخه مطالعه کړئ چه په اولنې او آخرنې وحې کې د نولسم (۱۹)نمبر د محافظوي رول څخه بحث کوي،وموليدل چه په اولنۍ وحې کې(د سورت العلق اولني پينځه آياتونه) هم د الفاظو يا لغتونو تعداد نولس(۱۹) دي،او په وروستني وحې کې (د سورت النصر دري آياتونه)هم د الفاظو يا لغاتونو تعداد ۱۹ دي ، چه هر يو په نولسو پوره پوره تقسيميږي.اوس په دوهمه برخه کې د نولسم نمبر(۱۹) محافظوي يا سيکيوريتی رول په بسم الله کې مطالعه کوو .

په بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ کې د حروفو تعداد ۱۹ دي کوم چه په ۱۹ نولسو پوره پوره تقسيميږي.۱=۱۹/۱۹

يعني ١٩ چه په ١٩ باندي تقسيم شي جواب يې ١ دي

په قرآنكريم كې ټول ١١۴ سورتونه دي،د هر سورت په شروع كې بسم الله شته،خو د نهم سورت يا سورت التوبه په شروع كې بسم الله نشته.مګر د ٢٧ اويشتم سورت يا سورت النمل په منځ كې يوه اضافه بسم الله راغلي ده،إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿30﴾ چه په دي حساب سره د بسم الله تعداد په قرآن كريم كې ١١۴ دي كوم چه په ١٩ باندي پوره پوره تقسيمېږي او يا د ١٩ حاصل ضرب دي ١٩٪١١۴= ۶

كه د اويشتم سورت نه په كوم كې چه دوه بسم الله دي كه مخ په شاه راشو يعني د سورت الفاتحه خواته وبه ګورو چه نهم سورت يا سورت التوبه د كوم په شروع كې چه بسم الله نشته نولسم نمبر دي ،كوم چه په ١٩ پوره پوره تقسيمېږي.19=19*1

27-26-25-24-23-22-21-20-19-18-17-16-15-14-13-12-11-10-9

ګورو چه د ٢٧ اويشتم نه د ٩ نهم نمبر پورې ١٩ راځي كوم چه په ١٩ نولسو پوره پوره تقسيمېږي.

۱۹٪۱۹=۱.

بله دا چه په بسم الله الرحمن الرحیم کې ځلور لغاتونه یا الفاظ یا وړېز دي.اول بسم دویم الله دریم الرحمن ځلورم الرحیم ،په ټول قرآنکریم کې بسم یعني اسم ۱۹ کرته راغلي .کوم چه په ۱۹ پوره پوره تقسیمیږي.

۱۹٪۱۹=۱--- --- جواب یعني ۱۹ چه په ۱۹ تقسیم شي جواب یې یو دي .

همدارنګه د الله لفظ په قرآن کریم ۲۶۹۸ واري راغلي کوم چه په ۱۹ باندي پوره پوره تقسیمیږي .

۱۹٪۲۶۹۸=۱۴۲......... جواب

همدارنګه د الرحمن لفظ په قرآنکریم کې ۵۷ ځله راغلي دي کوم چه په ۱۹ باندي پوره پوره تقسیمیږي..

۱۹٪۵۷=۳.................جواب

همدارنګه رحیم 94 کرته او رحیما 20 کرته په قرآنکریم کې راغلي دي چه مجموعه یې 114 کیږي کوم چه په ۱۹ باندي پوره پوره تقسیمیږي

۲۰+۹۴=۱۱۴

۱۹٪۱۱۴=۶............ جواب

همدارنګه ډبل سیکوریټی سیستم هم موجود دی.که ددي څلور الفاظو یا لغاتونو یا وړوکو جوابونه سره جمع کړو ،وبه ګورو چه جواب یا حاصل جمع یې په 19 باندي پوره پوره ویشل کیږي...

مثلاً د بسم د لفظ جواب 1 دي ،د الله د لفظ جواب 142 دي،د الرحمن د لفظ جواب 3 دي او د الرحیم د لفظ جواب 6 دي .که دا ټول جوابونه سره جمع کړو نو حاصل جمع یا جواب یې باید په19 باندي پوره تقسیم شي .په لاندي ډول

۱(بسم)+۱۴۲(الله)+۳(الرحمن)+۶(الرحیم)=۱۵۲

۱۹٪۱۵۲=۸

ګورو چه د څلور واړو جوابونو مجموعه ۱۵۲ ده کوم چه په 19 پوره پوره تقسیمیږي .فرضاً که په قرآنکریم کي د الله یا الرحمن یا الرحیم د الفاظو نه یو لفظ کم یا زیات شي او یا یو لفظ په بل لفظ بدل شي مثلاً که د الله په ځای رب ولیکل شي نو سمدستي د ریاضیاتی سیستم پواسطه نیول کیږي

،او معلومیږي چه یو حرف یا لفظ د خپل ځای نه یا بي ځایه شوي دی او یا د قرآنکریم نه کم شوي او یا زیات شوي دی.

مثلاً که د الرحمن په ځای بل لفظ ولیکل شي او یا د قرآن کریم نه یو الرحمن کم یا زیات شي نو بیا یې د الفاظو تعداد په 19 باندي پوره پوره نه تقسیمیږي .پوهیږو چه دالرحمن د لفظ تعداد ۵۷ دي فرضاً که یو کم شي نوتعداد به یې۵۶ شي کوم چه بیا په 19 پوره نه تقسیمیږي.یعني د قرآنکریم محافظوي او سیکوریټی سیستم دومره قوي دی چه په قرآن کریم کې حتی د یو حرف د غلطۍ امکان هم نشته چه وروسته به واضح شي.مخکې ددي نه چه وړاندي لاړ شو اول د ابجد په حساب یو څه خبري کوود قرآنکریم د نزول نه پخوا په عربو کې دا حساب موجود ؤو او اوس هم موجود دی. په عربي ژبه کې هر حرف یو نمبر یا قیمت لري،مثلاً د الف قیمت یو(۱)د بي(ب) قیمت دوه(۲)د ثی(ث)قیمت دري(۳)دي په همدي ډول د عربي ژبي ټول ۲۸ حروف هر یو خپل خپل قیمت لري، نو که په یو لفظ یا لغت یا جمله کې د حروفو په ځای د هغوي قیمتونه کیږدو او سره یې جمع کړو نو کوم حسابي قیمت چه منځ ته راځي نو د هغی

لفظ یا لغت یا جملی د ابجد په حساب قیمت دي او په بعضی وختو کې لیکل کیږي هم مثلاً تاسو به لیدلي وي چه بعضی خلک د بسم الله الرحمن الرحیم په ځای 786 لیکي

اوس راځو خپلي موضوع ته .په قرآنکریم او حدیثو کې چه څومره د الله تعالی صفتی نومونه دي ،په دي ټولو کې صرف څلور نومونه داسي دي چه د ابجد په حساب سره یې قیمت داسي راځي چه په 19 باندي پوره تقسیمیږي.هغه صفتی نومونه په لاندي ډول دي..

-اول-واحد -چه د ابجد په حساب سره یې قیمت یا نمبر 19 دي

دوهم --ذُالفَضلِ العظیم- چه د ابجد په حساب سره یې قیمت۲۶۹۸ دی

دریم--مجید---چه د ابجد په حساب سره یې قیمت ====۵۷ دی -

څلورم -جامع -چه د ابجد په حساب سره یې قیمت = ۱۱۴ دی

ددي څلور نومونو نه په غیر د الله تعالی په نومونو کې بل نوم داسي نشته چه د ابجد په حساب یې چه

کوم نمبر یا قیمت راځي هغه دي په 19باندي پوره پوره تقسیم شي.دلته لږ ښه متوجه شئ.ډیره حیرانونکې ده ،په معجزانه ډول چه د الله ددي څلور نومونو کوم قیمتونه یا نمبرونه چه د ابجد په حساب راوتی دي ،هو بهو هماغه قیمتونه یا نمبرونه دي کوم چه په قرآنکریم کې:د بسم الله الرحمن الرحیم د څلورو الفاظو یا لغاتونو په قرآنکریم کې د تکراریدلو دي.یعني

اول-

د بسم الله اول لفظ چه اسم دي په قرآنکریم کې ۱۹ کرته ذکر شویدي ،حال دا چه د ابجد په حساب د واحد قیمت هم ۱۹ دي

دوهم -

د بسم الله دوهم لفظ چه الله دي په قرآنکریم کې ۲۶۹۸ کرته ذکر شویدي ، حال دا چه د ابجد په حساب د ذُالفضل العظیم قیمت هم ۲۶۹۸ دي

دریم-

د بسم الله دریم لفظ چه الرحمن دي په قرآنکریم کې ۵۷ کرته ذکر شویدي،حال دا چه د ابجد په حساب د مجید قیمت هم ۵۷ دي څلورم

د بسم الله څلورم لفظ چه الرحيم دي په قرآنکريم کې ۱۱۴ کرته ذکر شوي دي،حال دا چه د ابجد په حساب د جامع قيمت هم ۱۱۴ دي

: که ښه په غور سره ځېر شو کتل کيږي چه

ټول قيمتونه په 19 باندي پوره پوره تقسيميږي،او که حاصل تقسيم يا جوابونه يې جمع شي نو حاصل جمع يې هم په 19باندي پوره پوره تقسيميږي.

اول—۱۹٪۱۹=۱ ............جواب

دوهم-۲۶۹۸٪۱۹=۱۴۲.......جواب

دريم-۵۷٪۱۹=۳ .............جواب

څلورم-۱۱۴٪۱۹=۶ .........جواب

اوس که د ټولو جوابونه سره جمع کړو نو حاصل جمع يې هم بايد چه په ۱۹ نولسو باندي پوره پوره تقسيم شي.په لاندي ډول

۶+۳+۱۴۲+۱=۱۵۲....... د پاس څلور جوابونو حاصل جمع چه دا هم بايد په ۱۹ نولسو پوره پوره تقسيم شي په لاندي ډول

۱۹٪۱۵۲=۸.........ګورو چه د ټولو جوابونو حاصل جمع هم په ۱۹ نولسو پوره پوره تقسيميږي.

بل حقیقت.

په قرآنکریم کې یو څه حسابي اعداد او شمار ذکرشویدي،لکه 100،10،2،1 و غیره خو دلته هر حسابي عدد صرف یو ځل حسابیږي که څه هم په قرآنکریم کې څو کرته تکرار راغلي وي،نو که مونږ دا ټول حسابي اعداد د یو ځل دپاره ولیکو او ټول سره جمع کړو .نو حاصل جمع به يې په 19پوره پوره تقسیمیږي

1+2+3+4+5+6+7+8+9+10+11+12+19 +20+30+40+50+60+70+80+99+100+ 200+300+1000+2000+5000+50000 100000

د دي ټولو حاصل جمع 162146

که په19 نولسو يې تقسیم کړو نو پوره پوره تقسیمیږي په لاندي ډول

۸۵۳۴=۱۶۲۱۴۶٪۱۹

ډکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۳۹)

# په قرآنکریم کی د ریاضیاتی معجزو دریمه برخه

# د ۱۹ نولسم نمبر محافظوي رول په حروف مقطعاتو کی

حروف مقطعات د 29 سورتونو په شروع کې راغلي دي.ټول 14 سيټونه دي مثلاً الم يو سيټ حم بل سيټ ن بل سيټ ،ځني سيټونه د څو سورتونو دپاره هم راغلي دي،لکه الم چه د شپږ سورتونو په شروع کې راغلي دي،د عربي حروف تهجی يا د عربي د ژبي حروف 28 دي خو د مقطعاتو په 14 سيټو کې صرف 14 حروف استعمال شوي دي .

---- يعني د 29سورتونو په شروع کې حروف مقطعات راغلي

---- -------------------------حروف مقطعات 14 سيټونه دي حروف تهجی چه په مقطعاتو کې استعمال شوي صرف ۱۴ دي .اوس که دا ټول سره جمع کړو،

ددي ټولو حاصل جمع 57 کيږي کوم چه په 19 باندي پوره تقسيږي،په لاندي ډول

۲۹ +د سورتونو تعداد چه په سر کي يې مقطعات راغلي دي

۱۴ +د حروف مقطعاتو د سيټونو تعداد

۱۴ +حروف تهجي چه په حروف مقطعاتو کي استعمال شوي دي

---

۵۷ د ټولو حاصل جمع کوم چه په ۱۹ پوره پوره تقسيميږي

۳=۵۷٪۱۹

---

بل پاينټ

حروف مقطعات د دويم سورت يا سورت البقره نه شروع کيږي ،او د68 سورت يا سورت القلم نه وروسته د 114 سورت يا سورت الناس پورې نور نشته ،ګورو چه د دويم سورت نه د ۶۸ اتشپيتم سورت پورې د سورتونو تعداد 67 کيږي،

پوهيږو چه د کومو سورتونو په سر کې چه مقطعات راغلي دي 29 دي نو که دا 29 سورتونه

د ټولو سورتونو يعني 67 نه منفی کړو نو 38 پاتي کيږي کوم چه په 19 باندي پوره تقسيميږي.

١٩٪٣٨=٢ کوم سورتونه چه په شروع کې يې حروف مقطعات نشته په ١٩ پوره تقسيم شو.

بل

په قرآن کې دوه سورتونه داسي دي چه د هغوي په مقطعاتو کې ق موجود دي، يو 50 پنځوسم يا سورت ق دي----- ق ۚ وَالْقرآن الْمَجِيدِ ﴿١﴾ او بل 42 دوه څلويښتم سورت يا سورت الشوري حم ﴿١﴾ عسق ﴿٢﴾ كَذَٰلِكَ يُوحِي إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ اللَّـهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣﴾

که په دي دوه سورتونو کې غور وکړو څو حيرانوونکي حقيقتونه پکې ليدل کيږي.

اول-سره ددي چه دواړه سورتونه يو د بل نه لري او د يو ايتونه د بل نه زيات هم دي مګر که د ق حروف په دواړو سورتونو کې وشمارو په هر سورت کې يو برابر د ق حروف استعمال شويدي يعني 57 قافونه په 50 سورت کې او 57 قافونه په

42 سورت کې استعمال شويدي. کوم چه په 19 باندي پوره پوره تقسيمېږي

۳=۵۷٪۱۹

دوهم---

په 50 سورت کې 45 ايتونه دي،که د سورت نمبرونه او د ايتونو تعداد سره جمع شي نو حاصل جمع يې 95 کېږي کوم چه په 19 پوره پوره تقسيمېږي

۵۰ + د سورت نمبر

۴۵ +په پنځوسم سورت کې د آياتونو تعداد

۹۵=د سورت د نمبر او د سورت د آياتونو حاصل جمع

۵=۹۵/۱۹

دريم

په ۴۲ دوه څلويښتم نمبر سورت کې د ايتونو تعداد 53 دي ،که دلته هم د سورت نمبر او د سورت د ايتونو تعداد يې سره جمع شي حاصل جمع يې 95 کېږي کوم چه به 19 پوره تقسيمېږي په لاندي ډول

۴۲. + په قرآنکريم کې د سورت نمبر

۵۳+ په دوه څلويښتم ۴۲ نمبر سورت کې د آياتونو تعداد

---

۹۵= د سورت د نمبر او د سورت د آياتونو حاصل جمع

په ۱۹ نولسو پوره پوره تقسيميږي په لاندي ډول

۵=۹۵٪۱۹

---

څلورم---

که د ۵۰ پنځوسم سورت يا سورت ق د قافونو تعداد چه 57 دي د 42 دوه څلويښتم سورت ياسورت الشوري د قافونو د تعداد سره چه دا هم 57 دي جمع شي نو د قرآن کريم د ټولو سورتونو مجموعی تعداد راکوي يعني 114 کوم چه په 19 باندي پوره تقسيميږي

۵۷ +د ۵۰ پنځوستم سورت يا سورت ق د ټولو قافونو تعداد

۵۷ +د ۴۲ دوه څلويښتم سورت يا سورت الشوري د ټولو قافونو تعداد

---

۱۱۴ =د ۵۰ او ۴۲ یا د سورت ق او سورت الشوري د سورتونو د

قافونو مجموعی تعداد

۶=۱۱۴٪۱۹

آیا دا چانس او اتفاق دی که د ټولي دنیا ادیبان راجمع شي آیا داسي یو ډیروړوکی کتاب به ولیکې چه په هغی کې دي داسي حسابي نظام موجود وي چه د استعمال شوو حروفو او لغاتونو تعداد او موقیعت دي هم معلوم وي او په موضوع او مطلب کې دي هم تغیر رانشي هر څوک په دي پوهیږي چه په غیر د الله نه د بل هر چا لپاره دا کار نا ممکنه دي ، مګر بیا هم چه څوک انکار کوي ،الله تعالی ته هیڅ ضرر نشي رسولای ،بلکه خپل ځان ته ضرر رسوي او په خپل نفس او ځان ظلم کوي.وما علیناالاالبلغ المبین

محمد عثمان نظامی

الدرس(۴۰)

# په قرآنکریم کی د ریاضیاتی معجزو څلورمه برخه

# د لمونځ په رکعتونو،ارکانو او ترتیب کی د۱۹ نولسم نمبر محافظوي رول

# Mathematical Miracles of Quran Part 4

اول-

دلته صرف د فرض لمونځ په رکعتونو بحث کیږي.که د 5 وخته لمونځ د رکعتونو تعداد څنګ په څنګ ولیکو او د عددونو تر منځ فاصله یا ګَیف د منځه ویسو نو کوم عدد چه لاس ته راځي هغه په 19 نولسو پوره پوره تقسیمیږي.

د سحر-2 رکعته د ماسپښین 4 رکعته د مازدیګر 4 رکعته د ماښام 3 رکعته د ماسختن 4 رکعته اوس دا ټول یو د بل په څنګ کې په ترتیب سره لیکو او د منځ فاصله یې ختموو.24434 چه د منځ فاصله یې ختمه شي نو د څلورویش زره او څلور سوه

څلوردیرش عدد لاس ته راغی،کوم چه په 19 پوره پوره تقسیمیږي.

۱۹٪۲۴۴۳۴=۱۲۸۶ جواب

اوس که ددي جواب یعني 1286 هر عدد یو د بل سره جمع کړو د 5 وخته لمونځونو د رکعتونو تعداد په لاس راځي

17=6+8+2+1د 5 لمونځونو د رکعتونو تعداد.

دوهم-که د رکعتونو سره وختونه هم ولیکو او فاصله یا ګیف تري وباسو کوم حسابي عدد چه لاس ته راځي هغه په 19 باندي پوره پوره تقسیمیږي،مثلاً د سحر اول لمونځ او دوه رکعته دی دا سي یې لیکو،21 او ماسپښین داسي لیکو 42 چه مطلب دا دي چه د سحر دوه رکعتته او اول لمونځ،او د ماسپشین 4 رکعته او دویم لمونځ په همدي ترتیب د ماسختن یا 5 لمونځ پورې ټول لیکو او فاصله یې ختموو ، نو کوم حسابي عدد چه په لاس راځي په 19 پوره تقسیمیږي

| | | | |
|---|---|---|---|
| عشأ | مغرب | عصر | ظهر |
| فجر | | | |

۳ ۴ ۲ ۴ ۱ ۲

۵ ۴ ۴ ۳

چه د منځ ګیپ یا فاصلي یې ختمی کړو نو په لاندي ډول یې لیکو

۲۱۴۲۴۳۳۴۴۵

اوس یې په ۱۹ تقسیموو نو وبه ګورو چه پور پوره تقسیمیږي

۱۹٪۲۱۴۲۴۳۳۴۴۵=۱۱۲۷۵۹۶۵۵ ما تقسیم کړي تاسو هم کولای شئ چه تقسیم یې کړئ

دریم ــــپوهیږو چه هره ورځ د رکعتونو تعداد 17 دي،او د جمعی د ورځې د رکعتونو تعداد 15 دي ځکه چه د جُمعي په ورځ د ماسپښین 2 رکعته دي،نو که د هري ورځ د رکعتونو تعداد د شنبي نه شروع کړو او په ترتیب سره یې ولیکو او فاصله یې ختمه کړو کوم حسابي شمیره چه لاس ته راځي هغه په 19 باندي پوره پوره تقسیمیږي

۱۵جمعه ۱۷ پنجشنبه ۱۷چارشنبه ۱۷ سیشنبه ۱۷ دوشنبه ۱۷ یکشنبه ۱۷ شنبه

اوس که د عددونو د منځ فاصلي یا ګَیپ ختم کړو نو کومه حسابي شمیره چه منځ ته راځي هغه په ۱۹ نولسو پوره پوره تقسیمیږي

۹۰۳۷۷۴۵۸۷۹۸۵=۱۷۱۷۱۷۱۷۱۷۱۷۱۵٪۱۹

ځلورم---

که د هري ورځ د رکعتونو تر مخه د ورځو نمبرونه ولیکو مثلاً د شنبي په ځای یو د یکشنبي په ځای دوه د دوشنبي په ځای ۳ د سیشنبي په ځای ۴ د چارشنبي په ځای ۵ د پنجشنبي په ځای ۶ او د جُمعی په ځای ۷ ولیکو او د حسابي اعدادو تر منځ فاصله ختمه کړو نو کومه شمیره چه لاس ته راځي په 19 باندي پوره پوره تقسیمیږي

۱ ۵ ۷ جمعه۷ ۱ ۶ پنجشنبه ۷ ۱ ۵ چارشنبه ۷ ۱ ۴ سیشنبه ۷ ۱ ۳ دوشنبه ۷ ۱ ۲ یکشنبه ۷ ۱ ۱ شنبه

اوس که د حسابي اعدادو تر منځ فاصلي ختمی شي نو کومه شمیره چه لاس ته راځي په ۱۹ باندي پوره تقسیمیږي

۶۱۶۹۳۳۲=۱۱۷۲۱۷۳۱۷۴۱۷۵۱۷۶۱۷۷۱۵٪۱۹
۴۹۵۶۵۸۸۲۱۹۸۵

پینځم-

مخکې مو شنبه اوله ورځ نیولي وه اوس د جُمعی ورځ اوله نیسو،او د هري ورځ نمبر او د رکعتونو تعداد د مخکې ترتیب پشان لیکو د فاصلو د ختمیدو وروسته چه کومه شمیره په لاس راځي په 19 باندي

پوره پوره تقسیمیږي

۱ ۷ ۷ پنجشنبه ۱ ۷ ۶چارشنبه ۱ ۷ ۵ سیشنبه ۱ ۷ ۴ دوشنبه ۱ ۷ ۳

یکشنبه ۱ ۷ ۲ شنبه ۱ ۵ ا جمعه

اوس که د حسابي اعدادو تر منځ فاصلي ختمی شي کومه شمیره چه لاس ته راځي

په ۱۹ پوره بوره تقسیمیږي

۶۰۶۴۰۶۹=۱۱۵۲۱۷۳۱۷۴۱۷۵۱۷۶۱۷۷۱۷٪۱۹

۳۳۷۷۶۴۰۸۵۱۴۳

شپږم---قیام رکوع سجده او تشهد د لمانځه ارکان دي،که د هر لمونځ نمبر او ارکان په ترتیب سره ولیکل شي ،یعني اول د لمونځ نمبر بیا د قیام تعداد بیا د رکوع بیا د سجدي او بیا د تشهد تعداد په ترتیب سره ولیکل شي،او په ترتیب سره یو د بل په څنګ کې کېښودل شي او د حسابي اعدادو تر

منځ فاصلي ختمی شي او څنګه چه د پينځه واړو لمونځونو په هر رکعت کې سورت الفاتحه تلاوت کيږي نو سورت الفاتحه د ټولو لمونځونو دپاره صرف يو کرت حسابيږي يعني تکرار تکرار نه حسابيږي. نو په دي ترتيب چه کومه شميره لاس ته راځي په 19 باندي پوره پوره تقسيميږي ،مثلاً د فجر د لمونځ نمبر اول دي او دوه قيام دوه رکوع څلور سجدي او يو تشهد پکې دي نو په دي ترتيب يې ليکو .۱ تشهد۴ سجدي ۲ رکوع ۲ قيام ۱ دلمونځ نمبر

که تر منځ فاصلي ختمی کړو نو داسي يې ليکو. ۱۲۲۴۱

په همدي ترتيب د ماسپښين لمونځ داسي ليکو. ۲۴۴۸۲

========د مازديګر لمونځ داسي ليکو. ۳۴۴۸۲

========د ماښام لمونځ داسي ليکو . ۴۳۳۶۲

===د ماسختن يا د عِشأ لمونځ داسي ليکو ۵۴۴۸۲

مخکې مو وویل چه سورت الفاتحه د ټولو لمونځونو دپاره صرف یو کرت لیکل کیږي یعني یو (۱) لیکل کیږي او په ترتیب سره د ټولو لمونځونو نمبرونه او ارکان د چپ نه ښی خواته په ترتیب سره لیکل کیږي ،نو په دي ترتیب چه کوم حسابي شمیره منځ ته راځي هغه په ۱۹ نولسو باندي پوره پوره تقسیمیږي ،په لاندي ډول

۱۱۲۲۴۱۲۴۴۸۲۳۴۴۸۲۴۳۳۶۲۵۴۴۸۲٪۱۹
=۵۹۰۷۴۳۳۹۳۸۰۷۶۲۲۳۳۳۷۸۷۰۷۸

باید ووایو چه دلته ډیر یو لوي حقیقت ته اشاره شوي ده،او هغه دا دی چه په پینځه وخته لمانځه کې چه د هر وخت د لمانځه څومره رکعتونه او څومره ارکان او د هغوي ترتیب او تعداد دي،دا ښکاره چه دي 100فیصده همداسي صحیح دي،ځکه که په یو لمونځ کې یو رکعت یا رکن کم یا زیات شي او یا یې ترتیب او تعداد کې معمولي شان تغیر راشي مثلاً که د سحر لمونځ 3 رکعته شي او د ماښام 2شي یا د مازدیګر3رکعته شي یا د ماسختن 3 یا 2 شي،یا سجدي یوه یا 3 شي یا اول رکوع او بیا قیام شي یعني که د هر وخت د لمانځه د رکعتونو په تعداد او ترتیب او ارکانوکې ډیر معمولي فرق

هم راشي نو دا محافظوي حسابي سیستم سمدستي وايې چه يا د رکعتونو او ارکانو تعداد او يا يې ترتيب صحيح نه دي او هيڅکله به هم لږ مخکې ذکر شوي شميري په 19 پوره پوره تقسيم نشي.بله ډيره مهمه خبره دا ده چه دا حسابي سيستم زمونږ د پينځه وخته لمونځونو د رکعتونو او ارکانو د تعداد او ترتيب تصديق کوي چه بالکل ۱۰۰ فيصده صحيح او هم هغسي دي لکه څنګه چه د پيغمبر عليه السلام او صحابه کرامو رض په وخت کې ؤو،او د يو رکعت زياتوالی،کموالی او بي ترتيبي نه مني ،او دهغو خلکو رد کوي ،چه د پيغمبر ص احاديث نه مني او ځانو ته اهل القرآن وايې او وايې چه په دين کې حديثو ته ضرورت نشته او مونږ هره مسئله د حديثو د کمک نه په غير د قرآن نه راوباسو.پوهيږو چه قرآنکريم کې د لمانځه حکم راغلي دي خو نوره تشريح خو پيغمبر ص کړيده مثلاً پينځه وخته لمونځ او وختونه يې رکعتونه ارکان وغيره ،نو هغه خلک چه ځان ته اهل القرآن وايې دوي ته معلومه نه ده چه څو وخته لمونځ او په هر وخت کې څو رکعته او په څه ترتيب يې وکړي بس د خپل ځانه دلمانځه رکعتونه وختونه فرض او سنت جوړوي

خو په قرآنکريم کې چه کوم رياضياتی سيستم دي هغه صرف د لمانځه هغه طريقه او ترتيب،وختونه او د هر وخت رکعتونه ارکان او نور مني او صحت يې ثابتوي کوم چه د پيغمبر ص او صحابه کرامو نه پاتي دي او د صحيح احاديثو نه ثابت دي،او د هغو ټولو خلکو طريقي چه احادث نه مني او د ځانه نوي طريقي جوړوي،ددي رياضياتی سيستم پواسطه رد او غلطي ثابتيږي.

و ما علينا الاالبلغ المبين

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۴۱)

## د ملحدينو معبود

## او په کائناتو کی د الله تعالی آياتونه

که په کائناتو کې غور او فکر وشي ټول کائنات د الله د ايتونو او نښو نه ډک دي، په ځمکه کې ژوند موجود دی،خو د ژونديو موجوداتو خصوصاً د انسان د بقأ دپاره ډيرو شيانو ته ضرورت دی ،چه په غير ددي شيانو د موجوديت نه ژوند بقا او دوام نشي کولای،مثلاً ددي دپاره چه انسان ژوندي پاتي شي،هوا ته ضرورت لري،خو ګورو چه د ځمکې په مخ په هر ځای کې پريمانه هوا موجود ده ،همدارنګه د انسان د ژوند د بقا دپاره اوبو ته ضرورت دی،خو ګورو چه په ځمکه کې پريمانه اوبه موجود دي.همدارنګه ددي دپاره چه انسان ژوندي پاتي شي غذايي موادو ته ضرورت لري،خوګورو چه په ځمکه کې پريمانه غذايي مواد موجود دي.انسان د اوسيدلو دپاره ځای ته ضرورت لري ،خو ګورو چه په ځمکه کې د

اوسیدلو دپاره ټول شیان او شرایط برابر دي،انسان د ژوند د بقا دپاره د حرارت نارمل درجی یا نارمل ټیمپریچر ته ضرورت لري،خو ګورو چه سره ددي چه د ځمکې په مرکز یا اینر کور کې او د لمر په سطحه حرارت یا ټیمپریچر تقریباً ۶۰۰۰ ډیګري دی،مګر بیا هم د ځمکې په مخ د حرارت درجه نارمل ده.همدارنګه که د ځمکې د مدار نه دباندي اوځو او د سپیس خواته لاړ شو،وبه ګورو چه هر شی د ژوند دپاره خطرناک او وژونکی دی ،مثلاً سولر بادونه ،راډیو اکټیو تشعشعات،د خلا یا سپیس منفی ۲۷۰ درجی یخني،په زرهاو زرهاو غټی او وړی تیږي او نوري ډیري خطرناکې او وژونکې شعاګاني که ځمکې ته راشي نو ژوند به ختم شي،نو د انسان د ژوند د بقا دپاره ضرور ده چه ځمکه د سپیس یا فضأ د آفتونو نه وساتل شي خو ګورو چه د ځمکې نه ګرد چاپیره داسي کمربند تاو شوي دی چه د ژوند دپاره یو خطرناک شی هم ځمکې ته نه راپریږدي.انسان د ژوند د بقا دپاره انرژۍ او رڼا ته ضرورت لري،خو ګورو چه لمر په دومره فاصله کې واقع شوي دی که دا فاصله ددي نه لږه کمه او زیاته شي نو د ځمکې په مخ به ژوند یا د ډیري ګرمۍ او یا د

ډېري يخنۍ نه د منځه لاړ شي.مثالونه خو بې حسابه دي خو نتيجه يې يوه ده ،هغه دا چه :په کائناتو کې هر شي داسي ډيزاين او جوړشويدي،لکه څنګه چه ورته ضرورت ؤو او ضرورت ورته دی يعني ټول شيان همداسي موجود دي ،لکه څنګه چه بايد ؤو،سوال پيداکيږي چه دا ولي هر شی په خپل ځای صحيح جوړ شويدی؟ددي سوال جواب د ملحدنو يا ايتيېسو سره نشته،ځکه چه ددي هر څه شاته الله دي او دوي د الله نه منکر دي،همدارنګه دوه اساسی سوالونه دي چه ملحدين د هغی صحيح جوابونه خولا څه چه غلط جوابونه يې هم نشي ورکولای،او ځان تيروي.اول سوال دا دی چه کائنات څنګه پيدا شويدي ؟ ،کله چه د دوي نه پوښتنه وشي چه کائنات څنګه او چا پيدا کړي دي،دوي په جواب کې وايې چه په اول کې يوه سينګولاريټي يا يوه کتله موجود وه ،او بيا په دي سينګولاريټي يا اولنۍ کتله کې يو انفجار يا ايکسپلوژن وشو، په دوامدار ډول لويږي او موجوده کائنات منځ ته راغله.يعني ددي سوال په جواب کې د بيګبينګ تيوري تشريح کوي ،حال دا چه بيګبينګ د دي سوال جواب قطعاً نه دی بيګبينګ خو خبره بالکل د آخر نه شروع

کړېده.ځکه چه د بیګبینګ نه مخکې یو شی موجود ؤو،چه ددي شي یعني اولنۍ کتلی یا سینګولاریټي د انفجار نه کائنات منځ ته راغلل،نو دلته سوال دادی چه دا اول شی یعني اولنۍ کتله یا سینګولاریټي یا سره یوځای نښتي واړه کائنات څنګه او د کوم ځای نه منځ ته راغلي ؤو؟دا هغه سوال دي چه ملحدین ورته جواب نه لري او ځان تري تیروي،

دوهم سوال دا دي چه : ژوندي موجودات څنګه منځ ته راغلي دي.ددي سوال په جواب کې دوي وایې چه په اول کې یوه ژوندۍ حجره پخپله یا د چانس پواسطه منځ ته راغلي وه او بیا ژوندي موجودات د دي ژوندۍ حجري نه د داروین د ارتقأ په طریقه منځ ته راغلي دي.خو اوس سایینسي تحقیقاتو ثابته کړي چه دا خبره غلطه ده ،ځکه چه یوه ژوندۍ حجره پخپله د چانس پواسطه منځ ته نشي راتلای.ځکه چه په یوه حجره کې ۴۲ میلیونه د پروتین مالیکلونه موجود وي.او د یو مالیکول پروتین د پاره چه په چانس جوړ شي چانس یې یو په لس په طاقت د ۱۶۴ دی.ددي عدد لویوالی ددي نه ښه اندازه کولای شئ چه په کائناتو کې د اتومونو تعداد لس په طاقت د ۸۲ دی حال دا چه د ځمکې

ټول عمر څلورنيم بيليون کلونه دی چه جوړه شویده.چه دا موده د حجري د جوړولو دپاره په چانس سره ډيره کمه ده،حتی د یو پروتین لپاره چه په چانس جوړ شي هم کافي نه ده.او د ډي این ای د کشف نه وروسته خو بالکل واضحه شوه چه ژوند څومره کمپلیکس دی،او په ډي این ای کې د موجود اینفارمیشن او جینیټیک کوډ د پیژندلو نه وروسته خو په قطعی ډول ثابته شوه چه په چانس یا پخپل سر د ژوند منځ ته راتلل ناممکن او محال دي.ځکه چه  د جینیټیک کوډ د منځ ته راتلو دپاره په چانس سره د دنیا عمر ډیر کم دي.یعني ملحدین ساینټیفیکلی د دي دواړو سوالونو  دپاره جوابونه نه لري .نو ملحدین په نوي دور کې کله چه دوي ژوند تشریح کوي  یوه نوي اصطلاح چه تاسو به په کراتو کراتو اوریدلې وي دمادر نیچر په نوم په خبرو کې استعمالوي ، وایې چه دا هر څه نیچر کړیدي،دا د ملحدینو د دور یو نوي معبود دی لکه پخوا چه لات منات ،عزا، شیوا،کریشنا او راما ؤو.یعني لکه څنګه چه مشریکېنو لات منات او عزا خدایان ګڼل او د هر کار د کولو نسبت يې همدي خدایانو ته کولو،همدارنګه ملحدینو  هم مادرنیچر ته د خدای درجه ورکړي ده  او د ټولو مشکلاتو

اومسایلود حلولو او د ټولو کارونو د کولو نسبت مادر نیچر ته کوي ، او په هر ځای او هر کارکې چه د خدای ضرورت وي دوي په هغی ځای کې نیچر استعمالوي دا ځکه چه دوي مجبور دي ،که دوي خدای نه مني خو د خدای ضرورت خو شته نو په هر ځای او هر کار کې چه د خدای مداخلی ته ضرورت وي ،نو دوي هلته مادرنیچر استعمالوي یعني پخوا د مکې مشرکانو دخدای په ځای لات منات استعمالولو،هندوان کریشنا او راما استعمالوي او ایتیېس نیچر استعمالوي ،او کوم پاور او درجه چه ایتیېسو خپل خدای یعني نیچر ته ورکړي شاید چه مشرکانو او هندوانو لات منات ،کریشنا او راما ته نه وي ورکړي.لکه چه داروین د الحاد د دور د دي خدای یعني نیچر په باره کې وایې چه ژوندي موجودات نیچر انتخاب کړیدي کوم یې چه خوښه وه د منځه یې ویوړل او ختم یې کړل او کوم یې چه خوښه وه ژوندي یې پریښودل،او د داروین پیروانو یا ملحدینو د نیچر عبادت شروع کړ تاسو ته شاید دا نوي او حیرانونکې خبره وي چه ملحدین یا ایتیېس څه قسم عبادت کوي ،تاسو پوهیږئ چه په مختلفو مذهبونو کې د هر مذهب د عبادت مختلفی او خپلي خپلي

طریقي دي ،همدارنګه د ایتېیزم یا الحاد د مذهب د عبادت هم خپله طریقه ده،یوه دا ده چه کله چه ایتېیسس داسي یو کار وکوري کوم چه د انسان د عقل او قدرت نه اوچت وي نو دوي په هغی وخت کې وایې چه:تینکس نیچر یعني د نیچر نه ډیره مننه خو د تعجب خبره خو داده چه دوي وایې چه مونږ صرف ساینس او دلېل منو زه نه پوهیږم چه دوي ته ولي ټوله دنیا ړانده او جاهل ښکاري حقیقت خو دا دي چه همدوي دي چه نه ساینس مني او نه دلېل ،او د دوي بنیاد او اساس په انساینټیفیک یا غیري ساینسي او بي دلېله او بي منطقه شیانو او خبرو باندي ولاړ دی،مثلاً ساینس ،منطق او عقلي دلایل خو دا وایې چه:د بیګبینګ سینګولاریټي یا اولنۍ کتله پخپل سر یا بای چانس منځ ته نه ده راغلي،مګر ایتېیس یا ملحدین د ساینس او عقلی دلایلو په خلاف وایې چه په خپل سر په چانس منځته راغلي ده ،ساینس ، عقل او منطق خو دا وایې چه اولنی سیل یا ژوندی حجره پخپل سر د چانس پواسطه نه ده پیدا شوي،مګر ایتېیس د ساینس او عقلي دلایلو برخلاف وایې چه پخپل سر منځ ته راغلي ده،او بیا وایې چه مونږ هر شي په ساینس او دلېل منو .باید ووایو که نعوذبالله الله د

منځه وځي ،ساینټیفیکلی ددي دپاره جواب نشته چه د بیګبینګ سینګولاریټي یا لومړنی کتله ،او اوله ژوندی حجره یا سیل څنګه منځ ته راغلی ؤو،او ملحدین یا ایټیېس خو ددي سوالونو صحیح جوابونه خو لري خبره ده ،حتی غلط جوابونه ورته هم نشي جوړولای که په دي باره کې نور معلومات غواړی نو ځما بل تقریر کائنات څنګه پیداشویدي هم ولولئ،د افسوس خبره ده څومره ظلم دی چه ایټیېس یا ملحدین د بي حسابه شیانو د پیداکېدلو منلو ته په غیر د خالق او کریټر نه تیار دي،او اعتراض نکوي، په داسي حال کې چه پخپله دعوه کې نه یو عقلي دلېل او نه یو ساینسي ثبوت لري ،مګر کله چه د الله خبره راشي نو بیا به وایې چه الله چا پیداکړیدی،پداسي حال کې چه د الله په وجود په خرورونو خرورونو ساینسي ثبوتونه او عقلي دلېلونه موجود دي.که دلچسپی لری په دي باره کې ځما نور تقریرونه د الله په وجود ساینسي او عقلي دلایل هم ولولئ.وما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

ا الدرس(۴۲)

# په کائناتو کی د الله تعالی د آیاتونو تفسیر (اوله برخه)

## اسلام د عقل او ساینس خلاف نه دی

د الله تعالی آیاتونه لکه څنګه چه په قرآنکریم کې دي،همدارنګه په کائناتو کې هم هري خواته د الله تعالی بي حسابه آیاتونه شته دی،پدي هکله قرآنکریم فرمايي! إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿190﴾

_۳ـ۱۹۰)د آسمانونو او ځمکې په پيدايښت او د شپي او ورځې په تګ راتګ کې خامخا نښاني دي د عقل د خاوندانو دپاره. الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿191﴾

دا د عقل خاوندان هغه دي چه :په ولاړي،ناستي او ملاستي،هر حالت کې الله ج يادوي.او د آسمانونو او ځمکې په پيدايښت کې غور او فکر کوي(په غير

د ارادي نه وايې چه)آی زمونږ ربه!دا ټول شيان تا بيکاره او بي مقصده نه دي پيدا کړي ،ته له دي نه پاک يې چه هسی بي مقصده او عبث کار وکړي نو مونږ د دوزخ د اوره وساتي.يعني هغه د عقل خاوندان چه د الله تعالی د کائناتو په پيدا کېدو او جوړيدو کې غور او فکر کوي او عقل استعمالوي نو خامخا به دالله تعالی آياتونه او معجزي په کائناتو کې وګوري او خپل خالق يا کريټر ته به ورسيږي ، خو دلته سوال پيداکيږي چه ولي آيا رسل،داروين،مارکس،لينن او داسي نورو عقل نه لرلو او يا اوس دا لوي لوي ساينسدانان عقل نه لري؟ ،دوي خو ټول په ساينس پوهيږي او معلومه خبره ده چه په غير د عقل نه ساينسي مضامين لکه فزيک کېميا بيالوژي او رياضی څوک نشي زده کولای يعني مطلب دا چه دوي ټول عقل لري نو بيا ولي دوي د کائناتو د مطالعه کولو پواسطه خالق ته نه رسيږي او ملحد يا ايتيېس کيږي؟-قرآنکريم فرمايې چه د دوي عقلونه د يو ځای پوري ځې او نور ودريږي .نو يو عام سړی چه ډير تعليم يې هم نه وي کړي ،خو چه خپل عقل استعمالوي ،په کائناتو کې فکر کوي چه آيا د کائناتو دا دومره منظم او مکمل نظام پخپله د بي عقلي مادي پواسطه جوړ

شویدي او که خالق یا کریټر لري؟ آیا ځمکه ،لمر،سپوږمۍ او دا لوي لوي کهکشانونه پخپله چلیږي او که څوک چلولو والا یې شته دي؟آیا دا هر څه هسې بې مطلبه اوبې مقصده پیدا شویدي،او که د څه مقصد دپاره پیدا شوي دي،و غیره و غیره نو چیرته چه د ساینسدانانو او فیلسوفانو عقلونه ودریږي ،نو د دوي عقلونه تري مخکې تیریږي،او په کائناتو کې د الله تعالی آیاتونه او معجزې ویني،او خپل خالق ته رسیږي ،مګر ډیر خلک خصوصاً ځني علماکرام په دیني مسائیلو کې د عقل د استعمالولو نه ډیره کلکه منع کوي او وایې چه په دین کې به عقل نه استعمالوئ حال دا چه دا خبره بالکل د قرآنکریم خلاف ده قرآنکریم د سلو نه په زیاتو ځایونو کې د عقل د استعمالولو په باره کې فرمایې ،چه یو څو یې د مثال په توګه ذکر کوو.اول- إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ_سورت ۸-۲۲بیشکه د الله په نزد د ژوندیو ساه لرونکو ډیره بده نوعه هغه کاڼه ،ګونګیان خلک دي چه د عقل نه کار نه اخلي.دوهم-_وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿- سورت36-۱۷﴾هغه څه مه تعقیبوه چه تاته د هغه

علم نه وي.دريم- وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿۶۷-سورت-10﴾او هغوي به وايې:كه موږ اوريدلای يا موږ عقلونه استعمال كړي ؤو نو نن به د دغه تاوجن اور په وړ كسانو كې شامل نه ؤو.څلورم- وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا( ۷۳-سورت۲۵)او هغو ته كه د الله په آيتونو نصيحت كيږي نو هغوي پري ځان ړوند او كوڼ نه اچوي.پينځم- وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿179-۷﴾.او دا حقيقت دي چه زياتره پيريان او انسانان مو د دوزخ دپاره پيدا كړيدي.د هغوي زړونه شته خو فكر وربانديي نه كوي.د هغوي سترګی شته خو څه پري نهويني.د هغوي غوږونه شته خو څه پري نه اوري.هغوي د څارويو پشان دي بلكه د هغوي نه هم لا پسی تير.دا هغه خلک دي چه په غفلت كې لويدلې دي ،الحمدلله د قرآن آياتونه خو تاسو پيژنی ،نو اوس ان شأالله د الله تعالی د هغو آياتونو مطالعه او تفسير كوو ،كوم چه په كائناتو كې دي،لكه څنګه چه د قرآنكريم په آيتونو د پوهيدلو دپاره په

عربي پوهیدل ضرور دي همدارنګه په کائناتو کې د الله تعالی په آیاتونو د پوهیدلو دپاره په ساینس یو څه پوهیدل ضرور دي ،الله تعالی دي ماته د صحیح تشریح کولو توفیق راکړي اوتاسو ته دي پري د پوهیدلو توفیق در کړي. نور بیا په دوهمه برخه کې ولولئ.و ما علینا الاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۴۳)

# په دنیا کی د وچی او بحرونو فیصدي او اندازه

په قرآنکریم کې ځني الفاظ داسي راغلي چه یو د بل سره د بعضی وجوهاتو په بنا ارطبات لري مثلاً حیات یا ژوند ۱۴۵ کرته په قرآنکریم کې زکر شوي دي ،خو موت یا مرګ هم په مساوي اندازه یعني ۱۴۵ کرته ذکر شوي دي.

حیات یا ژوند ـ۱۴۵ کرته ـاو موت یا مرګ هم ۱۴۵ کرته ذکر شوي

ملائِکه یا فرشتی ۸۸ کرته او شیطان هم ۸۸ کرته په قرآن کې ذکر شوي دي.

په ټول قرآنکریم کې د نارینه یا مین لفظ ۲۶ ځله او ښځه یا ومین هم ۲۶ ځله راغلي دي.

همدارنګه الصالحات یا نیکې ۱۶۷ کرته اوسیآت یا بدي هم ۱۶۷ کرته راغلي دي.

همدارنګه الدنیا ۱۱۵ کرته او الآخره هم ۱۱۵ کرته په قرآنکریم کې راغلي دي.

الیُسر یا اساني ۳۶ ځایه او العسر یا مشکلات ۱۲ ځایه راغلي دي الله پاک انسان ته دري چنده اساني ورکړي ده.

الابرار یا نیکان ۶ کرته او الفُجَّار یا بد خلک ۳ کرته راغلي دي.

جنت ۷۷ کرته او جهنم هم ۷۷ کرته راغلی دی.

شیده یا سختی ۱۰۲ ځله او صبر هم ۱۰۲ ځله ذکر شویدي.

ابیلیس ۱۱ ځله او د ابیلیس نه پناه غوښتل هم ۱۱ ځله ذکر شویدي.

خیانه یا خیانت ۱۶ ځله او خبیث هم ۱۶ ځله.

زکات ۳۲ واري او برکت هم ۳۲ واري.

الجزا یا بدله ۱۱۷ واري او المغفِره یا عفوه ۱۱۷×۲=۲۳۴ واري.

کال ۳۶۵ ورځې دي ،الیوم یا ورځ هم ۳۶۵ کرته په قرآنکریم کې ذکر شوي.

به کال کې ۱۲ میاشتی دي،الشهر یا میاشت هم ۱۲ کرته ذکر شوي.

همدارنګه د البحر ذکر ۳۲ کرته په قرآنکریم کې راغلي دي او د البر یا وچی ځمکې ذکر ۱۳ کرته راغلي دي،که فیصدي یې معلومه کړو نو د ټولي دنیا د وچی او اوبو اندازه معلومیږي په لاندي ډول یې محاسبه کوو.اول د وچی اندازه معلوموو

۳۲+۱۳=۴۵

۱۳×۱۰۰=۱۳۰۰ اوس یې په ۴۵ تقسیموو ۱۳۰۰٪۴۵=۲۸/۸۸۸۸۸۸۸۸۹

یعني په دنیا کې د وچی ځمکې اندازه ۲۸/۹ فیصده ده

اوس د اوبو فیصدي معلوموو

۳۲×۱۰۰ =۳۲۰۰ اوس یې په ۴۵ تقسیموو

۳۲۰۰٪۴۵=۷۱/۱۱۱۱۱۱۱۱۱

یعني په دنیا کې د اوبو اندازه ۷۱،۱ فیصده ده.

او د وچی یا خشکی اندازه ۲۸۲۸،۹ فیصده ده.

## الدرس(۴۴)

# په کائناتو کی د الله تعالی د آیاتونو د تفسیر( دوهمه برخه)

# د بیګ بینګ سینګولاریټی څنګه پیدا شوي وه؟

په دي سلسله کې اول د بیګ بینګ د سینګولاریټي په باره کې خبري کوو چه څنګه پیدا شوي وه؟

باید پوه شو چه کائنات ابدي او ازلي یا ایټرنل نه دي او نه د اول  نه په دي موجوده شکل موجود ؤو بلکه یو وخت پیدا شویدي، په اول کې دومره واړه ؤو چه: آسمانونه او ځمکه یو ځای نښتي ؤو،چه ساینس دي نښتي کائناتو ته سینګولاریټي وایې.خو په دي باره کې چه دا نښتي واړه کائنات یا سینګولاریټي څنګه پیدا شوي وه ،ساینس نه څه ویلی،نه څه وایې،او نه څه ویلای شي.ځکه چه فزیک او ساینس صرف د مادي کائناتو یا یونیورس په داخل کې کار کوي،نو په دي علت چه

د سینګولاریټي نه د مخه یا شاته کائنات موجود نه ؤو،نو ځکه ساینس د سینګولاریټي د پیداکېدو په باره کې نه معلومات لري او نه څه ویلای شي، او خپله عاجزی مني.قرآن فرمایې أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿35﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿36﴾ ظاهره ده چه ساینس خو لکه لږ مخکې چه ذکر شو دي سوال ته جواب نه شي ورکولای ځکه چه د سینګولاریټي نه مخکې کائنات نه ؤو،او فزیک او ساینس د کائناتو نه دباندي کار نه کوي.نو په دي باره کې چه څومره خبري دي دا د ساینسدانانو خصوصاً د ایتېیس یا ملحدینو ساینسدانانو خپلي شخصي نظریې یا تیوریز دي،البته ددوي نظریات یا تیوریز خو ډیر زیات دي چه ذکرکول یې ډیر وخت غواړی مګر مطلب د ټولو یو دی هغه دا چه دوي وایې چه دا سینګولاریټي یا نښتي کائنات پخپله بای چانس د هیڅ شي یا نتینګ نه پیدا شوي وه ،سره ددي چه دوي ښه پوهیږي چه د دوي خبره غلطه او د عقل او ساینس خلاف ده،ځکه چه د ترموډینامیک ددي قانون په اساس چه:هیڅ شي یا نتینګ نشي کولای چه یو شي منځ ته راوړي،ساینس د دوي دا نظریه رد او غلطه ثابتوي چه:ګني دا سینګولاریټي یا

نبنتي کائنات پخپله په چانس سره د هيڅ يا نشت نه منځ ته راغلي ؤو.خو صرف د الله د لاري نه د بچ کېدو په خاطر پخپله غلطه نظريه يا غلط جواب ولاړ دي.د دي سوال صحيح جواب د خالق يا کريټر په کتاب کې دی،قرآنکريم فرمايي. بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ(سورت ۶-۱۰۱ ) الله تعالی د آسمانونو او ځمکي خالق او کريټر دي.يعني ددي سره نبنتي کائناتو يا سينګولاريټي پيدکوونکی الله تعالی دي،دا چه الله څنګه پيدا کړي ؟قرآن فرمايي إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ﴿82-۳۶﴾الله تعالی چه کله د يوشي اراده وفرمايي نو د هغه کارهمدومره دي چه ورته حکم وکړي چه وشه نو هغه کيږي أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۳۰ - ۲۱آيا کافران غور او فکر نه کوي چه ځمکه او آسمانونه سره يو ځای نبنتي ؤو او مونږ سره بيل کړل په آخر کي بايد ووايو چه د يو ځای نبنتي کائناتو پيدا کېدل چه سايندانان ورته سينګولاريټي وايي د الله ج د وجود واضح ثبوت دی.ځکه چه پخپل سر پيداکېدل خو يې ساينس او عقل رده وي نو بيا همدا يوه لاره پاتي کيږي چه خا لق يا کريټر لري چه الله تعالی دي.و ما علينا الا البلغ المبين.

ا الدرس(۴۵)

## په کائناتو کی د الله تعالی د آیاتونو تفسیر (دريمه برخه)

## ( د بيګ بينګ چاودنه څنګه وشوه؟)

د دي سره يو ځای نبنتي کائناتو يا سينګولاريټي بيليدل دالله آيت او دخالق د وجود ثبوت دی.

ساينس وايې چه دا نبنتي کائنات يا سينګولاريټي د يو انفجار يا ايکسپلوژن پواسطه سره بيل شول چه دي بيليدو ته بيګ بينګ يا لوي انفجار وايې ،خو دا چه بيګ بينګ څنګه وشو،چا وکړو او ولي يې وکړو ساينس په دي کې نه کار لري او نه پري بحث کوي،خو دا ډيره مهمه موضوع ده دلته بايد غور او فکر وشي څکه چه بيګ بينګ خو په کائناتو کې د ټولو نه لوي انفجار يا چاودنه وه،او دومره دقيق او حساس شويدي لکه يو پنسل چه په تيره څوکه په ميلونونو ميلونونو کلونو ودريږي،او پخپل سر پرته د کوم سپوټ څخه پريښودل شي او ونه وليږي بلکه ددي نه هم زيات.نو دلته بايد غور

او فکر وشي چه آیا دا دومره لو یه او دقیقه چاودنه پخپله په غیر د کومي خارجی مداخلی نه شوي؟ او که چا کړیده ؟دلته ساینس صرف دومره وایې چه دا نښتي کائنات یا سینګولاریټي د یو انفجار پواسطه سره بیل شوي او کاینات جوړ شو،خو دا چه انفجار څنګه وشو،چا وکړو، او ولي یې وکړو ساینس په دي باره کې نه معلومات لري او نه څه وایې،او څومره خبري چه په دي باره کې دي هغه د ساینس خبري نه دي مګر د ساینسدانانو نظریات دي،دوي وایې چه په دي نښتي کائناتو یا سینګولاریټي کې انفجار یا بیګ بینګ پخپله شوي دي،مګر ساینس د دوي دا نظریه د ترموډینامیک ددي قانون په اساس غلطه ثابتوي چه:هر کار او حادثه که پخپل سر پریښودل شي اینټراپی او ګډوډي منځ ته راځي او د وخت په تیریدو سره اینټراپی او ګډوډي زیاتیږي.

نو که د ملحدینو د نظریې مطابق پخپل سر بیګ بینګ شوي ؤو نو د ترموډینامیک د قانون په اساس اوس باید یو ګډوډ یونیورس یا کائنات موجود ؤو،خو مونږ ګورو چه کائنات خو ګډوډ نه دي بلکه ډیر ښایسته ډیزاین شوي او منظم دي نو د منظم او ډیزاین شوي کائناتو وجود ددي ثبوت دي چه بیګ

بینګ پخپل سر نه دي شوي او نه کائنات پخپل سر جوړ شویدي،صحیح جواب د الله تعالی په کتاب کي دي،قرآنکریم فرمایې أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۳۰ – سورت۲۱ آیا کافران نه پوهیږي چه ځمکه او آسمانونه سره یو ځای نښتي وؤ او مونږ سره بیل کړل.یعني دا نښتي کائنات الله تعالی بیل کړي یا بیګ بینګ د الله تعالی پواسطه د الله د کنټرول لاندي شوي او کائنات الله تعالی جوړ کړي دي.وما علینا الا البلغ المبین. ډاکتر محمد عثمان نظامی

ا الدرس(۴۶)

# په کائناتو کې د الله تعالی د آیاتونو تفسیر(څلورمه برخه)

## د یونیورس یا کائناتو لویدل

ساینس په شلمه پیړۍ کې ډیسکور یا کشف کړه چه کائنات لویږي یعني ستوري ګلکسي یا په کائناتو کې ټول شیان په ډیر سپیډ یا سرعت سره یو د بل نه لري کیږي اوسرعت یا سپیډ یې ورځ په ورځ زیاتیږي. خو په دي باره کې چه څنګه لویږي ،پخپله او که څوک یې لویوي او ولي لویږي او د لویدلو سپیډ یې ولي ورځ په ورځ زیاتیږي ؟نو په دي باره کې ساینس نه بحث کوي او نه څه معلومات لري،او څه خبري چه دي هغه د ساینسدانانو شخصي نظریات دي .

البته ددوي نظریې خو ډیري دي ،خو مونږ به یې د ټولو نه په وروستني نظر خبري وکړو.د دوي وروستنی نظر دا دی چه مادي کائنات کوم چه په سترګو ښکاري لکه ستوري ګلکسیز او پلانیټ

صرف ۵ فیصده دي او باقي۹۵ فیصدو کې ۲۵ فیصده ډارک مېټر یا تیاره ماده او ۷۰ فیصده ډارک انرژي یا تیاره انرژي ده چه د موجوده ټیکنالوجی او وسایلو پواسطه نه په سترګو ښکاري او نه په لابراتوار کې چا تجربه کړي دي،دوي وایې چه دا ډارک انرژي کائنات لویوي او سپیډ یا سرعت ورکوي.فکر وکړئ د داسي یو شي په باره کې چه نه چا لیدلی او نه چا تجربه کړی تیوري یا نظر ورکوي او بیا په کلونو کلونو په دي تیوري یا نظر ریسرچ او تحقیقات کوي او په آخر کې بیا وایې چه دا نظر یا تیوري غلطه ده او بیا د هغی په ځای نوی نظر ورکوي.خو ډیر د افسوز ځای دی چه د خالق یا کریټر په باره کې یوه تیوري یا نظر هم نه ورکوي ،باور وکړئ که دوي د خالق په باره کې داسي تیوري یا نظر ورکړي لکه د نورو شیانو په باره کې یې چه ورکوي،او بیا پکې داسي تحقیقات وکړي لکه د نورو نظریاتو په باره کې یې چه کوي نو ان شاالله چه نیغ به خالق یا کریټر ته ورسیږي.حقیقت دا دی چه کائنات نه پخپله او نه د کوم نامعلوم قوت پواسطه لویږي بلکه د کائناتو د خالق یا کریټر پواسطه لویږي. وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿47﴾او کائنات مونږ پخپل قدرت

سره جوړ کړيدي اومونږ خامخا د کائناتو لويونکې يو.وما علينا الا البلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

ا الدرس(۴۷)

# په کائناتو کی د الله تعالی د آیاتونو تفسیر(پینځمه برخه)

# شپه په ورځ او ورځ په شپه بدلبدل

د شپو او ورځو په بدلېدلو یا تګ راتګ کې د الله تعالی آیاتونه دي.د آیت یوه معني معجزه ده اصل کې خبره دا ده چه مونږ د معجزو سره عادت شوي یو .مونږ ګورو چه د شپي پسی ورځ او د ورځ پسی شپه راځي مګر پدي مو کله فکر کړیدی چه څنګه ورځ په شپه او شپه په ورځ بدلیږي ؟که فکر پري وکړۍ او ځان پري پوه کړۍ نو وبه ګورۍ چه دا د خالق د وجود څومره لوي ثبوت او نښانه ده او څومره لویه معجزه ده.نو راځۍ چه وګورو چه څنګه شپه په ورځ او ورځ په شپه بدلیږي ؟د دي دپار چه کوم سیستم کار کوي ،سولر سیستم یا شمسي نظام ورته وایې ،ددي سیستم نقشه داسي ده چه الله تعالی په سپیس یا فضأ کې لمر او ځمکه یو د بل نه د ۹۳ میلیون مایلز په فاصله کې موقیعت

ورکړيدی،او ځمکه داسي ډيزاين او جوړه شويده چه په ۲۴ ساعتو کي يو ځل د خپل محور په خوا او شاه د ۱۰۰۰ ميليونو په يو ساعت کي سپيړه سره ګرځي ،د لمر ډيزاين او جوړښت داسي شويدی چه حجم يا لويوالی يي د ځمکي نه ۱۳ لکه کرته زيات دي ،او په يو سيکينډ کي پکي د ۵۰۰ ميلونو اتوم بمونو د انفجار په اندازه انرجي توليديږي کوم چه امريکا په جاپان کي په يوريشيميا استعمال کړی ؤو ،او د مرکز يا اينر کور د حرارت درجه يي ۲۰ ميليونه درجی سانتی ګيريډ او د سطحی د حرارت درجه يي ۶۰۰۰ درجی سانتی ګيريډ ده ،او دا دومره دقيقه او حساسه محاسبه ده که فرضاً د لمر د داخلی انفجار د انرجي اندازه د ۵۰۰ ميليون اتوم بمونو نه زياته او يا کمه شي او يا د داخلی حرارت اندازه د ۲۰ ميلونه درجو نه او د سطحی حرارت اندازه يي د ۶۰۰۰ درجو سانتی ګيريډ نه کمه يا زياته شي،نو بيا په ځمکه کي يا د ډيري يخنۍ نه او يا د ډيري ګرمۍ نه ژوند د منځه ځي ،لړ مخکي ذکر شو چه ځمکه د محور په شا او خوا په ۲۴ ساعتو کي يو ځل ګرځي،نو د ځمکي د سياري هغه طرف چه د لمر خواته وي او د لمر وړانګی يا د لمر شعاع پري لږيږي هلته ورځ او هغه طرف چه

د لمر وړانګی یا رڼا پري نه لږیږي هلته تیاره وي یعني ځمکه ګرځي هره برخه یې چه لمر ته مخامخ کیږي هلته ورځ راځي او هره برخه یې چه د لمر نه چپیږي یا پټیږي هلته شپه راځي .

ساینس صرف دومره وایې چه دغسی کیږي مګر دا نه وایې چه څنګه کیږي ،ولي کیږي، پخپله کیږي او که څوک یې کوي .

مثلاً ساینس وایې چه د لمر او د ځمکې تر منځ فاصله ډیره صحیح فاصله ده ځکه که ددي نه لږه کمه او یا زیاته شي نو بیا په ځمکه کې ژوند د منځه ځې،خو ساینس دا نه وایې چه:آیا لمر او ځمکې پخپلو کې مشوره کړي وه چه ستا دا موقیعت شو او ځما دا؟یعني لمر او ځمکې پخپله دا فاصله تعین کړي وه،او بیا دا څنګه اندازه شوي وه چه ۹۳ میلیون مایلز فاصله یا لریوالی ضرور دی تر څو چه د لمر د سطحی حرارت د ۶۰۰۰ درجو نه ۲۰-۳۰-۴۰ درجو ته یا داسي اندازي ته راټیټ شي کوم چه په ځمکه کې د ژوند د بقا دپاره ضرور دی،ساینس دا وایې چه:په لمر کي هایدروجن په هیلیوم بدلیږي او په یو سیکبنډ کې د ۵۰۰ میلیون اتوم بمونو په اندازه انرجې تولیدیږي ،خو دا نه

وایي چه دا دومره په صحیح اندازه هایدرجن ځنګه ځای په ځای شویدی او ځنګه او ولي په هیلیم اوړي او ځنګه او ولي دومره دقیق کنترولیږي چه په سیکېنډ کې باید د ۵۰۰ میلیونو اتوم بمونو نه زیاته او کمه انرجي جوړه نشي ترڅو چه مرکزي حرارت د ۲۰ میلیون درجو او د سطحی حرارت د ۶۰۰۰ درجو نه زیات او کم نشي ،او که زیات او کم شي نو په ځمکه کې به ژوند د منځه لاړ شي.ساینس دا وایي چه ځمکه په یوه ساعت کې د ۱۰۰۰ مایلو په سپیډ سره په ۲۴ ساعتو کې یو ځل په خپل محور ګرځي،مګر دا نه وایي چه :ځنګه ګرځي ،ولي ګرځي،پخپله ګرځي او که څوک یې ګرزوي،ځکه چه نه چا لیدلې او نه چا تجربه کړي چه په غیر د انجن ،فیولو او ډریور نه دي موټر یا بل کوم شي حرکت وکړي ،نو بیا دا دومره لویه سیاره یا پلانټ ځنګه په غیر د انجن نه ،پغیر د فیولو نه او په غیر د ډریور نه ۱۰۰۰ مایلز پر هور یا ساعت سپیډ سره حرکت کوي او د میلیاردونو کلونو نه راهیسی په همدي یو سپیډ کې روانه ده نه کمیږي او نه زیاتیږي،نه د مدار یا لاري نه بې لاري کیږي،نه یې فیول ختمیږي،نه یې پُرزی خرابیږي،آیا دا هر څه پخپله شوي ،آیا د

لمراو ځمکې ډیزاین او جوړیدل پخپله شویدي ،او پخپله کنټرول او چلیږي آیا د ځمکې او د لمر تر منځ فاصله پخپله تعین او کنټرولیږي.حقیقت خو دا دی چه هر شي چغی وهي د حال په ژبه وايې چه زه خالق لرم،لمر او ځمکه اود دواړو تر منځ فاصله یا دا ټول سولر سیستم په شعوري ډول د یوډیزاین په اساس جوړ شویدی او په شعوري ډول چلیږي او کنټرولیږي ،او ډیر قوي قوانین پکې موجود دي،چه د ډیزاین او قانون وجود د ډیزاینر ،قانوندان او خالق یا کریټر د وجود ثبوت دی ځکه چه قانون په غیر د قانوندان او ډیزاین پغیر د ډیزاینر نه ناممکن دی،فلهذا لمر ،ځمکه او ټول کائنات خالق یا کریټر، لري چه الله تعالی دي،رب العلمین دي.د ټولو کائناتو پیدا کوونکی او رب دي خو که اوس هم څوک د الله تعالی د وجود نه انکار کوي دا صرف ضد دي ماته چا یو نقل کولو چه په کابل کې د یو ملګري سره په موټر کې ناست وم پولیس ودرولو پولیس ځما د ملګري نه لایسنس وغوښتلو ملګري می ورته وویلی چه موټر می خپل دی پولیس بیا ورته وویل چه لایسنس راکه د ورته وویل چه په نقدو می اخستی دی پولیس بیا ورته وویل چه لایسنس راکړه ملګري می ورته

وويل چه ټولي پيسی می ورکړي دي،نو ما می ملګري ته وويل چه سر دي خلاص کړه پوليس درنه لايسنس غواړي ملګري می راته وويلی چه سر می خلاص دي خو پخپله يې نه خلاصوم،نو تاسو يقين وکړئ چه دا ملحدين ښه په دي پوهيږي چه کائنات خالق لري خو خپل سر پخپله نه خلاصوي .و ما علينا الاالبلغ المبين.

محمد عثمان نظامی

## الدرس(۴۸)

# په کائناتو کی د الله تعالی د آیاتونو تفسیر(شیږمه برخه)

# (فینګر پرینټ یا د ګوتی نښه)

په دي سلسله کې اوس د فینګرپرینټ یا د ګوتی د نښي په باره کې خبري کوو.

فینګر پرینټ یا د ګوتي نښه د الله تعالی آیت او د خالق د وجود ثبوت دی .

تاسو ټول پو هیږئ چه ساینس او ټولو خلکو دا منلي ده چه په دنیا کې د انسان د ټولو نه قوي آی ډي یا هویت فینګر پرینټ دی،او دا دومره قوي آی ډي ده چه حتی په غبرګونکو یا جوړه یا ټواین ماشومانو کې چه ډي این ای یې یو قسم وي خو فینګرپرینټ یې فرق لري،آیا تاسو په دي فکر کړی دی چه کله چه یو ماشوم تولد شي هغه بالکل د یو مختلف یا یونیک فینګرپرینټ سره دنیا ته راځي ،د مختلف یا یونیک فینګرپرینټ مطلب دا دی چه د دي ماشوم نه مخکې چه څومره خلک دنیا ته

راغلي دي هغه که په قبرو کې دي او که د ځمکې په مخ ژوندي ګرځي،نو د دي نوي زیږیدلې ماشوم فینګرپرینټ ددي ټولو ژوندیو او مړو انسانانو سره فرق لري،خو ډیره حیرانوونکې او د تعجب خبره خو دا ده چه ددي ماشوم نه وروسته چه څومره انسانان دنیا ته راځي یعني هغه چه تر اوسه نه دي زیږیدلې او ددي نه وروسته زیږول کیږي،د هغوي د فینګرپرینټ سره هم فرق لري ،یعني مطلب دا چه ستا د تولد د تاریخ یا ډیټ اف بړت نه مخکې چه څومره انسانان دنیا ته راغلي دي او هغه انسانان چه ستا د تولد د تاریخ یا ډیټ اف بړت نه وروسته دنیا ته راځي ،نو ستا فینګرپرینټ ددي ټولو نه فرق لري یا مختلف او یونیک دي،یا په بل عبارت تاته چه کوم هویت یا آی ډي درکول شویده نو په دي قسم آی ډي نه ستا نه مخکې چا ته ورکول شوي ده او نه ستا نه وروسته چاته ورکول کیږي.فکر وکړئ چه دا کار کیږي څنګه؟ یعني څنګه دنیا ته د راغلو انسانانو او هغه چه تر اوسه لا دنیا ته راغلي هم نه دي،ددي ټولو فینګرپرینټونه یا د ګوتو نښې معلومیږي او بیا نوي ماشوم ته داسي فینګرپرینټ ورکول کیږي چه ددي ټولو مخکېنیو او وروستنیو سره فرق ولري،ساینس خو

صرف دومره پوهيږي چه هر انسان مختلف فينګرپرينټ لري او بس،نور ددي نه زيات هيڅ نشي ويلی،داروينيزم او ايتيېزم هم دي ته هيڅ جواب نلري. خومخکې مه ځئ اوپه دي ځای کې غور او فکر وکړئ ځکه چه دلته ډير يو لوي حقيقت ته اشاره ده او هغه دا ده چه ټولو انسانانو ته دنيا ته د راتلو نه مخکې د مخکې نه بيل بيل فينګرپرينټ يا آی ډي ورکول شويده ، او هر انسان د يو پروګرام او نقشي په اساس په خپل نوبت سره په معلوم وخت او معلوم ځای کې د خپل فينګرپرينت يا آی ډي سره دنيا ته راځي،او د همدي فينګرپرينټ سره په دنيا کې ژوند کوي ،او د مرګ نه وروسته د قيامت په ورځ د همدي فينګرپرينت سره راپاخيږي.قرآنکريم په دي هکله فرمايي!

أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ ﴿3﴾ بَلَىٰ قَادِرِينَ عَلَىٰ أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ ﴿4-٧٥سورت﴾آيا انسان دا ګمان کوي چه مونږ به د هغه هډوکې بيا راټول نکړای شو.ولي نه!ضرور به يې راجمع کړو،مونږ خو په دي هم قادر يو چه د ګوتو سرونه يې هم بيرته برابر کړو.يعني د ګوتو په سرونو کې چه کوم خطونه د فينګرپرينت دپاره په دنيا کې دي همدا قسم خطونه به الله تعالی کله چه انسان بيا

راژوندی کیږي د ګوتو په سرونو کې ورته برابر او جوړ کړي،یعني کومه آی ډي یا فینګرپرینټ چه په دنیا کې یې انسان لري،همدا آی ډې یا فینګرپرینت به یې د بیا راژوندي کېدلو په وخت کې هم وي.او د همدي فینګرپرینټ سره به د حشر میدان ته ځې ،او د همدي فینګرپرینټ سره به د الله تعالی په مبارک حضور کې ودریږي ،او د همدي فینګرپرینت سره به جنت او یا جهنم ته ځې،الله دي مونږ ټول د جهنم نه وساتي.که اوس هم څوک په الله تعالی کې شک کوي نو بیا دي یواځې یو ځای کې کېني او د خپل ځان نه دي پوښتنه وکړي چه!د لامحدود یا انلیمیټیډ علم او قدرت لرونکې خالق یا کریټر نه په غیر څنګه ممکنه ده ،چه د مړو او ژوندیو او د هغو ټولو انسانانو چه تر اوسه لا دنیا ته نه دي راغلي ددي ټولو فینګرپرینټونه یا آی ډیګاني دي معلومی شي او بیا دي داسي یو فینګرپرینت انتخاب شي چه د ټولو مخکښنیو او وروستنیو انسانانو سره فرق ولري ،او بیا دي دا مختلف او یونیک فینګرپرینت د مور په رحم کې نوي ماشوم ته ورکول شي،آیا ایولوشن یا ارتقا دا کار کولای شي ؟نه هیڅ کله نه.آیا پخپله دا کار کیږي؟نه هیڅکله نه.نو که د همدي سوال د جواب

د پيدا کولو کوشش وکړي ان شأالله چه الله تعالی به ورته هدايت وکړي او خپل خالق يا کريټر به وپيژني .دوهم! په دي مبارک ايت کې دي فکر او غور وکړي أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ ﴿3﴾ بَلَىٰ قَادِرِينَ عَلَىٰ أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ ﴿4-۷۵سورت﴾آيا انسان دا ګمان کوي چه مونږ به د هغه هډوکې بيا راټول نکړای شو.ولي نه!ضرور به يې راجمع کړو،مونږ خو په دي هم قادر يو چه د ګوتو سرونه يې هم بيرته برابر کړو..

دا مبارک ايت ۱۴۰۰کلونه مخکې نازل شويدي.حال دا چه فينګرپرينت په نولسمی پيړی کې ډيسکور يا کشف شويدی يعني د نولسمی پيړی نه د مخه هيڅ چا فينګرپرينت نه پيژندلو،نو بيا ۱۴۰۰ کلونه مخکې په قرآنکريم کې د فينګرپرينت په باره کې معلومات د کومي منبع نه ليکل شويدي؟ جواب دا دی چه قرآنکريم د الله تعالی کتاب دی او دا معلومات پکې د وحې نه ليکل شويدی چه په حضرت محمد ص باندي نازل شوي وه.

دريم!که ښه غور او فکر وشي په ښکاره ډول ليدل کيږي چه ساينس الله تعالی مني ،ځکه چه ساينس دا مني چه په آينده او راتلونکې وخت کې چه

ځومره انسانان دنیا ته راځي ،د هغوي فینګرپرینتونه یا د ګوتو نښي به نه پخپلو منځونو کې یو قسم وي او نه به په اوسنیو ژوندیو خلکو کې د چا په شان وي،نو د ساینس پواسطه ددي خبري منل ،په حقیقت کې د پردي شاته د داسي غیبي نظام منل دي چه:چلول یې د لامحدود یا انلیمیټیډ علم او قدرت لرونکې خالق یا کریټر نه په غیر ناممکن دي ،اګر چه دا غیبي نظام د ټیکنالوجی او وسایلو پواسطه لیدل کیږي خو نه،مګر منل یې داسي حقیقت دی چه انکار تري ناممکن دی،ځکه چه د هر شي د منلو دپاره لیدل شرط نه دي،او نه د ساینس پواسطه ددي غیبي نظام منل کومه نوي او دحیرانتیا خبره ده،ځکه چه عقل هم نه لیدل کیږي ،خو ساینس یې مني ،ځکه چه د عقل د منلو نه انکار کیږي نه،ځکه چه د دنیا دا نظام خو د عقل پواسطه چلیږي که عقل نه ؤو نو بیا خو به د انسانانو او ځناورو هیڅ فرق نه ؤو،فلهذا که د انسان سترګی او ټیکنالوجی یې نه ګوري،خو په انسان کې د فکر وهلو ،نوي شیانو جوړولو او د دنیا د نظام چلولو استعداد او صلاحیت دا ثابتوي چه عقل شته دي او انکارکول تري نا ممکن دي.همدارنګه ګرَویټی،تصور،محبت

او درد هم نه په انساني سترګو او نه د ټیکنالوجی په سترګو لیدل کیږي،خو ساینس یې په منلو کې هیڅ شک نه کوي او ټول د یو حقیقت په حیث مني .نو همدارنګه د ساینس پواسطه د پردي شاته د داسي یو غیبي نظام منل کوم چه د لایتناهی او لامحدود علم او قدرت والا خالق نه په غیر نه چلیږي ،سره ددي چه د انسان او ټیکنالوجی سترګی خو یې نشي لیدلای،خو ددي سره سره منل یې یو ساینسي حقیقت یا ساینټیفیک فکټ دی،چه انکار کول تري ناممکن دي ،ځکه چه هر شی د حال په ژبه چغی او ناري وهي چه زه چا جوړ کړئ یم،په هر شي کې ډیزاین شته هري خواته محکم او قوي قوانین موجود دي او په مجموعی توګه په ټولو کائناتو کې داسي یو منظم نظام موجود دي چه چلول یې د یو لامحدود او لایتناهی علم او قدرت لرونکې خالق نه په غیر محال او نا ممکن دي.نو که دهریان یا ملحدین د خالق یا کریټر د منلو دپآره معیار لیدل نیسي نو اول دي کوشش وکړي چه آیا د عقل او ګرَیویټی نه انکار کول ممکن دي ؟نو که د عقل او ګرَیویټی یعني د مخلوق د وجود نه انکار نشي کولای او ناممکن دی،نو د عقل او ګرایوټی د خالق او کریټر د وجود نه څنګه انکار

کولای شي یا ممکن دی ،ځکه چه په کائناتو کې د یوي وړی زري یا اتوم نه نیولي د لویو کهکشانونو یا ګلکسیز پورې په هر شي کې ډیزاین او قوانین موجود دي،کوم چه د ډیزاینر او قانوندان د وجود نه په غیر ناممکن دي،او همدارنګه د کائناتو چلول او پکې د قوانینو تطبیقول هم په غیر د کائناتو د خالق نه ناممکن دي .ځکه چه په غیر د پاچا او منظم نظام نه په یوملک کې هم قانون پخپله نه تطبیقیږي .نو دا لوي کائنات پخپله نه دي پیدا شوي او نه پخپله چلیږي ،بلکه خالق لري چه الله تعالی دي. و ما علیناالاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۴۹)

# قرآن او ساینس.

## په کائناتو کې د الله تعالی د آیاتونو تفسیر(۷برخه)

## د آسمان په اوچتوالی کې د الله تعالی آیاتونه او نښانی دي

## Explanation of ALLAH‘s signs in the universe

آیت نښاني،ودریدو او معجزي ته هم وایې.نو د الله تعالی په آیاتونو باندي د پوهیدلو دپاره باید چه هم په قرآن کې او هم په کائناتو کې د الله تعالی په هر آیت باندي ودریږو،غور او فکر پري وکړو او ځان پري پوه کړو. نو راځو د الله تعالی په آسماني آیاتونو باندي ---------------------------------

ودریږو او غور او فکر پکې کوو.

،ساینس چه د ۲۱ پیړی پورې څومره تحقیقات او ډیسکوریز کړي دي ، صرف د اول آسمان په باره

کې دي چه د ټولو کائناتو څلور یا پینځه فیصده کیږي یعني د اوسه پورې صرف څلور فیصده کائنات د ساینس پواسطه مشاهده شویدي، خو اول آسمان هم د اوسه پورې پوره مشاهده شوي نه دي ،یا په بل عبارت د اوسه پورې څلور فیصده کائنات معلوم یا مشاهده شوي او ۹۶ فیصده کائنات نامعلوم دي، که غور وکړو د ټولو کائناتو په مقایسه د ساینس معلومات ډیر محدود او کم دی.او دا خو د چا په فکر کې هم نه راځي چه ګني انسان به د اول آسمان نه وځي او نورو شپږو آسمانونو کې به تحقیقات او ریسرچ وکړي .نو راځو په دي څلور فیصده مشاهده شوي کائناتو باندي په لنډ ډول رڼا او نظر اچوو.په یاد ولرئ چه زه او ته هم د کائناتو یوه حصه یو ،که مونږ د خپل وجود غټوالی د ټولي ځمکي د غټوالی سره مقایسه کړو نو زمونږ د وجود لویوالی د ځمکي د لویوالي په مقابیل کې د یوي زري یا اتوم حیثیت لري،لمر د ځمکي نه ۱۳ لکه واري لوي دی،او زمونږ ځمکه د سولر سیستم یا شمسي نظام یوه برخه ده، سولر سیستم لمر او د لمر مربطه سیارو یا پلانیټز ته وایې،نو که زمونږ د ځمکي لویوالی د سولر سیستم یا شمسي نظام د لویوالی سره مقایسه کړو،نو د ځمکي لویوالی د

شمسي نظام یا سولر سیستم د لویوالی په مقابل کې د یوي نقطي یا ډاتې حیثیت لري، او زمونږ سولر سیستم یا شمسي نظام بیا د ملکیوَی د ګلکسي یا کهکشان یوه برخه ده ،او د ملکیوی په ګلکسي کې زمونږ د سولر سیستم پشان ۴۰۰ بیلیونه یا میلیاردونه نور سولر سیستمونه موجود دي،یو بیلیون ۱۰۰۰ میلیونه کیږي،نو که چیرته زمونږ د سولر سیستم لویوالی د ملکیوی د ګلکسي د لویوالی سره مقایسه شي ،نو زمونږ د سولر سیستم لویوالی به د ملکیوی د ګلکسي د لویوالی په مقابیل کې د یوي نقطي حیثیت ولري،او همدارنګه په مشاهده شوي کائناتو کې ۲۵۰ بیلیون نوري ګلکسي هم موجود دي، نو که چیرته زمونږ د کهکشان یا ملکیوی ګلکسي لویوالی د دي څلور فیصدو مشاهده شوو کائناتو د لویوالی سره مقایسه شي ،نو د ملکیوی د ګلکسي لویوالی ددي څلور فیصدو مشاهده شوو کائناتو د لویوالی په مقابیل کې د یوي نقطي حیثیت لري.فکر وکړئ ساینسدانان وایې چه د بحرونو په غاړو او خوا او شا کې چه څومره د شګو داني دي ددي نه په آسمان کې ستوري ډیر دي،او ټول ستوري او د هغوي مربوطه سیاري ،سپوږمی،سولر سیستمونه یا شمسي نظامونه او

ګلکسیز یا کهکشانونه په خپلو مدارونو یا اوربیټونو کې په ډیرو زیاتو سپیډونو سره په حرکت کې دي.

او هر یو په یو وخت کې په څو قسمه حرکتونو کې دي ،مثلاً ځمکه په یو وخت کې هم د خپل اکسیس یا محور نه تاویږي،هم د لمر نه تاویږي او هم د ملکیوی ګلکسي د مرکز نه د سولر سیستم سره تاویږي،مګر د تعداد د دومره زیاتوالی او زیاتو سرعتونو سره بیا هم نه یو ستوری او یا یو پلانیټ د اوربیټ یا لاري نه بې لاري کیږي او نه یو د بل سره ټکر کوي،سره ددي چه کله کله یوه ګلکسي یا کهکشان د سوونو بیلیونونو ستورو او زیاتو سپیډو سره په بله ګلکسي یا کهکشان ورشي خو په غیر د کوم ټکر نه یو د بل نه په خیر او خیریت سره تیریږي،دا چه دا دومره زیات ستوري،سیاري،سپوږمیګاني،سولرسیستمونه او ګلکسیز څنګه په آسمان یا سپیس کې په خپلو ځایونو او اوربیټونو یا لارو کې کلک دي،او نه د مدار یا اوربیټ نه وځي ،او نه یو د بل سره ټکر کوي دا میخانیکیت او راز هم اوس د ماډرن ساینس پواسطه ډیسکور او ښکاره شو،خو ددي میخانیکیت او راز د تشریح کولو نه مخکې د خپل وړوکتوب یو څه معلومات درسره شریکوم،البته

اوسني ماشومان خو د ټابليټ،موبايل او ټيوي سره لوبي کوي ،مګر ۵۰ او ۶۰ کلونه مخکې دا شيان نه ؤو،نو په هغی وخت کې زمونږ يوه لوبه دا وه چه د مقناطيس سره به مو لوبي کولي هغه داسي چه د مقناطيس يوه ټوټه به مو د کاغذ لاندي ونيوله او د کاغذ دپاسه به مو يوه ستن واچوله نو د کاغذ لاندي به مو چه هري خواته مقناطيس ته حرکت ورکولو نو دکاغذ دپاسه به ستن هم هغی خواته حرکت کولو،او که چيرته دوه مقناطيس يو د کاغذ په يوه خوا او بل د کاغذ په بله خوا کې ونيول شي نو د هري خوا مقناطيسی قوه چه زياته شي نو ستن به هغی خواته حرکت کوي ،خو که چيرته د دواړو خواو مقناطيس داسي موقيعت ته راوستل شي او داسي بَلانس شي چه په ستن د دواړو خواو نه مساوي قوه وارد شي،نو په دي صورت کې به ستن يوي خواته هم نه ځې او د دواړو مقناطيسو په منځ کې به وي، اوس که دوه نوري مقناطيسی ټوټی راواخلو او يوه د کاغذ لاندي او بله د کاغذ دپاسه ونيسو او داسي توازون او بلانس يې برابر کړو چه په ستن د دواړو خواو نه مساوي قوي وارد شي ،نو اوس که کاغذ لري شي نو ستن به په هوا کې مغلق او ځوړنده پاتي شي،او يوي خواته به هم

نه ځي،مګر د ځلورو خواو نه د مقناطیسی قوو دا قسم توازن او بلانسینګ جوړول دومره اسان کار هم نه دی.نو ساینس اوس دا معلومه کړه چه په آسمان کې ستوري سیاري سپوږمۍ سولر سیستمونه یا شمسي نظامونه او ټول کهکشانونه د مقناطیسی قوو یا میګناټیک فورس د توازون او بَلانس پواسطه پخپلو مدارونو یا اوربیټونو کې ټینګ دي او ګرځي او دا بَلانس او توازن دومره دقیق او حساس محاسبه شویدی، چه ستوري،سیاري ،سولر سیستمونه او ګلکسیګاني سره ددي چه په ډیر زیاتو سپیډونو سره په حرکت کې دي،خو په هر سپیډ ،هر موقیعت او هر حالت کې نوموړی توازون او بَلانس تغیر نه کوي او تل ثابت وي،او که فرضاً په دي بَلانس کې ډیر معمولي تغیر او فرق راشي نو په یو سیکېنډ کې به کائنات دړی وړی شي.په دنیا کې ددي مثال مَیګلیب ټرین یا میګنیټیک لِیویټیشن ټرین دي چه د مقناطیسی قوي یا میګنیټیک فورس پواسطه د پټلی نه جګیږي او په هوا کې حرکت کوي ،او د اصطکاک یا فریکشن د کموالی په وجه ډیر تیز ځي ،چه په جاپان او چین کې د ۶۰۰ کېلو میټر په یو ساعت کې سپیډ پورې جوړ شوي دي . نو په

آسمان کې په بې حسابه ستورو یا سټارز او سیارو یا پلانیټز کې د مقناطیسی قوو یا میګنَیټیک فورس توازون او بَلانس کول او ددې توازون او بَلانس په دوامدار ډول ثابت ساتل او کنټرولول د الله تعالی د وجود آیات او نښاني دي.چه د دې آسماني آیات د تشریح او تفسیر پواسطه کولای شو چه د سورت الرحمن د۷ آیت په تفسیر پوه شو وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ ﴿7﴾او الله تعالی آسمان اوچت کړو او بلانس او توازون یې قائم کړو.

نو ۱۴۰۰ کلونه مخکې په قرآنکریم کې د داسې حقیقت ذکرکول  کوم چه د ساینس پواسطه اوس کشف او معلوم شو ،دا د دې ثبوت دې چه قرآنکریم د الله تعالی ریښتینی کلام دی .ځکه چه ۱۴۰۰ کلونه مخکې د خالق نه پرته یو انسان ته هم د آسمان او سپیس په باره کې معلومات نه ؤو.

په آخر کې د ټولو ملحدینو یا ایتیېسو او ایګناستیک یا شکمنو څخه هیله کوم چه بې ځایه بحثونه او ضد دې پریږدي ،په خپل نفس دې رحم وکړي ،په الله دې د زړه د کومې ایمان راوړي او د دوزخ نه د بچ کېدو او جنت ته د تلو کوشش دې وکړي او که داسې ونه کړي نو کله چه د ځنکدن په وخت کې د

مرګ ملائیکې وګوري نو بیا به ارمان کوي او هیڅ به نه شي کولاى.و ما علینا الاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۵۰)

# ملحد  چا ته ویل کیږي؟

ملحد هغه چا ته ویل کیږي چه:د الله تعالی نه په مطلق ډول منکر وي.

او وایې چه: کائنات خالق ته ضرورت نلري.پرته د خالق نه جوړ شوي دي.د خالق نه پرته چلیږي.او پرته د خالق څخه کنټرولیږي.

انسانان د ژوند ډیري زیاتي فیصلی د کامن سینس پواسطه کوي.

مثلاً که د شپي په دولسو بجو یو سړی اواز وکړي چه دروازه خلاصه کړه د برق میټر ګورم.سره د دي چه  یونیفورم یې هم اغوستی وي آیا ته به دروازه  ورته خلاصه کړې؟

ته به هیڅ کله دروازه ورته خلاصه نکړې.

ځکه چه دا ستا د عقل فیصله ده چه:په دروازه کې ولاړ سړی برقي نه دي بلکه یو  غل دی.

خو دا فیصله عقل پرته د کومو تحقیقاتو او ثبوتونو څخه کوي.او ته د عقل فیصله مني.او دروازه نه خلاصوي.

خو کله چه:د الله تعالی خبره راشي نو ملحد. د عقل او کامن سینس څخه هم منکر شي.

مثلاً کامن سینس او عقل وايې چه:که په موبایل کې لس میګافیکسل کمره پرته د انجینر څخه نه جوړیږي نو په سترګه کې پینځه سوه پینځه اتیا میګافیکسل کمره څنګه پرته د خالق نه جوړیدلای شي؟

که په هسپتال کې د ډیالیز ماشین په غیر د انجینر نه جوړیږي. نو کېډني یا پښتورګي کوم چه پینځه ویشت کرته ډیالیز په ورځ کې کوي نو څنګه پرته د خالق نه جوړیږي؟

عقل خو دا وايې چه:که د انسان مجسمه پرته د جوړونکې څخه نشي جوړیدلای نو یو ژوندی انسان څنګه په غیر د خالق څخه جوړیدلای شي؟

کامن سینس خو دا وايې که د یو زمري عکس پخپله نه جوړیږي نو دا څنګه امکان لري چه: یو ژوندی زمری دي پرته د خالق نه جوړ شي. کامن سینس

خو دا وايې که خلک دا نه مني چه: د خاورو ګيلاس دي پخپله جوړه شوي وي نو دا څنګه مني چه کائنات دي پرته د خالق نه جوړ شوي وي؟

عقل خو وايې: که يو موټر پرته د فيولو او ډريور څخه نشي چليدلای نو د ځمکې سياره څنګه پرته د ډرايور او فيولو څخه چليدلای شي؟حقيقت دا دی چه کائنات خالق لري .او د خالق پواسطه چلول کيږي او کنټروليږي.

څوک چه د الله تعالی نه انکار کوي بايد فکر وکړي کله چه د غوا بچی پيدا شي خپله مور هم پيژني د مور تيونه هم پيژني او د خوراک چل هم ورځې.

په خيټه کې د غوا بچي ته دا څوک ورزده کوي؟

د هګۍ څخه چرګوړی راوزي سمدستي په خوراک شروع کوي او خپل خوراک پيژني.

د هګۍ په داخل کې چرګوړي ته دا څوک ورزده کوي؟

د هګۍ څخه د بتکې بچی راوزي د اوبو ډنډ ته ورځي د لامبو چل هم ورځي او خپل خوراک هم پيژني.

د هګۍ په داخل کې د بتکې بچي ته دا څوک ورزده کوي؟حقیقت دادی چه کاینات  خالق لري چه الله تعالی دي.و ما علینا الا البلغ المبین

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۵۱)

# ملحدين د مسلمانانو نه د الله تعالى د وجود ثبوت غواړی.

اسلام دانسان سره سم دنيا ته راغلى دي.۱۲۴۰۰۰ زيات او کم پيغمبران هم ټول د يو قسم پيغام او مسيج سره راغلي دي،او ټولو همدا يوه خبره کړيده چه کائنات خالق او رب يا پيدکوونکى او پالونکى لري چه الله تعالى دى ،نو دا دومره لوي اتفاق څرنګه ممکن کېدلاى شي بلکه نامکن دي چه په مختلفو زمانو کې د ي مختلف پيغمبران راشي او ټول دي يوه خبره وکړي.او همدارنګه د هر سالم انسان په فطرت کې شته دى هغه که په آبادى کې ژوند کوي او که په صحرا کې ،په غره کې اوسيږي او که په ځنګل کې نو د هر يو په فطرت کې شته دى چه:زه چا پيدا کړى يم ،د هغه په وړاندي د مسؤليت او جواب ورکولو احساس کوي او د هغه د خوانه د جزا او سزا په ورکولو يقين لري.مګر په هره زمانه کې ډير کم تعداد خلک د يو فيصد نه هم کم د فطرت خلاف، سره ددي چه

هر وخت د وجدان او ضمیر سره په جنګ وي دوي د یو ضد په بنیاد وایې چه نعوذبالله خالق نشته ،او کائنات پخپله پیدا شویدي.عجیبه خو لا دا ده چه په ځای ددي چه دا ۹۹ فیصده خلک ددوي نه پوښتنه وکړي چه تاسو ولي او په څه دلیل خالق یا کریټر نه منئ؟برعکس دوي به ددي ۹۹٪ خلکو نه پوښتني کوي چه تاسو مونږ ته ثبوت کړئ چه الله شته دی.او دوي به هم ورته شروع شي،حال دا چه د حق او فطرت نه خو دوي انحراف کوي ،نو دوي باید موحیدینو ته ثبوت کړي چه دوي ولي الله نه مني؟او دوي باید ثبوت کړي چه نعوذبالله ولي او په څه دلیل خالق یا کریټر نشته ،خو نه یې دا کار کړیدی او نه به یې وکړي.خو ددي دا مطلب هر ګز نه دی چه زمونږ سره ثبوت نشته الحمدلله زمونږ سره په خورورونو ثبوتونه او دلایل شته دي،چه یو څه یې دلته ذکر کوو،

1-ګزمولوجیک یا کائناتی دلایل.

د کوم وخت نه چه کائنات پیداشویدي د هماغی ،وخت نه پکې قوانین یا لاز هم موجود دي،چه د دي قوانینو د جملی نه یو قانون د علت او معلول یا د کاز او ایفیکټ قانون دی.دا قانون داسي دی چه

هر معلول یا ایفیکټ علت یا ګاز لري مثلاً ځما ظاهري علت یا کاز ځما مور او پلار دي او د هغوي کاز د هغوي مور او پلار او په همدي ترتیب د هر ایفیکټ یا معلول کاز یا علت او بیا د هغی کاز یا علت او بیا د هغی علت یا کاز بالآخره فرسټ کاز یا علت اولي ته رسیږو چه همدا اول سبب یا فرسټ کاز یا علت اولي الله تعالی دي. مګر ملحدین وایې چه دا د علت او معلول قانون یا د کاز او ایفیکټ قانون یو عمومی یا یونیورسل قانون دی نو چه هر معلول ،علت یا هر ایفکټ، کاز لري،نو اول سبب یا فرسټ کاز یا علت اولي یعني الله تعالی هم باید سبب یا علت یا کاز ولري.ددي جواب دادي چه: دا ټول قوانین صرف د کائناتو دپاره ،دکائناتو په داخل کې یا په نیچرل یونیورس کې کار کوي او دباندي د کائناتو نه کار نکوي.نو که چیرته اول سبب یا فرسټ کاز یا علت اولي د کائناتو په داخل کې ؤو نو بیا دا قانون پري تطبیقیدلو مګر علت اولي یا فرسټ کاز یعني الله تعالی د کائناتو نه دباندي دی، لهذا دا قانون په علت اولي یا الله تعالی نه تطبیقیږي.یا په بل عبارت الله تعالی د زمان او مکان یا ټایم او سپیس او فزیکې قوانینو خالق او جوړونکی دی او پخپله ددي قوانینو نه آزاد

دی،یعني دا د کاز او ایفیکټ قانون صرف د پیدا شوو شیانو یا کریشن دپاره دی،مګر الله تعالی خالق یا کریټر دی، پیدا شوي نه دی لم یلد و لم یولد دی او د همیشه څخه موجود دی.

دو همه خبره داده چه په کائناتو کې دا فزیکې قوانین دومره قوي او محکم دي چه ډیر معمولي تغیر هم پکې نه راځي ،سټفن هاکېنګ د اوسني عصر مشهور سایسندان او د بریف هیستري اف ټایم مؤلف وایې چه کائنات د دومره دقیق حساب او کتاب په اساس جوړ شوي دي چه زمونږ په تصور کې هم نه راځي نو که چیرته په دي حساب او کتاب او قوانینو کې ډیر معمولي د یوي زري او سیکېنډ څخه هم په کمه اندازه تغیر او فرق راشي نو کائنات به دړی وړی او تباه شي.مثلاً ځمکه د اکزیس یا محور په خوا او شاه زر مایلز په یو ساعت کې سپیډ سره ګرځي .سپیډ یې نه کمیږي او نه زیاتیږي،او دلمر په خوا او شاه د ۶۷۰۰۰ مایلز په یو ساعت کې سپیډ سره ګرځي .سپیډ یې نه کمیږي او نه زیاتیږي.د لمر او ځمکې تر منځ فاصله ۹۳ میلیون میلز ده دا فاصله نه کمیږي او نه زیاتیږي.یعني د هر شي د چلولو دپاره ډیر قوي،حساس او دقیق حساب شوي قوانین جوړ

شویدي او د همدي قوانینو په اساس کائنات چلیږي چه ساینسدانان ورته نیچرل لا یا طبعي قوانین وایې.چه په ښکاره ډول ددي مطلب دا دی چه کنټرولیږي ،معلومه خبره ده چه د کنټرولولو دپاره د کنټرولر وجود ضرور دی ،چه همدا الله تعالی دي.

دریم--

امریکایې جینیټیک ساینټیسټ رابرټ وایې چه :ساینس د الله تعالی د وجود دومره ثبوتونه جمع کړي دي چه دا کېدای نشي او ناممکنه ده چه یو سړی دي په فزیک پوهیږي او هغه دي د الله تعالی نه انکار وکړي.

او که څوک د الله تعالی نه انکار کوي نو هغه بیا د ساینس په لار روان نه دی، او د ساینسي حقایقو نه سترګی پټوي .او ضد کوي.رسل چه د داروین مرشد اعظم ؤو هغه دا مني چه کائنات سبب یا کاز لري او پخپله نه دي پیداشوي خو ددي منلو ته تیار نه ؤو چه دا سبب یا کاز یا علت دي الله تعالی وي.همدارنګه ریچرډ ډکوین چه د ګاډ ډیلوژن کتاب یې لیکلی دی، هغه وایې چه :کائناتو کې ډیزاین شته دی ،خو ضرور نه ده چه دا ډیزاین دي الله

تعالی کړی وي ،کېدای شي چه د بلي سیاري نه ایلین راغلي وي او زمونږ ډیزاین یې کړی وي ،وآه د دي خبري منلو ته تیار دي او د الله تعالی منلو ته تیار نه دي،خو دي عقل ته فکر وکړئ چه ایلین او هغه سیاره چه ایلین په کې اوسیږي هغه چا ډیزاین کړي دي.باور وکړئ چه ښه پوهیږي چه حق څه شي دی،خو ډیر ضدي خلک دي او خپل ضد نیولي دي.دا ضد نه دي نو څه شي دي؟اینیشټین وایې چه کائنات د څلورو قوو یا فوږس پواسطه کنټرولیږي ،اویو پاکستاني ساینټیس وایې چه د دري قوو پواسطه کنټرولیږي،مګر سټیفن هاکېنګ وایې چه کائنات د یوي قوي یا فوږس پواسطه کنټرولیږي ،چا تري پوښتنه وکړه چه ستا مطلب الله تعالی دی ،هاکېنګ جواب ورکړو چه نه زه ملحد یا ایټیېس یم.فکر وکړئ چه دا ضد نه دی نو څه شی دی؟بل دلیل دادی چه: په کائناتو کې چه هر شی دی لکه انسانان،حیوانات،نباتات،ستوري ،ځمکه وغیره ټول د مادي یا مټر نه جوړشویدي.او تجربو ثابته کړي چه ماده کوډینګ نشي کولای .کوډینګ دي ته وایې مثلاً په مونږ کې عقل، د فکر وهلو صلاحیت ،علم او معلومات موجود دي همدارنګه په نباتاتو

او حیواناتو کې هم معلومات موجود دي مثلاً په ډي این ای کې معلومات یا جینیټیک کوډ چه دي ته کوډینګ وایې خو په دي یو شي کې هم پخپله مادي یا مټر کوډینګ نه دی کړي او نه یې کولای شي،ځکه چه که مادي پخپله کوډینګ کولای شو ،نو بیا خو روباط کې د کوډینګ یعني مصنوعی عقل یا ارټیفیشل اینټیلیجینټ د اچولو ضرورت نه ؤو. ځکه چه انسان او روباط دواړه د مادي یا مټر نه جوړ شویدي ،نو که په انسان کې ماده ذهانت او معلومات اچولی شي ،یا په انسان کې ماده پخپله کوډینګ کولای شي ،نو باید چه په روباط کې یې هم وکولای شي.

ځکه چه انسان او روباط خو دواړه د یو قسم مادي نه جوړشویدي.خو حقیقت دادی چه ماده کوډینګ نشي کولای یعني معلومات او عقل و غیره نشي ورکولای .بلکه کوډر یا کوډینګ کوونکی بل ذات دي چه همدا ذات الله تعالی دی.په آخر کې دا دعا کووچه الله تعالی مو دي عقیدي برابري او صحیح کړي او د جنت لار دي راته آسانه کړې آمین و ماعلیناالاالبلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۵۲)

# د بیګ بینګ نه مخکې څه شی ول؟

لس ورځې د مرګ نه مخکې د سټیفن هاکېنګ نه په نیشنل جغرافیک چَینل کې پوښتنه وشوه چه د بیګ بینګ نه مخکې څه شی ؤو هاکنګ جواب ورکړو چه هیڅ شی نه ؤو او زه ملیحد یا ایتیېس یم ،بیګ بینګ دي ته وایې چه کائنات د نشت او عدم په حالت کې د یوي سینګولاریټي یا د یوي کتلی د انفجار یا ایکسپلوژن پواسطه منځ ته راغلي دي. ملحدین وایې چه دا سینګولاریټي د عدم یا هیڅ پواسطه منځ ته راغلي وه ،مګر ساینس د ترموډینامیک ددي قانون په اساس چه عدم یا هیڅ نشي کولای چه یو شی منځ ته راوړي د ملحدینو دا خبره رده وي، فکر وکړئ چه دوي د حق نه د انکار او پټولو دپاره د هري غیري ساینسي او بي عقلي خبري منلو ته په غیر د فکر وهلو نه تیار دي مګر د زیاتو ساینسي او عقلي دلایلو سره سره د الله تعالی منلو ته تیار نه دي کله هم چه د الله نوم واخستل شي نو سمدستي به وایې چه د الله تعالی نه

نو مخکې څه شی ؤو.او بله دا چه د بیګ بینګ د انفجار یا چاودنې په باره کې وایې چه په دي سینګولاریټي یا کتله کې انفجار  په غیر د کومي خارجي مداخلی څخه  پخپله وشو،او د بي عقلي مادي پواسطه  دا انفجار--------------------

دومره دقیق کنټرول شوي ؤو لکه یو پنسل چه په تیره څوکه ودرول شي او د میلیونو کلونو په تیریدو سره ونه ولیږي بلکه ددي نه هم زیات او که داسي دقیق کنټرول شوی نه ؤو نو بیا به کائنات نه ؤو جوړشوي. انفجاري مواد  د مکمل کنټرول لاندي مخ په وړاندي په غیر د کنټرولر نه روان ؤو ،لحظه په لحظه څومره چه انفجاري مواد وړاندي تلل او ساحه لویده ډیزاینونه په غیر د ډیزاینر نه ،قوانین په غیر د قانوندان نه او نظم په غیر د ناظم نه جوړیدل،د انفجاري موادو د وړاندي تلو په دي سفر کې چه دیارلس عشاریه اته  میلیاردو کلونو نه شروع دی او اوس هم جاري دی د نوموړو بي عقله موادو نه ستوري، سیاري  آسمانونه ،ځمکه او حتی د انسان پشان عاقل مخلوق  پخپله جوړشو، بي عقلي مادي پخپله ځان ته انفجار ورکړو،انفجار یا چاودنه پخپله کنټرول شوه،کائنات او طبعي قوانین پخپله جوړ شو،او پخپله کنټرول او چلیږي.

قرآنکریم فرمايي ذَلِکَ ظَنُّ الَّذِينَ کَفَرُوا دا د کافرانو ګمان او اندازي دي ،يعني ددوي خبري حقيقت نه دي.

غور وکړئ ساينس د ترموډيناميک د قانون په اساس وايي چه هر کار او حادثه که په خپل سر پريښودل شي اينټراپي او ګډوډي منځ ته راځي مګر ملحدين د بيګ بينګ په باره کې دا قانون نه مني ځکه چه د بيګ بينګ نه وروسته خو يو منظم او ډيزاين شوي يونيورس يا کائنات منځ ته راغلي دي.يا په بل عبارت فرضاً که د بيګ بينګ چاودنه په غير د کنټرولر نه پخپل سر شوي وه نو د ترموډيناميک د قانون په اساس بايد چه په کائناتو کې ګډوډي وه،خو ګورو چه نتيجه سرچپه ده،ځکه چه کائناتو کې ډيزاين،قوانين او نظم موجود دي،کوم چه ثابتوي چه د بيګ بينګ چاودنه پخپل سر نه ده شوي بلکه د چا د کنټرول لاندي شويده

يعني ساينس د ملحدينو دا نظر او تيوري رده وي چه ګني کائنات پخپله جوړ شوي او پخپله چليږي مګر بيا هم ملحدين د حق نه د تښتيدو دپاره د ساينس او عقل په خلاف پخپل غلط او بي بنياد نظر

او تیوري کلک ولاړ دي او بیا وایي چه دا ساینس دی.

اوس په همدي باره کې د قرآنکریم معلومات ګورو قرآنکریم فرمایي چه کائنات د نشت او عدم نه الله تعالی پیداکړیدي بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ ۱۰۱ نمبر ایت او شپږم سورت الله تعالی د کائناتو خالق دي چه په غیر د نموني نه یې کائنات پیدا کړي دي،هغه کتله یا ماس چه ځمکه او آسمانونه پکې یو ځای نښتي ؤو،چه سساینسدانان ورته سینګولاریټي یا د کائناتو د آغاز نقطه وایې هغه پخپله نه وه پیدا شوي بلکه الله تعالی پیدا کړي وه یعني په اول کې کائنات یو ځای نښتي ؤو. أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ .یویشتم سورت او دیرشم ایت. آیا کافران نه پوهیږي چه آسمانونه او ځمکه سره یوځای نښتي ؤو او بیا مونږ بیل کړل یعني په اول کې ټول کائنات د یوي کتلی یا ماس په شکل سره نښتي ؤو چه ساینسدانان دي حالت ته سینګولاریټي وایې،او بیا دا یوځای یا نښتي کائنات پخپله نه دي بیل شوي بلکه الله تعالی سره بیل کړل چه د کائناتو دي بیلیدلو او جداکولو ته ساینسدانان بیګ بینګ یا

لوي انفجار وايي،چه د الله تعالی پواسطه او د الله تعالی د کنټرول لاندي شوی ؤو.

او الله تعالی کائنات جوړ کړل او په دوامدار ډول يې لويوي يا وسعت ورکوي.

وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿47﴾الذاريات

او کائنات مونږ په خپل قدرت سره جوړ کړل اوبيشکه مونږ د کائناتو پراخونکي يو.

دلته که غور وکړئ ليدل کيږي چه ساينس د قرآنکريم د آيتونو تصديق او تائيد کوي ځکه چه ساينس هم وايي چه په اول کي يوه کتله يا سينګولاريټی موجود وه چه ټول کائنات پکي يو ځای نښتي ؤو او بيا د بيګ بينګ يا يو لوي انفجار پواسطه سره بيل شوي ،چون ساينس صرف د مادي کائناتو سره ډيل کوي ،نو د بيګ بينګ نه شاته نشي تللای ،ځکه چه ماده،زمان ،مکان او انرجي د بيګ بينګ نه وروسته پيدا شويدي،نو ساينس نه د بيګ بينګ نه شاته او نه د مادي کائناتو نه دباندي کار کوي ،نو په دي دلېل ساينس په دي باره کي نه معلومات لري او نه څه ويلی شي چه د بيګ بينګ کتله يا سينګولاريټي څنګه پيدا شوي وه او بيا په دي کتله کي انفجار يا چاودنه څنګه

وشوه،او همدارنګه د خالق یا کریټر په باره کې هم څه نشي ویلی ځکه چه ساینس صرف د مادي سره ډیل کوي او الله تعالی ددي نه پاک دي.

یا په بل عبارت ساینس نه دا ثابوتولای شي چه الله شته دي او نه دا ثابتولای شي چه نعوذبالله الله نشته دي.

نو په دي باره کې چه د بیګ بینګ کتله یا سینګولاریټي څنګه پیداشویده او انفجار پکې څنګه شویدی ،حقیقي ساینس په دي باره کې بالکل خاموش دی او په دي باره کې چه څومره خبري دي دا د ساینس خبري نه دي بلکه ،دا فقط د ساینسدانانو شخصي نظریات او تیوریز دي،نو د چا شخصي نظریې یا تیوریز ته دساینس درجه ورکول یا ورته ساینس ویل دا خو ناپوهی ،جهالت او د ساینس د علم سره خیانت ، او په ساینس تهمت ویل دي.

ساینسدانان دوه قسمه دي اول موحېدین چه دوي خالق یا کریټر مني دوي وایې چه د بیګ بینک کتله الله تعالی پیدا کړي وه اود بیګ بینک چاودنه ،کنټرول او د کائناتو جوړیدل د الله پواسطه شویدي او کائنات د الله پواسطه چلول کیږي او په دوامداره

ډول يې لويوي  چه د دوي تعداد هميشه زيات دي دويم ملحدين يا ايتيېس ساينسدانان دي  چه الله نه مني دوي وايې چه د بيګ بينګ کتله پخپله پيداشويده او پخپله پکې انفجار شويدى ،کائنات پخپله جوړ شويدي او پخپله چليږي خو ددوي تعداد  کم دى ،نو که يو ساينسدان د الله تعالى نه انکار وکړي ددي مطلب دا هر ګيز نه دى چه ساينس الله نه مني،که سټيفن هاکېنګ الله نه منلو  ددي مطلب دا نشتو چه ساينس الله نه مني ځکه چه په زرونو زرونو نور لوي لوي ساينسدانان الله مني اينشټټين الله منلو نيوټن چه د ماډرن ساينس پلار ورته وايې کېپلر ګليلو اونور ډير زيات  الله مني.

 د الله تعالى په وجود خو دلايل او ثبوتونه ډير زيات دي خو دلته زه صرف يو دلېل ذکر کوم  هغه دا چه د الله تعالى د وجود لوي ثبوت د الله تعالى کتاب دى ځکه چه د شلمي پيړۍ نه پخوا په ټوله دنيا کې يو نفر هم په دي نه پوهيدو چه کائنات پيدا شويدي، په اول کې د يوي کتلى يا ماس په شکل سره يوځاى نښتي ؤو او بيا بيل شوي دي او په دوامدار ه توګه لويږي.بلکه د ساينسدانانو او فيلسوفانو چه څومره نظريات او تيوريز ؤو د شلمي پيړۍ پورې ټول ددي قرآني معلومات خلاف ؤو يعني دوي ويلى چه

کائنات پیدا شوي نه دي،او د همیشه څخه همداسي موجود دي څنګه چه اوس دي ،ساکن او بي حرکته دي ،حجم یې نه زیاتیږي یا نه لویږي،چه د ساینسدانانو او فیلسوفانو دي غلطو نظریاتو د شلمي پیړی یعني د اینشتټین د وخت پورې دوام وکړ چه خپله انشټین هم په اول کې په همدي عقیده ؤو او د ستاتیک یونیورس یا د ساکن کائناتو تیوري یا نظر یې ورکړۍ ؤو تر څو چه په ۱۹۲۹ کې هبل امریکایې ساینسدان د ماډرن ټیلیسکوپ پواسطه ډیسکور یا کشف کړه چه کائنات لویږي ،حجم یې زیاتیږي او ددي ځای نه د بیګ بینګ تیوري منځ ته راغله یعني کائنات پیدا شویدي په اول کې یو ځای او بیا جدا شوي دي او په دوامدار ډول لویږي نو ددي کشف نه وروسته اینشټین هم خپله ټیوري یا نظر بدل کړو، نو هر ملحد ،ساینسدان او فیلسوف چه د الله تعالی په ذات او قرآنکریم کې شک کوي او یا یې نه مني نو بیا دي حتماً دي سوال ته جواب پیدا کړي چه: ۱۴۰۰ کلونه پخوا په داسي ځای کې چه مکتب نه ؤو او د خلکو علمي سویه دا وه چه فکر یې کاوه چه غرونه د آسمان ستني دي، نو په داسي ځای کې حضرت محمد ص چه لیک او لوست یې هم نه ؤو کړې ،د

کوم ځای او منبع نه یې په قرآنکریم کې داسي معلومات ولیکه په کوم چه د شلمي پیړۍ نه مخکې یو ساینسدان او فیلسوف هم نه پوهیدو ؟خبره د لمر پشان معلومه ده چه دا معلومات د الله تعالی د خوانه د وحې په واسطه په حضرت محمد ص نازل شوي او صحابه کرامو د هغه د مبارکې خولي نه په قرآنکریم کې لیکلی دی.په آخر کې د ټولو ملحدینو او هغو خلکو نه چه د الله تعالی نه انکار کوي هیله کوم چه: ولي د هغه ذات سره دومره ضد کوئ او ولي یې د نوم اوریدلو ته تیار نه یاستۍ چا چه تاته دا ښایسته صورت درکړي،کور،ښځه،اولادونه،دولت،عزت او نور بې حسابه نعمتونه یې درکړيدي،خر،سپۍ خنځیر یې نه یې پیدا کړی ،اشرف المخلوقات انسان یې پیدا کړی یې،

د قرآن نه غټ غټ کتابونه ددي دپاره لولي چه نعوذ باالله قرآن کریم غلط ثابت کړي ،مهرباني وکړه یو وار خو پخپله قرآنکریم هم د ترجمی سره ووایه په هره ژبه کې یې ترجمه شته ان شأالله چه ټول سوالونه او مشکلات به دي حل شي د نورو خبري پریږده ځکه چه د مرګ نه وروسته به دا یو هم نه رسل اونه داروین او نه مارکس او نه لینن تا

سره وي ،یواځې به یې،یواځې کېنه او د خپلي آینده په باره کې فکر وکړه که نور هیڅ نه کوي لږ تر لږه دومره فکر خو وکړه چه: که د مرګ نه پس دي بیرته الله تعالی ژوندی کړي او پوه شي چه الله تعالی شته دی نوبیا به څه کوي او څه حال به دي وي مخکې ددي نه چه په داسي حالت کې راګیر شي چه بیا هیڅ نشي کولای وخت غنیمت وګڼه او کوشش وکړه چه په دنیا کې خپل خالق وپیژني او ځان ورورسوي.و ما علینا الا البلغ المبین

محمد عثمان نظامی

## الدرس(۵۳)

# د يو ملحد ډاکټر سوال

د يو ملحد ډاکټر سوال دي چه په دنيا کې په بيليونونو بيليونونو انسانان دي خو يو انسان هم الله تعالى نه دي ليدلى،نو زه داسي الله تعالى ځنګه ومنم چه تر اوسه پورې هيچا نه دي ليدلى؟

جواب:

په دنيا کې ميليونونه خلک ميليونونه شيان پرته د ليدلو نه مني،خو په دي شرط چه د شيانو نښانـي او نښي به موجود وي،

يا په بل عبارت:په دنيا کې ډير زيات خلک ډير زيات شيان پرته د ليدلو نه صرف د شيانو د نښو اونشانو په اساس مني،

مثلاً په دنيا کې 100فيصده انسانانو عقل نه دي ليدلى،

مګر ټول انسانان عقل مني،ځکه چه د عقل د موجوديت نښي او نښاني ګوري،

فکر وکړه چه په ځنګل کې روان یې یو کور دي ولیدلو،د کور په لیدلو سره سمدستي ستا په ذهن کې راځي چه دا کور چا جوړ کړی دی.

سره ددي چه تاسو جوړونکی نه دي لیدلی چه تور دی که سپین لوړ دی که ټیټ خو پرته د لیدلو جوړونکی منئ،ځکه چه تاسو د جوړونکې د وجود نښي او نښاني ګورئ،

هیچا روح نه دی لیدلی خو مونږ ټول روح منو ځکه چه مونږ د روح د موجودیت نښي او نښاني ګورو ،یعني ژوند د روح د موجودیت نشانه او نښه ده. یعني د کور موجودیت د جوړونکې نشانه ده.

محبت،خوشالی،د ثقل قوه او خیال دا یو هم نه لیدل کیږي لیکن هر څوک یې د نشانو او نښو د لیدلو په اساس مني.

په دشته کې اوښ تیر شویدي یو کلیوال سړی پرته د اوښ د لیدلو څخه مني چه دلته اوښ تیر شویدی،

ځکه چه د اوښ د پښو نښي د اوښ د وجود نښاني او نښي دي.

نو آیا خلک نه پوهیږي چه د نطفی څخه جوړشوي انسان،او----------------------------------------

یو عادي تخم چه په کې دا معلومات موجود دي چه د ونـي ډډ به څنګه وي څومره پاڼی به پکې وي څنګه او څومره میوي او د هري میوي خوند او رنګ به څنګه وي او داسي نور.

ډي این ای ،جینیټیک کوډ ،

ځمکه ،لمر سپوږمۍ،غرونه ،آسمانونه،نیچرل قوانین او نور ددي ټولو جوړول،چلول او کنټرولول آیا دا شیان د الله تعالی د وجود آیاتونه او نښي نه دي؟

بیشکه دا ټول د الله د وجود آیاتونه او نښي دي.او د خالق د وجود تقاضا کوي.

او مونږ الله پرته د لیدلو څخه د الله تعالی د آیاتونو او نښو په اساس منو.و ما علیناالاابلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۵۴)

# ملحدين په ښکاره د ساينس دعوه کوي مګر په حقيقت کې ساينس نه مني

# Atheists and their beliefs

ټيپس خدای يا ګاډ ته وايې او  ای ټيپس هغه چاته ته وايې چه خدای يا ګاډ نه مني،دوي وايې چه کائنات يا يونيورس خالق او کريټر نلري او دا هر څه د بيګ بينګ يا د يوي لوي چاودنې  پواسطه چه په  يوي واحدي کتلي يا سينګل ماس کې شوې وه منځ ته راغلي دي،نور وايې چه: ټايم او سپيس ،مټر او انرژې يا  زمان او مکان ، ماده اوانرژې ټول ددي دهماکې يا ايکسپلوژن نه وروسته پيدا شويدي،او د بيګ بينګ نه مخکې هيڅ شی نه ؤو .بايد ښه متوجه شئ چه دا هغه خلک دي چه دوي په خوله وايې چه مونږ صرف ساينس منو، او کوم شی  چه ساينسي ثبوت ونلري او د ساينس خلاف وي نه يې منو او نه پري يقين کوو.راځو دا خبره تجزيه يا انلايز کوو چه آيا وقعاً دا خلک په ساينس

باور او يقين لري ،او صرف هغه څه مني کوم چه ساينس يې مني،او په هغه شيانو يقين نه کوي کوم چه ساينس يې نه مني؟.

که مخکېنيو خبرو ته متوجه شو ،دوي وايې چه: ټايم ،سپيس،مټر او انرژې د بيګ بينګ نه وروسته منځ ته راغلي دي،يعني مطلب دا چه د بيګ بينګ نه مخکې هيڅ شي نه ؤو، ښه چه هيڅ شي نه ؤو نو د بيګ بينګ کتله يا ماس يا سينګولاريټي د کومه شوه،ساينس په دي ځاى کې خپله عاجزى مني او په دي باره کې هيڅ نه وايې ،ځکه چه ساينس صرف هغه شى مني چه په مشاهده او تجربه يا ابزرويشن او ايکسپيريمينټ مبني وي،خو دوي پرته د کوم ساينسي ثبوت او عقلي دلېل نه وايې چه د بيګ بينګ کتله يا ماس يا سينګولاريټي د هيڅ شي يا نتينګ نه منځ ته راغلې ده.مګر ساينس د دوي دا خبره په ډير واضح ډول رده وي او غلطه ورته وايې،ځکه چه د ترموډيناميک اول قانون وايې چه هيڅ شي يا نتينګ نشي کولاى چه يو شي يا سمتينګ منځ ته راوړي يعني ساينس وايې چه د بيګ بينګ کتله د نتينګ يا نشت څخه منځ ته نه ده راغلې ،خو دا تش په خوله د ساينس پيروان او په عمل کې د ساينس نه منکر وايې چه د بيګ بينګ کتله په خپل

سرد هیڅ نه منځ ته راغلي ده ،چه دا خو په ښکاره او واضح ډول د ساینس----------------------

نه انکار کول دي ځکه دوي چه څه وایې هغه د ساینسي قوانینو او اصولو خلاف دي، او عجیبه خو دا ده چه دي ته بیا ساینس وایې حقیقت دا دی چه:دوي هغه خلک دي چه په خوله وایې چه مونږ هره خبره په دلېل او په ساینس منو.لیکن همدوي دي چه نه ساینس مني او نه دلېل،ځکه دوي د خپلي خبري د صحیح ثابتولو دپاره نه یو عقلي دلېل لري او نه یو ساینسي ثبوت،او نه دخپلي خبري د رده ولو دپاره یو عقلي دلېل مني او نه یو ساینسي ثبوت، ځکه چه یو سالم عقل هم دا نه مني چه د نشت یا هیڅ نه دي یو شی پیدا شي او نه تر اوسه پورې مشاهده او نه په لابراتوار کې تجربه شوي چه د نشت یا هیڅ نه دي یوشی جوړ شوي وي. بل سوال دا پیداکیږي چه په دي کتله یا ماس کې انفجار یا ایکسپلوژن څنګه وشو او څنګه کنټرول شو.ایتیېس وایې چه دا انفجار یا چاودنه پخپله وشوه او پخپله کنټرول شوه، او بیا وایې چه دا ساینس دی ، ،مګر ساینس ددوي خبره بالکل رده وي، د ترموډینامیک دوهم قانون وایې چه :که هره حادثه او کار په خپل سر پریښودل شي او کنټرول نشي انټراپی او

ګډوډي منځ ته راځي او د وخت په تیریدو سره اینټراپی او ګډوډي زیاتیږي.حال دا چه د بیګ بینګ نه وروسته خو اینټراپی او ګډوډي منځ ته رانغله بلکه یو آباد، منظم او ډیزاین شوي یونیورس منځ ته راغی.مطلب دا شو چه د بیګ بینګ ایکسپلوژن پخپله نه بلکه د چا د کنټرول لاندي شویدی ځکه که د بیګبینګ چاودنه پخپله په غیر د چا د کنټرول نه شوي وه نو د ساینس د قانون په اساس اوس خو به هري خواته ګډوډي او اینټراپی وه او نه به په دي شکل دا موجوده کائنات ؤو او نه مونږ او تاسو.دلته دوه خبري یا دوه ابشنز دي ،یا خو به دوي یعني ایتیپس غلط وي او یا به ساینس غلط وي،یعني که د ساینس خبره صحیح وي ،نو د دوي خبره غلطه ده او که د ایتیپسو خبره صحیح وي نو بیا خو د ساینس خبره غلطه ده ،ځکه چه د دواړو خبري یو د بل سره متضاد او مختلفی دي،ستاسو فیصله څه ده ، ساینس او فزیک ته صحیح وایی او که ملحدینو یا ایتیپسو ته،ښکاره ده چه ستاسو جواب دا دی چه ساینس صحیح دی،د حیرانتیا خبره ده چه دوي ځنګه ځانونو ته د ساینس پیروان وایې،او څنګه یې په خوله راځي چه دي ته ساینس وایې دا خو په ساینس دروغ او تهمت ویل دي دا خو د ساینس تو

هین دی دا خو د ټولي دنیا او واقعی ساینسدانانو په سترګو کې خاورې اچول دي ،ځکه چه ساینس خو بې ثبوته،بې د واضح دلېله او بې منطقه خبره نه مني او نه يې کوي ، ساینس دا خبره نه مني چه د بیګ بینګ کتله یا ماس یا سینګولاریټي د نشت یا نتینګ نه پیداشویده او پخپل سر د يو بې کنټروله انفجار په نتیجه کې کائنات منځ ته راغلي دي.

د دي دواړو سوالونوصحيح جوابونه په قرآنکریم کې دي، فرمايي!الله د آسمانونو او ځمکې پیدکوونکی او خالق دي ،یعني هغه الله تعالی دی چه کائنات يې د نشت نه پیداکړي دي، د کائناتو د آغاز یا شروع نقطه یا سینګولاریټي یا د بیګ بینګ کتله الله پیدا کړي وه،یعني په اول کې ټول کائنات سره يو ځای نښتي ؤو، يو ماس یا يوه کتله وه او بیا الله تعالی سره بیل کړل او ځمکه ،آسمانونه او ټول مخلوقات الله تعالی پیداکړل یا په بل عبارت د بیګ بینګ ماس یا کتله الله تعالی پیدا کړي وه او بیا د دي کتلی نه الله تعالی کائنات پیدا کړل.یعني د بیګ بینګ انفجار یا ایکسپلوژن په خپل سر نه بلکه دالله د کنټرول لاندي د الله تعالی پواسطه شویدی. قرآن فرمايي آیا کافران نه پوهیږي چه آسمانونه او ځمکه سره يو ځای نښتي ؤو او بیا مونږ سره

بیل کړل. تر اوسه چه ساینس څومره ډیسکوریز کړیدي ، ټولي د قرآن د آیتونو مطابق او د قرآن تائید او تصدیق کوي، پوهیږو چه د قرآن علم مکمل یا کمپلیټ دی،د قیامت پورې د انسانانو د ضرورت وړ ټول معلومات پکې شته او د ساینس علم نامکمل یا اینکمپلیټ دی،نورو تحقیقاتو ته ضرورت لري او ورځ په ورځ نوي ډیسکوریز کوي او مخی ته ځې الحمدلله تر اوسه پورې چه څومره ډیسکوریز ساینس کړیدي دقرآن د معلومات مطابق دي،یعني قرآن کې د ټولو شیانو په باره کې معلومات موجود دي او ساینس د وخت په تیریدو سره یو یو ډیسکور یا کشفوي.مثلاً قرآن فرمایې چه لمر حرکت لري خو ساینس ډیر وروسته ډیسکور کړه چه لمر حرکت لري.قرآن فرمایې چه کائنات لویږي، خو ساینس په ۱۹۲۹کې دا کشف کړه چه کائنات لویږي،قرآن فرمایې چه یو وخت کائنات یعني آسمانونه او ځمکه سره یوځای نښتي ؤو بیا الله سره بیل کړه،خو ساینس په شلمه پیړۍ کې ډیسکور کړه چه کائنات سره یوځای نښتي ؤو او سره بیل شو . قرآن د دي نه مخکې معلومات هم ورکوي فرمایې چه دا سینګل پاینټ یا اولنۍ کتله الله تعالی پیداکړیده.مګر ساینس لا تر اوسه دي مرحلی یا

ستېيج ته نه دی رسيدلای چه د الله تعالی په باره کې څه ووايې،خو د دي دا مطلب نه دی چه ساينس الله نه مني،په دي ځای کې ساينس خپله عاجزی ښيې، که ساينس دا نشي ثابتولای چه د بيګ بينګ کتله يا سينګولاريټي الله پيدا کړيده خو دا هم نشي ثابتولای چه الله نه ده پيدا کړي.بلکه په غيري مستقيم يا اينډايرکټ ډول ساينس اشاري او سيګنل دي خبري ته ورکوي چه د بيګ بينګ کتله الله پيدا کړيده.څکه لکه مخکې چه ذکر شو چه ساينس د بيګ بينګ د کتلی پيداکېدل د هيڅ يا نتينګ نه رده وي او بيا پدي کتله کې پغير د کنترولر نه انفجار يا چاودنه کول،او د هغی نه د يو منظم يونيورس منځ ته راتلل هم رده وي ،نو ساينس په غيري مستقيم ډول وايې چه :د بيګ بينګ سينګولاريټي چا پيدا کړي ده او خالق لري او د ماکه يا انفجار هم د خالق د کنترول لاندي شوی دی چه الله تعالی دي .او لکه څنګه چه تر اوسه پوري ساينس د قرآن د هري خبري د صحت تصديق کړيدی ان شأالله چه يوه ورځ به ساينس په واضح ډول دا هم تصديق کړي چه کائنات الله تعالی پيدا کړيدي.وما علينا الا البلغ المبين

محمد عثمان نظامی.

## الدرس (۵۵)

# د داروین د ایولوشن یا ارتقاء تیوري او دهغې رد (اوله برخه)

اوس وخت کې د ځمکې په مخ تقریباً دوه میلیونه سپیشیز یا انواع او اقسام د ژوندیو موجوداتو اوسیږي.مثلاً انسان یوه نوع اوبش بله نوع ماشی بله نوع چه ددي جملی نه یواځې د انسانانو تعداد ۷ بیلیونو ته رسیږي او حشراتُ الارض خو دومره ډیر دي چه که په انسانانو باندي وویشل شي نو هر انسان ته به د دوه سوه میلیونو نه زیات ورسیږي.نو داروین په دي باره کې چه دا دومره ژوندي موجودات د ځمکې په مخ څنګه آباد شویدي خپل نظر یا تیوري ولیکله .پوهیږو چه تیوري یو ساینسي حقیقت یا ساینټیفیک فکټ نه وي بلکه د چا شخصي نظر وي کېدای شي چه صحیح وي یا غلط.نو راځو په لنډ ډول اول د داروین تیوري ګورو او بیا دا ګورو چه صحیح ده او که غلطه؟داروین وایې چه په اول کې یو ژوندۍ حجره یا سیل یعني یو ژوندی موجود پیدا شو .خو دا چه

ځنګه پیدا شو په دي باره کې یې هیڅ نه دي ویلې. بیا د مختلفو حالاتو سره دمخکېدو او د وخت په تیریدو سره د ایولوشن او نیچرل سیلیکشن یعني ارتقاء او طبعي انتخاب پواسطه د نوموړی ژوندي موجود څخه مختلف ژوندي موجودات منځ ته راغله.داروین وایې چه زرافی د هرن نه منځ ته راغلي دي . دلېل دا وایې چه یو وخت د حیواناتو د زیاتوالی په وجه وابښه کم شونو هرن د ونو د پاڼو د خوړلو دپاره د سر د جګولو کوشش کولو نو اورمیږ ئی اوږد شو. خو داروین دا نه ده واضح کړي چه پاڼی خو نور حیوانات هم خوري لکه وځي نو د هغوي ورمیږونه ولي اوږده نه شو؟بل ځای وایې چه ماهیان د اوبو نه وچی ته راووتل او په ریپټایل بدل شو.خو دلته سوال دا پیدا کیږي چه آیا ماهی داوبو نه دباندي  ژوندی پاتي کیږي؟بیا وایې چه ریپټایل په قراره قراره لاسونه خوځول شروع کړل او مرغان تري جوړ شول.د ځان په باره کې وایې چه انسان د شادي یا مَنکې نه جوړ شوي دی مګر دلته چه کومه خالیګاه یا میسینګ لینک موجود دی ددي په باره کې داروین هیڅ نه دي ویلی.چیرته دی هغه انسان چه سر یې د انسان دی او ملا او پښی یې دشادي دي ؟چیرته دی هغه

انسان چه یو لاس او پښه یې د انسان وي او بله پښه او لاس یې د شادي وي؟ یعني مطلب دا که چیرته د داروین د ایولوشن  په طریقه ژوندي موجودات منځ ته راغلي وي یعني  آهسته آهسته دیو شي نه بل شي جوړ شوي وي نو که اول او آخر شی موجود وي نو د منځ شی هم باید موجود وي یعني چه شادي او انسان موجود وي نو حتماً باید هغه انسان هم موجود وي کوم چه د انسان او شادي په منځ کې وي .هسی د ښه پوهیدو دپاره یو فرضی مثال درکوم .فرضاً که د انار ونه په قراره قراره د مڼی په ونه بدله شي او د انار ونه هم موجود وي او د مڼی ونه هم موجود وي نو باید چه ددي دواړو ونو په منځ کې داسي ونه هم موجود وي چه انار او مڼی دواړه پکې یوځای وي . او که داسي نه وي نو بیا خود انار ونه د مڼی په  ونه  نه ده بدله شوي .همدارنګه که د شادي او انسان په منځ کې داسي انسان موجود نه وي چه هم شادي وي او هم انسان یعني میکس انسان وي  نو بیا خو شادي په انسان نه ده بدله شوي یا انسان د شادي څخه نه دي جوړ شوي .اود ساینس او تیکنالوژي په دي دور کې انسان په دي پوهیږي چه د شادیګانو خپل نسل دی او د انسانانو خپل نسل دی او ددي دواړو په منځ

کې بل دریم د انسان او شادي میکس نسل نشته .همدارنګه د ساینسي تحقیقاتو پواسطه چه د شارک فیش او ډرګنپلی په فاسلز باندي شوي دي .دا ثابته شوي ده چه ۵۰ پنځوس میلیونه کلونه پخواني شارک فیش او ډرَګَنپلی هوبهو د اوسني شارک فیش او ډرګنپلی په شان دي او یو قسم ډیزاین لري.نو بیا ایولوشن او ارتقاء کوم ځای ده.نه خو شادي په انسان بدله شوي ده او نه انسان د شادي نه جوړ شوي دی.اوس د یو مهم سوال خواته راځو او هغه دادی چه اول ژوندی سیل یا اول ژوندی موجود څنګه منځ ته راغلو دکوم نه چه د داروین د تیوري په اساس ټول ژوندي موجودات منځ ته راغله ؟ددي سوال دپاره داروین په خپل ټول کتاب کې کوم تسلیبخش جواب نه دي ورکړي. داروین ته دا معلومه نه وه چه ژوند څوره مغلق او کمپلیکس دی ځکه چه په دي هر څه خو ساینسدانان د ډي این ای د کشف یا ډیسکوري نه وروسته پوه شول.مګر داروین تیوري په ۱۸۵۹ کې لیکلی وه او ډي این ای په۱۹۵۱ کې کشف شو.نو ځکه داروین ته دا نه وه معلومه چه ژوند څومره کمپلیکس دی .او که چیرته ورته دا معلومات ؤو کوم چه اوسنیو ساینسدانانو ته شته شاید چه هیڅکله

به يې داسي تيوري نه وه ليکلي.ځکه چه دا تيوري يوه خيالی قيصه ده چه د يوي خيالی ژوندی حجري يا سيل نه شروع شوي ده.خو اوسنيو ساينسي تحقيقاتو معلومه کړيده چه په خپل سر د چانس پواسطه د داسي خيالی سيل جوړيدل او منځ ته راتلل ناممکن او محال دي.ځکه چه د يو پروتين د جوړيدو احتمال يا پرابيليټی چه پخپل سر د چانس پواسطه جوړ شي يو په لس په طاقت د ۱۶۴ ده يعني چه لسو ته ۱۶۴ صفرونه کيږدي چه د دي تعداد د لويوالی اندازه ددي نه ښه معلوموﻻی شئ چه په کائناتو کې د اتومونو تخميني تعداد او اندازه لس په طاقت د ۸۲ ده يعني چه لسو ته ۸۲ صفرونه کيږدي.او بيا په يوه حجره يا سيل کې ۴۲ ميليونه پروتين موجود دي.چه د هر يو د جوړولو دپاره همدومره وخت پکار دی.حال دا چه زمونږ د يونيورس يا کائناتو ټول عمر تقريباً ۱۴ بيليون کلونه دي.کوم چه د يو پروتين د جوړولو دپاره هم کافی نه دی. دا خو ﻻ ډيري ساده خبري دي .علاوه د دي څخه د ډي اين ای جوړيدل او پکې پروګرامينګ او معلومات يا ډاټا اچول ،جينيټيک کوډ او بلآخره هغی ته ژوند ورکول چه دا پخپله دومره لوي بحث دي چه ډير وخت نيسي فعلاً تري

تیریږو انشتاءالله چه آینده کې به پري خبري وکړو.فلهذا ددي خیالی سیل یا حجري وجود او دهغی پورې د داروین جوړه شوي خیالی قیصه هیڅ حقیقت نلري . همدارنګه پینځه کاله د داروین د تیوري د لیکلو نه وروسته لویپاسچر چه بیالوجیست ؤو ثبوت کړه چه ماده یا مټر نشي کولای چه پخپله یو ژوندی موجود منځ ته راوړي او د داروین تیوري یې غلطه ثابته کړه.همدارنګه دبیالوژي قانون دي چه ژوندی شي صرف دژوندې شي نه منځ ته راځي .مړ شی یا ننلیبینګ تینګ نشي کولای چه ژوندی موجود منځ ته راوړي.نور به دوهمه برخه کې ولولئ.وما علینا الاالبلغ المبین

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۵۶)

# د داروین د ارتقأ یا ایولوشن تیوري دوهمه برخه

اوس ډیر خلک شته چه ځان ته ساینسدانان هم وایې او دا هم وایې چه په ابتداء کې یوه ژوندۍ حجره پخپله په چانس جوړه شوي وه. هایدروجن،اوکسیجن،کاربن ،نایتروجن و غیره اتومونه سره پخپله یو ځای شو. امینو اسیدونه یې جوړ کړل او امینو اسیدونه سره پخپله یو ځای شو او پروتین یې جوړ کړل او په دي ترتیب یوه ژوندۍ حجره پخپله جوړه شوه.خبره دا ده که د یو شي جوړیدل دومره اسان وي چه پخپله جوړیدلای شي نو انسان خو یې باید ډیر په آسانه جوړ کړي. نو هر ساینسدان چه دا خبره کوي چه اولنۍ حجره پخپله جوړه شوي ده .نو اوس خو هغه ټول مواد موجود دي کوم چه د یوي حجري په جوړولو کې استعمال شویدي ،مجهز لابراتوارونه او د یویشتمې پیړۍ ټیکنالوژي هم موجود ده نو مهرباني دي وکړي او یوه ژوندۍ حجره دي جوړه کړي او که

داسي نشي کولای نو بیا هغه شی چه په کولو نه جوړیږي پخپله څنګه جوړیږي؟یوه ژوندۍ حجره دومره ساده شي نه دی .ساینسدانان وایې . که وغواړو چه د یوي ژوندۍ حجري په داخل کې چه څومره شیان دي هغه ټول په سترګو وګورو .نو د نیویارک د ښارپه اندازه ځای ورته پکار دی چه یوه حجره پکې ځای شي.نو رازئ چه دي ښار ته ورننوځو .او هلته د جوړوشوو ساختُمانونو،کارخانواو د هغوي د کار اوهلته چه کومه ټیکنالوژي استعمال شوي ده د دوي په باره کې یو څه پوهه او معلومات لاس ته راوړو.او دهغی نه وروسته قضاوت وکړو چه آیا دا هر څه پخپله جوړ شوي دي او که چا جوړ کړي دي او خالق او کریټر لري؟.

اول ساختمان چه دلته مخي ته راځي دي ته ډي این ای وایې .چه شپږ فټه اوږدوالی لري.د دري بیلیون پُرزو یا نیوکلوټایډو څخه جوړ شوي دي.یو بیلیون زر میلیون کیږي.او دومره دقیق تاو شویدی چه د حجري په هسته یا نوکلِیَس کې په لس مایکرون ځای کې ایښودل شویدی.یو مایکرون د یو ملی میتر زرمه برخه ده.او د ویخته نه دیرش زره واري نری دی.د معلوماتو یا اینفارمیشن ډیره

لویه ذخیره پکې موجود ده.ساینسدانان وایې که په کتابونو کې ولیکل شي نو یونیم میلیون پاڼی ورته پکار دي.کله چه د مور او پلار نطفی یعني سپرم او اوم سره یو ځای شي او اوله حجره یعني زایګوټ او اول ډي این ای جوړ شي .نو د هر څه نه مخکې په ډي این ای کې د هغه انسان مکمل پروګرامینګ او نقشه د هغه د مرګ د وخت پورې جوړیږي کوم چه ددي حجري څخه د مور په رحم کې جوړیږي او دنیا ته راځي.القرآن مِن نُّطۡفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ (١٩) یعني په دي نقشه او پروګرام کې دا هر څه شته چه ددي حجري نه به انسان جوړیږي ،نربه وي که ښځه ،قد به یې څنګه وي ،د پوستکې رنګ به یې څنګه وي،سر غوږونه سترګی ویښتان لاسونه اوپښی به یې څنګه وي همدارنګه خوي ،عادتونه ،خواهشات ذهني حالت،او استعداد به یې څنګه وي.کوم کوم مرضونه به ورته پیداکیږي او ډیر نور چه ذکر کول یې ناممکن دي .اوس دا ګورو چه :دا دومره زیات معلومات او پروګرام په کوم ځای کې او په څه شکل ذخیره شوی دی او ددي معلومات او پروګرام مطابق انسان څنګه جوړیږي او د مرګ د ورځې پورې څنګه ژوند او فعالیت کوي ؟ دي

سوالونو ته د جواب ورکولو نه مخکې د جينزپيژندل ډير ضروري دي.جينونه د ډي اين اې وړې وړې حصې يا سيګمينټ دي چه خفيه يا پټ معلومات يا اينفَرميشن لري. ځکه چه کوډ پري لږيدلی وي يعني د کوډ په شکل موجود وي چه جينيټيک کوډ ورته وايې. جينونه د جوړې شوي نقشي او پروګرام مطابق وخت په وخت پيغامونه يا مسيجونه د هستي يا نيوکلِيَس نه د باندي په سايټو پلازم کې د انسان جوړولو کارخاني ته ليږي په کومه کې چه انساني پُرزي يعني مختلف پروتين جوړيږي .ددي کارخاني نوم رايبوزم دی

د جين نه رايبوزم ته د پيغام يا مسيج ليږلو طريقه دا ده لکه مخکې چه ذکر شو چه جينز کې معلومات د کوډز په شکل وي .نو کله چه جين کوم مسيج رايبوزم ته ليږي اول کوډز کافي کوي او د ار اين اې پواسطه رايبوزم ته وړل کيږي .کله چه رايبوزم ته ورسيږي هلته ترجمه کيږي او د فرمايش او هدايت مطابق عمل کيږي.بايد ووايو چه جين د يو مسيج دپاره دري قسمه کوډز رايبوزم ته ليږي اول د شروع يا سټارټ کوډ يعني کله چه رايبوزم دا کوډ ترجمه کړي نو کار شروع کوي دوهم هغه کوډز دی چه د مسيج په باره کې دی.کله

چه دا کوډز ولولي نو د مسیج مطابق پُرزه یعني پروټین جوړوي .او دریم قسم کوډز د سټاپ کوډز دی د دي په لوستلو سره کار بندیږي.او ډیره حیرانونکي او جالبه خو دا ده چه هر یو کوډ په ټوله دنیا کې یو شان وي یعني هر کوډ یونیورسل دی.مثلاَ کوم کوډ چه په انسان کې د یو خاص امینواسید دپاره وي .نو همدا کوډ په ټولو ژوندیو موجوداتو کې د هماغی امینواسید دپاره وي دکوم دپاره چه په انسان کې وي. مثلاً بکټیریا،اوبښ،پیشو،کبله او نور.خبري خو ډیري دي خو زه فکر کوم چه زمونږ د مطلب دپاره به همدومره معلومات کافی وي.که فکر وکړو کله چه یو کور جوړیږي.اول انجینر پروګرام، ډیزاین او نقشه جوړوي .او بیا د انجینر د هدایت سره سم مواد تهیه او راوړل کیږي.او دنقشي مطابق کور جوړیږي.که غور وکړو دجوړ شوي کور ډیزاین او نقشه انجینر جوړه کړي ده.مواد مزدورانو د بازار نه راوړي دي.او کور دانجینر د هدایت او نقشي سره سم کاریګرو جوړ کړی دی.اوس که څوک د کور د مالک نه پوښتنه وکړي .چه دا کور دي څنګه او چا جوړ کړي دی؟او د کور مالک جواب ورکړي چه چا خو نه دی جوړ کړي پخپله

جوړ شویدی.ډیزاین او نقشه پخپله جوړه شوه.مواد پخپله راغله او د نقشي مطابق مواد سره پخپله یو ځای کېدل دیوالونه چتونه او دروازې پخپله جوړیدي او په دي ترتیب ټول کور پخپله جوړ شو.آیا سوال کونکی او تاسو به د کور د مالک په دي خبره یقین وکړئ؟ او که د کور مالک پخپله خبره ټینګار وکړي.نو تاسو به بیا ضرور دا وایې چه:دا خو لیونی دی او عقل پکې نشته.راځو خپل مطلب ته پوهیږو چه د انسان ډیزاین کول او جوړیدل د کور د ډیزاین او جوړیدو نه ډیر مشکل مغلق او کمپلیکس دي.نو اوس که څوک دا وایي چه د اولي حجري یا زایګوټ په ډي این ای کې د یو انسان د جوړیدلو پروګرامینګ،ډیزاین او نقشه پخپله جوړه شویده، جینیټیک کوډ پخپله جوړ شوی دی،دانساني پُرزو جوړولو کارخاني یعني رایبوزم ته ارډرونه پخپله ځې او دا کارخاني پغیر د انجینرانو او کاریګرو څخه کار کوي او ټولي پُرزی پخپله جوړیږي.او بالآخره یو مکمل انسان پخپله جوړیږي.نو بیا ستاسو نظر اوقضاوت دداسي شخص په باره کې څه دی؟

نو که د انسان عقل دیوکور حتیَ دیو قلم جوړیدل پخپله نشي قبلولای.نو بیا دا څنګه مني چه په ډي

این ای  کې د مرګ د وخت پورې د انسان ډیزاین او پروګرامینګ پخپله کیږي.او دا څنګه مني چه جینیټیک کوډ پخپله جوړیږي.نو که یو قلم پخپله نشي جوړیدلای نو بیا دا دومره لوي کائینات څنګه پخپله جوړیدلای شي؟ فلهذا کائنات خالق یا کریټر لري چه الله دی.همدارنګه په ډي این ای کې یواځې دا نه چه د انسان د آینده یا پیوچر په باره کې معلومات  لیکلې دی بلکه د انسان د ماضی یا پاسټ په باره کې هم معلومات او اینفرمیشن پکې شته دی.مثلاً پکې لیکلی دي چه ددي انسان مور او پلار څوک دي .او بیا  د هغوي مور او پلارڅوک دي.او په همدي ترتیب د اول مور او پلار پورې ټول معلومات پکې لیکلی دی .چه الحمدلله هغوي هم انسانان ؤو.نو د ډي این ای د کشف نه وروسته سل فیصده ثبوت شوه چه:د داروین تیوري غلطه ده او د انسان نیا او نیکه شادیان نه بلکه انسانان دي.خو د دي سره سره بیا هم ځني خلک  په ځای د دي چه حق ومني  د حق او حقیقت د پټولو کوشش کوي.دوي هم لکه داروین غوندي د دي سوال نه چه اول ژوندی موجود یا سیل څنګه منځ ته راغلی ؤو په پټو سترګو په غیر د جواب ورکولو نه ځانونه تیروي او نیغ په نیغه ځانونه ایولوشن یا ارتقاء ته

رسوې.او کوشش کوي چه ثابته کړي چه د ایولوشن یا ارتقاء په واسطه انسان د شادي یا منکې نه جوړ شوی دی. نو راځئ چه اول د دوي دلایل وګورو او بیا د هغی جوابونه ورکړو .

دا چه د ډي این ای د کشف نه وروسته د داروین تیوري په مکمل ډول غلطه ثابته شوه . نو بعضی پیروانو یې په ټولنه کې د خپل موقف د ساتلو دپاره په تیوري کې تغیر او ترمیم راوستو. هغه داسې چه اوس وایې چه :ایولوشن یا ارتقاء په ډي این ای کې د میوټیشن پواسطه صورت نیولی دی. یعني شادي یا مَنکې د میوټیشن په واسطه په انسان بدله شوي ده. مخکې ددې نه چه دې ته جواب ووایو اول باید د ډي این ای میوټیشن وپیژنو.د ډي این ای د یوي حصی یا برخي تخریبیدل یا ډَمیج کېدلو ته د خارجی عوامِلو او اسبابو پواسطه میوټیشن وایې.اسباب یې دا دي ۱-راډیشن لکه ایکسریز ۲-کېمیکل لکه ځني دواګاني ۳-بیالوژیکې لکه ویرسونه.ددوي په جواب کې په لنډ باید ووایو چه:اول-- ستا سو او د ټولو انسانانو په ډي این ای کې دا معلومات موجود دی چه زمونږ او ستاسو مور پلار انسانان ؤو .او د هغوي مور او پلار هم انسانان ؤو. او بلآخره زمونږ نیا او نیکه هم انسانان

ؤو چه آدم او هوا عليهم السلام ؤو.او په يو ځای کې هم داسي نشته چه شادي په انسان بدله شويده همدارنګه د يو اوښ په ډي این ای کې دا شته دی چه د دي اوښ پلار بل اوښ او دهغه پلار بل اوښ بالآخره د آخر اوښ پورې خو په يوځای کې هم داسی نه دي شوي چه خر يا بل حيوان په اوښ بدل شوي وي .همدارنګه دمڼو ونه د هغی نه مخکې د مڼو د وني د تُخم نه پيدا شويده .اوهغه د هغی نه مخکې د مڼو د وني د تُخم نه پيدا شويده بالآخره دآخري وني پورې خو په يو ځای کې هم داسي نه دي شوي چه د بادام يا بل شي ونه دي د مڼو په ونه بدله شوي وي. دوهم— ميوټيشن يو تخريبي عمل دی، تعمير نه بلکه تخريب منځ ته راوړي.هميشه منفی تغيرات منځ ته راوړي.مثلاً که د انسان د ډي این ای يوه برخه يعني يو جين د راډيشن پواسطه تخريب شي نو په انسان کې به د هغه شي کموالی راشي کوم چه دي جين جوړولو.يعني د تخريب شوي جين وظيفه او کار به مختل او خراب شي فرضاً که د تخريب شوي جين کارد سپينو ويښتانو جوړيدل وي نو سپين ويښتان به جوړ نشي خو داسي خو نه کيږي چه دسپينو ويښتانو په ځای ډير ښايسته تور ويښتان جوړ شي ځکه چه راډيشن خو

نشي کولای چه د سپینو ویښتانو جین تخریب کړي
او په ځای یې د تورو ویښتانو جین کېږدي .فلهذا
میوټیشن یو تخریبي عمل دي او هیڅکله مثبت
تغیرات منځ ته نه راوړي. په آخر کې باید ووایو
چه د داروین تیوري غلطه او د

حقیقت نه لري ده.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۵۷)

# تقدير ,اعمال،اختيار او آزادي (فري ويل)

# Destiny and Free will

الله تعالى د سورة القمر په ۴۹ نمبر آيت كې فرمايې إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ترجمه:بيشكه هر شي مونږ د يو تقدير سره پيدا كړي دی.

قدر : پلان ، اندازه او پروګرام كولو ته وايې . يعني د هر شي يو تقدير دی د كوم مطابق چه هغه په يو معلوم وخت كې جوړيږي ، يو خاص شكل اختياروي ، د يو خاص حد پورې نشونما كوي ، د يوي معلومې مودي پورې باقي پاتي كيږي ، او په يو معلوم وخت كې ختميږي . د دنيا هم يو تقدير دي د كوم مطابق چه د يو خاص وخت پورې چليږي او په يو معلوم وخت كې ختميږي . ملائكې يا فرشتې ، لمر، سپوږمې ، ځمكه ، جمادات ، نباتات او حيوانات هر يو د خپل تقدير مطابق كار

کوي او هر يو په يو معلوم وخت کې ختميږي . د انسان او پيريانو يا جنياتو نه په غير نور هر يو شی د خپل تقدير په مکمل او پوره ډول پابند دی،هيڅ آزادي او اختيار نه لري ځکه چه د الله تعالی په هر کار کې حکمت دی که فرضاً لمر ته د ځای د بدلولو اختيار ؤو او د ځمکې خواته رانژدي شوي ؤو نو ژوند به د ځمکې په مخ ختم شوي ؤو . د ځمکې سرعت ۱۰۰۰ ميلز په يو ساعت کې دی او په ۲۴ ساعتو کې يو ځل په خپل محور يا اکسيز باندي ګرځي فرضاً که چيرته د ځمکې سره دا اختيار ؤو چه سرعت يا سپيډ کم کړي او د ۲۴ ساعتو په ځای په ۶ مياشتو کې د خپل محور په خوا او شاه تاو شي نو پدي صورت کې به د ځمکې په يوه خوا کې ۶ مياشتی شپه او په بله خوا کې به ۶ مياشتی ورځ وه.

او په دواړو صورتو کې يعني د ځمکې په يوه خوا کې به د ګرمۍ نه او په بله خوا کې به د يخنۍ نه ژوند د منځه تللی ؤو . که هوا ته دا اختيار ؤو چه خپل ترکيب ته تغير ورکړي فرضاً که د پنځه دقيقو دپاره هوا اکسيجن د خپل ترکيب څخه وباسي نو د ځمکې په مخ به ژوند پاتي نشي . نو الله تعالی دکائناتو دا نظام داسي جوړ کړی دی چه: هر شی

حتیَ یوه وړه زره یا اتوم هم د خپل تقدیر پابند دی او مخالفت يې نشي کولای بلکه کوم تقدیر چه الله ورته جوړ کړی دی د هغی مطابق په معلوم وخت کې پیدا کیږي ، یو شکل اختیاروي ، کار کوي ، او د خپل تقدیر مطابق په یو معلوم وخت کې ختمیږي او په یو کار کې هم آزادي او اختیار نلري . اوس راځو د حضرت انسان تقدیر ته کومه چه زمونږ د بحث اصلی موضوع ده.

الله تعالی د جنت او دوزخ د فیصلي دپاره انسان ته امتحان پیدا کړو،او د امتحان دپاره يې ورته د امتحان ځای یعني دنیا پیدا کړه . د انسان عمر په حقیقت کې ددي امتحان موده یا وخت دی چه د دي مودي د خلاصیدو نه وروسته نور نو امتحان ورکونکي انسان ته په دارالامتحان یا د امتحان په کوټه کې د پاتي کېدو اجازه نه ورکول کیږي او د مرګ د دروازې د لاري څخه برزخ ته لیږل کیږي. او د امتحان سوالونه یا پرچی په لوح محفوظ کې د انسان په تقدیر کې چه د الله تعالی د علم نه لیکل شوي دي موجود دي ..د دي دپاره چه انسان د دي امتحان دپاره آماده او تیار شي الله تعالی انسان ته عقل اوعلم ورکړو ، د فکر کولو صلاحیت يې ورکړو ، خو صرف د عقل او فکر

په ورکولو يې انسان پرېښودو چه خپله لار پخپله ولټوي بلکه دواړه لاري يعني ښه لاره او بده لاره يې وروښودله تر څو چه انسان ښه فکر او غور وکړي او د دې دواړو لارو څخه کوم يوه چه غواړي پخپله خوښه او ذمه وارى سره انتخاب او اختيار کړي.

سورة البلد اية ۱۰ ترجمه : وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ او مونږ وښودلې ده ته دواړه لاري(د خير او د شر لار) همدارنګه الله تعالى د سورة الشمس په ۸ نمبر اية کې فرمايي فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ترجمه : پس الله تعالى د انسان بدي او نيکې [پرهيزګاري] هغه ته الهام کړه..

الله تعالى انسان ته په زړه او دماغ کې دا خبره اچولې ده چه دا ښه دي او دا بد دي يعني د ښو او بدو تميز او فرق د انسان په فطرت کې په پيدايشي ډول موجود دي مثلاً هر څوک په دي پوهيږي چه ظلم بد کار دى او د خلکو سره کمک کول ، عدالت او انصاف کول ښه کار دى . هر سړى په دي پوهيږي چه دروغ بد او رښتيا ويل ښه دي. همدارنګه د نفس لوامه يا ضمير په نوم الله تعالى يو شى د انسان دننه ايښى دي کوم چه د بدو کارونو

په کولو هر وخت انسان ملامتوي . ۱۲۴۰۰۰ انبیاء علیهم سلام چه آخرنی نبي او رسول حضرت محمد صل الله علیه و سلم او آخرنی کتاب قرآنکریم دی . الله تعالی د همدي مقصد دپاره دنیا ته رالیږلي دي تر څو چه انسانانو ته تعلیم ورکړي او د امتحان دپاره یې آماده او تیار کړي.

د امتحان سوالونه په لوح محفوظ کې د انسان په لیکل شوي تقدیر کې د مخکې څخه موجود دي چه د واقعاتو په شکل په انسان راځي . مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿22﴾ لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿23﴾سورة الحدید ترجمه : هیڅ مصیبت داسي نشته چه په ځمکه کې او یا ستاسو پخپلو نفسونو باندي نازل شي او مونږ هغه د پیدا کولو څخه مخکې په یوه کتاب کې نه وي لیکلی دغسی کول د الله دپاره ډیر آسانه دي .(دا هر څه ددي دپاره دي) چه په هغه زیان او نقصان باندي چه په تاسی وي غمجن او زړه ماتی نشئ او څه چه الله تاسی ته درکړي وي په هغی متکبر او مغرور نشئ او الله داسي خلک نه خوښوي چه خپل ځان لوي ګڼي او فخر کوي . یعني هره واقعه او

حادثه چه د انسان په ژوند او ځمکه کې واقع کیږي دا څه چانس او کواینسیډینس نه دی بلکه هره واقعه د یومکمل پلان او پروګرام مطابق واقع کیږي چه د پخوا څخه په لوح محفوظ کې په لیکل شوي ډول ثبت دي . او دا هره واقعه یا حادثه د امتحان یو سوال یا پرچه ده مثلاً په انسان غریبي راځي ، امیري راځي ، مریضی راځي او داسي نور چه په حقیقت کې دا هر یو حالت د امتحان یو سوال یا پرچه ده چه یو هم په انسان په خپل سر او بایچانس نه راځي بلکه هر حالت په انسان د هغه د تقدیر مطابق راځي او د انسان سره دا اختیار او صلاحیت نشته چه د تقدیر د واقعاتو یاسوالونو مخه ونیسي او یا یې د منلو او قبلولو څخه انکار وکړي فرضاً که د چا په تقدیر کې یو مرض لیکلی وي چه په حقیقت کې همدا مرض د امتحان یو سوال دی نو انسان نشي کولای چه د دي مرض څخه ځان بچ کړي او یا یې مخنیوي وکړي بلکه د تقدیر د لیکني مطابق په معلوم وخت کې مرض په انسان راځي او انسان د مرض په قبلولو او منلو کې مجبور دی که خوښه یې وي او که نه . نو دا چه ټول واقعات چه په انسان راځي د الله د طرف نه دي یعني امیري ، پاچاهی ، غریبي او فقیري ،

صحت او مریضی ګټه او تاوان او داسي نور ټول د الله دخوانه په ا نسان راځي چه  په حقیقت کې همدغه واقعات د امتحان سوالونه دي نو کله چه په یو انسان مشکلات ،تکلیفونه ،تاوانونه ، مریضی او داسي نور راشي نو انسان دا هر څه باید د الله تعالی دخوانه ازمیبنت او امتحان وګڼي او غمجن او زړه ماتی نشي او کله چه انسان ته مال ، دولت ، عزت ، اولاد او قسم قسم د خوشالی اسباب ورکول شي دا هم انسان باید د الله تعالی دخوانه ازمیبنت او امتحان وګڼی او په نورو خلکو ځان لوي او غټ ونه ګڼي او دکبر نه ځان وساتي  ځکه چه امیري ، فقیري ، عزت ، اولاد ، صحت ، مریضي او داسي نور ټول واقعات الله تعالی په انسان باندي د نازلېدو او ظاهریدو نه مخکې د انسان په تقدیر کې لیکلي او د الله په علم کې موجود دي او په  معلوم وخت کې په انسان باندي راځي ځکه چه د الله علم ۱۰۰فیصد صحیح او د غلطۍ او شک څخه پاک دی.

## تقدیر، اعمال، اختیار او آزادي(Free will)

د دي ځای پورې په دي پوه شو چه : د جنت او دوزخ دفیصلې دپاره الله تعالی انسان ته امتحان پیدا کړو چه دنیا د دي امتحان د اخستلو ځای دی،د انسان عمر د امتحان وخت یا موده ده چه ددي مودي د خلاصیدو نه وروسته نور نو انسان د امتحان په کوټه یا دنیا کې نه پریښودل کیږي او د مرګ د دروازې دلاري نه برزخ ته لیږل کیږي او ټول د خیر او شر واقعات چه د انسان په تقدیر کې لیکل شوي دي او د انسان په ژوند کې راځي ددي امتحان سوالونه یا پرچې دي اوس په دي خبره د پوهیدو کوشش کوو چه: د انسان عمل څه شی دي ؟ او انسان د خپلو اعمالو په کولو کې څومره آزادې او اختیار لري ؟ جواب دادی چه:د تقدیر د واقعاتو یا سوالونو په مقابل کې د انسان عکس العمل یا جوابونه د انسان اعمال دي ددي دپاره چه انسان د تقدیر د یوي واقعی په مقابل کې څه قسم عکس العمل وښایې یعني ښه که بد؟ نو الله تعالی مخکې دمخکې نه انسان ته د ښه او بد عمل د پیژندلو ،انتخابولو او کولو په باره کې مکمل هدایت ورکړي دی.

.لکه مخکې چه ذکر شو الله تعالی انسان ته عقل ، علم پنځه حواس او نفس لوامه یا ضمیر ورکړو او

د انسان په فطرت کې يې دا واچوله چه دا ښه لار ده او دا بده لار ده، دا نيک دي او دا بد دي .همدارنګه انبيأ عليهم سلام يې دهمدي مقصد دپاره راوليږل چه انسان ته په دي امتحان کې د کاميابيدو ، ښه عکس العمل او صحيح-------------------

جوابونو لار او طريقه وښايې.

هر کله چه د انسان په ژوند کې د تقدير يوه واقعه يا سوال راځي نو انسان دا صلاحيت او اختيار نلري چه د نوموړی واقعی يا سوال مخنيوی وکړي او يا يې دمنلو او قبلولو نه انکار وکړي بلکه انسان د خپل تقدير په وړاندي مجبور دی که خوښه يې وي او که نه نازل شوي واقعه يا سوال به قبلوې خو د واقعي د نزول يعني د امتحان د سوال او پرچې د ورکولو نه وروسته نور نو الله تعالی پوره او مکمل اختيار او آزادي انسان ته ورکړي ده يعني انسان دا اختيار او صلاحيت لري چه د تقدير د واقعي يا سوال په مقابل کې د الله د هدايت سره مطابق او سم عکس العمل وښايې او جواب ورکړي يعني نيک عمل وکړي . او يا د شيطاني لارو مطابق عکس العمل وښايې او جواب ورکړي يعني بد عمل وکړي . يا په بل عبارت د تقدير ټول.

واقعات او سوالونه د الله تعالی د خوانه دي او ددي واقعاتوپه مقابل کې ټول عکس العملونه او جوابونه فقط او صرف د بنده د خوانه دي . يعني الله تعالی سوال کوي او بنده جواب ورکوي ،د جواب په ورکولو کې بنده ته مکمل اختيار او آزادي ورکول شوي ده او د الله تعالی دخوانه بنده د نيک او بد عکس العمل په ښودلو ،د صحيح او غلط جواب په ورکولو او د نيک او بد عمل په کولو نه مجبوريږي .بلکه هر څه چه انسان کوي پخپل اختيار او مسؤليت ئې کوي. تاسو به نه اوريدلې وي او نه به مو ليدلې وي او نه به مو دا باور او يقين راځي چه په آينده کې به داسي وشي چه يو معلم شاګردانو ته د امتحان پرچی او سوالونه ورکړي او بيا دي ورته ووايې چه جوابونه به زما په خوښه ليکۍ او بعضی شاګردانو ته دي داسي جوابونه ووايې چه هر شاګرد دي ۱۰۰ نمبري واخلي او بعضی شاګردانو ته دي داسي جوابونه ووايې چه هر شاګرد ۶۰ نمبري واخلي او بعضی شاګردانو ته دي داسي جوابونه ووايې چه هر يو ناکام شي آيا تاسو فکر کوئ چه داسي کار به يا چا کړی وي او يا په آينده زمانه کې به يې څوک وکړي او که فرضاً کوم معلم داسي وکړي نو بيا به تاسو څه فکر کوئ

ضرور به دا فکر کوئ چه  دا خو امتحان نه دی ،عجیبه معلم دی ،سوال هم کوي او جواب هم وايي ،پخپله خوښه څوک کامیابوي او څوک ناکاموي  دا خو ډیر بي انصافه ، بي عدله او ظالم معلم دی .نو که د انسان څخه د داسي یو بي انصافه کار توقع او امید نشي کېدلای نو الله تعالی خو ډیر عادل او د ظلم څخه پاک دی یو ځل بیا باید تکرار کړم چه دتقدیر واقعات یا د امتحان پرچې د الله تعالی د خوانه دي او د واقعاتو په مقابل کې عکس العمل ،د سوالونو جوابونه او اعمال د بنده د طرفه دي .او څوک چه دا ګوستاخی او جرأت کوي چه د بنده اعمال الله تعالی ته منصوبوي دا په الله تعالی باندي د ډیر لوي تهمت او بهتان جرأت کوي چه د حشر په میدان کې به الله تعالی ته جواب ورکوي .د سورة الدهر په ۳ نمبر اية کې فرمايي إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا – ۳-۷۶   بیشکه مونږ انسان ته سمه لاره وښودله نو یا شکر کوونکی جوړیږي او یا ناشکره.

یعني الله تعالی انسان ته هدایت وکړ نیکه  او بده لار،د دوزخ  او د جنت لار،دناکامیدواو د کامیابیدو لاري یې بنده ته وروښودلي او د امتحان په ورکولو کې یې پوره آزادي او اختیار انسان ته ورکړی نور

نو د انسان خپله خوښه او اختیار دی چه پخپل مسؤلیت او ذمه واری د شُکر لار اختیاروي او که د کفر ، د تقدیر د واقعاتو په مقابل کې نیک عکس العمل ښایې او که بد،د تقدیر سوالونو ته صحیح جوابونه وایې او که غلط، او نیک اعمال کوي او که بد .ددي هر څه د کولو دپاره پخپله انسان مسؤل او ذمه وار دي.او په همدي اساس الله تعالی تري نه پوښتنه هم کوي . مګر په هغو کارونو کې چه الله تعالی بنده ته اختیار نه دی ورکړی نو ځکه الله د هغوي پوښتنه هم نه کوي مثلاً الله تعالی د انسان نه دا پوښتنه نه کوي چه ته ولي نارینه یې او ښځه ولي نه یې یا ولي د فلانکي زوي یې یا ولي مالدار یې یا ولي غریب یې چه پدي ټولو حالاتو کې انسان بي اختیاره دی نو الله پوښتنه تري هم نه کوي . او د هغو شیانو پوښتنه تري کوي چه د هغو په کولو او نه کولو الله انسان ته علم او پوره اختیار ورکړي دی.

په دي باره کې چه په لوح محفوظ کې هر شی د مخکې نه موجود دی یعني سوال یا واقعه اود نازل شوي سوال یا واقعی په مقابل کې جواب یا عکس العمل دپخوا نه موجود دي باید ووایو چه: لکه چه مخکې دا خبره ذکر شوي ده چه : سوالونه یا

واقعات د الله د خوا نه دي او جوابونه يا د واقعاتو په مقابل کې عکس العمل د بنده د خوانه دي.دا دحيرانتيا او تعجب خبره نه ده . هره ورځ تاسو په خبرونو يا نيوز کې د هوا حالات اورئ که په اخبار يا نيوزپيپر کې ليکل شوي وي چه دريمه ورځ واوره کيږي او بيا په دريمه ورځ د اخبار د ليکلو مطابق واوره وريدل شروع شي نو په اخبار کې ليکل شوي پيشبيني چه انسان د خپل علم پواسطه کړي ده آيا د واورې په وريدو کې څه رول او اثر لري؟بلکه هيڅ رول نلري . نو د انسان علم خو د الله د علم په مقابل کې صفر يا زيرو دی دانسان علم محدود دی او دالله علم لامحدود دی انسان نشي کولای چه په يو وخت کې دوه شيانو ته وګوري او يا د دوه خلکو خبري په يو ځل يا يو وار واوري مګر الله تعالی ټول مخلوقات يعني انسانان ،حيوانات،د دريابونو مخلوقات ،نباتات ،جمادات د آسمانونو مخلوقات او د وړو نه واړه زرات په يو وخت کې ګوري ، د ټولو سوالونه او غوښتني په يو وار اوري ،او ټولو ته په يو وخت کې جواب ورکوي ځمکه ،آسمانونه او ټول کائنات کنټرولوي او د زړونو په پټو راځونو خبردی . نو که د الله د علم په مقابل کې د صفر يا زيرو علم

خاوند انسان  د واوري او باران د وريدو پيشبيني کولای شي نو دلا محدود علم او قدرت مالک الله تعالی ته د خپل بنده د اعمالو پيشبيني کول څه مشکل کار نه دی  بلکه دا کار الله تعالی ته ډیر آسانه دی  یعني دا د الله په علم کې موجود دي چه انسان به د تقدیر د سوالونو او واقعاتو په مقابل  کې په خپله خوښه څه جوابونه او عکس العملونه ښايي .یعني لوح محفوظ الله تعالی د خپل علم نه لیکلی دی خو د دي دا مطلب نه دی  چه الله تعالی د ښو یا بدو اعمالو په کولو انسان مجبوروي .او په دي باید پوه شو چه د انسان په تقدیر کې په واضح  ډول دا لیکل شوي دي چه: په پلانکې انسان به پلانکی واقعه یا سوال د تقدیر د لیک او نوشتی مطابق نازلیږي   .او د واقعی یا سوال د نزول نه وروسته به ذکر شوي انسان په خپله خوښه او اختیار د نوموړی واقعی یا سوال په مقابل کې داسي  داسي عکس العمل یا جواب ورکوي یعني ښه یا بد عمل به کوي مګر دا لیکل انسان نه مجبوروي چه نیک یا بد عمل وکړي ځکه چه تقدیر د الله د علم نه لیکل شویدی او دا د الله په علم کې دي چه انسان به د تقدیر د واقعاتو په مقابل کې څه قسم عکس العمل ښکاره کوي  .مثلاً که په هسپتال کې یو ډاکتر دیو

مریض په باره کې د خپل علم نه ولیکي چه دا مریض د ۴۰ ورځو نه وروسته مړ کیږي آیا تاسو څه فکر کوئ چه د ډاکټر دا لیکل به دمریض په مرګ او ژوند څه تاثیر کوي او یا که مریض ۴۰ ورځې وروست مړ شي آیا خلک به ډاکتر ملامتوي چه ستا لیکلو مریض مړکړ بلکه حقیقت خو دادي چه د ډاکټرلیکل کوم چه د خپل علم نه یې کړیدي د مریض په مرګ او ژوند هیڅ تاثیر نلري .خو بیا هم که څوک ډاکټر د مریض په مرګ کې شریک ګڼی نو دا خو ډیره بي انصافي او ناپوهي ده.همدارنګه د انسان تقدیر الله تعالی د خپل علم نه په لوح محفوظ کې لیکلی دی او دا د الله په علم کې دي چه انسان به د تقدیر د واقعاتو او سوالونو په مقابل کې څه قسم عکس العمل او جوابونه وایې دي مثال ته توجه وکړئ که یو انسان مریض شي په حقیقت کې دا مرض د تقدیر یوه واقعه یا سوال دی انسان نشي کولای چه یا یې مخه ونیسي او یا یې د قبلولو نه انکار وکړي یعني په دي ځای کې انسان بي وسي او بي اختیاره دی که خوښه یې وي او که نه واقعه یا سوال به قبلوې نو ځکه خو الله تري نه پوښتنه هم نه کوي چه ولي مریض شوی وي خو ددي نه وروسته الله انسان ته مکمل اختیار او آزادي

ورکړي ده چه د نازل شوي مرض یا سوال یا واقعی په مقابل کې څه قسم عکس العمل یا جواب ورکړي، کولای شي چه د الله دهدایت مطابق عکس العمل او جواب ورکړي مثلاً د الله نه د روغ صحت او د ګناهونو د بخني او مغفرت سوال وکړي ،دالله په جوړ شوي تقدیر راضي اوسي او د پخوا نه زیات الله ته متوجه شي .په دي ځای کې انسان آزاد دی  دا هر څه انسان په خپله اراده او اختیار کوي نو ځکه خو الله اجر او ثواب هم ورکوي.همدارنګه کولای شي چه د شیطان دلاري مطابق عکس العمل او جواب ورکړي مثلاً ووایې چه یا الله ټول خلک جوړ دي او زه مریض یم ،یا الله همدا زه دي لیدلی یم ، او نور د ناشکرۍ او کفر الفاظ استعمال کړي .چه په دي ځای کې هم انسان په مکمل او پوره ډول آزاد دی او دا هر څه په خپله اراده او اختیار کوي  نو ځکه خو د الله د عذاب مستحق ګرځي .که په لنډ ډول ووایو :انسان د امتحان دپاره دنیا ته رالیږل کیږي ،الله امتحان اخلي او انسان امتحان ورکوي،د انسان عمر ددي امتحان موده ده ،د امتحان سوالونه د الله د خوانه او جوابونه یې د انسان د خوانه مخکې د مخکې نه د انسان په تقدیر کې موجود دي،د جوابونو موجودیت او لیکل

په تقدير کې د انسان په نیک او بد عمل کولو هیڅ اثر نه لري ،ځکه چه تقدير د الله د علم نه لیکل شويدي ،اود الله په علم کې دا موجود دي چه پلانکی انسان به د پلانکې واقعي یا سوال په مقابل کې څه قسم عکس العمل یا جواب ورکوي.مخکې ذکر شو که ډاکټر د خپل علم نه د مریض په باره کې ولیکې چه ۴۰ ورځې وروسته به مړشي نو که چیرته مریض ۴۰ ورځې وروسته مړ شي نو د مریض په باره کې د ډاکټر لیکل شوي پیشبیني چه د خپل علم پواسطه یې کړي وه آیا د مریض په مرګ یا مړ کېدو کې څه رول او تاثیر لري ؟جواب:نه د ډاکټر لیکل شوي پیشبیني د مریض په مرګ کې هیڅ رول او تاثیر نلري .همدارنګه که د انسان په تقدير کې چه د الله د علم څخه په لوح محفوظ کې لیکل شویدی، که داسې لیکلی وي چه پلانکی انسان به د تقدير د پلانکې واقعی یا سوال په مقابل کې نیک یا بد عکس العمل او یا صحیح یا غلط جواب ورکړي دا لیکل هم دانسان د بد او نیک عمل په کولو کې تاثیر نلري بلکه انسان نیک او بد اعمال په خپله اراده او خوښه کوي .یعني واقعات او سوالونه د تقدير مطابق په انسان د الله دخوا نه نازلیږي او انسان هیڅ واک او اختیار نلري که

خوښه يې وي او که نه قبلوي به يې ،مګر د نازل شوو واقعاتو او سوالونو په مقابل کې د نيک او بد عکس العملونو ،جوابونو او يا اعمالو په کولو کې مکمله او پوره آزادي ،اختيار او اراده الله تعالی بنده ته ورکړې ده ،د انسان خپله خوښه ده چه پخپله اراده او اختيار نيک اعمال کوي او که بد اعمال کوي.و ما علينا الاابلغ المبين

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۵۸)

# چه هر شی په تقدیر کی لیکلی دی نو زمونږ نه پوښتنه ولی کیږي؟

# If everything is written in destiny, why does ALLAH question us?

ددي پوښتني د جواب دپاره اول باید په تقدیر صحیح پوه شو.د قرآن او احادیثو نه په واضح ډول معلومیږي چه :الله انسان دنیا ته د امتحان د ورکولو دپاره رالیږي ،دنیا د امتحان کوټه یا دارالامتحان دی،د انسان عمر د امتحان موده ده،د امتحان سوالونه یا پرچي اوجوابونه دواړه په لوح محفوظ کي د انسان په تقدیر کي موجود دي چه د الله د علم نه لیکلي دي،ټول سوالونه د الله د طرف نه دي یا د الله د طرف نه لیکل شویدي.او ټول جوابونه د انسان د خوانه داسي لیکل شویدي چه انسان به په غیر د کوم جبر او زور نه پخپله خوښه او اختیار سره داسي داسي جوابونه یا نیک یا بد اعمال کوي

،سوالونه د حادثاتو او واقعاتو په شکل لکه غريبي
مالداري مريضي او داسي نورو په شکل په انسان
راځي،چه: انسان ته پوره آزادي او اختيار ورکول
شويدی چه د واقعاتو په مقابل کې ښه عکس العمل
ښايې او که بد.يعنی صحيح جواب ورکوي او که
غلط.مثلاً که په يو سړی د تقدير د ليک مطابق
غريبي راشي نو دا غريبي د دي سړي دپاره د تقدير
يوه واقعه يا سوال دی.چه په قبلولو کې يې انسان
مجبور دی.خو د دي واقعی يا غريبۍ په مقابيل کې
چه بنده څه قسم عکس العمل ښايې دا د انسان
جواب دی،چه په دي عکس العمل يا جواب ورکولو
کې الله تعالی مداخله نه کوي او ۱۰۰ فيصده اختيار
يې بنده ته ورکړی دی خوښه د بنده ده چه صحيح
جواب ورکوي اوکه غلط. قرآن فرمايي.
إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا (۳).بيشکه
مونږ انسان ته سمه لاره وښودله انسان يا شکرګذار
جوړيږي او يا ناشکره د انسان خپله خوښه او
اختيار دی چه نيک عکس العمل ښايې او که
بد........يعني که د قرآن د تعليماتو مطابق عکس
العمل وښايې،صبر و غيره وکړي نو دا نيک عمل
دی يا صحيح جواب يې ورکړو او که د قرآن د
تعليماتو خلاف عکس العمل وښايې،بي صبري

وکړي او د کفر الفاظ يې استعمال کړل نو دا بد عمل دي يا غلط جواب يې ورکړو ،بله دا چه د تقدير دا ليکل د بنده په اعمالو هيڅ تاثير نلري يعني دا ليکل بنده د نيک يا بد عمل  په کولو نه مجبوروي،ځکه چه تقدير  د الله د علم نه ليکل شويدی،او د الله په علم کې مخکې د مخکې نه دا موجود دي، چه پلانکی بنده به د پلانکۍ واقعی په مقابل کې په خپله خوښه او اختيار سره ښه يا بد عکس العمل وښايې ،يعني د انسان د عمل کولو نه مخکې الله خبر دي چه انسان به ښه عمل کوي او که بد،نو په تقدير کې  د الله د علم نه په ليکل شوي معلومات انسان ولي اعتراض کوي،ځکه په تقدير کې خو داسي  نه دي ليکل شوي چه بنده مجبور دی چه د پلانکۍ واقيعي يا حادثي په مقابل کې داسي داسي عکس العمل وښايې ،بلکه داسي ليکل شويدي چه بنده يا انسان به پخپله خوښه او اختيا ر داسي داسي عکس العمل ښايې،،چه داسي کول الله تعالی ته ډير آسانه دي،ځکه چه د الله علم لا محدود دي،الله د ټايم اوسپيس يا زمان او مکان نه آزاد دي،الله ته د بنده دري واړه حالتونه يعني ماضی حال او مضارع يا پاسټ پريزينټ او پيوچر په يو وار ښکاري ،دغه خو د انسان او خالق فرق دی.د

انسان عقل ،علم ، بصیرت او قدرت محدود دی ،او کمزوری دی، الله خالق دی او انسان مخلوق دی، نو دا ښه خبره نه ده او لویه ګناه ده چه: کله بیا داسي ځای راشي نو انسان بیا نعوذبالله د الله علم د خپل علم سره مقایسه کوي او فکر کوي چه کوم کار چه ځما دپاره ناممکن وي او د انسان په علم اوعقل کې نه راځي نو هغه به د الله دپاره څنګه ممکن وي؟خبره دا ده چه د الله او د بنده د علم مثال داسي دی فرضاً که ستن په بحر کې غوټه کړو او بیا یې راوباسو نو څومره اوبه چه د ستني د څوکې پورې ښتي، ددي نه هم د انسان علم د الله د علم نه ډیر کم دی، نو بنده ته مناسب نه دي چه په دومره کم علم او عقل د الله په شان کې داسي غلط فکر وکړي چه الله ولي د بنده په آینده یا راتلونکې حالاتو خبر دی ،او په تقدیر کې یې لیکلي دي.دا خبره چه په تقدیر کې د الله د علم نه لیکل شوی معلومات د انسان په ښو او بدو اعمالو تاثیر نلري د یو مثال پواسطه واضح کوو.اول فرضاً که په اخبار کې لیکلي وي چه څلورمه ورځ به ډیر سخت باران وشي ،او بیا په څلورمه ورځ رښتیا هم ډیر سخت باران وشي او خلکو ته ډیر تاوان واړوي ،فکر وکړئ چه آیا په اخبارکې د لیکلی پیشبینۍ په وجه

باران وشو آیا د اخبار لیکل د باران په وریدلو څه اثر لري،دویم فرضاً که په هسپتال کې ډاکټر د مریض په دوسیه کې ولیکې چه دا مریض یوه میاشت وروسته مړ کیږي ،او مریض ریښتیا هم یوه میاشت وروسته مړ شي ،آیا مریض د ډاکتر لیکلو مړکړو، نو خلک به ډاکتر ملامتوي چه مریض ستا لیکلو مړ کړو.خو مونږ پوهیږو چه ډاکتر دا خبره د خپل علم نه لیکلې وه او ددي لیکلو د مریض په مړ کېدلو کې هیڅ رول او اثر نشته.نو که یو ډاکتر د ډیر محدود علم سره دومره پیشبیني کولای شي نو الله تعالی ته چه لامحدود علم لري دا ډیر آسانه کار دی.همدارنګه لکه څنګه چه د ډاکتر لیکل د مریض په مړ کېدلو کې څه رول نلري ،نو د تقدیر لیکل هم چه د الله تعالی د علم نه شویدي د بنده په نیک او بد عمل کولو کې څه رول نلري بلکه که بنده ښه کوي او که بد پخپل اختیار او خوښه یې کوي،که د تقدیر په باره کې په تفصبل سره نور معلومات غواړئ نو ځما بل تقریر د تقدیر په نوم هم ولولئ.و ما علینا الا البلغ المبین،

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۵۹)

# ساينس او تقدير

## ساينس ثبوت کړه چه تقدير په ډي اين اې کې ليکلی دی.

## Science proves destiny is written in DNA

په دي موضوع د صحيح پوهيدلو دپاره د يو څه معلومات ذکر کول ډير ضروري دي..

ايډينټيکل ټواين يا مشابه غبرګونکي هغه غبرګوني ماشومانو ته وايې چه د يوې نطفی يا يو سپرم او اوم څخه جوړشوي وي.

داسي: کله چه د پلار نطفه يا سپرم او د مور نطفه يا اوم سره يوځای شي کومه حجره چه جوړيږي هغی ته زايګوټ وايې.

په نورمال ډول د زايګوټ نه ماشوم جوړيږي، مګر کله کله زايګوټ مخکې د دي نه چه د ماشوم

جوړيدل شروع کړي، په دوه مساوي برخو ويشل کيږي او د يو نه دوه زايګوټه جوړ شي .

چه دواړه نوي زايګوټونه يو شان ډي اين اى يو شان جينوم يوشان کروموزمونه او يو شان جينونه لري، ځکه چه دواړه د يوي نطفى څخه جوړشوي دي.اوس دا ګورو چه :

جينز ،کروموزوم او جينوم څه شى دي؟

که په ساده ډول يې ووايو:جينز جملى دي ،ډيري جملى يا جينونه چه سره يوځاى شي باب يا چيپټر يا کروموزوم جوړوي ،او ټول چيپټرونه يا کروموزمونه چه يو ځاى شي کتاب يا جينوم جوړوي، نو ځکه وايو چه هره حجره هم کتاب دى او هم جسم دي.

د انسان وجود تقريباً د سل ټريليونو حجرو څخه جوړشويدى.

چه:په هره حجره کې د انسان مکمل شخصيت او تقدير ثبت دى.

حجره لکه د کمپيوټر د هارډوير پشان ده، او په کې ليکل شوى تقدير د سافټوير د پروګرام پشان دى.

یعني د مور او پلار د نطفو د یوځای کېدلو څخه د مرګ پورې د انسان مکمله نقشه او پروګرام په ډي این ای کې د جنیټیک کوډ په شکل موجود دي .

په دي موضوع د پوهیدلو دپاره په ایډینټیکل ټواین یا یو شان غبرګوني ماشومانو باندي ساینسي تحقیقات ګورو!

ټامس بچارډ چه د مینسوټا په یونیورسیټی کې یې کار کولو،

د 1987 کال د اکتوبر په میاشت کې یې په 71 ایډینټیکل ټواین یا یوشان غبرګونوماشومانو باندي د شوو تحقیقاتو او ریسرچ نتایج اعلان کړل،

او دا ټول داسي ماشومان ؤو چه د زیږیدلو څخه لږ وروسته د حالاتو په سبب سره جدا شوي ؤو.

او بیا یې هیڅکله هم سره ملاقات نه ؤو شوي.

د حیرانتیا خبره ده چه :سره ددي چه نه یې بیا سره ملاقات شوي ؤو، نه یې یوځای تعلیم کړی ؤو او نه په یو ماحول کې اوسیدلې ؤو.

مګر بیا هم د دوي په ژوند کې ډیر زیات مشابهتونه موجود ؤو.

مثلاً دوي یو شان شیان خوښول ،یو شان شعبو کې به یې کار کولو،په یو قسم مرضونو به مبتلا کېدل،

، او مشابه جامی به یې اغوستلی او مشابه خوراک به یې کولو.

که یو به مریض کېدلو بل به هم په ډیرو لري فاصلو کې مریض کېدلو،

که د یو به سر خوږیدلو د بل به هم سر خوږیدلو،

دوهم.

بریجت هیریسن او دوروتهی لوو ساینسدانان ډیر حیران کړل.

دوي ایډینټیکل ټواین یا مشابه غبرګوني خورګاني وي د تولد څخه څو هفتی وروسته جدا شوي وي او د 34 کلونو پورې یې یو د بل سره لیدلې نه ؤو.

خو د ریسرج د ټیم ساینسدانانو دا خورګاني پیدا کړي،

کله چه د اول ځل دپاره د دوي ملاقات په انګلینډ کې وشو ډیر حیرانونکی منظر ؤو.

هري خور د لاس په څلور ګوتو 7 رینګز یا ګوتي اغوستلی وي دواړو یو قسم ویښتان جوړ کړي ؤو،

د دواړو خورګانو د بچیو نومونه یو قسم رچړډ او ریوادرکېري ؤو په داسي حال کې چه د 34 کلونو نه وروسته دا د دوي اول ملاقات ؤو.

دریم.

جَیم سپرینګر او جَیم لیوس ایډینټیکل ټواین یا مشابه غبرګوني ورونه ؤو دوي د تولد څخه 6 هفتی وروسته سره جدا شوي ؤو،39 کلونه وروسته په ایډینټیکل ټواین یا مشابه غبرګونو ماشومانو باندي د ریسرچ د ټیم ساینسدانانو دوي سره د مینسوټا په یونیورسیټی کې یوځای کړل .

د ساینسدانانو دپاره ډیره جالبه او حیرانونکې وه، .

ځکه کله یې چه د دواړو ورونو نه جدا جدا پوښتني وکړي معلومه شوه چه دواړو یو قسم کمپنیو کې یو قسم کار کولو ، د هر یو د اولنۍ ښځې نوم لینډا ؤو ،او بیا دواړو اولنۍ ښځې طلاقي کړي وي،

او د طلاق نه وروسته دواړو هر یو دویم واده کړی ؤو بیا هم د دواړو د ښځو نومونه یوشان ؤو.

یعني د هري یوي ښځې نوم بیټی ؤو. .

.د دواړو ورونو د ماشومانو نومونه جیمز او الین ؤو.

حتی چه د دواړو ورونو د سپیو نومونه هم یوشان ؤو.

څلورم.

کارل او سارا ایډینټیکل ټواین یا مشابه غبرګوني خورګاني دي په امریکا کې اوسیږي دواړه هر کار یو شان کوي.

دوي ته د ټیسټ دپاره هر یوي ته 200 سوالونه ورکول شو او جدا جدا کېنول شوي.

مګر معلم هغه وخت ډیر حیران شو کله یې چه ولیدل چه دواړو یو شان جوابونه ورکړي ؤو.

د روم د مینډل اینسټیټیوټ ساینسدان ګیډا او د هغه ټیم په ایډینټیکل ټواین یا غبرګونو ماشومانو باندي د تحقیق په نتیجه کې وایې چه؛ایډینټیکل ټواین یا مشابه غبرګوني ماشومان په یو شان مرضونو مبتلا کیږي، یو قسم نمو کوي،

د دوي غاښونه په یو وخت کې راوځي، په یو وخت کې ځوانان او بالغ کیږي، که یو ګنجی وي بل به هم ګنجی وي، همدارنګه که یو مړ شي اکثره بل

هم مړ کیږي او نور ډیر زیات بي حسابه مثالونه موجود دي چه د ټولو ذکر کول مشکل دي،که فکر وکړئ کېدای شي چه تاسو هم پخپل خوا او شا کې لیدلې وي .

چه ددي تحقیقاتو څخه دا ثابته شوه چه دا مشابهتونه د یو شان ډي این ای او یو شان جینونو په وجه دي.او بله دا ثابته شوه چه: څه چه زمونږ په ژوند کې واقع کیږي مخکې د مخکې نه په ډي این ای کې شته دي یا په جینز کې لیکلي دي .

د جینز کلاک یا د جینز د ساعت د تیوري په اساس، زمونږ په جینز کې پروګرام شوی جینز ساعت یا کلاک موجود دی.

چون ایډنټیکل ټواین یا مشابه غبرګوني ماشومان یو شان جینونه او یو شان پروګرام شوي جینز ساعتونه یا کلاکونه لري؟

نو په دي سبب که د یو ایډینټیکل ټواین یا مشابه غبرګوني ماشوم سر په کابل کې درد کوي د بل ماشوم سر به په ننګرهار کې په هماغی وخت کې خوږیږي.ځکه چه د دواړو ماشومانو جینونه یو شان دي،نو چه جینونه یې یو شان دي نو په جینونو کې پروګرامونه او د وخت معلومولو ساعتونه هم

یو شان دي نو معلومه ده چه که د یو ماشوم د جین په پروګرام کې لیکلی وي چه ددي ماشوم سر به په 12 بجو خوږیږي نو دا چه د دواړو ماشومانو جینونه یوقسم او مشابه دي نو د بل ماشوم د جین په پروګرام کې به هم دا لیکلی وي چه ددي ماشوم سر به په 12 بجو خوږیږي ،نو کله چه 12 بجي شي د دواړو سرونه به خوږیږي، چه ددي نه په ډیر واضح ډول معلومه او ثبوت شوه چه کوم واقعات چه زمونږ په ژوند کې واقع کیږي مخکې د مخکې څخه زمونږ په جینز کې لیکلی دي.یو بل مثال ته ښه متوجه شئ او غور پري وکړئ .کله چه دوه مشابه خورګاني بریجټ هریسن او ډوروتی لیو د اول ځل دپاره 34 کلونه وروسته په انګلینډ کې د ریسرچ ټیم د ساینسدانانو پواسطه په ناڅاپی ډول یوځای شوي،ساینسدانانو ولیدل چه دواړو خورګانو هر یوي د یولاس په څلورو ګوتو 7 رینګز یا ګوتی اغوستلی وي.څکه ددي دواړو ډي این ای یو شان ؤو او چه ډي این ای یې یو شان ؤو نو جینونه او جینټیک پروګرام او جینیټیک کلاک یا ساعت یې یو شان ؤو یعني د دي مطلب دا شو چه د بریجټ هریسن په جین کې هم مخکې د مخکې نه دا خبره لیکلی وه چه دا ښځه به په

فلانکې تاریخ دومره بجو د لاس په څلورو ګوتو 7 رینګز یا ګوتی اغوندي ځکه که چیرته مخکې نه وه لیکل شوي نو په ناڅاپی ډول خو داسې نشو کېدلای ،او د ډوروتی لیو په جین کې هم دا خبره دمخکې نه لیکل شوي وه او موجود وه چه ډوروتی لیو به په فلانکې تاریخ دومره بجو د لاس په څلورو ګوتو 7 رینګز یا ګوتی اغوندي،ځکه که مخکې دمخکې نه دا خبره نه وه لیکل شوي نو په ناڅاپی ډول خو داسې نشو کېدلای.الله دې وکړي چه په دې دوه میثالونو کې پوه شوي یاستی.

نو د دې تحقیقاتو څخه په سرګند ډول ثابته شوه چه:زمونږ د ژوند غټ او واړه واقیعات او فیصلې زمونږ په جینز کې لیکلي دي او د زمان او مکان مطابق زمونږ په ژوند کې واقع کیږي.

مثلاً جنس،قد،د وجود اعضا،دسترګو وینتانو او پوستکې رنګ ذهانت واده د ښځې نوم ،طلاق ورکول ،ماشومان او د هغوي نومونه، دجامو رنګ او د اغوستلو وخت،د کار نوع او د کولو وخت،مختلف امراض او وختونه یې،د رینګ یا ګوتی د اغوستلو وخت او درینګ قسم حتی په بازار کې د بوټونو اخستل، زه به داسی قسم لباس

خوښوم،ته به دا قسم رنګ اغوندي،داسي داسي خبري به کوي،داسي فکر به دي وي په دي ټولو کې جینیټیک تاثیرات رول لري.

یعني زمونږ مکمل تقدیر په جینز یعني ډي این ای کې لیکلی دی.

او زمونږ شخصیت او فکر هم په ډیره اندازه د جینیټیک یا په جینز کې د لیکل شوي پروګرام او تقدیر پورې مربوط دی.

د دي تحقیقاتو د نتایجو په اساس ساینسدانانو فکر وکړ چه: مونږ خو د خپل جینز غلامان یو او هر څه چه په جینز کې لیکلی دي مونږ هم هغسي کوو.

او دا اختیار او آزادي نه لرو .

چه: کوم شی په خپل اختیار او خوښه وکړو.

آیا واقعاً مونږ په ریښتیا د خپل جینز غلامان یو او څه چه په جینز کې لیکلی هم هغسي کیږي او مونږ هم هغسي کوو؟آیا هیڅ اختیار او آزادي نلرو؟

د ساینسدانانو د دي سوال جواب په یو بل ریسرچ کې پیدا شو چه د مینسوټا د یونیورسیټی د محقیقینو د ټیم د خوانه د 350 ایډینټیکل ټواین یا مشابه غبرګونو خلکو په سلوک او رویه باندي شوي ؤو .

د تحقیقاتو نتایج داسي ؤو چه:زمونږ په شخصیت باندي جینیټیک سیستم ډیر اثر لري.

مثلاً د لیډرشیپ یا رهبرۍ خاصیتونه 61 فیصده د جینز پورې او 39 فیصده د نورو عواملو پورې مربوط دي لکه ماحول ،تعلیم ټرینینګ او نور.

د مشکلاتو سره مقابیله،شرم،حیا،او ویره 60 فیصده د جینز پورې او 40 فیصده د نورو محیطی عواملو پورې اړه لري.

د پاکوالی ، سلیقي او احساساتو خاصیتونه 50 فیصده د جینټیک سیستم پورې او 50 فیصده د محیطی عواملو پورې مربوط دي.

او ارثی مرضونه 100 فیصده د جینیټیک سیستم پورې اړه لري.

په جینز باندي د ساینسي تحقیقاتو څخه معلومه شوه چه په جینز یا په ډي این ای کې د لیکل شوي پروګرام یعني تقدیر باندي زمونږ اختیار نشته ، مګر په تقدیر باندي عکس العمل زمونږ په اختیار او خوښه دی، مثلاً څوک ذهین پیداکیږي څوک ښځه څوک نر څوک لوړ څوک ټیټ څوک تور او څوک سپین پیدا کیږي د چا د اندامونو جوړښت یو

قسم او د چا بل قسم وي د چا د سترګواو د ویښتانو رنګ یو قسم او د چا بل قسم وي او داسي نور په دي کې انسان هیڅ اختیار نلري.په ډی این ای کې دا لیکل شوی پروګرام دا تقدیر دی . مطلب دا چه هر څه چه مخی ته راځي زمونږ تقدیر دی.حتی که تبه په سړی راځي دا هم تقدیر دی ،که سر درد په سړی راځي دا هم تقدیر دی،ځوړ عمر ته رسیدل یا په ځوانئ کې مړ کېدل دا هم تقدیر دی او داسي نور .چه په دي باندي د چا هیڅ قسم اختیار نشته.مګر په دي باندي عکس العمل زمونږ اوستاسو په اختیار او خوښه دی.د جزا او سزا مالک خپل جوړ شوي تقدیر ته نه ګوري بلکه په تقدیر باندي زمونږ او ستاسو عکس العمل ته ګوري،چه همدا عکس العمل زمونږ عمل دی چه په کولو کې یې مونږ خپله خوښه او اختیار لرو. زمونږ د ټولو خبرو خلاصه دا ده چه:په ډي این ای کي زمونږ د ژوند ټولي وړی او غټی خبري لیکلي دي او زمونږ په ژوند کې ټول واقعات او تغیرات د همدي لیکني یا تقدیر مطابق واقع کیږي چه مونږ یې په واقع کېدو او نه واقع کېدو کې اختیار نلرو.مګر د دي واقعاتو په مقابل کې د عکس العمل اختیار او آزادي لرو،چه همدا عکس

العمل زمونږ اعمال دي چه پخپل اختيار او خوښه يې کوو،مثلاً مريضي تقدير دی چه په واقع کېدو او نه واقع کېدو باندي يې مونږ اختيار نلرو مګر دا اختيار او آزادي لرو چه په راپيښ شوي مريضۍ ښه عکس العمل وښاېو يا بد عکس العمل وښاېو يعني د مريض خوښه ده چه وايې چه يا الله ګناهونه مې معاف کړي او د دي مريضۍ نه شفا او صحت راکړي او که وايې چه يا الله ټول خلک جوړ دي او زه دي مريض کړۍ يم و غيره.په آخر کې بايد ووايم که څوک په لوح محفوظ کې ليکل شوی تقدير نه مني نو د وجود په هره حجره کې د ليکل شوي تقدير نه خو انکار نشي کولای ،او داسي خو نه کيږي چه يو سړی ووايې چه نه قرآنکريم منم او نه ساينس منم صرف د خپل زړه منم نو هر څوک چه د الله په ذات کې شک لري بايد فکر وکړي چه په ډي اين ای کې د انسان تقدير څنګه ليکل شوي دی او څنګه ليکل کيږي؟ آيا عقل ،منطق او ساينس دا جواب مني چه پخپله ليکل کيږي؟کله چه د مشابه غبرګونو ماشومانو د جوړيدو دپاره يو زايګوټ يا القاح شوي هګۍ په دوه مساوي برخو بيليږي او دوه زايګوټونه جوړوي او په دواړو زايګوټو کې يو قسم ډي اين ای او هر شی يو قسم وي يعني

دواړه نوي زايګوټونه داسي مشابه وي چه يوه زره فرق هم پکې نه وي آيا عقل منطق او ساينس دا مني چه دا تقسيم دي ميوټيشن کړئ وي عجيبه ده ډي اين اى په مرمى په دوه برخو ويشل، ميوټيشن خو تشعشع ده راډيشن دي،داسي يو شى چه د ويښته نه ديرش زره کرته نرى او د دري ميلياردو پرزو نه جوړ شوى دى او د يو انسان د ژوند مکمله نقشه او تقدير دي پکې ليکلى وي او دا دي د يوي بي عقلي تشعشع پواسطه په دوه مساوي برخو وويشل شي ،بله خبره د دوه نوو زايګوټونو ټول جينيټيک مواد يو قسم دي ځکه چه دواړه د يو زايګوټ د تقسيم يا يو سپرم او اوم نه جوړ شوي دي يعني 100 فيصده مشابه دي نو ځکه خو کوم ماشومان چه د دي زايګوټونو نه جوړيږي هغوي هم بايد 100 فيصده مشابه وي يعني هر شى يې بايد يو قسم وي چه واقعاً همداسي هم ده دواړه ماشومان يو قسم ډي اين اى،يوقسم جينوم يو قسم کروموزمونه او يو قسم جينونه يو قسم سترګى،ويښتان،قواري يعني ټول شيان يې يو قسم وي پرته د يو شي نه چه هغه په کې مختلف وي چه دا شى فينګرپرينټ دى دا ځکه چه دا د هر انسان جدا جدا آى ډي ده د همدي اى ډي سره به انسان د قبر ځخه راجګيږي

او د همدي ای ډي سره به د الله په حضور کې د حساب دپاره ودرېږي او د همدي ای ډي سره به جنت یا دوزخ ته ځي ښه فکر وکړئ یو قسم جینونه په یو ماشوم کې یو قسم فینګرپرینټ جوړوي او په بل ماشوم کې بل قسم فینګرپرینټ جوړوي،آیا عقل منطق او علم دا مني چه ددي اختلاف علت او وجه دي د رحم د ماحول تاثیرات وي ؟هیڅکله نه ځکه چه دواړه په یو رحم او یوه پلاسنتا کې پراته دي نو معلومه خبره ده چه په دواړو ماشومانو باندي یې تاثیر یو قسم دی نو بیا د رحم محیط څنګه کولای شي چه یو ماشوم ته یو قسم پینګرفرینټ او بل ته بل قسم پینګرفرینت جوړ کړي ښه فکر وکړئ صرف د خالق نه د بچولو دپاره د داسي بي عقله او غیري ساینسي دلېل منلو ته تیار دي خو د خالق منلو ته تیار نه دي سره د دي چه بي حسابه عقلي او ساینسي دلایل او ثبوتونه پري هم موجود دي ؟حقیقت دا دي چه د الله تعالی نه انکار کول ناممکن دي ،ځکه چه د الله تعالی ځای بل شي نشي نیولای نو د الله نه منکرین صرف د الله د نوم نه انکار کولای شي د الله نوم یې په خوله نه راځي چیرته چه د الله ځای راشي نو دوي به هلته په عوض ددي چه ووایې چه دا کار الله تعالی کړئ

دي او دالله نوم استعمال کړي يا چانس استعمالوي يا پخپله استعمالوي يا به ميوټيشن يا به نيچر او داسي نور نومونه به استعمالوي. د رسل نه چه د ملحدينو مرشد دی چا پوښتنه وکړه چه که ته مړ شي او الله تعالی دي راژوندی کړي او پوښتنه درنه وکړي چه زه دي ولي نه منلم نو رسل ورته وويلی چه زه به ورته وايم چه يا الله ما ته ستا د وجود ثبوت په دنيا کې نه ؤو پيداشوی چه ايمان مي درباندي راوړی ؤو.خو داسي نه ده انسان چه هري خواته مخ اړوي د الله تعالی د وجود بي حسابه آياتونه او نښي ګوري خو غور او فکر کول ضرور دي .په سورت الفصيلت کې الله تعالی فرمايي

سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿53﴾

که بيا هم څوک د الله تعالی د وجود نه انکار يا پکې شک کوي نو ګټه او تاوان يې خپل ځان ته دی، که ټول انسانان په الله تعالی ايمان راوړي د الله تعالی په بادشاهۍ کې يوه زره نه زياتيږي او که ټوله دنيا تري انکار وکړي د الله تعالی په بادشاهۍ کې يوه زره نه کميږي اوکه د تقدير په باره کې نور معلومات غواړۍ زما بل تقرير د تقدير په نوم ولولي. و ماعلينا الا البلغ المبين.

الدرس(۶۰)

# د ځنکندن په وخت کې د ځېنو ملحدينو آخرنی خبري.

په نارمل حالاتو کې د عامو انسانانو 10٪دماغ کار کوي، خو د ځنکندن په وخت کې 100٪ دماغ کار شروع کوي.د مرګ ملائيکې او نور داسي شيان چه د ځنکندن نه مخکې يې نه شي ليدلای ،ټول ورته ښکاري هر سړي ته که مسلمان دی او که کافر حقيقت معلوميږي ،خو په دي وخت کې نوره توبه نه قبليږي نو په همدي ارتباط سره د بعضي ملحدينو او منکرينو آخرني الفاظ او خبري چه د مرګ په وخت کې يې کړي دي ذکر کوو!

بورجيا کله چه يې ځنکندن شو آخرني الفاظ يې دا ؤو چه ما پخپل ژوند کې د هر شي دپاره تياری کولو خو اوس چه مړ کيږم د مرګ دپاره تيار نه يم.

تامس هو بس دا يو مشهور فلسفي دی د مرګ په وخت کې يې آخرني الفاظ دا ؤو چه: په تيارو کې

راګیر یم کاش چه څوک زما نه ټوله دنیا واخلي خو چه یوه ورځ ژوند راکړي.

تامس پین د 18 پیړی مشهور ملحد مصنف دی د مرګ په وخت کې وایې چه زه دي وخت کې په داسي عذاب کې یم چه ما یواځې مه پرېږدئ،او بیشکه ما چه څه کړیدي زه د هغی د عذاب مستحق یم،نن که ماسره پوره کائنات او ددي ځمکې غوندي یوه بله ځمکه هم وه نو ما به ددي تکلیف په بدل کې ورکړي ؤو،نن ما ته الله تعالی په نظر راځي،خو ما ټول عمر د شیطان په لار کې تیر کړیدي.

سر تامس اسکاټ

دا یو انګریز مُشیر ؤو چه په 1594 کې مړ شویدی.د مرګ په وخت کې یې ویلي چه لږ مخکې پورې ما الله نه منلو لیکن اوس احساس  کوم چه الله شته او د الله وجود حق دی او زه چه په کوم عذاب کې یم دا د الله عدالت دي.

والټیر ـــدا یو فرانسوي فلسفي ملحد ؤو چه د مرګ په وخت کې یې خپل ډاکټر فوکون ته وویلي که ته ماته شپږ میاشتی ژوند او صحت راکړي نو زه به خپل نیم دولت تاته درکړم ،اوس زه مړ کیږم او د جهنم خواته روان یم.

نرس رلټیَر -دا یو ملحد دی د مرګ په وخت کې وایې چه زه په دي وخت کې د یو ملحد لیدل هم نه غواړم ځکه چه زه پخپله په مصیبت کې اخته یم او ټوله شپه د مغفرت دپاره چغی وهم.

ډیویډ هیوم——دا یو سکاټیش مؤرخ ملحد ؤو،چه په 1776کې مړ شویدی ،د مرګ په وخت کې یې چغی وهلي او ویلي یې ،اور زه پخپلو لمبو کې وسوزولم او ډیر زیات مایوسه ؤو.

نیپولین بوناپارټ——د فرانس بادشاه ؤو،چه د سلطنت او قددرت د---------------------------

ساتلو دپاره یې په لکونو خلک ووژل ،د ځنکندن په وخت کې یې آخرنی خبري دا وي چه د فرانسی د ټولو نه لوي بادشاه وم اوس مړ کیږم او خپل اصلي ځای ته روان یم ،دي وخت کې په داسي یوه کنده کې یم چه ددي او د جنت ډیر فرق دی یعني د اور په کنده کې.او جهنم ته روان یم.

سرفرانسس نیو برټ——دا د ملحدینو د برتانوي کلپ مشر ؤو کله چه د مرګ په وخت کې د مرګ فرشته ورته مخامخ شوه ،یو خوا بل خوا یې وکتل او حاضرو خلکو ته یې وویلي چه ځما نه دا پوښتنه مکوئ او دا مه وایۍ چه الله نشته ځکه چه زه دي

وخت کې د الله په ګرفت کې یم ،او دا مه وایئ چه جهنم نشته ځکه چه زه دا احساس کوم چه جهنم ته ورځم که زه زر کلونه نور هم ژوندی وم ما به د جهنم اور دروغ ګڼلو خو اوس به د زرونو کلونو نه وروسته هم ددي اور نه خلاص نشم آه دا اور ما سوځوي.

کېنګ چارلس ـــــ د فرانسی بادشاه ؤو په 16 پیړۍکې مړ شویدی په لکونو عیسویان یې وژلي ؤو کله چه مړ کېدو نو د ځنکندن په وخت کې یې خپل ډاکټر ته وویلي زه ګورم څومره خلک چه ما وژلي هغه ټول ځما مخي ته تیریږي ،د زخمونو نه یې وینې بهیږي او ماته اشاري کوي ما ته خپل ځای ښکاري ،ما داسي ګناه کړیده،چه همیشه به ماته سزا راکول کیږي.

ډیویډاسټراس-دا یو جرمنی فیلسوف ؤو په 19 پیړۍ کې مړ شویدی د ځنکندن په وخت کې یې آخرنۍ خبري دا وي چه زه خپلي فلسفي خوار او ذلیل کړم ،او زه په اوس وخت کې ځان د غاښونو والا ماشین د ژامو په منځ کې ګورم ،چه په هر وخت کې می میده کولای شي.

## د روسی د کمیونیست ستالین لور سویتلانه ستالین

د یوي امریکنۍ مجلي نیوز ویک سره د اینټروي په دوران کې ویلي ؤو چه ځما د پلار مرګ ډیر ویروونکی ؤو ،د ځنکدن په وخت کې یې سترګی پټی وي یو ناڅاپه یې سترګی وغړولي او ډیر وارخطا یې خوا او شاه خلکو ته وکتل او بیا یې ماته وکتل او په چپ لاس یې راته اشاره وکړه چه رانیزدي شه ،چه ور نیزدي شوم نو راته یې وویلی چه لوري یو شی می اور ته ورتیل وهي داسي مرګ د ډیري محرومۍ د احساس علامه ده.

انتون لیوي—د چړچ اف شیطان مؤسیس او د بایبل اف شیطان مصنف .د 20 پیړۍ په آخر کې مړ شو کله چه مرګ ورته راغی آخرنۍ خبري یې دا وي ،آه  دا ما څه وکړل،ما خو ډیره لویه غلطي کړي ده،او په بار بار یې استغفار او دالله تعالی نه بخنه غوښتله.

نو الله تعالی دي مونږ او تاسو ته د سمی لاري هدایت وکړي .آمین.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۶۱)

# ولی زمونږ لمونځونه مونږ د بدو کارونو څخه نه منع کوي؟

# Why our salat don't Benefit us?

اکثره خلک لمونځونه او ذکرونه کوي خو نه یې اطمینان او سکون زړه ته راځي او نه د بدو کارونو څخه منع کیږي.

الله تعالی په قرآنکریم کې فرمایې!

إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ۗ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ ۗ(۲۹: ۴۵)

بې شکه لمونځ د بې حیایۍ او ناروا کارونو نه منع کوي.او د الله یاد د دې نه هم لوي شی دی.

یعني څوک چه لمونځ کوي هغه باید چه د بې حیا او بدو کارونو څخه منع شي.او دا کېدای نشي ، چه یو سړی دې هم لمونځ کوي او هم دې ناروا او بې حیا کارونه کوي.ځکه دا د یو انسان خبره نه ده

بلکه دا د رب العلمین فرمان دی، مګر په روزمره ژوند کې مونږ په خپل خوا اوشاه کې ګورو چه اکثره خلک ښه کلک لمونځونه کوي خود ګناه او بدو کارونو څخه نه منع کیږي او نه یې په ګناه کولو کې څه کمی راځي .ظلم کوي،دروغ وایې،د غریبانو ،او یتیمانو حقونه خوري،غلا کوي ،رشوت اخلي او داسې نور.نو دلته خو د الله د فرمان او د بنده د لموځ د اداْ کولو په منځ کې تضاد او ټکر راغی ځکه چه د الله د کلام مطابق لمونځ باید بنده د بدو کارونو نه منع کړي او که منع یې نه کړي نو بیا خو صرف یوه خبره صحیح ده .یا د بنده لمونځ او یا د الله کلام ،نو د الله په کلام کې خو نعوذبالله غلطي نشته،نو معلومه ده چه نقص او کمی د بنده په لمانځه کې دی.

لمونځ یواځې د آخرت د کامیابۍ دپاره نه دی بلکه د دنیا د کامیابۍ ضمانت هم کوي،ځکه چه لمونځ د الله د عبادت او بنده ګی ډیره لویه برخه ده،اودا د ټولو نه ډیر بهتر عمل دی،دا د الله تعالی وعده ده که ستاسو ایمان او عمل درست او صحیح وي ،تاسو ته به په دنیا کې اقتدار درکړم،تاسو به د ټولو نه اوچت او کامیاب یاستی___ وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۳:۱۳۹)

او مه بي زړه کيږئ،او مه غم کوئ،همداتاسي برلاسي او کامياب ياست،که تاسو مؤمنان اوسئ.

په سورت طه کې الله فرمايي ! إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي(۲۰:۱۴)

همدا زه الله يم،زما ښخه پرته بل معبود نشته،نو ته زما بندګی وکړه او زما د ياد دپاره لمونځ قايم کړه.يعني لمونځ د الله د يادولو زريعه ده.

الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ

(۱۳:۲۸ الرعد)خبردار د الله تعالی په ياد زړونه مطمئن کيږي.

لړ مخکې ذکر شو چه لمونځ د الله د ذکر او ياد زريعه ده ،او د لمانځه نه په غير هم اکثره خلک ذکر کوي او ځني خلک خو ډير زيات ذکر کوي په زرونو زرونو کرته سبحان الله ،الحمد لله،الله اکبر او نور اذکار روزانه کوي،خو بيا هم د اکثرو خلکو زړونو کې سکون او اطمينان نه پيداکيږي،يعني په ويره ، غم او خفګان اخته وي.فکر او غور وکړئ،د کائناتو خالق او رب العالمين فرمان دی

چه   د الله ذکر او یاد د بنده زړه ته سکون او اطمينان ورکوي او لمونځ د بي حيايئ او ناروا کارونو نه بنده منع کوي او په دنيا کې کاميابي او سرلوړي ورکوي خو لکه مخکې چه ذکر شوو چه اکثره ښه لمونځ گذار خلک بيا هم ناروا کارونه کوي  او اکثره خلک چه ډير ذکر هم کوي خو بيا هم زړونه يې نه مطمئين کيږي هميشه خفه او غمجن وي نو د الله تعالی په کلام کې خو نعوذبالله هيڅ شک او غلطي نشته نو معلومه خبره ده چه کمَی زمونږ په لمونځونو او ذکرونو کې دی،ذکر اصلاً د الله ياد ته وايې ،او ياد خو په زړه کې وي ،نو که څوک په ژبه الله الله وايې اوزړه يې په کور،بازار او بيزنيس کې وي،يا په زړه کې د چا سره ټوقي کوي او يا دچا سره په جنگ وي ،او يا يې په زړه کې د چا سره دومره اوږده مرکه شروع کړي وي چه زر داني تسبيح خلاصی شي خو مرکه لا پاتي وي نو دا خو د الله ياد او ذکر نه دی،بلکه ياد او ذکر خو د هغی شي وشو کوم چه په زړه کې ؤو ،قضاوت پخپله وکړئ چه داسي ذکر به زړه ته اطمينان او سکون ورکړي؟

لمونځ د مؤمن معراج او دالله تعالی سره د ملاقات زريعه ده.

لمونځ د رب العالمین د خوانه د مؤمن دپاره د ګناهونو نه د بچ کېدلو،په دنیا او آخرت کې د کامیابیدلواو د زړه د سکون او مطمئین کېدلو نسخه ده چه تاثیرات یې د نسخې د صحیح او غلط استعمال پورې اړه لري مثلاً که یو لمونځ ګزار بد کارونه هم کوي او کامیابي او اطمینان هم ورته نه پیدا کیږي ،نو بې شکه دالله کلام صحیح دی او کمی د لمونځ په اداْ کولو کې دی یا د نسخې په استعمال کې غلطي ده.د سوونو سوونو کلونو په تیریدو سره ځوک غورنکوي چه په کلونو کلونو لمونځونه کوو خو د لمونځ د فایدو نه محروم یو،نه مو په ژوند کې کامیابي راځي،نه د بدو کارونو نه منع کیږو،او همیشه خفه او خواشیني یو،نو په قرآن کې خو نعوذبالله غلطي نشته نو معلومه خبره ده چه غلطي په مونږ او زمونږ د لمونځونو په اداْ کولو کې ده.

لمونځ خاص الله ته ودریدل دي د مؤمن معراج اود الله تعالی سره ملاقات دی ،خو زمونږ د لمونځونو دا حال دي چه په لمانځه د ودریدلو سره سمدستي نور د لمونځ په ځای کې نه یو،ځوک په کور کې د ماشومانو سره ناست وي،ځوک په بازار کې ګرځي،ځوک په دفتر یا افیس کې وي، ځوک به د دُکان یا د بیزنیس حسابونه کوي.

لمونځ خلاص شي خو د دُکان حساب لا نه وي خلاص شوي.او ځني خلک خو پکې ډېر ناروا کارونه او ډیرو چټلو او مردارو ځایونو ته هم ځي.فکر وکړئ آیا داسي لمونځونه به لمونځ کوونکو ته فایده ورسوي؟یعني آیا د بدو او بي حیا کارونو نه به يې منع کړي او د دنیا او آخرت کامیابي او د زړه اطمینان او سکون به ورکړي؟

پیبغمبر علیه السلام فرمایي [ قال اَن تَعبُدَاللهَ کَاَنَّکَ تَرَاهُ]ترجمه!فرمايي چه:د الله عبادت داسي کوه لکه ته چه هغه(ج)ګوري.

،خوپه اول کي دا دومره آسان کار نه دی.نو فرمايي چه په شروع کې يې نه شئ کولای .

فَاِن لَّم تَکُن تَرَاهُ فَاِنَّهُ یَرَاکَ ترجمه! او که تاسو هغه(ج) نشئ لیدلای ( نو دا تصور کړئ چه هغه (ج)تاسو ګوري) .یعني په اوله مرحله کي شروع ددي نه وکړئ چه :الله تعالی ماګوري.او دا فکر مه کوئ چه هغه(ج) څنګه دی.او ان شأالله که کوشش وشي څه وخت وروسته به دوهمي مرحلی ته ورسیږی [ قال اَن تَعبُدَاللهَ کَاَنَّکَ تَرَاهُ]ترجمه!فرمايي چه:د الله عبادت داسي کوه لکه

ته چه هغه(ج)ګوري]، دي مرحلی ته رسیدل ډیر تمرین او پرکټیس ته ضرورت لري ځکه خو شریعت والدینو ته وایي چه په اوه(۷)کلنۍ کې په اولادونو لمونځ شروع کړئ.یعني مخکې له دي چه بالغ شي او لمونځ پري فرض شي ،اولادونه باید دي مرحلی ته رسیدلې وي چه د لمونځ د ادأ کولو په وخت کې داسي وي لکه الله(ج) چه ګوري

او دا حالت او کېفیت باید د سلام ګرزولو نه وروسته هم پاتي شي.

د( أَقِمِ الصَّلَاةَ - لمونځ قائموی)مطلب هم همدا دی چه د لمونځ کېفیت همیشه پاتي شي یعني د سلام د ګرځولو نه وروسته هم باید د لمونځ کېفیت او تصور دوامداره په زړه کې پاتي شي نو د چا سره چه همیشه دا تصور موجود وي چه الله تعالی می ګوري او الله (ج) زما سره دي آیا داسي سړی به په داسي حالت او کېفیت کې د ګناه کار ته ورنیزدي شي؟هیځکله هم نه.

په لمونځ کې ددي تصور تمرین یا پرکټیس داسي کیږي چه په تصور کې به خپل ځان د الله په حضور کې ودروی او د بل هر شي نه به خپله توجه او فکر قطع یا کټ کړئ د الله لویوالی او

عظمت به تصور کړي[ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ۖ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿79﴾]بې شکه ما ګرځولی(متوجه کړئ)خپل مخ هغه ذات ته چه پیداکړي ئی دي آسمانونه او ځمکه او نه یم زه د مشرکانو نه.که ترجمه ئی وایې هم صحیح ده،یعني چه د الله نه غیر به بل شی په خپل فکر او تصور کې نه راوړم نه به په لمانځه کې دکان او بازار ته ځم ،نه به په لمانځه کې د چا سره خبري،جنګ جګړه و غیره کوم او خپله ټوله توجه او فکر به صرف یو الله (ج) ته متوجه کوم او په تصور کې به می د یو الله(ج)نه په غیر بل شي نه وي او کله چه الله اکبر ووېل شي نو باید چه تصور وکړو چه:زه چه د کوم ذات په مخکې ولاړ یم هغه(ج) د ځمکې او آسمانونو نه لوي او رب العالمین دی ،هر څه چه وایو په معني ئی باید پوه شو ،او غور او فکر پکې وکړو،پیغمبر علیه سلام به چه هر آیت تلاوت کولو غوربه ئی پکې کولو او بیا به ئی بل آیت شروع کولو او دا عذر د اکثرو خلکودپاره نه قبلیږي چه یو سړی وایې چه زه په معني یا ترجمه نه پوهیږم ځکه چه هر کار په کوشش او د وخت په مصرفولو زده کیږي ،مثلاً که یو سړی وغواړي چه انجینر شي

نو باید چه شل کلونه هره ورځ تقریباً لس ساعتونه درس ووایې ،خو د قرآنکریم د ترجمې د زده کولو دپاره صرف دوه کلونه هره ورځ نیم ساعت سبق ویل کفایت کوي ،فکر وکړئ که یو سړی د ورځې نیم ساعت د دوه کلونو دپاره د قرآن د ترجمی د زده کولو دپاره نه مصرفوي ،آیا دا عذر به ئی قبول شي.په هر ترتیب موضوع ته څو ،کله چه نیت وتړل شي باید کوشش وشي چه دا تصور چه د الله (ج) په حضور کې ولاړ یم او الله راته ګوري باید نه قطع شي او نه پکې بل شی راشي نو کله چه چاته پوره احساس او یقین وشي چه الله ما ګوري او الله ماسره دی نو داسي سړي ته نور نه ویره او نه غم راځي او نه د ګناه کار کولای شي او زړه به یې همیشه مطمئن او خوشاله وي . خو دي حالت ته به بنده رسیږي څنګه؟په متوسط ډول دي حالت ته د رسیدو دپاره پیغمبر علیه سلام څلویښت ورځې خودلي دي، که کوشش وشي په څلور پینځه ورځو کې به دا حالت او تصور چه الله می ګوري ان شأالله چه صحیح شي یعني چه نه به قطعه کیږي ،او په همدي حالت او تصور کې چه سړی ۴۰ ورځې لمونځ وکړي،پیغمبر علیه سلام فرمایې که ۴۰ ورځې څوک بالکل صحیح او

درست لمونځ پوره کړي د هغه ايمان کامل کيږي خو کتل کيږي چه ډير خلک چبلى لګوي او پينځه وخته لمونځ په پابندی سره کوي مګر ايمان ئی نه کامل کيږي نو د پيغمبر عليه سلام په حديث شريف کې خو شک نشته ،معلومه خبره ده چه کمَی په لمونځ کې دی.د لمونځ په معني يا ترجمه پوهيدل ډير ضرور دي ځکه چه د نه پوهيدو په صورت کې د لمانځه د ډيرو ګټو نه سړی محروميږي او څه چه وايو بايد غور او فکر پري وکړو.د صحابه کرامو دا تصور او حضور په لمانځه کې دومره قوي ؤو چه اپريشنونه او غشي به ئی تري په لمانځه کې ويستل او دوي به پري نه خبريدل.نو څوک چه ددي احساس اوتصور سره لمونځ کوي چه الله مې ګوري او الله زما سره دی خو چه دا تصور يې قطع نشي او که قطع شي بيرته ئی د هغی ځای نه شروع کړي،نو داسي خلک د کورنی،اجتماع او وطن دپاره رحمت جوړيږي.نه به خفه وي او نه به غمجن وي،زړونه به ئی مطمئن او خوشاله وي،او په دنيا او آخرت کې به کامياب وي.

أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ
﴿62﴾

واورئ خبردار شئ چه: بیشکه دوستان د الله، نشته هیڅ قسم ویره په دوي او نه به دوي خفه کیږي.

که اسلامی تاریخ وګورو د صحابه کرامو ،تابیعینو او تبعه تابیعینو او هغوي ته د نیزدي زمانو مسلمانان په انفرادي ،اجتماعي او دولتي سطحه خوشاله او کامیاب ؤو او د دنیا لوي لوي امپراطورۍ د مسلمانانو په لاس فتحه او په ټوله دنیا کې سرلوړی ؤو.دا ځکه چه د هغوي د لمونځونو طریقه داسي وه چه تصور به یې کولو چه د الله په حضورکې ولاړ یو ،الله راته ګوري او الله راسره دی،او د لمانځه نه وروسته به هم دا تصور ورسره ؤو چه الله راسره دی نو ځکه خویې د دنیا یو طاقت هم د ټینګی نه ؤو او په دنیا یې حکمراني کوله ،عدل انصاف پکې ؤو،د غریبانو او یتیمانو مالونه خوړل نه ؤو،ظلم،غلا او ناروا قتلونه نه ؤو ،خو کله چه په لمونځ کې د الله د تصور په ځای نورو شیانو ځای ونیولو،د الله یاد او ذکر د زړونو نه ووتلو ،اوپه ځای یې د د نیا یاد او ذکر ورداخل شو،دالله ویره د زړونو نه ووتله او د الله د مخلوق او انسانانو ویره پکې داخل شوه نو ځکه خو هغه قوم چه یو نفر به یې په زرو کافرو حسابیدلو نن دومره بي زړه کمزوری او بي غیرته

شو چه په غیري مستقیم یا این ډایریکټ ډول د کفارو غلامۍ کوي او کمکونه او مرستې د الله په ځای د دوي نه غواړي.

او همدارنګه هر څه چه یې زړه غواړي هغه کوي او هر څه چه غواړي هغه خوري. د حرام او حلال پروانه کوي.د یتیمانو ،غریبانو او د ملت مالونه داسې خوري لکه هیڅ ګناه چه نه وي او نه تري پوښتنه کیږي،د الله د وړاندي به داسې اعمال او کارونه کوي لکه نعوذ باالله چه الله ته نه ښکاري ، مثلاً دا څنګه د الله نه ویریدل او په الله عقیده ده چه د یو عادي انسان په مخکې زنا، غلا،قتل او نور جرمونه نه کوي او د الله په مخکې یې کوي؟

فکر وکړئ که د چا په زړه او تصور کې د الله یاد ،ذکر او ویره وي، او په دي کېفیت او حالت کې وي چه الله مې ګوري اوالله زما سره دی آیا دا کس به ظلم قتل غلا فحشا او ناروا او حرام کارونه وکړي ؟نه هیڅکله نه.چه دا کېفیت او حالت د لمونځ پواسطه جوړیږي.

وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي او زما د یاد دپاره لمونځ قایم کړئ.

الله تعالی دي ما او تاسو ته د عمل کولو توفیق راکړي آمین.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(٦٢)

# د جهنم (دوزخ) پیژندل

د جهنم پیژندل:قرآنکریم په سورت الحجر کې فرمایي. وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿43﴾ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ ﴿44

خلک فکر کوي چه په مرګ سره ژوند ختمیږي ،خو حقیقت دا دی چه د مرګ پواسطه په دنیا کې زمونږ امتحان ختمیږي او همیشه او ابدي ژوندون شروع کیږي ،تر څو چه انسان په دنیا کې ژوندی وي ،سترګی یې بندي وي خو کله چه سړی مړ شي قرآنکریم فرمایي ! لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ﴿22﴾ نو بیا یې د سترګو نه پردي لري شي او سترګی یې خلاصی شي په دنیا کې د یوي محدودي فاصلي پورې ګوري،مګر د مرګ نه وروسته یې نظر دومره زیات تیز شي چه د مرګ فرشتی او نکیر او منکر هم ورته ښکاري،تول پوهیږو چه کله

سړی مړشي ،پردي خو پریږده ،خپل اولادونه به یې هم نور په کور کې نه پریږدي،او کوشش به کوي چه زر یې قبر ته ورسوي د دنیا د ټول مال نه به صرف ځلور یا پینځه ګزه کپړه ویسي ،د خخیدلو نه وروسته به خپل او پردي او د دنیا هغه مال چه ورسره د هدیري پورې تللی ؤو لکه کټ بستره روجایې بیرته به کورته ویوړل شي،او د خرورونو خاورو لاندي په تنګ لحد کې به یواځي پاتي شي ځیړی مازیګر به وي ،د فامیل نه د جدایۍ اوله شپه او د دایمي او همیشه ژوندون شروع به وي.د ابوداود شریف حدیث دی راوي یې حضرت براه رض دي هغه فرمایې چه: یو انصاري صحابي وفات شوي ؤو رسول الله ص د اصحابو کرامو سره هدیري ته تشریف ویوړو پوښتنه یې وکړه چه قبر تیار دی صحابه کرامو وویلي چه یا رسول الله(ص) قبر تیار نه دی،رسول الله (ص )کیناستلو او صحابه تري ګردچاپیره کیناستل ،داسي خاموشي وه لکه د چا په سرونو چه مرغۍ ناستي وي که معمولي وخوځیږي نو مرغۍ به والوزي،داسي معلومیدلو چه رسول الله (ص) په ډیر ژور فکر کې دی نو هغه مبارک سر راپورته کړو او دوه یا دري کرته یې وفرمایل چه:د قبر د

عذاب نه پناه وغواړئ.بیا یې وفرمایل چه دوه ملائیکې راځي او دري سوالونه کوي چه ستا رب څوک دی؟ ستا دین څه دی؟ او ستا نبي څوک دی؟نو که مؤمن یې او جواب ورکړي نو ورته وایې چه تاته دا جوابونه څنګه معلوم ؤو،مؤمن به ورته وایې چه ما قرآن ویلی ایمان می پري راوړی او تصدیق می یې کړی دی ځکه دا جوابونه راته معلوم ؤو.ددي مطلب دا شو چه که کامیابیدل غواړئ نو د قرآن سره خپل تعلق او اړیکې جوړی کړئ نو که په ټول قرآن کې چاته د یو آیت ترجمه نه ورځې نو بیا فکر او فیصله پخپله وکړئ . قبر د آخرت د منزلونو نه اول منزل دی،کله چه د قیامت شپیلی پوکول شي نو خلک به د همدي ځایونو نه راپاڅیږي او د حشر د میدان طرف ته به منډي وهي او هلته به جمع کیږي.

الله تعالی هم دلته تشریف راوړي،۸ فرشتو به عرش نیوولی وي،دلته به حساب او کتاب کیږي،آخرنی فیصله آخرنی ججمینټ.جنت او جهنم به د الله تعالی په امر د حشر میدان ته راوړل شي په جهنم کې به ۷۰۰۰۰ ځنځېرونه پراته وي او هر ځنځېر به ۷۰۰۰۰ فرشتو نیولي وي، د فیصلی نه وروسته---------------------------

جنتیان به جنت ته او دوزخیان به دوزخ ته ځي .خو مونږ اوس صرف په جهنم باندي خبري کوو: لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ ( د جهنم ۷ غټ غټ ګیټونه دي، چه د هر ګیټ نه به دخاصو خاصو مجرمانو او ګنهګارانو ډلی جهنم ته ننوځي یعني هغه ټول مجرمان چه یو قسم جرمونه یې کړي وي دوي به د یو ګیټ نه ننوځي،مثلاً مشرکان به په یو ګیټ او ملحدین به د بل ګیټ اوزناکاران به د بل ګیټ نه ننوځي.

فرشتو به ډلي ډلي ګنهګاران او مجرمان د جهنم ګیټونو ته را په مخه کړي وي قرآن کریم دا منظر داسي بیانوي فرمایې يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا د الله تعالی فرشتي به یې په ټیلو ټیلو جهنم ته وروليٍ ،دعاً دي ته وایې چه یو څوک په زور سره ټیله او دیکه شي.د حشر په میدان کې چه حساب ختم شي نو جنتیان خو به په خپله خوښه او خوشالۍ سره جنت ته روان وي،مګر د دوزخیانو به جهنم ته نه پیښي ځې او نه زړه،او دا خو د انسان فطرت دی چه د سختۍ او هلاکت نه د بچ کېدلو دپاره خپل انتهایې کوشش کوي،خو د مجرمانو او ګنهګارانو سره به د ځان د خلاصولو دپاره هیڅ وسله نه وي په غیر ددي نه چه پخپله خوښه به نه ځې،نو فرشتي

به پکي څنځيرونه واچوي او د جهنم خواته به يې کشوي،اوبعضی فرشتی به يې ټيل وهي ديکي به ورکوي  په لغتو به يې وهي ورته به وايې چه زر زر ځئ ،او دا خوبه څه يو يا دوه کسان نه وي بلکه په ميليياردونو او ټريليونونو خلک به وي ،ځکه چه په زرو کې به يو جنت ته او ۹۹۹ دوزخ ته ځې فرشتو به پکې څنځيرونه اچولي وي او راکاږي به يې،ځکه چه هيڅوک په خپله خوښه د هلاکت خواته نه ځې،نو کله چه د لري نه جهنم ته ښکاره شي ،جهنم به غصه شي ،چه قرآن دا منظر داسي بيانوي فرمايې إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ۲۵/۱۲

کله چه جهنم د لري نه مجرمان او ګنهګاران وګوري په غصه کې به راشي جوش به وهي او وايې به چه زر يې راولئ او زر يې راواچوئ او ګنهګاران به هم د جهنم د غصی او زفير آوازونه اوري ،زفير دي ته وايې،کله چه خر اواز اوباسی دي ته زفير وايې او د بيرته ننوتلو آواز ته شهيق وايې چه دا ډير بدرنګ آواز دی قرآن فرمايې چه دنيا کې خراب آواز د خره آواز دی ، په مجرمانو او ګنهګارانو به ډير بد لړيږي او تکليف به ورکوي. د جهنم اور ۶۹ کرته زيات د دنيا داور نه

ګرم دی ،او د جهنم د اور بڅري یا سپرغۍ به لکه د ماڼیو یا ودانیو پشان غټې وي إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿32﴾د جهنم اور به لکه د قصرونو یا ماڼیو غوندي غټ غټ بڅري غورځوي ، د جهنم دا منظر ډیر خطرناک او ویرونکی دی، تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ۖ د ډیري غصي او جوش نه به(داسي ښکاري)چه اوس به وچوي او ټوټې ټوټې به شي.د جهنم دا منظر به ګنهګارانو ته د ډیر لري نه ښکاریږي ،مجرمان به د غصي،جوشیدلو او زفیر آوازونه اوري او د بیلډینګونو غوندي د اور غټ غټ بڅري یا سپرغۍ به ګوري ،نه به یې زړه ځي او نه به یې پښی ځي، مګر فرښتو به په کې ځنځیرونه اچولي وي او په دیګو او ټیلوهلو به یې د جهنم د ګیټونو خواته روان کړي وي،او ظاهره ده چه د یو ناآشنا شي او ناآشنا منظر په لیدلو د هر چا سودا پیداکیږي چه دا به څه شی وي، نو فرښتی به ورته وایې چه هَٰذِهِ النَّارُ الَّتِي كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿14﴾

دا هغه جهنم دی چه تاسو دروغ ګڼلو،نبیانو ع ته به مو جادوګر او دروغجن ویلي د دیني علماو پورې به مو ریشخند وهلو،ښه په غور ورته وګورئ أَفَسِحْرٌ هَٰذَا أَمْ أَنْتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴿١٥

آیا دا جادو دی او که ستاسو نظر خراب دی، یعني تاسو چه څه ګوری دا حقیقت دی نه دا جادو دی او نه ستاسو په نظر کې څه خرابي شته بلکه دا هغه جهنم دی چه تاسو پري یقین او باور نه کولو.او ویل به مو چه دا د پیغمبر ع د الفاظو جادو دی او جادوګر به مو ورته ویلی نو کله چه په کشولو دیکو لغتو او تیل وهلو د جهنم ګیټ ته ورسیږي ،ورته به وویل شي چه: اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿16﴾ ۵۲

ځي اوس دي جهنم ته ورننوځي نو که صبر وکړئ او که صبر ونه کړئ ستاسو دپاره یو برابر ده تاسو ته به هم هغسي جزا درکول کیږي څنګه چه مو عمل کړي وي.

نو کله چه په کشولو او تیل وهلو په ګیټ ورننوزي نو قرآن فرمایي : تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ۖ كُلَّمَا أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ ﴿8﴾ قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَاءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ ﴿9﴾

نو د جهنم داروغه یا څوکیدار به تري پوښتنه کوي چه آیا تاسو ته کوم ویرونکی نه ؤو درغلی چه د دي عذاب نه یې خبر درکړي ؤو دوي به ورته

وايې چه ولي نه ويرونكى راغلى ؤو خو مونږ هغه ته دروغجن وويلي او د هغه خبره مو ونه منله.مونږ دنيا غوښتله او په دنيا كې مشغول ؤو. او د ويرونكې خبرو اوريدلو ته مونږ وخت نه لرلو.د ګيټ نه به يې دننه ننه باسي،ګيټ به بند شي.او لكه څنګه چه په دنيا كې بنديانو ته خاص لباس وركول كيږي،همدارنګه دوزخيانو ته به هم خاص لباس وركول كيږي.د جهنم خپل مخصوص يونيفوم دي ،د هغى ځاى خياطان چه كومه كپړه استعمالوي هغه د اور نه جوړه شوي ده فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِنْ نَارٍ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ ﴿19﴾د اور جامى ورته د اغوستلو دپاره جوړيږي او وراغوستل كيږي يعني د جهنم خياطان د اور نه جامى جوړوي.لكه چه دنيا كې بنديانو ته د اوسيدلو دپاره كوټي او د اوسيدلو دپاره ځاى وركول كيږي ،خو د دنيا د زندانونو د كوټو چتونه ديوالونه فرش توشک بالښتونه كمپلى او نور د خاورو نه جوړ شوي دي .همدارنګه په جهنم كې هم د اوسيدلو دپاره كوټى بستري او هر شي وركول كيږي مګر د جهنم د اور نه جوړ شوي دي ، د دوزخيانو د كوټويا باركونو يا د اوسيدلو د ځايونو په باره كې الله تعالى په سورت الزمر كې

فرمايي! لَهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ اللَّهُ بِهِ عِبَادَهُ ۚ يَا عِبَادِ فَاتَّقُونِ ﴿16﴾دپاسه اور لاندي اور بنی خواته اور چپ خواته اور مخکې اور شاته اور يعني پاس د اور چترۍ، چت اور ديوالونه اور لاندي فرش اور د ځملاستلو دپاره چه کوم توشکونه او کمپلی ورکول کيږي په سورت الاعراف کې فرمايي! لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿41﴾د دوي توشکونه د اور، کمپلی يا بړستني داور. فکر وکړئ که څوک په موټر کې ناست وي او دروازې پسی بندي شي او بيا په موټر پيټرول وشيندل شي او اور ورواچول شي فکر وکړئ چه په موټر کې د ناست سړی به څه حالت وي آيا دا کېفيت درک کولای شئ؟دا خو لا بيا هم ښه دی لږ وخت تکليف دی وبه سوځي مړ به شي او خبره به ختمه شي.مګر په جهنم کې خو حال دا دی چه څلور طرف ته اور دی،چت د اور ديوالونه د اور فرش د اور بستره د اور په موټر کې ناست سړی خو مړ شو او قصه يې ختمه شوه مګر دلته خو قصه هم نه ختميږي.په سورت الاعلی کې فرمايي! ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿13﴾ سړی به نه په کې مړ کيږي او نه به ژوندی کيږي. دلته

غور وکړئ مونږ خو صرف دوه قسمه پيژنو يو مرګ او بل ژوند نو دا دريم شی به څه شی وي ،څه قسم حالت به وي چه سړی نه مړ کيږي او نه ژوندی الله تعالی دي د دوزخ نه نجات راکړي.او دا بارکونه يا کوټې يا د اوسيدو ځايونه د دنيا دزندانونو نه ډير تنګ دي او په يوه کوټه يا بارک کې يواځې يو کس نه بلکه ډير کسان وي او ټول به په يو ځنځير تړلي وي په سورت الفرقان کې فرمايي وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿13﴾ ډير مجرمان به يو ځای سره تړل کيږي مقرنين يو ځنځير دی او ډير مجرمان به پري يوځای تړل کيږي.او بارک يا کوټه يا د اوسيدو ځای به څنګه وي ؟مکاناً ضيقاً—بالکل ډير تنګ څلور طرفه اور. فکر وکړئ که په دنيا کې چه اور هم نه وي که سړی په داسي ځای کې بند شي چه ډير تنګ وي او هوا پکې نه وي د سړی به څه حال وي آيا دا کيفيت تصور کولای شئ ؟نو اوس دا فکر وکړئ چه د هغو بنديانو به څه حال وي چه د جهنم په تنګو بارکونو کې په ځنځيرونو تړلي او څلور طرف ته يې اور دی،ډيري چغی به ووهي چه ددي ځای نه مو وباسی زمونږ دلته ساه بنده شوه خو هيڅ جواب به ورنه کول شي نو چغی

به وهي چه مونږ ته مرګ راکړه مونږ مرګ غواړو دلته لږ غور وکړئ د مجرمانو بي وسۍ ته وګورئ ،که په دنیا کې څوک په مصیبت اخته شي نو د کمک دپاره خلکو ته چغي وهي مګر دوي به مرګ غواړي او مرګ ته به چغی وهي.جواب به ورکول شي لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿14﴾نن یو مرګ مه غواړئ نن ډیر هلاکتونه او مرګونه وغواړئ . کوم مرګ چه تاسو غواړئ اوس هغه تاسو ته نه راځي ځکه چه مرګ ته پخپله مرګ راغلی مرګ هم مړ شوي دی او پس د دي نه مرګ نشته.کله چه جنتیان جنت ته لاړ شي او دوزخیان دوزخ ته لاړ شي آواز به وشي چه جنتیان خپلو بالاخانو ته راوخیژئ او دوزخیان د دوزخ غاړو ته راوخیژئ نو مرګ به د دوزخ یا جهنم او د جنت په منځ کې ذبح شي چه جنتیان به ډیر خوشاله او جهنمیان به ډیر خفه شي.ځکه مرګ به نور د همیشه دپاره ختم شي او ددي نه وروسته به هیڅوک نه مړ کیږي ،جنتیان به همیشه په جنت کې ژوندي وي او دوزخیان به همیشه په جهنم کې به داسي حال کې وي چه نه به مړه کیږي او نه ژوندي. ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ نه به پکې مړه کیږي او نه به پکې ژوندي کیږي.او دا څه یوه ورځ

نه ده بلکه د همیشه دپاره به دا عذابونه وي.دوزخیان به وایې ورږي یو د خوراک دپاره څه راکړئ ،فرشتې به وایې خوراک غواړی ، أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿62﴾ إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِلظَّالِمِينَ ﴿63﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿64﴾ الصافات دا به د زقوم یوه میوه وي.پوهیږئ چه د زقوم ونه چیرته راشنه کیږي؟جهنم کې ،د اور نه پیدا کیږي اور خو نباتات وچوي خو د زقوم ونه داسې ده چه د اور نه راوزي،دا به څه قسم وي اندازه ولږوئ کله چه وخوړل شي نو په ستوني کې به کلکه ونښلي نه به ښکته ځي او نه پورته بیرته راوځي چغې به کړي چه اوبه راکړئ،اوبه به ورته راوړل شي .مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ فِيهَا أَنْهَارٌ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِنْ لَبَنٍ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى ۖ وَلَهُمْ فِيهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ مِنْ رَبِّهِمْ ۖ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ ﴿15﴾سورت محمد . داسې ګرمې اوبه به پرې وڅښل شي چه کولمې به یې غوڅې غوڅې کړي.یعنې کولمې به یې ټوټې ټوټې شي او د باندې به راوځي.دا به د دوزخیانو خواړه او اوبه وي خلک په کوم خیال کې دي او څه قسم خطرناک.

شی ورته په انتظار کې دی.څه چه دوزخیان غواړي تول ورکول کیږي، کوټه یا د اوسیدلو ځای،فرش ،بستره،خواړه،اوبه او نور مګر د هر شي تعلق د اور او عذاب سره دی.څلور طرف ته چغي ،فریادونه او ژړاګاني دي،خو هیڅوک یې فریاد نه اوري مِنْ وَرَائِهِ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِنْ مَاءٍ صَدِيدٍ ﴿16﴾ يَتَجَرَّعُهُ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِنْ وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴿17﴾ سورت ابراهیم--- او د وینو او زوو اوبه به وربانديي څکل کیږي چه په ډیر مشکل سره به تري یو یو ګهوټ یا غړپ کوي چه د حلق نه به یې نه تیریږي ،هر جهنمي ته به داسي معلومیږي لکه مرګ چه د څلورو خواو نه راځي،لیکن مړکیږي به نه. وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ مرګ به د هري خوانه راځي مګر هغه به ونه مري.په دنیا کې که په چا تکلیف راشي نو خلک تسلی ورکوي چه صبر کوه د هر تکلیف او سختۍ پسي راحت شته دی مګر په جهنم کې داسي نه ده بلکه د هر عذاب او تکلیف نه وروسته بل عذاب د مخکیني عذاب نه ډیر سخت وي وَمِنْ وَرَائِهِ عَذَابٌ غَلِيظٌ کله به چه د جهنم ذکرکیدلو او یا به د عذاب آیاتونه نازل شو نو صحابه کرامو به ډیر ژړل او

ځني خو به مريضان شو او خلک به يې پوښتني ته ورتلل.د جنتيانو او جهنميانو منظر داسي دی چه جنتيان به ووايې چه ياالله مونږ دوزخ ليدل غواړو الله تعالی به وفرمايې وګورئ پردې به د منځ نه لري شي،جنتيان به جهنميان او جهنميان به جنتيان وګوري کله چه جهنميان وګوري چه جنتيان قسم قسم ميوي خوري يخي اوبه څکې وَنَادَىٰ أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ ۚ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿50﴾الاعراف--- دوزخيان به جنتيانو ته ووايې چه لږ اوبه راکړئ ډير تږي يو د خوراک لږ څه راکړئ کوم چه الله تاسو ته درکړي دي وږي يو جنتيان به جواب ورکړي چه دا دواړه الله تعالی په کافرانو حرام کړي دي.ټول نعمتونه په تاسو حرام دي ،تاسو ته هيڅ شي نه درکول کيږي.همدارنګه د جهنم اور د دنيا د اور غوندي په لرګيو نه بليږي،بلکه په تيږو بليږي فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿24﴾د هغی اور نه ويريږئ چه خس يا خشاک يې انسانان او تيږي دي.او دا خبره ساينس هم ثابته کړي چه تيږي په ۱۶۰۰ درجو فارونهايټ کې ويلی کيږي،او د ځمکې د قشر يا پوستکې نه

لاندي طبقه چه ۳۰۰۰ کېلومیتره ضخامت یا پیړوالی لري دا طبقه ویلي شوي تیږي دي ځکه چه د حرارت درجه پکې د ۱۶۰۰ څخه د ۴۰۰۰ درجو فارونهایټ پورې ده یعني په دي طبقه کې د ۳۰۰۰ کېلومتره په پیړوالی د اور بلولو خس او خشاک تیږي دي.ددي نه د جهنم د اور شدت او د جهنم ګرمي اندازه کړئ ځکه چه تیږي د ۱۶۰۰ فارونهایټ نه په زیات حرارت کې سوزي.ددي نه علاوه د عذاب نور ډیر قسمونه شته چه یو منظر داسي دي وَلَهُمْ مَقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴿21﴾الحج ---او د هغوي د سزا ورکولو دپاره به د اوسپیني ځټکونه(ګورزونه) وي. د عذاب فرشتی به د اوسپیني په ګورزونو باندي وهل ورکوي.ددي نه علاوه ماران او لړمان به وي ،په دنیا کې داسي ماران شته دی لکه انهکونډا چه انسان روغ تیروي نو فکر وکړئ چه د جهنم ماران او لړمان به څنګه وي كُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿22﴾

ــــــکله که دوي د ډیر سخت تکلیف او وارخطایی په وجه د جهنم نه د وتلو کوشش کوي بیرته پکې ورټیل وهل کیږي او ورته به وویل شي چه اوس د سوځېدلو د عذاب خوند وڅکئ. الله تعالی ته به

فریاد وکړي!
وَ هُمْ يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا آخرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ

ۚ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ ﴿37﴾فاطر---- دوي به فریاد اوچغی کړي چه آی زمونږ ربه مونږ ددي ځای نه وباسه چه نیک او ښه عمل وکړو جواب به ورکول شي چه د عمل دپاره ډیره ښه موقع درکول شوي وه،تاسو د دنیا په رنګینیو کې داسي ډوب شوي وی چه: دا هر څه موهیر کړي ؤو اوس راغلي یاستئ دا داسي زندان دی چه ددي ځای نه څوک بیرته نشي تلای.چه نامیده شي د جهنم د داروغه مالک پسی به لاړ شي! وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ ﴿77﴾غږ به وکړي چه: ای مالک رب ته ووایه چه زمونږ ژوند ختم کړي مونږ ته مرګ راکړي مالک به یې هم درخواست رد کړي ورته به وایې إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ تاسو به همداسي اوسیږی ،او پوهیږئ چه د دوزخ داروغه یا کارډ مالک چه د کوم وخت نه الله تعالی پیداکړی دی خندلي یې نه دي او نه یې په مخ کې د خندا اثرات پیدا شوي دي.
قرآنکریم فرمایې دا ډیر بد ځای دی دلته مه راځئ

هَٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطَّاغِينَ لَشَرَّ مَآبٍ ﴿55﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿56﴾ .

دا جهنم دي ډير خراب ځاى دى لَشَرَّ مَآبٍ ډير خراب ځاى دى دلته مه راځئ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمِهَادُ ډير خراب ځاى دى دلته مه راځئ راتګ خو پريږده د راتلو په باره کې تصور هم ونکړئ.الله تعالى فرمايي كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۖ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿185﴾ هر څوک د مرګ څکونکی دى او د قيامت په ورځ به ستاسو اجرونه پوره پوره درکول کيږي او اصلي کامياب هغه دى چه د دوزخ د اور نه بچ شي او جنت ته داخل شي.الله دي مونږ او تاسو د دوزخ څخه وساتي.و ما علينا الا البلغ المبين.

ډاکټر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۶۳)

# د مسلمانانو د ذلت اسباب او علاج

مسلمانان هغه قوم دی چه قرآنکریم ورته د بهتر امت لقب ور کړی دی.دا هغه قوم دی چه په نیمه پیړۍ کې یې په ټوله دنیا کې انقلاب راوستو ،د قیصر او کسری حکومتونه یې مات کړل او د سعودي نه د یورپ او افریقا پورې یې د اسلام بیرغ ورپولو ،لیکن همدا قوم نن ورځ د دومره مشکلاتو او بدبختیو سره مخ دی،چه هره ورځ هم د پردیو او هم د خپلو په لاسونو په سل هاو او زرهاو وژل کیږي،کورونه یې ورانیږي، عزتونه یې لوټول کیږي.صلحه نشته امن نشته هره راتلونکې ورځ د تیري شوي ورځ نه ډیره بدتره وي په خپلو منځونو کې یې بې اتفاقي نفرتونه او جنګونه ورځ په ورځ زیاتیږي، د محکمو او قضأ د فیصلو نه پرته یو د بل مرګ ځان ته روا ګڼي هر سړی پخپله قاضي دی او پخپله د نورو د مرګ فیصلې کوي او پخپله یې وژني اکثره خو مقتول خبر نه وي چه زه ولې مړ شوم او قاتل خبر نه وي چه ما ولې قتل

وکړو،هر یو خپل ځان په حقه او بل ناحقه ګڼي ،هر یو ځان ته شهید او غازی او بل ته مردار وایي،او د ویري او بي سکونۍ خو دا مو حال دی چه په کور کي ویریږو ،دباندي ویریږو،د خپلو نه ویریږو، پردیو نه ویریږو،موټرو نه ویریږو،باډیګارډانو نه ویریږو د کار د ځای نه ویریږو.نه مو په دنیا کي عزت شته او نه اقتدار او طاقت ،او نه رانه د چا حیا کیږي.

آخر ددي بدبختیو او مشکلاتو علت او علاج څه دی؟ددي جواب په قرآنکریم کي دی.

<u>قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ ۖ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿26﴾العمران</u>
پاچاهی قدرت عزت او ذلت د الله تعالی په لاس کي دی.او دا د الله تعالی خوښه ده چه چاته پاچاهي او اقتدار ورکوي او که د چا نه یي اخلي .او که چا ته عزت ورکوي او که چا ته ذلت ورکوي.یعني مونږ باید خپل غوږونه ښه خلاص کړو او ځان پوه کړو چه عزت او ذلت ،پاچاهي او طاقت په غیر د الله څخه نه څوک چاته ورکولای شي او نه یي څوک د چانه اخیستلای شي نو چه دا هر څه د هغه چا په

لاس کې دي چه مونږ د هغه عبادت کوو.په لااله الاالله محمدرسول الله باندي اقرار کوو،د نبي ع د محبت دعوه کوو .او قرآن فرمايي يَقُولُونَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ۚ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿8﴾!او عزت د الله او د الله د رسول او مؤمنانو دپاره دی.نو چه الله وعده کړي چه مؤمنانو ته عزت ورکوم ، او د الله په وعده کې خو هيڅ شک نشته .نو بيا زمونږ د ذلت،کمزورۍ او بدبختۍ سبب او علت څه دی؟ دا جواب په قرآن کې دي:

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿139﴾العمران--- او مه بي زړه کيږئ او مه غمجن کيږئ.

او همدا تاسی برلاسي(غالب) ياست ،که تاسو مؤمنان اوسۍ.يعني اقتدار ،کاميابي ،عزت او خوشالي ټول به تاسو ته درکوم خو په دي شرط چه تاسو صحيح مؤمنان اوسئ.

قرآنکريم کې خو شک نشته . دا چه مونږ برلاسي نه يو ذليل او کمزوري يو د دي مطلب دا شو چه زمونږ په ايمان کې خلل او کمی دی،ولي په خپله ګناه سترګی پټوو د سترګو پټولو په ځای بايد توبه

وباسو الله ته راجع شو، مونږ صحيح مؤمنان نه يو.او کوم ايمان چه الله تعالی ته مطلوب دی هغه ايمان په مونږ کې نشته.سوال پيداکيږي چه کوم قسم ايمان الله تعالی ته غوره او قابل د قبول دی.دا جواب هم الله تعالی په قرآن کې فرمايي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿2﴾الانفال---رښتيني مؤمنان هغه دي چه زړونه يې د الله تعالی د ياد په اوريدلو لړزيږي.او کله چه د هغوي په وړاندي د الله تعالی آيتونه لوستل کيږي،نو د هغو ايمان زياتيږي او هغوي په خپل رب کامل اعتماد او باور لري.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ د مؤمن په مخکې چه د الله ج ذکر وشي زړونه يې لړزيږي او د الله تعالی د ويري هره ګناه پريږدي د بني اسرائيلو د دري ځوانانو مشهوره واقعه ده نبي ع بيان کړي ده چه دا دري ځوانان د شديد باران په وجه يو غار ته ننوتل يو ګټ راغی او د غار خوله يې بنده کړه ،دري واړو مشوره وکړه چه هر يو بايد الله تعالی ته خپل نيک عمل مخکې کړي تر څوچه الله دا ګټ د غار د مخی نه لري کړي. يو

وويل چه يا الله ځما د خپل  کاکا د لور سره ډيره
مينه وه ،يو وخت ډيره قحطی راغله نو ځما د کا
کا لور د غريبیۍ په وجه ډيره مجبوره شوه او ماته
راغله او ځما نه يې د پيسو غوښتنه وکړه ،خو ما
تري د پيسو د ورکولو په مقابل کې د غلط کار
غوښتنه وکړه د کاکا لور مى ډير عذرونه وکړل
خو ما ونه منل بالآخره د ډيري مجبورۍ د لاسه
هغه د ګناه کولو ته آماده شوه مګر کله چه زه په
ګناه کولو قادر شوم او د ګناه کولو اراده مى وکړه
،نو د کاکا لور مي راته وويلی چه اتقي الله د الله نه
وويريږه،ددي جملی په اوريدو سره مى په زړه
ويره راغله او د ګناه کار مي پريښودو.آيا زمونږ
ايمانونه همداسي دي آيا واقعي مونږد الله تعالی
دپاره ګناه کول پريږدو.دا څنګه مؤمن او څنګه
ايمان دی چه الله تعالی ګوري او بنده زنا کوي حال
دا چه د يو ليوني په مخکې يې نه کوي.الله تعالی
ګوري بنده غلا کوي،ظلم،قتل او نور جرمونه کوي
،مظلومان ورته زارۍ کوي چه دالله په خاطر ظلم
مه کوه خو ظالم د الله د نوم پروا نه کوي او خپل
ظلم ته دوام ورکوي،بايد فکر وکړو چه آيا مونږ
خو به داسي نه يو                وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ
آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا .او مؤمنان چه د الله تعالی آيتونه

اوري ایمان یې زیاتیږي .آیا مونږ او تاسو داسي یو ؟کله چه د قرآن آیتونه اورو آیا ایمان مو زیاتیږي او که زړه مو تنګیږي؟ که ملا صاحب اوږد تقریر یا سورت شروع کړي فکر او فیصله پخپله وکړئ چه ایمان مو زیاتیږي ،داسي خو به نه یو چه زړه مو تنګیږي او د الله د آیاتونو د اوریدلو نه وروسته چه د مسجد نه راوځو  د الله د مخلوق د بربادولو پلانونه جوړو ،که چیرته داسي یو.نو ددي مطلب دا شو چه زمونږ ایمان هغه ایمان نه دی کوم چه الله تعالی ته مطلوب دي    وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ او مؤمنان صرف په الله تعالی توکل کوي،په هر حال کې په الله باندي باور لري .د الله درګاه نه پریږدي او د بل چا درګاه ته نه ځي،او د الله د دربار نه غیر د بل چا دربار ته نه ځي او نه د بل چا په دربار کې خپل تندی ذلیلوي.آیا مونږ خو به داسي نه یو چه: د الله تعالی دربار مو پریښی وي او د الله د دښمنانو په دربارونو کې کچکول په لاس ګرځو او د امن او رحم خیراتونه تري غواړو.نو د الله په ذات پوره یقین او توکل د ایمان یو شرط دي.

دوهم---دا چه زمونږ د ژوند مقصد مونږ څه شی ګرځولی دی؟ماشوم پیداشي، لوي شي، تعلیم وکړي ،وظیفه پیداکړي ،کاروبار یې جوړ شي، بس ژوند

ختم .سړی کارو بار شروع کړي، دکان جوړ کړي، ژوند يې صحيح شي، واده وکړي ،کور جوړ کړي او قصه ختمه شي،زمونږ د ژوند مقصد د دنيا نه شروع او په دنيا ختم.زمونږ د پوره ژوند چه څه مقصد دی د دنيا په خوا او شاه باندي تاويږي.مونږ دنيا پرست شوي يو،مونږ دنيا طلب شوي يو،مونږ دنيا د خپل ژوند هر شی جوړ کړی دی.قرآنکريم فرمايي! يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ ۚ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿38﴾ای ايمان والاوو په تاسو څه شوي ما لکم چه کله د الله په لار کې د وتلو خبره راځي د الله د دين دپاره د قربانۍ خبره راځي تاسو درانه په ځمکه کېنی ،تاسو په خپلو کارونو کې لګيا ياستی،څه خبره ده أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ داسي خوبه نه وي چه تاسو آخرت پريښودی وي او د دنيا د زنده ګۍ نه مطمئن شوي ياستۍ دنيا مو غوره کړي وي او فکر کوئ چه د دنيا ژوند هر شی دی،دنيا کې اوسيدل کار او بار کول پيسی ګټل واده کول د ماشومانو پالل او هر شی کول پکار دي،ليکن دنيا هر شی منل چه دنيا هر شی دی او دنيا د خپل ژوند مقصد او تارګيټ

جوړول دا د مؤمن نښانه نه ده.یو ډیر ښایسته حدیث شریف درسره شریکوم ،که په غور سره یې واورئ ان شاألله چه ډیري مسئلی به مو حل شي.عبدالله ابن عمر رض راوي دی په ابوداود کې د کتاب البیوع روایت دی وایې چه نبي ع فرمابلی!

عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : (إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ ، وَتَرَكْتُمْ الْجِهَادَ ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ).

: (إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ ،ای څما امتیانو کله چه تاسو بیع العینه شروع کړئ بیع العینه دي ته وایې چه:د جاهلیت په وخت کې به یو سړي په چا باندي یوشی په زر روپی خرخ کړو او د پیسو نیټه به یې ورسره یوه میاشت کېښوده چه یوه میاشت وروسته به زر روپی راکوي خو دوه ورځې وروسته به یې هماغه شي بیرته تري په نقدو په ۸۰۰ روپیو واخیستو چه دا د دوکې او ټګی یوشکل دی ، نو نبي ع وفرمابل یعني دا نه چه یواځې بیع العینه حرامه ده بلکه کله چه په کار او بار کې ټګی فراډ او یو بل ته دوکه ورکول شروع شي حلال او حرام نه ګوری او مطلب صرف پیسی ګټل وي، وَأَخَذْتُمُ أَذْنَابَ الْبَقَرِ.او

د غوا لکۍ ونیسۍ نبي ع د خپلو صحابه کرامو ماحول په نظر کې نیسي ځکه په هغې وخت کې به چه چا غواګاني ساتلي یعني مالداري به یې کوله هغه به ډیر دولت ؤو، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ او د غوا لکۍ ونیسۍ یعني د دولت لار ونیسۍ ،هر وخت د دولت او د بینګ بلنس د زیاتولو کوشش کوئ یعني کله چه دا ستاسو د ژوند مقصد شي وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ.او تاسو پخپلو جایدادونو او کارخانو او مال او دولت باندي خوشاله واوسۍ وَتَرَكْتُمْ الْجِهَادَ.او د الله په لار کې جهاد او قرباني پریږدئ ، سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا الله تعالی به په تاسو ذلت او رسوایې مسلط کړي تاسو به ذلیل شئ تاسو به رسواشئ تاسو به بې عزته شئ الله تعالی به ذلت او رسوایې ستاسو په برخه کړي لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ)او دا ذلت او رسوایې به د هغې پورې ستاسو نه ختمه نشي تر څو چه خپل دین ته راونه ګرځۍ اسلام ته راونه ګرځۍ یعني کله چه تاسو په کاروبار او معاملاتو کې ښکي او فراډ شروع کړئ د غوا لکۍ ونیسۍ یا یواځې دولت پسی روان شئ اوپه جایدادونو او کارخانو باندي خوشالي کوئ د الله په لار کې قرباني او جهاد پریږدئ نو الله تعالی به په تاسو ذلت او رسوایي

مسلط کړي.او دا ذلت او رسوايي به تر هغې پورې ستاسو سره وي تر څو چه تاسو دا کارونه پرينږدئ او اسلامی شريعت و نه منئ او عمل پري ونکړئ.

همدارنګه يو بل ډير ښايسته حديث شريف دی راوي يې حضرت ثوبان رض دی که دي حديث شريف کې غور وشي داسي معلوميږي چه د نبي ع په مخکې زمونږ د اوسني حالاتو مکمله نقشه ايښی وه، ښه په غور يې واورئ او فکر وکړئ چه څنګه پيشګوي نبي ع کړي ده . عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم " يُوشِكُ الأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا " . فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ قَالَ " بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهَنَ " . فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهَنُ قَالَ " حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ " .

Grade: Sahih (Al-Albani) صحيح
حكم: (الألباني)

" يُوشِكُ الأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا نبي ع وفرمايل:داسي وخت به راشي چه خلک ،نور ملکونه به په تاسو باندي د حملی کولو

دپاره یو بل داسي رابلي لکه ډوډۍ خوراک ته چه یو بل رابلي تر څو چه خپل خوراک ورسره شریک کړي.

فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ صحابه کرامو پوښتنه وکړه چه آیا زمونږ تعداد به په هغې وخت کې کم وي نبي ع وفرمایل قَالَ " بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ ستاسو تعداد به ډیر زیات وي،آیا زمونږ تعداد په دنیا کې کم دی؟نه په بیلیونونو دی،څومره اسلامی ملکونه دي د دولت هیڅ کمی نشته، د وسایلو هیڅ کمی نشته، وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ خو تاسو به لکه د سیلاب د ځګ پشان یاستی، وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ او الله تعالی به ستاسو د دښمنانو د زړونو نه ستاسو دبدبه او رُعب وباسی هیڅوک به ستاسو څخه نه ویریږي او د هیڅچا به درنه حیا نه کیږي. وَلَيَقْذِفَنَّ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهَنَ او ستاسو په زړونو کې به الله د وهن په نوم مرض واچوي. .

فَقَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَهَنُ صحابه کرامو پوښتنه وکړه چه یا رسول الله ص وهن څه قسم مرض دي ؟ قَالَ " حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ نبي ع وفرمایل !تاسو به د دنیا سره مینه کوئ د دنیا په رنګنیو کې به اخته شئ،او د مرګ نه به نفرت او کرکه کوئ،غور وکړئ نبي ع چه کومي مریضی

ته اشاره کړي ده آیا دا مریضي په مونږ کې موجود نه ده؟آیا داسي نه ده چه نن زمونږ د ژوند مقصد صرف دنیا او دولت دی؟

دا یو بل د ابن ماجه یو ډیر په زړه پورې حدیث شریف دی راوي یې عبدالله بن عمر رض دي هغه فرمایې چه نبي ع فرمایې!

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبُو أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ فَقَالَ " يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ خَمْسٌ إِذَا ابْتُلِيتُمْ بِهِنَّ پینځه خرابۍ ځما په امت کې پیداکېدونکې دي پینځه غتې غتې غلطۍ به ځما اُمت وکړي وَأَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ تُدْرِكُوهُنَّ او نبي ع د صحابه کرامو په باره کې فرمایې چه زه دالله تعالی نه پناه غواړم چه په تاسو کې رانشي لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا إِلاَّ فَشَا فِيهِمُ الطَّاعُونُ وَالأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ مَضَتْ فِي أَسْلاَفِهِمُ الَّذِينَ مَضَوْا اى ځما اُمته کله چه په یو قوم کې بي حیایې او فحاشي خوره شي ښځې لوڅې او ربربنډې شي هلکان او جنکېانې ښکاره او سرعام یو دبل سره تعلقات قایم کړي الله

تعالی به پرې داسي امراض مسلط کړي چه پلرونو او نیکونو به یې د هغی مرضونو نومونه هم نه وي اوریدلي،وګورئ کرونا چه نه یې چا مخکې نوم اوریدلای ؤو او نه چا دا مرض ددې نه مخکې پیژندلو . وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلاَّ أُخِذُوا بِالسِّنِينَ وَشِدَّةِ الْمَؤُنَةِوَجَوْرِ السُّلْطَانِ عَلَيْهِمْ . او کله چه په کوم قوم کې په تول کې زیاتوالی او کموالی پیداشي،په تجارت او کار او بار کې تګی غلا او فراډ پیداشي د دوې کاروبار به الله برباد کړي اقتصادي بُحران او قحطي به پرې راشي او حاکمان به یې ظالمان وي ،ظلمونه به پرې کوي. وَلَمْ يَمْنَعُوا زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ إِلاَّ مُنِعُوا الْقَطْرَ مِنَ السَّمَاءِ وَلَوْلاَ الْبَهَائِمُ لَمْ يُمْطَرُوا او کله چه کوم قوم د خپلو مالونو ذکات ورکول بند کړي یا ذکات ورکوي خو د ټکس پشان یې ورکوي او ټکس او یو بوج وګڼل شي او چاته یې چه ورکوي داسي معلومیږي لکه احسان چه پرې کوي نو د آسمان نه به پرې بارانونه بند شي او که دا بې زبانه څناور نه ؤو نو الله تعالی به یوه قطره باران هم نه ؤو کړی وَلَمْ يَنْقُضُوا عَهْدَ اللَّهِ وَعَهْدَ رَسُولِهِ إِلاَّ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ فَأَخَذُوا بَعْضَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ او کله چه د الله تعالی او د الله د رسول ص سره کړي

وعدي ماتی کړي په هر لمانځه کې د الله سره وعده
کوو چه خاص تاته عبادت کوو او خاص ستانه
کمک غواړو ټول پوهیږو چه مونږ په خپلو وعدو
کې څومره ریښتیني یو په هر لمانځه کې د یهودو
او نصاراو د لارو او طریقو نه پناه غواړو مګر
ټول پوهیږو چه مونږ ودونه د محمدي شریعت ص
په طریقه کوو او که د یهودو او نصاراو آیا ناوي
ته د بي بي فاطمی غوندي قمیص وراغوندو او که
د یهودو او نصاراو غوندي، د اکثرو پیغلو ارمان
وي چه په واده کې د یهودو اونصاراو د ناوو
غوندي جوړه واغوندي او د شاوو سره دي په سټیج
یو ځای کېني او داسي بي حیا حرکتونه دي وکړي
چه د شریعت خلاف وي مګر افسوس چه د ډیرو
ناویګانو دا ارمان نه دی چه د بي بي فاطمی رض
پشان جوړه واغوندي او په حیا او پرده کې د خسر
کورته لاړه شي کله چه خبره دي حد ته ورسیږي
نبي ع فرمایې الله تعالی به په داسي قوم داسي دشمن
مسلط کړي چه تباه او برباد به یې کړي نه به یې
مال پریږدي او نه سر او نه عزت یعني عذاب به
پري د د شمن په شکل نازل شي مونږ او تاسو چه
اوس څه ګورو دا په حقیقت کې د الله عذاب دی خو
زمونږ هر شي ته فکرشته مګر د الله عذاب ته مو

فکر نه دی ، مونږ په ځای ددي چه خپل ځانونه اصلاح کړو ، په ګناهونو توبه وباسو وژاړو او الله ته فریاد او زراري وکړو او ورته عرض او اقرار وکړو چه یا الله ته چه زمونږ نه په کومو ګناهونو ناراضه او خفه شوی یی او د هغی په وجه دي په مونږ دا عذاب راوستی دی یا الله زمونږ دي توبه وي او نور زمونږ نه دا عذاب لري کړي نو مونږ په عوض د دي چه د الله تعالی نه کمک او مرسته وغواړو زاری او فریاد ورته وکړو برعکس مونږ د عذاب نه عذاب ته شکایتونه کوو عذاب ته فریادونه کوو او د عذاب نه رحم او کمک غواړو عذاب څه صلاحیت لري چه یا به په مونږ راشي. او یا به رانه لاړ شي عذاب نه پخپله خوښه راتلای شي او نه تلای شي . وَمَا لَمْ تَحْكُمْ أَئِمَّتُهُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ وَيَتَخَيَّرُوا مِمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلاَّ جَعَلَ اللَّهُ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ

" او کله چه د اُمت امامان او مشران د الله تعالی کتاب پریږدي او د خپلي خوښی او د خپلو خواهشاتو مطابق فیصلی په کلچر او رواج کوي،قتل ورور کوي جزا یې خور ته ورکول کیږي ،که د جلۍ خوښه وي او کنه د مشرانو فیصله به مني او د شمن سره به واده کوي نو چه د قرآن فیصله پریږدي او په کلچر او رواج فیصلی کوي

نوالله تعالی به يې پخپلو کې سره واچوي يو په بل. به فتوي ورکوي يو به بل ته کافر وايې پخپلو منځونوکې به سره جنګونه کوي او يو بل به سره وژني او يو به د بل مالونه سرونه او عزتونه لوټوي،جنګيړي به مړه کيږي به.وګورئ چه په يو نوم او بل نوم مسلمانان پخپلو منځونو کې جنګيړي يو په بل د کفر فتواګاني ورکوي او هر يو دعوه کوي چه زه په حقه يم او نور ټول په ناحقه دي او هر يو خپلو ته شهيدان او نورو ته مردار وايې نو په حديث شريف کې تاسو واوريدل چه په واضح ډول ذکر دي چه دا د الله تعالی عذاب دی چه د الله دطرف څخه نازل شويدی.

بل سبب !کوم لباس چه په فلمونو اوميډيا کې ګوري هماغه د يهوديانو او نصاراوو لباس به په پټو سترګو اغوندي او په ړندو سترګو به د نورو تقليد کوي خوراک د هغوي په طريقه لباس د هغوي په طريقه د ژوند سټايل د هغوي په طريقه يعني د ژوند په هر اړخ کې د يهودو او نصاراوو طريقي خوښوي.يو وخت داسي ؤو چه مسلمان او د مسلمان بچيو به د خوب په وخت کې ايت الکرسی ،سورت الملک ،چارقل او نور لوستل اوده به شو او ورځ به يې د فجر د لمانځه نه شروع کېدله ،اوس

وګورئ دمسلمانانو بچي د دوه بجو پورې ناست وي د جنګیانو سره چیټینګ کوي او یا په ټی وي کې فلمونه او پروګرامونه ګوري او د ورځې به په لس بجو د خوب نه راپاڅیږي.او اکثره والدین دا خو ډیره غټه خبره ده چه د تهجد دلمانځه ورته ووايې دومره هم ورته ویلای نشي چه د لماسختن لمونځ دي کړي دی که نه او یا یې د فجر لمانځه ته راپاڅوي.

بل سبب د مسلمانانو په منځ کې اختلافات دي قرآنکریم فرمايې وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿46﴾ او د الله تعالی او د الله تعالی د رسول ص اطاعت وکړئ او په خپلو منځونو کې اختلافات ،بې اتفاقي او جګړې مه کوئ .

او که اختلاف وکړئ نو کمزوري او بزدله به شئ او د د ښمن په مقابل کې به مو د مقاومت توان د منځه لاړ شي.ددي نه به نوره لویه کمزوري،بې غیرتی او بزدلي څنګه وي چه په یو اسلامی ملک کې کربلا جوړه وي زاړه،ځوانان او ماشومان وژل کیږي د ښځو عزتونه او مالونه لوټول کیږي.لیکن نور اسلامی ملکونه دومره هم نشي ویلای چه دا

ظلم دی.او په دي خوشاله يې چه شکر دی زه خو په امن کې یم.

بل سبب دا دی چه مونږ د الله تعالی کتاب قرآنکريم پري ايښی دي.

<u>وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقرآن مَهْجُورًا ﴿30﴾</u>

او پيغمبر به ووايې:ای زما ربه !زما قوم دغه قرآن پريښی ؤو.

قرآنکريم د الله تعالی قانون او د هدايت کتاب دی.چه انسانان خصوصاً مسلمانان بايد په دنيا کې د همدي هدايت او قانون مطابق ژوند وکړي چه ددي لپاره په قرآنکريم پوهيدل ضرور دي ځکه تر څو چه څوک په هدايت او قانون پوه نشي نو عمل به څنګه وکړي ؟خو د افسوس خبره ده چه نن ورځ په قرآن باندي پوهيدل او د قرآن علم يو څه خاصو کسانو ته پاتي دی او عام مسلمانان ځانونه د دي مسؤليت نه آزاد ګڼی او قرآنکريم د ثواب او د مصيبتونو نه د بچ کيدلو کتاب ګڼی د نوي ځيږيدلي ماشوم سر ته يې ږدي چه پيريان و غيره ورته رانشي،د رخصتۍ په وخت کې به يې د ناوي په سر نيسي او داسي نور، حال دا چه د قرآن زده کول

فرض دي إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقرآن لَرَادُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ قُلْ رَبِّي أَعْلَمُ مَنْ جَاءَ بِالْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿85﴾القصص ای نبي (ص) بیشکه هغه الله چه په تا باندي يې قرآن فرض کړيدي.هغه(ج)خامخا یو بهترین انجام ته ستا رسونکې دي.اوس خو نبي(ع)د دنیا نه تشریف وړی دی اوس دا حکم ما او تاته دی نو دالله تعالی بنده ګانو ته د دي کتاب تعلیم ورکول او د دي کتاب د هدایت مطابق د دنیا اصلاح کول دا په ما او تا لازم او فرض دي،تر څو چه عام مسلمانان په قرآن پوهیدل تاریخ وګورئ په دنیا کې د مسلمانانو رُعب او دبدبه وه ،د قیصر او کسري طاقتونه يې دړی وړی کړل او د دښمنانو په زړونو باندي يې د رُعب او وقار دا حال ؤو چه ډیر ملکونه به په غیر د جنګ او جګړی نه تسلیمیدل.مګر د کوم وخت نه چه عامو مسلمانانو د قرآن زده کول او پوهه پریښي ده.او د دین زده کړه يې په جامعه کې فقط د یو څه خاصو خلکو مسؤلیت ګڼلی دی. د هماغه وخت نه د دوي زوال او بدبختي هم شروع شویده.او د کامیابۍ په ځای يې ناکامی او د عزت په ځای يې ذلت مقدر شوي.د کافرانو په زړونو کې

يې رُعب ختم شو او برعکس د کافرانو رُعب ددوي په زړونو کې پيدا شو.

د کائناتو د مالک قانون موجود دی مګر د نبي(ع)اُمت پخپلو لاسونو قانون جوړوي او عمل پري کوي خو د الله په قانون عمل نکوي.

بلکه د الله قانون په دسمالونو کې کلک تړی او دومره جګ يې ږدي چه څوک يې راوانخلي او فکر کوي چه دا د قرآن عزت دي.د قرآن عزت دادی چه د ترجمي سره يې ووايې ،خپله پري هم ځان پوه کړي او بل ته يې هم ورزده کړي.ليکن زموږ حال دا دی چه: په عامو خلکو کې عالم هغه دی چه په ناظره يې قرآن ويلی وي او په معني يې نه پوهيږي.فکر وکړئ که مريض ته ډاکټر د هغه د صحت په باره کې ډير مهم معلومات وليکې او مريض ته يې ورکړي او ورته ووايې چه ما چه درته څه هدايت ليکلی ، زما د هدايت مطابق تمرين او خوراک وکړه صحت به دي جوړ شي.خو کله چه مريض کور ته لاړ شي او خط خلاص کړي ګوري چه خط په دري ژبه ليکل شوي دی .نو تر څو چه مريض په دري پوه نشي نو که سل ځله دا خط ولولي نو آيا فکر کوئ چه مريض ته به دا

لوستل څه ګټه ورسوي؟هیڅکله هم ګټه نه ورسوي که هر څومره زیات یې ولولي مګر ګټه به هلته ورورسوي چه د دري په معني پوه شي او که داسي ونه شي نه خوبه د ډاکټر په هدایت پوه شي او چه په هدایت---------------------------------

پوه نشي نو نه به صحیح تمرین وکړي او نه به صحیح خوراک وکړي او چه صحیح تمرین او خوراک ونه کړي نو صحت به یې هم ښه نه شي او که د خپل ځانه غلط تمرینونه او خوراکونه شروع کړي کېدای شي چه دا غلط خوراکونه او تمرینونه یې د هلاکت سبب شي.همدارنګه قرآنکریم د هدایت کتاب دی خو د دي هدایت نه ګټه هغه څوک اخلي چه د قرآن په ترجمه او معني پوهیږي او څوک چه د قرآن په معني نه پوهیږي او هر څومره ډیر ختمونه وکړي آیا د قرآن نه به څه ګټه واخلي.څومره د افسوس خبره ده چه د ۶۰ کلونو په عمر په میاشت کې یو ځل قرآن ختموي خو په دي نه پوهیږي چه څه پکې لیکلي دي،او الله تعالی څه وایې.ډیره حیرانونکې ده چه هر څوک چه یو شي اوري اویا یې لولي هرومرو یې مطلب او مقصد د ځان پوهول او د هغی لوستلو نه ګټه اخستل او پخپل علم کې زیاتوالی وي خو د علماو

نه پرته تقرباً ۹۰ یا ۹۵ فیصده مسلمانان قرآن داسي اوري او داسي يې لولي چه مقصد يې نه د ځان پوهول او نه د علم زياتول وي.نو د دي ټولو مصيبتونو او ذلت يوازنۍ علاج همدا دی چه عام مسلمانان بايد قرآن د ترجمی سره ووايې او ځان پري پوه کړي او نور پري هم پوه کړي او پخپله هم د قرآن د تعليماتو مطابق عمل وکړي او نورو ته هم تبليغ وکړي چه د قرآن د تعليماتو مطابيق په دنيا کې ژوند وکړئ.و ما علينا الاالبلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۶۴)

# ښه او خوشاله ژوند چیرته دی؟

# هر څوک د ښه ژوند د لاس ته راوړلو کوشش کوي خو زیات خلک یې په غلط ځای کې لټوي.

زه چه په کومه موضوع خبري کوم په هغی تاسو هم ښه پوهیږئ خو زه یې صرف تاسو ته یاداوري کوم پوهیږو چه هر څوک غواړی چه ښه ژوند او ښایسته آینده ولري،ښایسته کور،ښایسته فرمانبرداره او اخلاقي ښځه،نیک او فرمانبرداره اولادونه، پیسی،موټر،نوکران او ښه وظیفه او ښه بیزنیس ولري او داسي ژوند یې جوړ شي چه پکې سکون خوشالی خوندونه او مرزي وي .نو داسي ژوند ته د رسیدلو او لاس ته راوړلو دپاره مختلف خلک مختلفي لاري او طریقي استعمالوي.مثلاً څوک فکر کوي چه داسي ژوند ته د رسیدو دپاره باید یو ښه لایق او کامیاب ډاکټر جوړ شي چه دا هم ډیر تکلیف او مُشقت غواړي ،باید مکتب او

فاکولته ووايې شپه او ورځ درسونه ووايې بې خوابۍ او تکليفونه تير کړي تخصص او پی ايچ ډي وکړي،او د دي نه وروسته بايد ښه سخت کار وکړي او پيسی وګټی.

او څوک داسي ژوند ته د رسيدو دپاره د بيزنيس او کار او بار لار اختياروي مثلاً د عادي مزدورۍ نه يې شروع کوي او د ډيرو تکليفونو او نه ستړی کېدونکې کوششونو نه وروسته يو وړوکی بيزنيس او د ډيرو ولړو،بې خوابيو او تکليفونو نه وروسته بالآخره لوي بيزنيس جوړکړي او نور خلک نوري مختلفی لاري او طريقي انتخابوي،بايد ووايم چه زه خو د هغو خلکو خبره نه کوم ،کوم چه په دي سفر کې په لار کې پاتي کيږي او منزل ته نه رسيږي.زه صرف د هغو خلکو خبره کوم، کوم چه د دوي په سوچ او فکر منزل ته رسيږي.په هر ترتيب کله چه دا مسافر يا دا خلک د ژوند په دي سفر کې د اسی ژوند ته ورسيږي کوم چه دوي د ځان دپاره د خوشالی،ارام او سکون معيار ګڼلو ،ګوري چه دولت وي ،ښايسته کور ، موټر او نوکر وي ،اولادونه او د ژوند ټول ضروريات وي خو دوه ډير مهم شيان چه په دي سفر کې تري نه په لار کې پاتي شوي او يا يې د لاسه ورکړي دي هغه يو

عمر دی او بل صحت،د ژوند په دي مرحله کې د عجیبو ناآشنا حالاتو سره مخ کېږي د زوړ عمر د مرضونو لکه د کولیسترولو او فشار د زیاتوالی د کبله نه هګی ،غوښی پلوونه او کله مالګه هم نشي خوړلای،د شوګر یا ډیابیت په وجه خواږه شیان نشي خوړلای او د ډیرو دواګانو د خوړلو په وجه که د معدي تکلیف پیدا شي نو ترخه او تروه نشي خوړلی ،د ژوند په دي مرحله کې اکثره اولادونه هم واده شوي وي لورګاني د خاوندانو کورونو ته تللی وي او ځامن د بعضو خوشبختو والدینو سره یو ځای اوسیږي او د ځینو نه بیل اوسیږي خو په ` 121 `اروپایي ملکونو کې د کورنیو سیستم داسي دی چه ځامن به د واده نه وروسته بیل کور ته ځي .نو د دي سفر اکثره مسافر منزل ته خو ورسیږي کوم چه دوي په نښه کړی وي خو مقصد ته ونه رسیږي ،د سکون او آرام په ځای ورته بي سکوني او ناآرامي او د خوشالی په ځای ورته خفګان او د خوندونو او مزو په ځای ورته هر شی بي خونده او بي مزي شي،خو د حیرانتیا او تعجب خبره خو دا ده چه په همدي حالت کې هم هیڅوک خپل شکست او ناکامي نه مني او نه یې د داسي ژوند د لاس ته راوړلو په خواهش او حرص

کې څه کمی راځي .د پخوا نیو زمانو نه انسانان تر اوسه پورې په همدي کوششونو او هلو ځلو کې دي چه داسي ژوند ته ځان ورسوي خو تر اوسه پورې یو نفر هم په دنیا کې دي مقصد ته نه دی رسیدلی مګر د دي سره سره بیا هم د خلکو په کوششونو او هلو زځلو کې هیڅ کمی نه راځي ،آیا دا ټول خلک بي عقله دي؟ آیا دا ټول خلک نه پوهیږي؟ چه د داسي شي د لاس ته راوړلو کوشش کوي چه تر اوسه پورې په دنیا کې هیڅ چا هم لاس ته نه دی راوړی؟حقیقت خو دا دی چه دا ټول خلک صحیح او په حقه دي،ځکه چه د داسي ژوند تصور د هر چا په فطرت کې موجود دی او داسي ژوند د هرچا د فطرت غوښتنه او تقاضا ده ،واقعاً همداسي ژوند شته دی کوم چه د انسان د فطرت غوښتنه او تقاضا ده،بلکه د انساني فطرت د غوښتني او تصور نه هم ډیر ښه ژوند په کوم کې چه همیشه خوشالی ،سکون،راحت،کور،دولت،نوکران،همیشه ځواني او صحت او همیشه ژوند وي هري خوا ته خوندونه او مزی وي،غمونه خفګانونه تکلیفونه و غیره نه وي یعني کوم ژوند چه انسان غواړي هغه بالکل شته دی، مګر خبره دا ده چه انسان یې په غلط ځای کې لټوي ،بس دا د انسان غلطي ده،انسان یې په

دنیا کې لټوي ،مګر داسي ژوند په دنیا کې نشته بلکه په جنت کې دی ،او جنت په آخرت کې دی،د نیا خو الله تعالی د امتحان دپاره جوړه کړیده،د امتحان ځای دی،د امتحان کوټه ده.دلته خو الله تعالی فقط دومره ژوند انسان ته ورکړي چه د امتحان د ورکولو دپاره کفایت کوي او کله چه د امتحان پرچی یا امتحان ختم شي نور نو په دنیا کې یوه دقیقه هم د اوسیدلو اجازه نه ورکول کیږي اود مرګ د دروازې د لاري برزخ ته لیږل کیږي .مخکې ددي نه چه د دنیا د امتحان د نتایجو په باره کې خبري وکړو چه چیرته ورکول کیږي د یو څه معلومات ذکر کول ډیر ضروري دي.

الله تعالی ټول شیان جوړه جوړه پیدا کړیدي مثلاً د نر جوړه ښځه ده او د ښځې جوړه نر دی ،نو ځکه خو نر په غیر د ښځې نه مکمل نه دی او ښځه په غیر د نر نه مکمله نه ده ،یعني تر څو چه د نر او ښځې جوړه سره یوځای نشي اولادونه نه پیدا کیږي او نسل مخکې نشي تلای،همدارنګه د دنیا جوړه هم آخرت دی او دنیا د آخرت نه په غیر نامکمله ده،نو امتحان په دنیا کې اخستل کیږي او نتیجه یې په آخرت کې اعلانیږي،لکه چه لږ مخکې ذکر شو چه دنیا د امتحان ځای دی انسان د امتحان

د ورکولو دپاره ورته رالیږل کیږي او د امتحان د خلاصیدو نه وروسته نور نو په دنیا کې د ژوند کولو دپاره نه پریښودل کیږي او د مرګ د دروازې د لارې برزخ ته ځې او کله چه قیامت شي نو د برزخ نه د حشر میدان ته بیول کیږي،او د حشر په میدان کې د دنیا د امتحان نتیجی اعلانیږي او هر چا ته خپلې خپلې پرچې کامیابو ته په ښي لاس او ناکامو ته په چپ لاس کې ورکول کیږي ناکام دوزخ ته او کامیاب جنت ته لیږل کیږي، چیرته چه همیشه ژوند،همیشه صحت همیشه ځواني ،خوشالی،سکون،او د انسان ټول ضرورتونه موجود دي.غم نشته خفګان نشته دروغ،ظلم جنګ او جګړې نشته یعني هغه ژوند چه د انسان د فطرت تقاضا او غوښتنه ده هغه په جنت کې دی او جنت په آخرت کې د دنیا د امتحان د نتایجو د اعلانیدو نه وروسته کامیابو یا نیکانو ته د الله تعالی د طرفه ورکول کیږي.او په دې امتحان کې د کامیابیدو لار یواځې د الله تعالی او د رسول الله ص لار ده.الله تعالی دې مونږ ټول جنت ته بوځي آمین.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

## الدرس(۶۵)

# د حضرت عایشی(رض)عمر مبارک د نکاح په وخت کی

د حضرت عائشي(رض) مبارک عمر د رسول الله (ص) سره د نکاح په وخت کي څومره ؤو؟دا هغه سوال دی چه کافران خصوصاً ملحدين او د اسلام دشمنان يې د اعتراض په ډول د مسلمانانو نه کوي چه څنګه د وخت نبي د يوي ماشومي جلۍ سره نکاح کړي وه،او نعوذبالله د هغه مبارک په پاکو اعمالو او اخلاقو اعتراض کوي ؟نن مونږ ان شأالله ددي مشکل سوال د جواب ورکولو کوشش کوو هيله ده چه په غور او توجه سره يې واورئ.

بايد پوه شو چيرته چه يو تعداد علمأكرام د احاديثو په بنأ او اساس وايې چه د کوژدني په وخت کې د حضرت عائشي رض عمر مبارک شپږ کاله او د نکاح په وخت کې ۹ کلونه ؤو،هلته يو تعداد نور علماءکرام داسي هم موجود دي چه دوي هم د يو څه موجودو احاديثو او تاريخي ----------------

ریکارډ په بنیاد دعائشي(رض) عمر مبارک د نکاح په وخت کې ۲۱ کاله بیانوي،دا د ۲۱ کلو رایه علماوو د حضرت اسمأ(رض) د عمر نه چه په تاریخي توګه ثابت دی اخستي ده،د تاریخ نه ثابته ده چه اسمأ(رض) د عائشي(رض)نه لس کلونه مشره وه،نو د دوي دواړو(رض) د تولد او د وفات د تاریخونو د مقایسی نه ثابتیږي چه د نکاح په وخت کې د عائشي(رض)عمر مبارک ۲۱ کاله ؤو، خو خبره دلته هم نه ختمیږي نوري رایې هم موجود دي دریمه رایه دا ده چه یوه ډله علمأ د عربي ژبي دا اسلوب او اصول چه کله اته اتلس او نه(۹) نولس ویل کیږي په نظر کې نیسي او وایې چه د عائشي(رض)عمر مبارک د نکاح په وخت کې ۱۹ کلونه ؤو. ،زما د دي تقریرمقصد او مطلب هر ګز دا نه دی چه په دي کې کوم یوه رایه ډیره صحیح او مستند ده،اصلی سوال،مطلب او مقصد دا دی،چه یوه خبره چه په تاریخي ډول ثابته شوي نه وي،او په هغی کې د علماو اختلاف وي،آیا د داسي خبري په اساس او بنیاد څوک په ټول اسلام باندي اعتراض کولای شي؟معلومه خبره ده چه ستاسو جواب به هم زما غوندي نه وي.آیا تاسو پوهیږئ چه د احادیثو نه دا هم معلومه ده چه د نبي

ع د نکاح نه مخکې د عائشې رض رشته د بل چا سره شوې وه،د پيغمبرع د زماني نه وروسته د ټولو نه اولنۍ تاريخ طبقات ابن سعيد په دې باره کې ليکلي دي چه د حضرت خديجی(رض) د وفات نه وروسته يوه صحابيه چه حضرت خوله (رض) نوميده ،نبي ع ته يې وويل چه يا رسول الله ص زه د ډير وخت نه تاسو پريشان او خفه ګورم نو ښه به وي که نکاح وکړئ ځکه چه د نبي ع په کور کې واړه ماشومان ؤو نبي ع ورته وفرمايل چه آيا تاته کومه رشته معلومه ده ،هغي وويل چه هو پيغله هم راته معلومه ده او کونډه هم راته معلومه ده،کونډه حضرت سودا(رض) او پيغله ستا د ورور حضرت ابوبکر(رض) لور عائشه(رض)ده،نو دلته علمأ وايې چه خوله(رض) چه تجربه کاره ښځه وه نبي ع ته خو به يې د واده دپاره د يوي ماشومي پيشنهاد يا پيشکش نه کولو ځکه چه هغی ته خو دا معلومه وه چه د نبي ع په کور کې ماشومان هم ؤو،او کله چه خوله(رض) د نبي ع دپاره په مرکه ورغله نو د ابوبکر صديق(رض) ښځې مبارکې ورته وويل چه د عائشې (رض) رشته خو څو کاله مخکې د بل چا سره شويده ،خو ښايې چه هغوي زمونږ د اسلام راوړلو په وجه

اوس د دي رشتى نه انكاري وي،بيا ابوبكر صديق(رض)د هغى خلكو كور ته ورغى هغوي ورته وويل چه تاسو نعوذ باالله ګمراه شوي ياستئ او مونږ ستاسو د دوستئ او رشتي نه انكار كوو، نودلته علمأ وايې چه د اولي رشتى په وخت كې خوبه عائشه رض د ۳كلونو نه وه .چه ددي نه په واضح ډول معلوميږي چه د عائشي رض عمر مبارك چه هر څومره ؤو خو دومره ضرور ؤو چه په هغى جامعه كې د نكاح او واده دپاره يومناسب او قابل قبول عمر ؤو،لهذا هر اعتراض چه د نبي ع د طرف نه نعوذباالله كوم زياتې او ظلم ته اشاره كوي باكل غلط او بي بنياده دى ،بل دلېل دا دى چه د مكې مشريكانو،منافقانو،يهوديانو او په هغي وخت كې د اسلام ټولو دشمنانو چه هميشه يې كوششونه كول چه داسي څه پيدا كړي چه نعوذباالله د نبي ع په اخلاقو او اعمالو اعتراض وكړي،خو هغوي هم په دي باره كې هيڅكله نه يو اعتراض او نه يو سوال كړيدى،همدارنګه صديق اكبر رض سره ددي چه خپله لور عائشه رض پري ډيره ګرانه وه خو هيڅكله يې هم په دي باره كې كوم اعتراض او شكايت نه دى كړى،او د ټولو نه ډيره زياته مهمه خو دا ده چه پخپله عائشه رض ټول

عمر يې د نبي ع صفت بيان کړی دی او هيڅکله يې په دي باره کې کوم اعتراض او شکايت نه دی کړی چه په کم عمر کې يې واده کړی او يا واده د هغي د رضأ اوخوښي نه خلاف شوی ؤو،لهذا دا ټول اعتراضونه او سوالونه غلط او بي ځايه دي.
زه هيڅکله دا نه وايم چه د حضرت عائشي رض عمر مبارک د نکاح په وخت کې څومره ؤو،مګر دومره وايم چه په تاريخي توګه د علماوو په منځ کې د هغی د عمر مبارک په باره کې اختلاف دی،خو هر څومره چه ؤو خو داسي عمر ؤو چه د نکاح او رشتی دپاره بالکل مناسب عمر ؤو او نه په هغی وخت کې د خلکو او جاميعی دپاره قابل اعتراض ؤو او نه اوس.و ما علينا الا البلغ المبين

اکتر مجمد عثمان نظامی

الدرس(۶۶)

## چه الله تعالی مو جود دی ،نو په دنیا کی دومره ظلم او بی انصافی ولی ده؟

دا هغه سوال دي چه ملحدين يا ايتيېس يې د مسلمانانو نه کوي، خصوصاً په مکتبونو او فاکولتو کې د مسلمانو شاګردانو د عقايدو د خرابولو دپاره ملحدين د مسلمانانو نه داسي سوالونه کوي، دوي وايې چه :نعوذبالله خالق يا کريټر نشته ،ځکه که چيرته خالق ؤو نو په دنيا کې به يې د ظلم ،فساد ، بي انصافۍ فقر،زلزلو او سيلابونو مخنيوی کړی ؤو،نو په دنيا کې د ظلم ،فساد او بي عدالتيو د موجوديت په اساس دوي وايې چه نعوذبالله خالق يا کريټر نشته ،نو زمونږ اکثره ځوان مسلمان شاګردان د قرآن او ديني علم نه د بيخبرۍ په وجه څوک ايګناستيک(شکمن) او څوک ملحد يا ايتيېس شي.اوس د ملحدينو دي سوال ته ان شأالله د الله په کمک سره د جواب ورکولو کوشش کوو،هيله کوم چه ښه په غور يې واورئ.او ځان پري پوه کړئ.

الجواب!اول خو باید په دي پوه شو چه:

الله تعالی دا دنیا د عدل او انصاف په اصولو نه ده جوړه کړي بلکه دنیا الله تعالی د امتحان په اصولو جوړه کړیده،دا یوه موقتي یا عارضي دنیا ده،اصلي دنیا چه د عدل او انصاف په اصولو جوړیدل دي هغه د مرګ نه ورسته راځي،دا د کائناتو د خالق فیصله ده چه :په دي موقتي دنیا کې د راتلونکې ابدي دنیا دپاره خلک انتخاب کړي،یعني هغه ابدي او دایمي دنیا چه د مرګ نه وروسته راځي چیرته چه همیشه ژوند وي اصلی مقصد همدا ابدي دنیا ده ،چه دي ابدي دنیا ته د داخلیدو دپاره د یو امتحان نه تیریدل شرط دي،د کوم امتحان دپاره چه الله تعالی دا دنیا دارالامتحان یا د امتحان ځای جوړ کړی،نو د امتحان د اصولو په اساس د امتحان دپاره ضرور خبره ده چه انسان ته آزادي،اراده او اختیار ورکول شي،ځکه که آزادي اواختیار نه وي نو بیا خو امتحان هم نه وي یا په غیر د اختیار او آزادی نه امتحان هیڅ معني نلري،او کله چه آزادي اراده او اختیار ورکول شي ،نو معلومه خبره ده چه آزادي او اختیار غلط هم استعمالیدلای شي،او کله چه آزادي او اختیار غلط استعمال شي نو تکلیفونه او مصیبتونه منځ ته راځي،-------------------

نو که د امتحان د نظر نه دنیا ته وکتل شي نو دا دنیا د امتحان دپاره یوه ډیره ښه،پوره او مکمله دنیا ده ،یعنې هره لحظه په هر قدم په هر چا امتحان دی ،زه په امتحان کې یم ته په امتحان کې یې،غریب،مالدار ظالم مظلوم مورپلار اولادونه ښځه خورګاني ورونه خپلوان او پردي ټول په امتحان کې دي،د هر چا دپاره د امتحان ورکولو ټول شرایط برابر دي،هر چاته د ارادي او اختیار آزادي ورکول شوي ده،هر څوک کولاشي چه خپل اختیار صحیح استعمال کړي او که غلط ،دروغ وایې که رښتیا،ظلم کوي او که د چا سره کمک، بالکل آزاد دي،او که داسي نه وُو ،او چاته د ظلم قتل غلا زنا او جرمونو کولو ازدي ورکول شوي نه وه او یا که چا غلا زنا اونور جرمونه کول او سمدستي پري عذاب راتلو نو بیا خو به هیڅ چا خراب کار نشو کولای او په ټوله دنیا کې به سکون، امن عدالت او انصاف وُو خو په دي صورت کې خو بیا امتحان د منځه تلو حال دا چه انسان دنیا ته د امتحان ورکولو دپاره راځي ،باید چه امتحان تري واخستل شي او د امتحان د اخستلو دپاره باید د امتحان قوانین او اصول استعمال شي ،د کومو په اساس چه انسان باید اختیار او د اختیار

د استعمالولو آزادي ولري هغه که صحیح وي او که غلط. نو ځکه خو الله تعالی دنیا د عدالت په اصولو نه ده جوړه کړې بلکه د امتحان په اصولو یې جوړه کړیده ، الله تعالی فرمایي الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ ﴿2﴾

هغه ذات چه مرګ او ژوند یې پیدا کړل،دي دپاره چه تاسو امتحان کړي چه کوم یو ستاسی ډیر ښه عمل کوونکی دي.

یعني الله تعالی د مرګ او ژوند دا کارخانه د امتحان په اصولو جوړه کړیده چیرته چه د ټولو آزمایش کیږي هر چاته که نیکان دي او که بدان پوره آزادي اراده او اختیار ورکول شویدي ،چه ښه کوي که بد،ظلم کوي او که نیکې ،خو الله تعالی د نیکیو او بدیو په کولو او نه کولو بنده نه مجبوروي او نه ظالم ته پوره جزا اونه مظلوم ته پوره انصاف په دنیا یا د امتحان په کوټه کې ورکول کیږي ځکه خو دلته لیدل کیږي چه ځني وخت قاتل آزاد اوبچ کیږي خو مظلوم یا زندان ته ځي او یا د پانسي په تخته خیژی،ظالمان قاتلان،د ملت دمیلیاردونو ډالرو داړه ماران،رشوت خواره او د

وطن خائنان ټول عمر په مزو او چړچو کې د عیاشۍ ژوند تیر کړي ،او مظلومان ټول عمر د ظالمانو د ظلمونو په کړاونو کې تیر کړي،خو ظالمانو ته د ظلم جزا ورنه کول شي، او مظلومانو ته انصاف ورنه کول شي،په حقیقت کې دا هغه ناانصافۍ دي چه د انسان په فطرت کې د داسي یوي دنیا تقاضا او غوښتنه پیدا کوي چیرته چه مکمل عدل او انصاف وي ،چیرته چه ظالمانو ته د هغوي د ظلمونو پوره جزا او بدل ورکول شي، او مظلومانو ته پوره او مکمل انصاف ورکول شي،باید پوه شو چه: د انسان فطرت هیڅ کله د ناممکن شي تقاضاً او غوښتنه نکوي،مثلاً هیڅ کله هم انسان دا خواهش او ارزو یا غوښتنه نه کوي چه د دوه لاسونو په ځای دي څلور لاسونه ولري،یا شپږ سترګی دي ولري یا یو جمع یو دي مساوي دري شي ،ځکه چه دا شیان ناممکن دي، مګر ډیره عجیبه ده چه د هر انسان دا خواهش او آرزو ده چه داسي ژوند دي ولري چیرته چه د ژوند ټول ضروریات پوره وي،همیشه روغ صحت ولري،همیشه خوشالی سکون او اطمینان وي ،زړخت نه وي، همیشه ژوند او ځواني وي. چه د انسان د باطن دا آواز او خواهش په حقیقت کې د

هغې راتلونکې دنیا آواز دی چیرته چه مکمل عدل او انصاف شته دی چیرته چه ظالم ته د هغه د ظلمونو پوره جزا او مظلوم ته پوره انصاف ورکول کیږي،چیرته چه همیشه ژوند دی چیرته چه د دنیا د امتحان نتیجی اعلانیږي ،چیرته چه ناکامان د اور په زندان او کامیابان د الله تعالی په نعمتونو او باغونو کې اوسیږي.دین مونږ ته د دي راتلونکې دنیا بشارت او زیری د جنت ،دوزخ او د حساب د ورځې په شکل راکوي ،چیرته چه مکمل عدالت او انصاف دی ،زره په زره حساب کیږي ،د دنیا د امتحان نتیجی اعلانیږي ،هر چاته خپل حق پوره پوره ورکول کیږي،ظالمان او ناکامان دوزخ ته لیږل کیږي او کامیاب یا نیکان جنت ته لیږل کیږي چیرته چه همیشه ژوند،خوشالي روغ صحت تل ځواني او د ژوند ټول ضروریات پوره دي .

نو مخکې د دي نه چه څوک د دي لاري نه د خالق په وجود اعتراض --------------------------

وکړي اول باید ځان پوه کړي چه د خالق تخلیقي سکیم څه دی او دنیا يې په کومو اصولو جوړه کړیده.

دا د دین مقدمه نه ده او نه دین دا وایي چه په دنیا کې چا ته مکمل عدالت او انصاف ورکول کیږي ،بلکه دنیا د امتحان دپاره یو موقتي ځای دی او مکمل عدالت او انصاف په راتلونکې دنیا یا آخرت کې ددي دنیا د امتحان د نتایجو په اساس ورکول کیږي،نو باید چه دنیا او اخیرت یو ځای په نظر کې ونیول شي .ځکه چه دینا د آخرت نه په غیر نیمګړي او بي مطلبه ده .و ما علینا الاالبلغ المبین

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۶۷)

# آیا قرآن فرمایي چه لمر د تورو اوبو په چینه کې ډوبیږي؟

یو اعتراض چه ملحدین یې په قرآنکریم باندي کوي هغه د سورت الکهف ۸۶ نمبر آیت دی.کافران خصوصاً ملحدین وایې چه دا آیت د ساینس خلاف دی او نعوذ باالله قرآنکریم غلط دی.اول خو باید ووایم چه قرآنکریم د الله تعالی سوچه او پاک کلام دی او یو آیت خو ډیره غټه خبره ده ،په قرآنکریم کې حتی د یو حرف په اندازه غلطي هم نه شته دی او نه به یې پکې څوک پیدا کړي .راځو موضوع ته:اصلاً کافران د دي آیت معني غلطه کوي، یعني معني د پوهیدلو دپاره نه کوي بلکه د اعتراض کولو دپاره یې کوي چه علت یې هم د دوي بي علمي او ناپوهی ده.ځکه چه دوي د ترجمی دپاره د ګوګل ټرانسلیشن او ډیکشنري استعمالوي ،او دا خو معلومه خبره ده تر څو چه د عربي په ګرامر څوک پوه نشي یواځې د ګوګل د ټرانسلیشن او ډیکشنري پواسطه د قرآن کریم د هر آیت صحیح ترجمه

څوک نشي کولای، چه د هغي جملي نه يو همدا د سورت الکهف ۸۶ نمبر آيت دی. نو که د ګرامر مطابق ددي آيت ترجمه وکړو نو الحمدلله چه دا آيت مبارک سل فيصده صحيح دی او دهر قسم غلطۍ نه پاک دی.بايد پوه شو چه نوموړی آيت د ذی القرنين په باره کي دی.کله چه ذی القرنين د مغرب خواته روان ؤو د ورځې په آخره برخه يعني د لمر لويدلو په وخت کې داسي يو ځای ته ورسيدو چه خشکې يا وچه نوره خلاصه شوه اود بحر غاړه يا ساحل ؤو، او د همدي ځای سره نيږدي يو قوم يا قبيله هم اوسيدله،نو کله چه لمر مخ په پريوتو شو نو ذی القرنين ته دا د لمر د لويدلو منظر په بحر کې داسي ښکاره شو اوداسي ګمان يې وکړ لکه د لمر سترګه چه د تورو اوبو په چينه کې ډوبيږي. يعني دا حقيقت نه ؤو بلکه ذی القرنين داسي ګمان کړی ؤو، او هغه ته په بحر کې دا د لمر د پريوتلو منظره داسي ښکاره شوه لکه لمر چه د تورو اوبو په چينه کې ډوبيږي.چه دا تجربه هر څوک کولای شي ،که د بحر غاړي يا ساحل ته لاړ شئ او د لمر د وليدلو په وخت کې بحر ته وګورئ بالکل به درته هم هغسي منظر ښکاره شي کوم چه ذی القرنين ته ښکاره شوی ؤو.ځکه چه د لمر د

پریوتو په وخت کې د بحر سطحه تیاره ښکاري او د لمر پریوتو په وخت کې د لمر سترګه داسي ښکاري لکه د لمر سترګه چه په تیاره اوبو کې ډوبیږي،چه دا هم د قرآن معجزه ده ځکه هغه خلک چه وایې چه قرآن نعوذباالله حضرت محد ص لیکلی دی نو محمد ص خو ټول عمر په مدیني منوري او مکې شریفي کې تیر کړی ؤو. او په مدینه منوره او مکه معظمه کې خو رواني اوبه هم نه وي ،نو بیا نبي ع ته په بحر کې د لمر د پریوتلو دامنظر څنګه معلوم ؤو؟ نو دا د قرآن د حقانیت ثبوت دی چه د الله کلام دی.

اوس ددي مبارک آیت ترجمه کوو،او هغه ګرامري باریکۍ چه ددي آیت د صحیح ترجمه کولو دپاره پري پوهیدل ضرور دي تشریح کوو

فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿85﴾ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّا أَنْ تُعَذِّبَ وَإِمَّا أَنْ تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿86﴾

د پوهیدو دپاره د ۸۵ نمبر آیت ترجمه هم ورسره یوځای کوو.معلومه خبره ده چه ذی القرنین چه کوم ځای ته د تلو اراده کړي وه د یو پلان او نقشي په اساس تلو نو قرآن فرمایې! فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿85﴾پس

ونیوله ده لیاره! حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ تر هغی پورې چه د لمر پریوتلو ځای ته ورسیدو (یعني کله چه داسي ځای ته ورسیدو چه هلته لمر د پریوتو په حال کې ؤو یا د ورځې رڼا په ختمیدو وه او د شپې تیاره را په خوریدو وه . )، د دنیا په یوه ژبه کې هم د لمرد پریوتلو یا لویدلو د ځای دا معني نه ده چه ګیني پخپله د لمر سترګه په هغی ځای کې په فیزیکې ډول راپریوزي بلکه په ټوله دنیا کې د لمر د پریوتلو د ځای مطلب دا دی،چه ورځ ختمه شي او شپه راځي مثلاً په کابل کې د لمر پریوتلو یا لمر لویدلو دا معني نه ده چه په کابل کې لمر رالویږي،په امریکا کې په ۶ بجو د لمر لویدلو دا مطلب نه دی چه په امریکا کې په ۶ بجو د لمر سترګه رالویږي یا په ټوله دنیا کې چه په هر ملک کې ساینسدانان هره ورځ وایې چه نن په دومره بجو لمر لویږي، ددي معني دا نه ده چه هره ورځ په هر ملک کې د لمر سترګه رالویږي،بلکه مطلب دا وي چه په هر ملک کې په دومره دومره بجو د ورځې رڼا د منځه ځي او د شپې تیاره خورېږي ،نو قرآنکریم خو د انسانانو د هدایت او پوهیدلو دپاره د انسانانو په ژبه خبري کوي، نو د لمر د لویدلو د ځای معني او مطلب په قرآن کې هم هغه

ځای دی چیرته چه د لمر رڼا د منځه لاړه شي او د شپي تیاره شروع شي. او معني یا مطلب یې په فزیکي ډول د لمر راغورځیدل یا ډوبیدل په کوم ځای کې نه دي.

مطلب دا دی چه په قرآنکریم د مَغْرِبَ الشَّمْسِ مطلب او معني په فزیکي ډول د لمر ډوبیدل یا راپریوتل په یو ځای کې نه دي.اوس راځو د آیت بلې برخې ته چه کافران او ملحدین همدلته د عربي په ګرامر باندي د نه پوهیدو په وجه د آیت غلطه ترجمه کوي او د آیت مفهوم ته تغیر ورکوي تر څو چه نعوذبالله قرآنکریم غلط ثابت کړي.

کله چه ذی القرنین داسي ځای ته راورسیدو چه مخکي نوره آبادي نه وه د بحر غاړه یا ساحل وه او د همدي ځای سره نیږدي یوه قبیله یا قوم هم آباد ؤ.د لمر پریوتو وخت ؤ.که تاسو کله د بحر غاړی یا ساحل ته د مازدیګر په وخت کې تللي یاستئ تاسو به لیدلې وي .کله چه د لمر ولیدو په وخت کې بحر ته وګورئ یوه عجیبه منظره وي سره ددي چه سړی پوهیږي چه دا هر څه چه ویني حقیقت نه دی خوسره د دي هم کله چه د بحر د سطحي نه د ورځې رڼا ځي او د شپي تیاره پري

راخوريږي نو د بحر داوبو آبي رنګ ورو ورو تياره کيږي.او په دي وجه چه د ډير لري پورې څومره چه سترګی ويني پرته د اوبو د سطحی نه بل شی نه ليدل کيږي،نو دا د لمر پريوتلو منظره داسي ښکاري چه سړی ګمان کوي او خيال او فکر کې يې داسي راځي چه د لمر سترګه په تورو اوبو کې ډوبيږي.اوس راځو د آيت شريف صحيح ترجمه کوو،او بيا دا ګورو چه خلک نعوذبالله د قرآن د غلط ثابتولو دپاره ددي آيت غلطه ترجمه ولي کوي.بايد ووايم چه دا هغه آيت دی چه ددي صحيح ترجمه پرته د ګرامر څخه يواځي د ډيکشنري او ګوګل ټرانسليشن پواسطه نه کيږي.

1. وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۗ

وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ

هغه ته داسي ښکاره شوه يا داسي احساس يې وکړ چه لمر د تورو اوبو په چينه کې ډوبيږي.يعني ذی القرنين چه د لمر لويدلو دا منظر د بحر په سطحه

وليدلو هغه ته دا منظر داسي ښکاره شو يا يې داسي ګمان وکړ يا يې په خيال کې داسي راغلل چه لمر د تورو اوبو په چينه کې ډوبيږي.ملحدين دلته دا اعتراض کوي چه قرآن وايې چه لمر د تورو اوبو په چينه کې ډوبيږي،چه دا خبره د ساينس خلاف ده مګر قرآن هيڅ کله نه وايې چه لمر د تورو اوبو په چينه کې ډوبيږي ،بلکه قرآن د ذی القرنين خبره کوي،چه هغه داسي احساس وکړ يا داسي ګمان يې وکړ چه لمر د تورو اوبو په چينه کې ډوبيږي. ملحدين ځکه دا اعتراض کوي چه اکثره خلک په دي ځای کې د وَجَدَ معني موندل يا پيداکول کوي ،او موندل يا پيداکول خو د هغه شي دپاره راځي چه رښتيا موجود وي لکه څوک چه ووايې چه ما قلم پيدا کړ،يا ما د اوبو چينه پيداکړه يا ما په درياب کې غمۍ پيدا کړ.چه په رښتيا سره هم قلم،د اوبو چينه اوغمۍ پيدا شوي ؤو.نو که د وجد معني دلته پيداکول وشي نو دآيت ترجمه بيا داسي کيږي چه ذی القرنين لمر وموندہ چه د تورو اوبو په چينه کې ډوبيدو.نو په دي ځای کې ملحدين اعتراض کوي چه قرآن دا خبره د حقيقت په انداز کې کوي او نعوذباالله د قرآن دا خبره غلطه ده.د دي جواب ته راځو ! جواب دا دي: الحمدلله د قرآن هره خبره

او هر آیت سل فیصده صحیح دی،غلطي د هغه چا ده چه د دي آیت ترجمه غلطه کوي.اصلاًد وَجَدَ معني دلته موندل او پیدا کول نه دي، بلکه د وَجَدَ معني دلته ګمان،احساس او ادراک ده،یعني ذی القرنین داسي احساس او ګمان وکړ چه ګوندي لمر د تورو اوبو په چینه کې ډوبیږي.خو د آیت په بله برخه کې د وَجَدَ معني موندل او پیداکول دي. وَوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا او د دي سره نیزدي یې یو قوم یا قبیله وموندله.که ټوله ترجمه یوځای وکړو داسي به وي چه :هغه داسي احساس او ګمان وکړ (یعني دا منظر ورته داسي ښکاره شو) چه لمر په تورو اوبو کې ډوبیږي.او د دي سره نیزدي یې یو قوم ومونده.نو په ترجمه کې خو نه کوم مشکل شته او نه پري کوم اعتراض کیږي،ځکه چه دا خبره چه لمر د تورو اوبو په چینه کې ډوبیږي.د آیت نه په واضح ډول معلومیږي چه قرآنکریم د ذی القرنین خبره کوي چه د ذی القرنین په فکر او خیال کې راغلي ؤو او ګمان یې کړی ؤو چه: لمر د تورو اوبو په چینه کې ډوبیږي،مګر حقیقت نه ؤو.خو دلته سوال او اعتراض پیداکیږي چه په دي آیت کې خو وَجَدَ دوه کرته راغلی دی .ولي یې د آیت په اوله برخه کې یعني وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ کې

معني فکر، احساس یا ګمان کول دي او د آیت په دوهمه برخه یعني وَوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۗ کې یې معني پیداکول یا موندل دي.د دي سوال او اعتراض جواب صرف د عربي ژبي د ګرامر پواسطه ورکولای شو.چون اعتراض کوونکې د عربي په ګرامر ښه نه پوهیږي نوباید چه ددي موضوع پورې مربوط ګرامر باندي یو څه رڼا واچول شي.

وَجَدَ د افعال القلوب یا د زړنو د فعلونو د جملی څخه دی.او افعال القلوب هغه څه چه په زړه کې راځي هغه بیانوي لکه احساس د زړه نیت ،فکرکول، د زړه خیال ،شعور او د زړه کار.او افعال القلوب فی النحو و هی من اخوات ظنَّ او افعال القلوب د ظنَّ د خور ګانو څخه دي.او د ظنَّ معني فکرکول،ګمان کول،د یو شي اندازه لړول پرته د صحیح معلوماتو نه.

د ګرامر په کتاب کې د افعال القلوب لیست موجود دي،رای،عَلِمَ،دري او وَجَدَ په څلورم نمبر کې دی .یعني وَجَدَ په افعال القلوب کې هم راځي،یعني یوه وجد خو دا ده چه ته قلم لټوي او قلم دي پیدا کړو معني یې پیداکول یا موندل دي ،او بله وجد چه فعل القلب راځي ،معني یې بالکل فرق کوي، د یو شي

په باره کې د خيال احساس او ګمان کولو په معنې راځي .

اوس راځو دي ته چه: څنګه پوهيږو چه په وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ کې وَجَدَ فعل القلب دی او معنې يې احساس او ګمان ده؟او په وَوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۗ کې وَجَدَ فعل القلب نه دی او معنې يې پيداکول يا موندل دي؟

په دي خبره د پوهيدو دپاره بيا ګرامر ته ځو. په کوم ځای کې چه وَجَدَ دوه مفعول بهِ ولري نو دلته فعل القلب دی ،او معنې يې احساس او ګمان کول دي،او په کوم ځای کې چه وَجَدَ يو مفعول بهِ ولري ،نو دلته فعل القلب نه دی او معنې يې پيداکول اوموندل دي.راځو اوس آيت ته:اول وَجَدَ ګورو. وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ دلته په واضح ډول ليدل کيږي چه وَجَدَ دوه مفعول بهِ لري، ها اول مفعول بهِ دی او د تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ فعليه جمله دوهم مفعول بهِ دی . نو ځکه وَجَدَ دلته فعل القلب دی او معنې يې احساس او ګمان کول دي.اوس دوهمه وَجَدَ ګورو: وَوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا

په دي ځای کې ګورو چه وَجَدَ صرف يو مفعول بهِ لري چه قَوماً دی .نو ځکه فعل القلب نه دی او معنې

يې پيدا كول او موندل دي.نو كه دګرامر مطابق د آيت ترجمه وشي ،الحمدلله د آيت ترجمه او مفهوم بالكل صحيح دي او هيڅ مشكل نشته.نو هيله كوم چه د قرآن په ترجمه كولو كې خلك يواځې په ډيكشنري او د ګوګل په ترانسليشن باندي اكتفأ او باور ونكړي او بايد چه د ګرامر قانون او رولز هم په جدي ډول په نظر كې ونيسي.تر څو چه د دي قسم شكونو او اشتباهاتو مخنيوى وشي او د قرآنكريم پيغام په صحيح توګه دالله بنده ګانو ته ورورسيږي.وما علينا الا البلغ المبين.

ډاكتر محمد عثمان مظامى.

## الدرس(۶۸)

# ژوند سفر دی، منزل نه دی

که په رښتیا سره څوک د ژوند په حقیقت پوه شي نو په دنیا کې به ژوند ورته ډېر آسانه شي،ژوند په حقیقت کې د یو سفر نوم دی چه منزل او ډیسټینیشن یې آخرت دی،خو مشکل دا دی چه مونږ دې سفر ته منزل او ډیسټینیشن وایو او که ددې سفر په دوران کې د څه تکلیف او مشکل سره مخ شو خفه کېږو او بعضې وخت خو د ژوند نه هم نا امیده او مایوسه کېږو ، پوهېږو چه په سفر کې انسان د قسم قسم لارو او مختلفو حالاتو سره مخ کېږي،کله په ډېرو سختو او د اغزیو نه ډکو لارو انسان تیرېږي کله غرونه او دریابونه مخې ته راځي،کله ښایسته او هموار میدانونه ،ښایسته شنې دشتې او شنه شنه باغونه مخې ته راځي،د سختو لارو نه ځما مطلب د ژوند تکلیفونه او د شنو دشتو او باغونو نه مطلب د دنیا راحتونه ،آساني او نعمتونه دي.نو د سفر په دوران کې خو مونږ ددې ښایسته دشتو او باغونو احساس او سیل کولای شو

مګر د اوسیدلو دپاره خو پکې دایمي کور نه شو جوړولای،البته د لږي دمي کولو دپاره پکې د لږ وخت دپاره دمه ځای جوړولای شو،همدارنګه په اغزنو او سختو لارو تلل اود تودو بادونو مقابیله باید په صبر سره وکړو او تصور باید داسي جوړ کړو چه دا وخت تیریږي،او خپل منزل او ډیستینیشن ته رسیږو، دا زمونږ ژوند دی، د مرګ د منزل خواته روان یوو. د مرګ نه وروسته دوه انجامه زمونږ منتظر دي یو جنت او بل جهنم دی، که د هدایت مطابق چا دا سفر کړی وي په ښنو او آسانه لارو یې شُکر ویستلی وي او په سختیو او تکلیفونو یې صبر کړی وي نو جنت به یې د همیشه دپاره ځای وي.او که چا ناشکري او بې صبري کړي وي نو ځای به یې جهنم وي.و ما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۶۹)

# د ښځو حقوق په اسلام او د دنيا په نورو قومونوکي

# Women’s rights in Islam

ځني خلک په خاص ډول ملحدين يا د تعصب او يا د بي علمی او ناخبری په بنأ اعتراض کوي چه اسلام د ښځو حقوق پايمال کړيدي.نو په حقيقت د پو هيدلو دپاره بايد د پخوانيو او اوسنيو قومونو په فرهنګ او کلچر کې د ښځو حقوق مطالعه کړو،او بيا يې د هغو حقوقو سره مقايسه کړو کوم چه اسلام ښځو ته ورکړيدي،او بيا فيصله پخپله وکړئ چه چا د ښځو حقوق پايمال او د خپو لاندي کړيدي،چا پري ظلم کړيدی،او چا حقوق ورکړيدي،او چا عدالت اوانصاف ورسره کړيدی.

په يوناني تهذيب او کلچر کې انسانانو ښځې ته په دومره بده او سپکه سترګه کتل چه په هغوي کې دا يو عام تصور ؤو چه ښځه د ټولو مصيبتونو او تکليفونو دروازه ده،او هر مصيبت د ښځې په وجه

په انسانانو راځي،ښځه يې د ساعت تيرۍ يو شي ګڼلو،د ښځې او نارينه تعلقاتو ته يې په غير د نکاح نه د کلچر او تهذيب درجه ورکړي وه او فحشأ او بد کارۍ ته پاک او مقدس مذهبي کار ويل کېدو.د بَبِيلن سيويلايزيشن په کلچر او تهذيب کې ښځې ته دا حق ورکول شوي ؤو که سړي يا خاوند به کومه ښځه مړه کړه نو قصاص او بدل به يې د سړی د ښځې نه اخستل کېدو يعني د قاتل په ځای به يې د قاتل ښځه مړه کوله خاوند يا قاتل به سري ستړګی ګرځيدو او نوی واده به يې وکړو. روميانو چه ښځې ته په کومه سترګه کتل د هغی اندازه د دي نه ښه معلوميږي،چه په دوي کې يوه لوبه يا ګيم رواج ؤو په حقيقت کې دا د ښځو يوه لوڅه ګډا(نڅا) او ډانس ؤو چه کېږي يا جامي به يې ويستلې ،نارينوو به يې سيال کولو او ښځو به لوڅي منډي وهلي بد کارۍ ته يې د پاکۍ او تقدس درجه ورکړي وه ، د ښځو او نرانو تعلقات هيڅ عيب نه ؤو او ښځه د نرانو د ساعت تيرۍ يو آله وه .

په ايراني کلچر او تهذيب کې به پلار د لور سره واده کولو خو چا عيب او بد کار نه ګڼلو، ښځې ته د وينځې په سترګه کتل کېدل ،ښځه به د خاوند شخصي ملکيت او پراپرټي وه ،هر وخت يې

خرڅولای او اخیستلای شوه لکه د نورو شیانو غوندي د اخیستلو او خرڅولو یو شي ؤو.دا ؤو د اسلام نه مخکې د ایرانیانو کلچر او رواج.

که د چین  تاریخ وګورو، پخوانی کلچر او رواج یې داسي ؤو چه ښځې ته یې د انسان په سترګه خو کتل مګر ویل یې چه ښځه صرف د نرانو د حکم د منلو دپاره پیدا شویده او د دي نه نور زیات هیڅ حیثیت نلري.او په هر کار کې که ښه وي او که بد د خاوند حکم به مني.که پخوانی مصري تهذیب او رواج وګورو .ورور به د خور سره واده کولو او دمحرمو په منځ کې واده کول عیب نه ؤو.او ویل یې چه ښځه د شیطان وسله ده.

په پخواني مغربي کلچر او رواج کې دا یو عام تصور ؤو،چه ښځه د نارینوو شخصي ملکیت او پراپرټي ده چه خرڅولای یې شي،چنانچه تر څو پورې به یې چه خوښه وه ساتلې به یې ،خپل خواهشات به یې پوره کول او استعمالولې به یې،خو هر وخت به یې چه زړه غوښتل خرڅولې به یې ،او لوي ظلم خو دا ؤو چه قیمتونه یې هم معلوم ؤو ،داخستلو او خرڅولو یو شي ؤو او د انسان په سترګه ورته نه کتل کېدل ،فکر وکړئ چه

انسان دومره ذليل شي چه د ښځې په شکل کې د الله دي خايسته مخلوق ته يې د انسان په سترګو هم نه کتل.خو ډيره د افسوس خبره ده چه کوم ظلمونه چه پخوا د ښځې سره شويدي اوس هم ورسره کيږي بلکه د پخوا نه لا زيات ظلمونه ورسره کيږي،کومي لوبي چه پخوا د ښځو د عزت سره کېدلې اوس هم کيږي بلکه د پخوا څخه هم زياتي، ماډرن کلچر او رواج خو د پخوانيو روميانو،ايرانيانو او د جهالت د وخت د عربانو د کلچر او رواج نه هم زيات ظالم وختو،ځکه چه دي عصري او ماډرن کلچر او رواج خو دهغی پاکې ،معصومي او عزتمندي ښځې نه چه هغه لور ده هغه خور ده ،هغه ميرمن ده ،هغه مور ده د هغي د سر نه يې د حيأ څادر لري کړو ،دعزت جامي او لباس يې تري وويستلو، د يوي خايسته ميرمني حق يې تري واخيستلو ، د يوي خايسته او مهرباني مور حق يې تري واخيستلو،ددي د عزت محافظين يې د بې غيرتې او بې حيايې په زندان کې واچول ، او آزادي ښځو ته نه بلکه د نرانو لاسونو ته ورکول شوه ،چه د ښځو ګريوان او عزت ته وروړسيږي او په اسانۍ سره يې د خپل هَوَس او خواهش لقمه او مړۍ جوړه کړي.ورونو او خورګانو که پخوا

خاوندانو ښځې خرڅولي آيا دا حقيقت نه دی،چه ماډرن کلچر او رواج د ښځو د خرڅولو يو نوی انداز او طريقه په کار اچولي ده او د ښځو عزتونه خرڅوي،کله تري ماډل جوړکړي ،ورته وايې چه ماډلينګ کوه او پيسي ګټه،کله د مختلفو توليداتو او پروډکټس داعلاناتو دپاره استعماليږي،او کله خو خپل عزت خرڅوي ،لوڅ ناچ او ګډا کوي او پيسی ګټی آيا تاسو د مختلفو کمپنيو توليدات نه ګوری چه په اکثرو باندي د ښځو داسي عکسونه وي چه سترګی ورته په ليدلو شرميږي.ډير د افسوس ځای دی چه انسان د خپلي لور،خپلي ښځې،خپلي خور او خپلي مور دومره زياته بي عزتي ولي کوي؟

په اينډيا کې په پخواني کلچراو رواج کې د ښځې مقام او حيثيت دا ؤو چه:کله چه به يې ميړه مړ شو نو ښځو ته به نور د ژوند حق هم نه ورکول کېدلو او د ميړه يا خاوند سره به يې يوځا ی ژوندۍ سوځوله.چه په ښځو باندي دي ظلم د راجا رام مهن رای د وخت پورې دوام وکړو،کله چه د راجا رام ورور مړ شو،خلکو غوښتل چه ښځه يې هم ورسره ژوندي وسوځوي ،راجا رام راووتو او خلکو ته يې وويل چه ځما ورندار ولي ژوندۍ سوځوئ،دي څه ګناه کړيده،دا خو ظلم دي،او که

تاسو دي ته ظلم نه وايې نو زه نه پوهیږم چه ظلم څه ته وايې نو ډېر هندوان دده په طرف شو او ورندار يې د مرګ نه بچ شوه او ددي نه وروسته په قرار قرار دا د ظلم رواج د منځه لاړو.همدارنګه د اسلام نه مخکې د عربو په بعضی قبایلو کې رواج او کلچر داسي ؤو چه بي حیایې او فحشأ دومره ډیره وه چه يوي ښځې ته به لس نران ورتلل کله چه به ماشوم تولد شو،نو قیافه شناس یا هغه سړی چه ماشوان به يې پیژندل چه پلاريې څوک دی هغه به يې پلار معلومولو او ماشوم به يې ورته سپارلو دا ؤو د ښځې عزت او مقام نه يې کور معلوم ؤو او نه خاوند،همدارنګه د ځېنو قبیلو بعضي خلک به دلور په پیداکېدلو شرمیدل ،او منحوس يې ګڼل،او فکر يې کولو چه ځما لور به څنګه بل چا ته واده کیږي،دا کار ورته شرم او د ځان سپکوالی ښکاریدلو ،او د دي شرم او سپکاوي نه د بچ کیدو دپاره به يې ژوندۍ لور ګاني په کندو یا قبرونو کې خښولي،يو ځل يو صحابي د جهالت په وخت کې د خپلي لور د ژوندۍ خښولو قیصه پیغمبر علیه سلام ته وکړه ،نو د ده مبارک د پاکو سترګو نه اوښکې رواني شوي او صحابي ته يې وفرمايل !که چیرته الله تعالی د جهالت د وخت

دګناهونو د بدل اخیستلو اجازه ماته راکړي ،نو ای ظالمه ما به ستا نه اول ددي معصومي جلۍ بدل اخیستی ؤو.خو متاسفانه چه پخوا یواځي بعضي عربانو د جهالت په وخت کې لورګاني مړي کولي یا یې وژلې مګر اوس په ټوله دنیا کې وژل کیږې خو د وژلو او قتلولو طریقه یې بدله ده هغه داسي چه د حمل په دوران کې ښځې ډاکتر ته ځې که ډاکتر ورته ووایې چه هلک دي نو اهلاً و سهلاً پریږدي یې او که ډاکتر ورته ووایې چه جلۍ ده نو اکثره وژل کیږي یعني مورګاني ابورشن کوي یا غورزوي یې،چه په دي طریقه یواځي په اینډیا کې په کال کې یولس میلیونه او دوه لکه ژوندۍ لورګانې وژل کیږي او همدارنګه د دنیا په نورو ملکونو کې هم د زیږیدلو نه مخکې ژوندۍ لورګاني وژل کیږې پخوانیو ظالمانو او جاهلانو خو به دنیا ته د راتلو چانس ورکولو خو د اوسنیو ظالمانو جهالت او ظلم د هغوي نه هم ډیر زیات دی،ځکه چه اوسني ظالمان خپلو لورګانو ته دنیا ته د راتلو چانس هم نه ورکوي او د مور په رحم کې یې وژنې .چه اکثره د خاوندانو او خواخیګانو د خوانه ښځه مجبوریږي چه خپله لور مړه کړي،ټولي خواخیګاني،خاوندان او ښځې باید پوه

شي چه د حشر په میدان کې به الله تعالی ددي وژل شوې ماشومې نه پوښتنه کوي چه په کومه ګناه وژل شوې يې،او ستاسو سره به د ظالمانو او قاتلانو په شان حساب کيږي او په دوزخ کې به جزا درکول کيږي .اوس ګورو چه اسلا م ښځو ته څنګه حقوق ورکړيدي؟اسلام ښځې ته د لور حيثيت او حق ورکړو،اسلام هغه لورګانو ته چه د اسلام نه مخکې به ځېنو پلرونو ژوندۍ ښخولې او اوس يې هم ځېني مور او پلار په ډيره بې رحمۍ سره مخکې ددي نه چه دنيا ته راشې وژني اسلام دي معصومو او بيګناه لورګانو ته دومره لوړ او اعلی مقام ورکړ ،چه د دوي د خدمت کولو په بدل کې يې مور او پلار ته الله جنت ورکوي قرآن فرمايي!
وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ (٨) بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ (٩) او کله چه د ژوندۍ ښخې شوې نجلۍ نه پوښتنه وشي چه هغه په کومه ګناه وژل شويده.يعني په اسلام کې د اولاد وژل خصوصاً د لورګانو وژل حرام دي په سورت النحل کې د آيات مفهوم دي چه:د لور په پيداکېدو چه خوک خفه کيږي،دا هم جرم دی او قرآن ددي نه منع کوي. حضرت محمد صلی الله عليه وسلم فرمايي!خوک چه د دوه لورګانو تربيت او پالنه په ښه او نيکه طريقه وکړي تر څو چه

بالغې شي،دا سړی به په آخرت کې داسي څما سره نیزدي وي لکه څما دا دوه ګوتي چه سره نیزدي دي منځنۍ او د شهادت ګوتي ته یې اشاره وفرمائیله.

بل حدیث شریف دی چه څوک د دوه لورګانو پالنه او روزنه کوي او ورسره ښه سلوک کوي،ان شأالله چه جنت ته به لاړ شي .

اسلام ښځې ته د کور د میرمن یا کوروداني حیثیت او مقام ورکړی دی په نورو مذهبونو او کلچرونو کې ښځې ته په انسانانو باندي د ټولو مصیبتونو او تکلیفونو د راتلو بیخ او دروازه وایې، د شیطان وسله ورته وایې مګر قرآن ښځې ته محسنه وایې چه معني یې د شیطان په خلاف یوه قلعه ده.قرآن په سورت الروم کې فرمایې.دا د الله د نښانو نه ده چه تاسو ته یې ستاسو ښځې ستاسو د جنس نه پیدا کړیدي.تر څو چه تاسو د هغو سره آرام تر لاسه کړئ،او ستاسو په منځ کې یې مینه او خواخوږي پیدا کړه.،بیشکه په دي کې د هغو خلکو دپاره ډیري نښاني دي چه:غور او فکر کوي.یعني اسلام ښځې ته دالله آیت او نشتانه وایې.

د سورت النسأ د ۱۹ ایت مفهوم دی،چه د ښځو سره په زوره نکاح مه کوي یعني د نکاح دپاره د هلک او نجلۍ دواړو رضأ ضرور ده، که د ښځې خوښه نه وي څوک ورسره په زوره نکاح او واده نشي کولای.په اسلام کې ښځې ته هَوس وایف(د کور ښځه) نه وایې ځکه چه د کوره سره خو یې واده نه وي کړې بلکه هوم میکر(د کور جوړونکې) ورته وایې یعني ښځه د کور جوړونکې ده.پیغمبر علیه سلام فرمایې !چه په دنیا کې لوي نعمت ښځه ده په سورت التوبه کې د ۳۴ او ۳۵ آیتونو مفهوم دی چه څوک سره زر او سپین زر جمع کوي او د الله په لار کې یې نه مصرفوي ،یوه ورځ به دا سره او سپین زر د دوزخ په اور ګرمیږي او د دوي تندیو،اړخونواوشاه ګانو ته به پري داغونه ورکول کیږي.کله چه دا آیتونه نازل شو نو حضرت عمر رض پیغمبر ع ته عرض وکړ چه یا رسوالله ص چه خلک سره او سپین زر جمع نکړي نو څه شی جمع کړي ،رسوالله ص وفرمایل چه دسرو او سپینو زرو نه بهتر ، ښه او قیمتي شی مسلمانه او لمونځ ګذاره ښځه ده چه د آخرت په مسائیلو کې ستاسو سره کمک کوي .خورګانوستاسو ارزښت او قیمت په اسلام کې د سرو او سپینو زرو نه هم

زيات دی ،چه د دنيا يو مذهب او کلچر د اسلام نه په غير ښځې ته دومره عزت نه دی ورکړي. حجت الوداع،آخرنی خطبه ۱۴۰۰۰۰ صحابه کرام ناست دي، پيغمبر ع فرمايې ای خلکو د ښځو په باره کې زه تاسو ته وصيت کوم،دښځو سره ښه سلوک کوئ،ځوک چه د ښځو سره ښه نه وي او ښه سلوک ورسره نه کوي،لمونځ کوي ،روژی نيسي،نفلونه کوي او اوږدي ږيري يې پرايښی دي،دا ښه مسلمان نه دی او اخلاق يې ښه نه دي.او بيا يې وفرمايل چه: په تاسو کې د ټولو نه ښه او بهتر هغه دی چه د ښځو سره ښه او بهتر وي او زه د خپلو ښځو سره د ټولو نه ښه او بهتر يم.ښځه د خاوندانو شخصي ملکيت او پراپرټی نه ده.ښځې دالله امانت دی،اسلام په ښځو د لاس اوچتولو او وهلو اجازه نه ورکوي.پيغمبر ع فرمايې د ښځو سره جنګ مه کوئ،لاس پري مه اوچتوی،ښځې په مخ مه وهئ.د صحيح مسلم روايت دی چه هيڅ کله نبي ع ښځې نه وي وهلې او نه يې پري لاس اوچت کړی ؤو.

همدارنګه نبي ع فرمايي چه: پلار دي د بچيو په مخکې ښځه نه رټي،خرابي خبري او بي عزتي دي يې نه کوي،خاوندان دي د خلکو په مخکې ښځې نه

رتي،کنځل او بیعزتي دي یې نه کوي،او خبره دي د کورڅخه نه اوباسي.

حدیث شریف دی چه خپلو ښځو ته علم ورکړئ او که پخپله یې نشئ ورکولای نو د علم د ورزده کولو بندوبست ورته وکړئ.

**اسلام ښځې ته د مور مقام او حیثیت ورکړی دی**

﴿ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا (٢٣) وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا (٢٤) او ستا رب حکم فرمایلی دی چه د بل هیڅ چا عبادت مه کوئ مګر خاص د یو الله ،او د مور او پلار سره احسان کوئ،او که چیرته یو یا دواړه د دوي نه زوړ عمر ته ورسیدل،نو مه وایه دي دواړو ته اُف ،او مه رټه دوي دواړه،او وایه دوي دواړو ته خبره پسته او ادبناکه،او ښکته کړه دي دواړو دپاره وزر(اوږه)د تواضع(نه د تکبر)د مهربانۍ ،او ووایه څما ربه مهرباني او ښښه وکړه دي دواړو ته ،لکه چه تربیه او پالنه یې کړیده څما په هغي حال کې چه زه صغیر او وړوکی وم.الله تعالی د خپلو حقوقو پسي

د والدينو د حقوقو ذکر فرمايلی دی.حديث شريف دی ،هغه ځوک د خاورو سره برابر او ذليل شو چه:مور او پلار يې وي او دی د هغو ي د خدمت کولو پواسطه ځان ته جنت حاصل نه کړي.بل حديث شريف دی چه: د پاک الله رضأ د مور او پلار په رضأ کېدلو کې ده،او د الله په غضب کېدل د مور او پلار په غضب کې دی.(کابلي تفسير).بل حديث شريف دی!چه د مور او پلار د عاقوالي نه ځان وساتئ ،ځکه چه عاق الوالدينو ته به د جنت بوي هم ورونه رسيږي،کوم چه د زر کالو په فاصله کې نيکانو ته رسيږي.

حديث شريف دی چه جنت د مور د خپو لاندي دی يو صحابي نبي ع ته عرض وکړ چه يا رسول الله ص غواړم چه جهاد ته لاړ شم او خپل سر د الله تعالی په لار کې قربان کړم ،نبي ع ورته وفرمابل چه مور دي ژوندئ ده صحابي وويل چه هو ژوندئ ده،پيغمبر ع ورته وفرمايل !خپله مور مه پريږده،خپله مور مه پريږده،ځه لاړ شه د خپلي مور خدمت کوه،ستا جنت ستا د مور د خپو لاندي دی.

همدارنګه یو صحابي پیغمبر علیه سلم نه پوښتنه وکړه چه یا رسول الله صلی الله علیه و سلم په دنیا کې د ټولو نه زیات د ښه او نیک سلوک حقدار او لایق څوک دی ؟نبي ع وفرمایل چه ستا مور ،صحابي بیا پوښتنه وکړه چه د هغي نه وروسته څوک دی نبي علیه سلام بیا وفرمایل چه ستا مور ،صحابي بیا عرض وکړ چه د هغی نه وروسته بیا څوک دی،پیغبر علیه سلام بیا و فرمایل چه ستا مور،په څلورم ځل بیا صحابي پوښتنه وکړه چه ددي نه وروسته څوک دی نو په څلورم کرت پیغمبر علیه سلام وفرمایل چه ستا پلار یعني ۷۵ فیصده د ښه او نیک سلوک حقداره او لایقه مور ده او ۲۵ فیصده پلار دی.همدارنګه په اسلام کې د شرک نه وروسته د ټولو نه لویه ګناه د مور نافرماني ده..

همدارنګه اسلام ښځې ته د خور مقام او درجه ورکړیده.

په قانوني اعتبار سره په اسلام کې د ښځې او نر قانوني حقوق برابر دي.

اسلام ښځې ته د شاهدۍ ورکولو حق ورکړیدی.

که د ښځې او خاوند په منځ کې طلاق واقع شي ،د عدت د ختمیدو پورې مصارف په نارینه دي او که وړوکی ماشوم ولري ،د بلوغت د وخت پورې مصارف یې په نارینه دي،او که خاوند مړ شي ،دعدت د دوران مصارف به د خاوند د دولت نه کیږي.

که چیرته څوک د یوي ښځې په عزت تهمت او الزام ولګوي نو که ۴ شاهدان د هغه خبره تصدیق نکړي ۸۰ دوري به وهل کیږي او په آینده کې به یې شاهدي نه قبلیږي..

اسلام ښځې ته د وټ د ورکولو حق ورکړی دی.

په اسلام کې د نر او ښځې درجه برابره ده،اګر چه په بعضی کارونو کې د نر درجات زیات دي او په بعضی کارونو کې د ښځې درجات زیات دي خو په مجموع کې د دواړو درجی برابري دي.

ښځې ته دا حق چه خپل جایداد پخپله خرڅولای او اخیستلای شي په ۱۹ پیړې کې د اول وار دپاره ورکول شو،مګر اسلام دا حق ۱۴۰۰ کلونه مخکې ورکړی چه بالغه ښځه پغیر د چا د اجازی نه خپل

جایداد خر څولای او اخیستلای شي.اسلامی شریعت ښځې ته د شرعي حدودو په چوکاټ کې د حلال کار او تعلیم اجازه ورکوي ،کولای شي چه ډاکټره،نرسه، ګاینوکالوجیسټ،معلمه و غیره جوړه شي.

په اقتصادي ډول ښځه مجبوره نه ده چه د کور مصارف وکړي،د کور ټول مصارف لکه جامي،ډوډی،د اوسیدلو ځای و غیره دا ټول په نارینه دي،د واده نه مخکې د ښځې مصارف په پلار او ورور دي او د واده نه وروسته په خاوند او ځوي دي،هیڅوک نشي کولای چه ښځه په کار کولو مجبوره کړي او یا په زوره پري کار وکړي،مګر که پخپله خوښه وغواړی چه کار وکړي کولای یې شي،خو کومي پیسی چه ګټی هغه یې خپلي دي،خو که پخپله خوښه یې مصرفوي څه ممانعت نشته،د دي او د کور ټول مصارف صرف په نارینه دي،یعني که ښځه غریبه وي او که مالداره او که نارینه غریب وي او که مالدار په دواړو صورتونو کې د ښځې او کور مصارف په نارینه دي ،او په ښځه څوک زور نشي کولای چه کار وکړي او پیسی وګټي.

اسلام ښځې ته دخاوند په مال کې دميراث حق ورکړی دی.

قرآن فرمايې چه ښځو ته د نکاح په وخت کې تحفه ورکوئ ،يعني مهر ورکول فرض دي،او په غير د مهر نه نکاح نه کيږي،مګر د ځينو ملکونو لکه اينډيا او پاکستان کلچر او رواج داسي دی چه خاوندان د ښځو نه د جهيز په نوم تحفی اخلي.چه دا دومره ظالم رواج او کلچر دی چه زياتي مورګاني او پلرونه د همدي رواج د لاسه خپلي بي ګناه او معصومي لورګاني دنيا ته د راتلو نه مخکې د مورګانو په رحمونو کې وژني،تر څو چه د جهيز د ورکولو نه خلاص شي .و ما علينا الاالبلغ المبين.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

الدرس(۷۰)

## دقیامت ورځ او د حشر میدان

## د اولی شپیلۍ څخه د حساب پوری

## Judgment day from the first trumpet to the hour of reckoning

پيغمبر ص فرمايې چه قيامت به هغه وخت راځي چه په ځمکه کې د الله نوم بند شي يعني چه په ځمکه کې دومره څوک نه وي چه د الله نوم واخلي ،کله چه داسي وخت راشي نو الله ج به اسرافیل ع ته حکم وکړي چه شپیلی پو کړه،اسرافیل ع به په شپيلۍ کې پوکی وکړي په اول کې به دا آواز ډير خوږ او په قراره وي ټول خلک به ورته غوږ ونيسي ،ځکه چه داسي ناآشنا آواز به د دي نه پخوا هيڅ چا نه وي اوريدلی،آوازبه ورو ورو تيز او سختيږي،هر څومره چه د آواز شدت او سختي زياتيږي ،د خلکو ويره به هم زياتيږي،آواز به دومره تيز شي چه د تندر د آواز نه به يې سختي او شدت هم زيات شي چه د خلکو د برداشت نه به

بالکل ووځي،او ویره به هم دومره زیاته شي،چه د خلکو وجودونه او زړونه به ولړزیږي،لمر به لکه د پنیر د چکۍ پشان شي،ستوري به بي نوره شي،غرونه به لکه د ډانډس شوو وړیو په شان په هوا کې روان وي،بحرونه به لکه د غرونو پشان چپې شروع کړي،او اور به واخلي،ځمکه به خپل ټول آتش فشان دباندي راوباسي،په هره وادي او شیله کې به داور دریابونه بهیږي،ځمکه به ډیره سخته خوځیږي ،شدیده زلزله به وي،ښارونه او کلی به په کنډرو بدل شي،جګ جګ عمارتونه به د خاورو سره برابرشي،آبادي به د هدیرو غوندي ښکاري،په خلکو به ویره دومره زیاته شي چه د مرګ د ویري نه به مورګاني تی رودونکې بچي پریږدي او تښتی به،د حامله ښځو نه به د ډیري ویري نه حملونه وغورځیږي،طاقتور به کمزوري او ځوانان به زاړه پریږدي او تښتی به،سره او سپین زر به په لارو کې پراته وي،نوټونه به په هوا کې ګرځي،خو د اخستلو والا به یې نه وي،کاروبار بیزنیسونه جایدادونه رشتی ځوي پلار ورور مور خور ښځه هر څه به هیر شي،هر څوک به صرف د خپل ځان په فکر کې وي،هر څوک د دهریانو او ملحدینو په شمول به صرف یو الله تعالی یادوي ،

یو الله ته به زارۍ او چغي وهي،مګر هیڅ جواب به نه راځي،هري خواته به په غیر د مصیبت او بربادۍ نه بل څه نه ښکاري،هري خواته چه انسان تښتی د مرګ سره به مخ کیږي،انسان به مخکې وي او مرګ به ورپسي وي،بالآخره ژوند به د مرګ دلاسه شکست وخوري،ژوند به ختم شي،هر شی به ختم شي،فرشتی به وفات شي،جبرائیل ع میکائیل ع اسرافیل ع عزرائیل ع به وفات شي د عرش ۸ فرشتی به هم وفات شي،هر څه به د منځه لاړ شي،صرف یو د الله پاک ذات به پاتي شي.

الله تعالی به وفرمایي لِمَنِ المُلکُ الیوم . نن پاچاهی د چا ده حقیقي پاچا څوک دی؟ هیڅوک به نه وي چه جواب ورکړي،الله ج به پخپله وفرمایي اَلمُلکُ ِللهِ القَهَّار.پاچاهي خاص الله لره ده حقیقي پاچا صرف الله دی.

دقیامت دویمه شپیلۍ.

د اولي او دویمي شپیلۍ په منځ کې به ۴۰ کلونه تیر شي،بیا به د عرش نه باران وشي،اسرافیل ع به الله راژوندی کړي،او حکم به ورته وفرمایي چه شپیلۍ ته پوکی ورکړه،اسرافیل ع به شپیلۍ ته پوکی ورکړي،نو ټول خلک به دوباره ژوندي شي

،د قبرونو نه به راپاڅيږي او خاورې به د سرونو نه څنډي،د شپیلۍ آواز به په اول کې په قراره او سلو وي،ورو ورو به پکې سختي او زیاتوالی راځي،او بالآخره د تندر پشان او یا به دتندر نه هم زیات شي،په اول کې به انبیأ ع صدیقین شهدا او صالحین د قبرو نه راپورته کیږي،بیا عام مؤمنان او کله چه د آواز سختي د تندر پشان شي کافران به را پاڅيږي،خلک به ډلي ډلي د محشر میدان ته روان وي، یوه ډله به د خاصو اوچتو مؤمنانو وي،دوي ته به سورلۍ ولاړي وي .

لکه اوښان آسونه و غیره څنګه چه د قبرونو نه راجګیږي په خپلو سورليو به سوريږي او د حشر میدان ته به یې وړي پیغمبر ص فرمایې چه په یو اوښ به دوه دري څلوراو د لسو پورې سوريږي،

بله به د عامو مؤمنانو ډله وي،دوي به امید هم لري چه کېدای شي چه الله مو معاف کړي ځکه چه ایمان ورسره دی،او ویریږي به هم چه هسي نه چه الله راسره انصاف وکړي،او په حساب کې راحصار شو ځکه چه د الله د رحم نه په غیر جنت ته تلل مشکل دي،خو باید پو شو چه الله رحم هم په هغه چا کوي چه د رحم مستحق وي.بله ډله به داسي

خلک وي چه اور به ورپسی وي او د حشر میدان ته به یې روان کړي وي،دا به کافران وي ،ځني خلک چه د قبرونو نه راپاڅیږي نو په مخونو به د حشر میدان ته روان وي ړانده کانړه او ګونګیان به وي دا به هم کافران وي،عام مؤمنان به پیاده روان وي شکلونه به یې هغسی وي په کوم شکل چه مړه شوي وي.که ځوان مړ شوي وي ځوان به راپاڅیږي که ماشوم مړ شوی وي ماشوم به راپاڅیږي که ځوړ مړ شوي وي ځوړ به راپاڅیږي.ځني خلک به داسي وي کله چه د قبر نه راپاڅیږي غټې خیټې به یې وي ولیږي او ولاړیږي به داسي به وي لکه پیریانو چه نیولي وي ،او په دي حال به د حشر میدان ته روان وي دا خلک به سود خواره وي.په عامو مؤمنانو کې به داسي خلک هم وي چه نیم بدن به یې فالج وهلی وي یو لاس او یوه خپه به یې کار نه کوي اوپه یوه خپه به ټوپونه وهي او د حشر میدان ته به روان وي.دا به هغه خلک وي چه دوه ښځې یې کړي وي او عدالت او انصاف یې نه وي کړي.په دوي کې به ځني خلک داسي هم وي چه د مخ هډوکې به یې وي او غوښه به پري نه وي دا به یو هغه خلک وي چه قرآن د الله د رضأ دپاره نه بلکه د پیسو دپاره

وايې بل به هغه خلک وي چه بي ضرورته سوالونه کوي او د خلکو نه پیسي غواړي.ځني به داسي وي چه دوه مخونه به یې وي دا به هغه وي چه یوي ډلي ته به یوه او بلي ډلی ته بله خبره کوي یوي ډلي ته وایې چه مونږ تاسو سره یو او بلي ډلي ته وایې چه مونږ تاسو سره یو.د بعضي خلکو به دوه ژبي وي دا به هغه وي چه یو ته یوه او بل ته بله خبره کوي.د ځېنو خلکو به د ګناه پنډونه په شا وي الله عالِم دی چه څه قسم شکلونه به لري او د حشر میدان ته به روان وي دا به هغه خلک وي چه قرآن ته یې شا وراړولي وي او توقي یې ورپورې کړي وي.ځني خلک چه د قبرو نه راپاڅیږي یو ډیر ښایسته وجود به د قبر په غاړه ورته ولاړ وي قبروالا به ورته ووایې ته څوک یې چه اول سترګي مې په تا ولږیدي،هغه به ورته ووایې چه زه ستا نیک عمل یم په دنیا کې زه په تا سور وم او ته مي خپلو خواهشاتو ته نه پرېښودي اوس ته راپه شا شه ورته به ټیټ شي قبروالا به په شا کړي او د حشر میدان ته به یې ویسي.ځني خلک به داسي وي چه پاس دقبر په غاړه به ورته ډیر یو بدرنګ وجود ولاړ وي کله چه د قبر والا راپاڅیږي ورته به ووایې چه ته څوک یې چه اول سترګی مي په تا

ولړيدي،هغه به ورته ووايې چه زه ستا بد عمل يم په دنيا کې ته په ماسور وي او مزې دي کولي اوس به زه په تا سوريږم پيغمبر ص فرمايې چه په زوره به يې راتيت کړي او پري به سور شي.ځني خلک چه څنګه د قبرونو نه راپاڅيږي ملايکې به ورته په سپيږمو کې ځنځېرونه واچوي او راکاږي به يې،دوي به ورته وايې چه مونږ چيرته بيايۍ هغوي به ورته وايې چه دوزخ ته دوي به وايې چه مونږ سره خو لا حساب نه دي شوي،څنګه مو دوزخ ته بيايۍ دوي به په همدي سوال او جواب کې وي چه يو آواز به راشي الله به وفرمايې چه تاسو کړي څه دي چه حساب غواړئ حکم به وشي چه پړمخه يې په دوزخ کې ورواچوئ.بعضي خلک چه څنګه د قبرو نه راپاڅيږي خپی به يې پورته شي او په سرونو به لوڅ لغړ د حشر ميدان ته روان وي،صحابه کرامو پوښتنه وکړه چه يا رسول الله ص په سرونو به څنګه ځي،رسول الله ص وفرمايل هغه ذات چه تاسو ته يې په خپو د تلو طاقت درکړيدي،هغه ذات په سرونو د تلو طاقت هم ورکولای شي،همدارنګه ځني به د سپيو او ځني به د خنځېرانو په شکل وي.

د محشر میدان.څه وخت چه خلک د محشر میدان ته راشي وبه ګوري چه:

د دوزخ د اور د لمبو او شغلو په وجه به د آسمان رنګ تک سور وي ،لمر چه اوس ۹۳ میلیون مایلز د ځمکې نه لري دی دا به یو مایل د سرونو نه لري وي.ځمکه به ډېره زیاته ګرمه وي،د عرش الهی مخی ته به د میزان تله ،ښي خواته به يې جنت او چپ خواته به يې جهنم وي ، په جهنم کې به ۷۰۰۰۰ ځنځېرونه پراته وي چه هر ځنځېر به ۷۰۰۰۰ فرشتو نیولی وي، د جهنم غرهار او آوازونه به دومره سخت او شدید وي چه خلک به فکر کوي چه اوس به يې دیوالونه وچوي. د جهنم د اور د لمبو دا خطرناکه منظره او هیبتناکه او ویرونکې آوازونه به د خلکو وجودونه او زړونه ولړزوي،دا لړرځیدونکي وجودونه او زړونه به د مجرمانو زړونه وي،د غافلانو،ظالمانو،کبرجنو،قاتلانو او سرکشو زړونه به وي،دا به د زماني د فرعونانو زړونه وي، دا به د هغو خلکو زړونه وي چه په دنیا کې د الله پادشاهي نه مني ،او په مخلوق باندي خپله خدایي مني،دا به هغه زړونه وي چه د انسانانو سره د همدردۍ او د الله د یاد نه خالي وي ،ددي هیبتناک

او خطرناک عذاب نه د بچکېدو دپاره به مجرمان یوي او بلي خواته د تښتیدو کوشش کوي ،خو دحشر په میدان کې د عذاب نه د بچکېدلو او پناه اخستلو ځای نشته نه پکې ونه شته او نه دیوال،په هر ځای کې افتونه ،مصیبتونه او سختئ وي،الله خبر دي چه په دي حال کې به څومره کلونه او پیړئ تیري شي،دا به د حشر میدان او د قیامت ورځ وي.نوي ژوند به شروع شي ،نه ختمیدونکی ژوند،د حشر په میدان کې به بې حسابه خلک وي،څوک به منډي وهي ، څوک به ولیړي ولاړیږي،په فضأ کې به د دوزخ د اور د لمبو د آوازونو سره د خلکو د جړا،چغو او زاریو آوازونه هم یو ځای اوریدل کیږي،خلک به یو بل ته بد او رد وایې،یو بل ته به کنځل کوي،جنګونه به کوي،یو به په بل تهمت لږوي، چا به سر نیولي وي ناست به وي،څوک به په سر خاورې باده وي ،څوک به شرمیږي مخ به پټوي، څوک به سرونه په تیږو وهي،څوک به سیني او سرونه په څپیړو وهي،څوک به خپل مور، پلار،بچي،دوستان ،لیډران او رهبران د خپلي تباهئ او بربادئ ذمه وار ګڼي ،خو مشکل او پرابلم به د ټولو یو وي ،د قیامت ورځ به وي،او خلکو سره به ددي ورځې

تیاری نه وي،ګرمي به ډیره زیاته وي خلک به د خپلو اعمالو او ګناه په اندازه په خپلو خولو کې ډوب وي څوک د پنډیو پورې څوک د خیټې او د غاړې او غوږو پورې، د حشر د میدان خولې د دنیا د خولو پشان نه دي د یو خوله بل ته نه ورځي د هر سړي خوله د هغه د خپل ځان پورې ولاړه وي لکه سړي چه په غټ بیلر یا ډیګې کې ولاړ وي،خلک به لوڅ لغړ وي،ډیره ګڼه ګونه او رش به وي،پیغمبر ع فرمايې چه د حشر په میدان کې به ځما ځنې امتیان په داسې حال کې ځما سره مخ شي چه د غلا مالونه به پري سواره وي ، د چا به اوښ په څټ سور وي ،غړمبیږي به، په دي حالت کې به ماته راشي راته به وایې چه یا رسول الله ص کمک راسره وکړه ،زه به ورته ووایم چه ما دین پوره دررسولی ؤو اوس زه ستا سره کمک نه شم کولای،بل امتی به مي راته راشي آس به یې په څټ سور وي را ته به وایې چه یا رسول الله ص مدد، زه به ورته ووایم چه ما دین پوره درسولی ؤو ،اوس درسره کمک نشم کولای.بل امتی به راته راشي چه ګډي وزې به یې په څټ سوري وي ، راته به وایې چه یا رسول الله ص مدد،زه به ورته ووایم چه ما دین پوره دررسولی ؤو اوس درسره

کمک نشم کولای،یعني که چا د مال غنیمت نه غلا کړي وي،او که چا د بیت المال نه غلا کړي وي ،هر د غلا مال به یې د حشر په میدان کې په څټونو او سرونو بار وي او لوږ لغړ به تري لاندي په ګرمه ځمکه باندي ګرځي،په دي حدیث شریف کې فکر وکړئ. داسي فکر مه کوئ چه د بل چا قیصه اوری ،دا فکر وکړه چه زه خو به پکې نه یم باید ددي نه عبرت واخلو او ځانونه ددي عذابونو نه بچ کړو ،که چا د ملت موټر غلا کړی وي، دا موټر به یې په سر وي ،او د حشر په میدان کې به یې ۵۰۰۰۰ کاله په سر ګرځوي او بیا هم د الله خوښه ده چه معافی ورته کوي او که دوزخ کې یې وراچوي،که چا د ملت سرمایه پټه کړي او هغی باندي یې هوایې او بحري جهازونه بیلډینګونه وغیره اخیستي وي ، نو دا بیلډینګونه او جازونه به ۵۰۰۰۰ کاله د حشر په میدان کې په سر ګرځوي او بیا هم دالله خوښه ده چه د همدي عذاب په ورکولو یې معاف او ښښي او که دوزخ ته یې لیږي،د حشر په میدان کې به ځني خلک داسي وي چه نیم وجود به یې فلج وي او لوږ لغړ به په یوه خپه ټوپونه وهي دا منظر خو لږ تصور کړئ چه د یو سړی لاس او خپه کار نکوي ،جامي ،څپلۍ او

خولۍ يې په سر نه وي، په يوه خپه ټوپونه وهي څه قسم به ښكاري،دا به بل څوک نه وي ،زمونږ او ستاسو د منځه به يو وي.دا به هغه سړی وي چه دوه ودونه يې كړي وي او عدالت او انصاف يې نه وي كړی ۵۰۰۰۰ كلونه به په دي عذاب اخته وي بيا هم دالله خوښه ده چه د دي عذاب په وركولو سره يې نور ښنی او معافي ورته كوي جنت ته يې ليږي او كه د نور عذاب دپاره يې دوزخ ته ليږي .او ځني خلك به د خنځېر او ځني خلك به د سپيو په شكل وي.ځني خلك به داسي وي چه د ميدان محشر په ګرمه ځمكه به پراته وي اوښان ،غويان غواګاني او نور مالونه به پري دپاسه ګرځي د پيسو ،سپينو او سرو زرو تبۍ به د دوزخ په اور ګرميږي او تنديو اړخونو او شاګانو ته به يې داغونه پري ور كول كيږي،دا خلك به ۵۰۰۰۰ كاله په دي حال كې وي .بيا هم د الله خوښه ده چه عفوه ورته كوي بخی يې او كه جهنم ته يې ليږي،

دا خلك هم بل څوك نه دي په مونږ او تاسو كې دي بايد فكر وكړو چه هسي نه چه زه خو به نه يم ،ځكه چه دا به هغه خلك وي چه زكات يې نه وي وركړی.كه چيرته دا ګناه په مونږ كې وي بايد توبه اوباسو او په آينده كې ددي ګناه نه ځان

وساتو.بعضی خلک به داسي وي چه غټي غټي خيټي به يې وي وليږي او ودريږي به داسي به وي لکه پيريانو چه نيولی وي، دا خلک به سودخواره وي،نو ای مسلمان وروره چه ته سود کوي،صرف يو ځل خو دا فکر وکړه چه د محشر په ميدان کې چه د تبې پشان ګرم دی،آيا په داسي حالت کې چه غټه خيټه دي وي لوږ لغړ يې وليږي او ولاړيږي آيا ۵۰۰۰۰ زره کاله طاقت به ولري،نو پخپل نفس او ځان ولي دومره لوي ظلم کوئ ،د دومره لږ ژوند دپاره دومره لوي عذاب ولي قبلوی شايد د ډيرو خلکو په زړه کې دا سوال وي چه د حشر په ميدان کې چه خلک لوږ وي په دي کې خو به بنځې هم وي،دا سوال حضرت عايشي رض د رسول الله ص نه کړی ؤو ،پيغمبر ع ورته وفرمايل چه هغه دومره سخته ورځ ده دومره سختي به وي چه دي ته به د هيڅچا فکر نه وي،د حشر په ميدان کې به بعضي خلک داسي وي چه مخونه به يې تک تور وي ،ژبي به يې په سينو پرتی وي او لاړي به تري بهيږي،دابه شراب خواره وي.اوچته مؤمنان به په دي ورځ د عرش د سوري لاندي د نور په منبرونو باندي ناست وي او د الله تعالی ميلمانه به وي،الله دي مونږ هم په

دوي کې حساب کړي.د حشر په میدان کې به خلک ډیر تنګ شي ،وایې به چه که اوس دوزخ وي او که جنت خو چه حساب او کتاب وشي او د دي عذاب نه خلاص شو، خلک به مشوره وکړي،په پوښتنه پوښتنه به آدم ع ته ورشي ځکه چه هلته د پیغمبرانو خپل خپل ځایونه دي ،عرض به وکړي چه ته زموږ نیکه یې او پیغمبر هم یې،الله ته سوال وکړه چه حساب شروع کړي،آدم ع به وفرمایې چه نفسي نفسي نن الله ډیر غصه دی زه دا کار نه شم کولای ،خلک به عرض وکړي چه موږ نو څه وکړو آدم ع به ورته وفرمایې چه نوح ع ته ورشئ.خلک به نوح ع ته ورشي عرض به ورته وکړي چه الله ته سوال وکړه چه حساب شروع کړي نوح ع به جواب ورکړي چه نفسي نفسي الله ډیر غصه دی زه دا کار نشم کولای تاسو ابراهیم ع ته ورشئ چه ابراهیم ع ته ورشي هغه به هم ورته ووایې چه زه دا کار نشم کولای تاسو موسی ع ته ورشئ ،چه موسی ع ته ورشي هغه به هم ورته ووایې چه نن الله ډیر غصه دی زه دا کار نشم کولای ،عیسی ع ته به ورشئ ،عیسی ع ته چه ورشي هغه به ورته هم ووایې چه نن الله ډیر غصه دی زه دا کار نشم کولای ،تاسو حضرت محمد ص

ته ورشئ ، خلک به حضرت محمد ص ته ورشئ،کله چه محمد ص ته خلک ورشي پيغمبر ع به ورته وفرمايې چه زه به الله ج ته ووايم.محمد ص به د الله په اجازه د عرش لاندي په مقام محمود کې ډيره اوږده سجده الله تعالی ته وکړي چه د دنيا د ۷ شپو او ۷ ورځو په اندازه به وي او د الله صفتونه او حمدونه به وايې،الله ج به وفرمايې چه يا محمد ص سر د سجدي نه راجګ کړه ،څه چه غواړي ويې غواړه،پيغبر ع به وفرمايې چه يا الله خلک وايې چه الله دي حساب شروع کړي درود شريف ووايئ.بيا څنګه چه د الله د شان سره ښآيې ،الله به د حشر ميدان ته تشريف راوړي ځمکه به د الله په رڼا روښانه شي.د حشر په ميدان کې به د هر آسمان ملائکې صفونه صفونه ولاړ وي. کله چه د الله عرش د حشر په ميدان کې کېښودل شي او الله تعالی څنګه چه د هغه د شان سره ښايې تشريف راوړي،د عرش ښي خواته جنت او چپ خواته به دوزخ رانيزدي شي او د عرش مخې ته به د ميزان تله ولګيږي،تصور وکړئ چه د داسي منظر په ليدلو به د انسانانو حال څنګه وي خلک به په جړا او چغو شي،الله تعالی به ډير په قهر او غصه وي.حساب به شروع شي ،د کافرانو يوه ډله به

راوستل شي هغوي به د سجدي کولو کوشش وکړي خو ملاګاني به يې نه قطيږي او نيغى به پاتي شي دوي به ووايې چه يا الله په دنيا کې خو زمونږ ملاګاني جوړى وي الله به ورته وفرمايې چه په دنيا کې تاسو ماته سجده نه ده کړي اوس د حشر په ميدان کې ستاسو سجده نه قبليږي ،دوي به ووايې چه يا الله مونږ هر څه وليدل اوس مونږ تا هم منو دوزخ جنت او ټول پيغمبران منو الله به وفرمايې تاسو د دنيا نه مختورن راغلي ياستئ په د نيا کې تاسو نه يم منلى ځما رسولانو ته مو دروغجن ويلي ؤو اوس دلته ستاسو ايمان راوړل نه قبليږي پړمخه به يې دوزخ ته ورواچوي.بله ډله چه راوستل شي هغه به داسي ګنهګار وي چه الله به وفرمايې چه په چپو لاسونو کې عملنامى ورکړئ او په دوزخ کې يې واچوئ،خلک به جاړى وايې به چه يا الله ته خو رحيم يې ته خو رحمان يې ته خو کريم يې الله به وفرمايې چه بيشکه خو تاسو په دنيا کې زه نه وم منلى ځما رسولان مو نه وو منلي تاسو په دنيا کې زه هير کړى وم اوس به زه تاسو هير کړم او دوزخ کې به مو واچوم، بله ډله به داسي وي چه د غضب ملايکو به يې په سرونو کې ځنځيرونه اچولي وي او الله ته به يې راولي الله به وفرمايې چه د اور په

چړو ورته سيني خيري کړئ او چپ لاسونه يې د مخی د خوانه په سينو کې راننه باسئ او شاته يې تري اوباسئ او عملنامې ورته پکې ورکړئ او دوزخ کې يې ورواچوئ. دوزخ به آواز کوي چه هل من مزيد نور شته يا الله موړ شوي نه يم نور هم راواچوه.بله ډله به د منافقانو وي الله به دوي ته سخت دردونکی او دوه چنده عذاب ورکړي په ځنځيرونو به وتړل شي او دوزخ کې به واچول شي. دا د کافرانو حشر ؤو.اوس د عامو مسلمانانو او مؤمينانو حال ګورو ،د هغو مسلمانانو چه ايمان هم لري او ګنهګار هم دي ، ګنهګار مسلمانان به د حشر په ميدان کې وي،په دوي به دا يوه ورځ ٥٠٠٠٠ کاله تيريږي،ځمکه دتبۍ پشان ګرمه،لمر د يو مايل په اندازه د سر دپاسه،جامې خولۍ څپلۍ به نه وي لږ خو دا منظر په تصور کې راولئ ،په ګنهګارانو به دا ورځ ډيره اوږده تيريږي په چا ځومره په چا ځومره او په چا به ٥٠٠٠٠ کاله اوږده تيريږي،بعضي خلک ګناه کوي او وايې چه پيغمبر ع مې شفاعت کوي،اول خو دا معلومه نه ده چه پيغمبر ع ستا شفاعت کوي او که نه او که فرضاً ستا شفاعت کوي هم نو تا ولې دومره عقل دلاسه ورکړئ چه د شفاعت په طمعه د دنيا د ٦٠

کاله عمر دپاره د قیامت په میدان کې ۵۰۰۰۰
کلونه د ګناه د پنډونو ګرځولو ته تیار یې او د هغی
وروسته به دي هم یا شفاعت وشي اویا نه، که تا د
شفاعت اوریدلې دي خودا هم واوره چه پیغبر ع
خپلي لور حضرت فاطمی رض ته وفرمایل چه
لوري ځما په طمعه نشي چه پلار می پیغمبر دی
په آخرت کې به ځان پخپل عمل خلاصوي زه هلته
درسره کمک نشم کولای.او په دي هم پوه شه قرآن
فرمایې وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا
الْقُرْآنَ مَهْجُورًا ﴿30﴾ او پیغمبر ص به ووایې ای
ځما ربه ځما قوم دا قرآن پریښی ؤو ته څه خبر یې
چه ته به کومه ډله کې یې چه آیا پیغمبر ع ستا
شفاعت کوي او که ستانه شکایت کوي.آواز به
وشي چه پلانکی د پلانکې ځوي راوځه الله دي
غواړی،بنده به راوځي د الله تعالی حضور ته به
بوتلل شي،د عرش ښي خوا ته جنت چپ خواته
دوزخ اومخي ته به د میزان تله لړیدلې وي الله
تعالی به د هر بنده سره په غیر د ترجمان نه خبري
کوي.آدم ع به ولاړ وي عزرائیل ع به ولاړ وي
کراماً کاتیبین یا حفظه ملایکې چه زمونږ په ښي
او چپي اوږو ناستي دي او نیکې او بدي لیکې دوي
به ولاړي وي او د هر امت پیغمبر به ولاړ وي .

او بنده به رب العلمین ته ودرېږي او په غیر د ترجمان څخه، الله تعالی به پوښتني کوي او

بنده به جوابونه ورکوي خلک چه دا حال وګوري نو ځوي به د مور نه او مور به د ځوي نه ورور به د ورور خور به د خور نه ښځه به د خاوند او خاوند به د ښځې نه تښتی او یو به د بل د پیژندلو نه منکرېږي د دي دپاره چه یو د بل نه یوه نیکې ونه غواړي او که ویې غواړي هم یو یې بل ته نه ورکوي.د زړي په اندازه ظلم به په چا نه کیږي،پیغمبر ص فرمایې چه ځني خلک چه په دنیا کې دروغ وایې هلته به د الله تعالی په مخکې هم د دروغ ویلو کوشش وکړي ،خو هلته د منکریدو چانس نشته مکمل شاهدان یا ګواهان به موجود وي کراماً کاتیبین او د دنیا د ټول ژوند مکمل رکارډینګ به موجود وي،د هر چا په عملنامه کې به مکمل هر څه موجود وي،الله به بنده ته وفرمایې چه عملنامه دي ولوله ته پخپله د خپل حساب دپاره کافی یې.که بیا هم کوم بنده منکرشي چه یا الله دا کار ما نه دی کړي ،الله به وفرمایې که ستا خپل وجود په تا ګواهی ورکړي بیا یې مني ،بنده به ووایې چه یا الله ډیره ښه ده منم یې الله تعالی به یې په خوله مهر ولګوي <u>الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ</u>

وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ نو د بنده دوجود يوه يوه عضوه به ګواهی ورکول شروع کړي خپی به وايي په ما دي ګناه ته تللی ؤو لاسونه به وايي په ما يې دا ګناه کړيده،غوږونه به وايي په ما يې سندري و غيره اوريدلي دي،سترګی به وايي چه په ما يې په موبايل کې بي حيا فلمونه وغيره ليدل،ژبه به وايي چه په مايې کنځل و غيره کړيدي،پيغمبر ص فرمايي چه کله د وجود اعضأ په بنده ګواهی ورکړي نو بنده به خيري ورته وکړي چه تاسو دي الله تباه کړي ما خو دروغ دي دپاره وويلی چه تاسو د عذابه بچ شي او تاسو ګواهی ورکړه ،د وجود اعضأ به ورته وايي چه مونږ خپل رب ګويانه کړو او د الله په امر مو ګواهی ورکړه.د هر چا فيصله به په حق سره وشي،هر څوک به د الله په رحم سره جنت ته ځي او هر څوک به دوزخ ته د الله په عدالت او انصاف سره ځي.په آخر کې مؤمنانو دپاره يوه ډيره ښه خوشخبري دا ده چه صحابه کرامو د پيغمبر ص نه پوښتنه وکړه چه يا رسول الله ۵۰۰۰۰ کاله خو دير سخت دي دومره انتظار به انسان څنګه کولای شي ،پيغمبر ص ورته وفرمايل چه مؤمن ته يې الله تعالی آسانوي،په چا يې دومره آسانوي لکه د سبايې سنت چا ته د

ماسپښین نه د مازدیګر د لمانځه پورې چا ته د مازدیګر نه د ماښام د لمانځه پورې،خو که مونږ ددي اهل شو الله تعالی دي مونږ ددي اهل وګرځوي او الله دي یې راته آسانه کړي.

او همدارنګه پیغمبر ص فرمایې چه څما د امت ۷۰۰۰۰ کسان په غیر د حساب نه جنت ته ځې نو دا خو یواځې صحابه کرام د یو لاک نه زیات دي مونږ خو پکې نه راځو خو په صحیح مسلم کې بل حدیث شریف دي چه دا ۷۰۰۰۰ کسان به هر یو ۷۰۰۰۰ ملګري لري بیا هم صحابه کرام دي تابعین دي تبعه تابعین دي شهدا صدیقین صالحین او اولیا ډیر زیات دي نو مونږ غوندي ګنهګارو ته به پکې څنګه نوبت راشي خو الحمد لله په صحیح مسلم کې بل حدیث شریف دی چه الله تعالی به دري لپی په جنت کې ورواچوي نو دا خو د رب العلمین لپی دي نو الله دي مونږ د الله په لپو کې راولي او بي حسابه او بي کتابه دي مو جنت ته بوځي.الله دي توفیق راکړي چه الله رضا کړو او د هغه ج د رحم مستحیق وګرځو.وما علینا الا البلغ المبین.

ډاکتر محمد عثمان نظامی

End

# اسلام، الحاد او ساینس

# Islam, Atheism and Science

په دې کتاب کې د هغو خلکو لپاره چې د الله تعالی د ذات،د قرآن کریم د حقانیت،د محمد ص د رسالت،د تقدیر او د قیامت د ورځې له حساب او کتاب څخه انکار او یا هم شک کوي د قرآن عظیم الشان،صحیحو احادیثو او د ساینسي علومو په رڼا کې پرېکنده دلایل او د هغوی د باطله عقایدواو تیوریو د بطلان لپاره کره شواهد او ثبوتونه وړاندې شوي.

ستاسو د دعا په هیله

ډاکټر محمد عثمان نظامي

اول جلد

Volume 1

2022